موضوع : د چك كولو / كتلو له پاره د معكوسو عملياتو حسابول

د زده كوونكو او ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونكي په توره تخته ليكل : ۱۷ + ۳۵ د يو زده كوونكي دا په صحيح (خاص) شكل حسابول ، د نورو تولګي ته د هغه ټول حساب لوستل چې نتيجه يې [۵۲] ده .	توره تخته
۲. له ښوونكي څخه غوښتنه كول چې د چك كولو له پاره معكوس حساب معلوم كړي د زده كوونكو بحث كول ، تجويز وړاندې كول ، په توره تخته ليكل : ۵۲ − ۳۵ دا حسابول ؛ ويل چې حسابونه يو بل سره رابطه لري (كه داسې نه وي نو زده كوونكي دې غلطي معلومه كړي) .	
۳. په توره تخته ليكل : ۱۶ − ۳۲ دا په صحيح شكل حسابول ، د نورو تولګي ته د ټول حساب لوستل چې نتيجه يې ۳۸ ده .	توره تخته
۴. له ښوونكي څخه غوښتنه كول چې د چك كولو له پاره معكوس حساب معلوم كړي ؛ د زده كوونكو بحث كول ، تجويز وړاندې كول ، په توره تخته ليكل : ۳۸ + ۲۳ دا حسابول ؛ ويل چې آيا دواړه حسابونه يو له بل سره مطابقت لري .	
۵. دريمې مشق پاڼې ته كتل ؛ معلومول چې په توره تخته ليكل شوي دوه مثالونه دواړه د مشق پاڼې په سر كې ليكل شوي دي . يوځل يې بيا تولګي ته لوستل ؛ د + - او - + په مطلب او معنا بحث كول .	مشق پاڼه ر۲ − ۲۵ − ۳
۶. له ملګري سره يو ځای د ټولو حسابونو مكمليل .	

۱۷ + ۳۵ = ۵۲	۵۲ − ۳۵ = ۱۷	۶۱ − ۲۳ = ۳۸	۳۸ + ۲۳ = ۶۱
۵۸ + ۳۶ =	− ۳۶ =	۹۱ − ۴۵ =	+ ۴۵ =
۴۲ + ۴۹ =	− =	۹۷۷ − ۵۹ =	+ =
۱۵ + ۶۸ =	− =	۴۶ − ۲۸ =	=
۸۴ + ۱۶ =	=	۹۰ − ۴۷ =	=

درسي پلان : ۲۶ ر۲ – ۲۶ – ۱	موضوع : مشق کول : بنې او کين ؛ مخې ته او شاته	
د بنوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
- زده کوونکو ته ويل چې زما د حکم مطابق به عمل کوئ ؛ په هر خل به د [بنې] او [کين] منځ کې فرق کېږي ؛ حکم ورکول (داد څو دقيقو له پاره کول) .	۱ . د [کين] او [بنې] مشق کول : - د بنوونکي له حکم سره سم عمل کول ، يعنې بنې/ کين ، لاس / پښه جګول ، بنې / کين غوټه لاس ور وړل ، د بنې / کين لاس په وسيله کينه/ بنې سترګه پټول ، بنې / کينې پښې ته بنې / کين لاس ور وړل ؛ بنې / کينې کړکۍ ته اشاره کول .	
- د يوې لوبې اعلان کول ؛ زده کوونکو ته ويل چې د بنوونځي په انګړ کې يوه لويه دايره جوړه کړي ؛ د [سطل ووهه] لوبه تشريح کول (۱) ، ضروري شيان تيارول . - لوبه په يو زده کوونکي شروع کول چې پتې سترګې ماشوم رهنمايي کوي . - دوهم خل شروع کول ، اوس ټولو زده کوونکو ته اجازه ورکول چې حکمونه ورکړي . - دوه يا دري خلې ددغې لوبې بيا تکرارول ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ببرته ولاړ شي .	۲ . د لوبه (سطل ووهه) کول : - غوټ نيول ، د بنوونځي انګړ ته تلل ، يوه دايره جوړول . - د يوه هلک چې سترګې يې تړلې دي کوښښ کول چې سطل پيدا کړي او ويې وهي ؛ د يو بل زده کوونکي د [کين ، بنې ، مخې ته ، شاته] په اواز کولو سره د هغه رهنمايي کول . - د يو بل زده کوونکي سترګې تړل کېږي او د نورو ټولو ورته حکم ورکول . - همدغه شان عمل کول ، بيا په ټولګي کې خپلو خپلو خايونو ته تلل .	يوه سطل يا يو بل لوبنی ، يوه لبنته ، د سترګو تړلو له پاره يو توکر
- لومړی مشق پاڼې ته دکتلو غوښتنه کول ؛ د لوبې تشريح کول (بنوونځي ته تلل) . - د تړلو سترګو ماشومانو دادګيرنه کول چې خپل حالت پيداکړي (د مسواکۍ ګوتو حالت) .	۳ . په يوه مشق پاڼه د [بنې] ، [کين] ، [مخې ته] ، [شاته] ، مشق کول : - د [بنوونځي ته تلل] لوبه څو خله کول ، وار په وار . - د ملګري ويل : ته اوس هم د ... مخې ته يې ! ، ته د ..... کينې خواته يې ، ته د ..... بنې خواته يې .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۶ – ۱

(۱) په خوند اخيستلو سربېره د دې لوبې مطلب دا دی چې د [بنې] ، [کين] ، [مخې ته] او [شاته] تصور پخلی وکړي . هغه داوطلب زده کوونکي چې د داېرې په منځ کې پروت سطل به پيدا کوي او وهي به يې سترګې به يې په توکر تړلې وي او يوه لبنته يې به په لاس کې وي. دغه زده کوونکي به لومړی دوه بل زده کوونکي په وسيله رهنمايي کېږي چې د څلورو مختلفو حکمونو د ورکولو اجازه لري . [بنې خواته ، کينې خواته ، شاته ، مخې ته] را ګرځېدل . د ضرورت په اندازه د دې حکمونو تکرارول . کله چې لومړی زده کوونکي سطل په لبنته ووهلو د بل زده کوونکي سترګې به پټې وي او سطل به وهي . بنوونکی به اوس ټولو زده کونکو ته اجازه ورکوي چې د تړلو سترګو ماشوم رهنمايي کړي ، په ګډه سره هدايات ورکول . ټول زده کوونکي به خپلو هغه خبرو ته پوره توجه کوي چې د پټو سترګو ماشوم پرې رهنمايي کوي ، د دې احساس کول چې ماشوم به په حکمونو څنګه پوهيږي . کېدای شي چې د بنوونکي له پاره دا ضرورې وي چې په دې منځ کې د حکمونو د ورکولو چل تشريح کړي ، که چېرې ټول ټولګی غير منظم وي نو بنوونکی د ۳ – ۵ پورې زده کوونکي تاکلی شي چې په ګډه سره حکمونه ورکړي .

(۲) دا لوبه به له یو ملګري سره کیږي ، یو زده کوونکی به سترګې تړي . مسواکی ګوته به دلاري په سر (شروع) پدي (په لاره کې د سړي او اس په منځ کې) ، بیا به ګوته ورو ورو د لاري په آخر کې د ښوونځي خواته بیایي ، کوښښ به کوي چې له لاري څخه وانه وړي او د خندو کړښې هم غوڅې نه کړي . بل زده کوونکي د ښې ، کیڼ ، مخې ته ، شاته په بوولو سره مرسته کوي ، د دې له پاره چې هغه له لاري څخه بې لاري نه شي لکه چې زده کوونکي د خندو په کرښو ور وخېژي نو دا بل زده کوونکی به ورته وایي چې ودریږه ! په شا ولاړ شه ! ، ان تر هغې چې لاري ته سم شي . بیا هغه ته وایي چې [مخې ته ! کیڼې خواته ، ښې خواته !] له مطالبې سره سم . ښوونځي ته د تللو په وخت ماشوم مخ په وراندې خې او کور ته دراتلو په وخت مخ په شا حرکت کوي . دغه بل زده کوونکی په نرم آواز سره حکمونه ورکوي . کله چې یو زده کوونکی به ګوته ښوونځي ته ورسیږي نو بیا به وار د دې بل وي . دا بل ملګری له کور څخه بیا شروع کولای شي یا د ښوونځي څخه مخ په شا حرکت کولای شي .



د-۲۶-۱

موضوع : د [دننه] او [بهر] مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي ټعالیتونه	درسي مواد
۱. ښوونکي له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د کور د ننه او یا له کور څخه بهر په اوسېدلو خبرې وکړي مثلاً : په اوړي / ژمي کي ، د ورځي / د شپې ، کله چې باران ودریږي / طوفان وي . کوم کار د کور دننه / بهر کیږي ، کوم خلك اکثر وخت د کور دننه / بهر اوسیږي / کار کوي او داسې نور .	
۲. ښوونکی غوښتنه کوي چې دوهمې مشق پاڼې ته وګوري او پرې خبرې وکړید (دننه او بهر) په بهر ، ښوونکی لارښوونه کوي .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۶ – ۲
۳. زده کوونکي د ټولو هغو اشخاصو رسمونه رنګوي یا توروي (پرداز ورکوي) کوم چې دننه (په جومات ، په کور ، په سرویس ، په انګړ ، په موټر کې ...) وي .	
۴. که چېرې وخت وي نو د مشق پاڼې ر۲ – ۲۶ – ۱ سره د اصلي درس لوبه بیا وشي (کین، ښې ، مخې ته ، شاته) .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۶ – ۱



موضوع : د خلاصو او بندو اشکالو مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ښوونکی د هغې پيشو ښه باره کې خبرې کوي چې موږ ک نيسي ؛ کله کله مږې ونيولې شي او کله نه. د زده کوونکو په دې باره کې خبرې کول چې پيشو کله مږه نيولای شي او کله يې نه شي نيولای .	
۲. د ښوونکي په توره تخته د يوې کرښې ايستل ، ويل چې دا يو ډېر لوی او ښوی دهوال دی چې پيشو پرې نه شي ختلای ، د لاندې په شان يوه مږه اويوه پيشو رسمول :	توره تخته
پوښتنه کول چې آيا پيشو دغه مږه نيولی شي ؟ (پيشو مږه نيولای شي ځکه چې د ديوال ښی او کينې خواته پر دهوال ختلو ته لاره خلاصه ده او پيشو مږې ته ځان رسولای شي) .	
۳. بيا پوښتنه کول چې آيا پيشو دغه مږه نيولای شی؟ (نه يې شي نيولای ځکه چې ديوال بند دی او مږه پـه کې دننه ده) د مږې د محفوظ ساتلو د هوې بلې طريـقې پوښتنه کـول . خواب : چې د پيشو ځخه يو ديوال چاپېره کړای شي .	مشـق پـانه ر۲ – ۲۶ – ۳
۴. دريمې مشق پاڼې ته کتل ؛ د ښوونکی ويل چې له کرښو ځخه مطلب لوړ اوښوی دهوال دی چې پيشو پرې ختلای نه شي . بيا پوښتنه کول چې معلومه کړئ کوم دهوال خلاص دی (چې پيشو مږه ونيولای شي) او کوم دهوال بندی دی (چې پيشو مږې ته ځان نه شی رسولای) د يو خلاص دېوال رسمون په دې کرښه (ــ) په نښه کول او د بند ديوال رسمونه په دې سره ● ( ) په نښه کول .	
د ۲۷ نمبر درسي پلان له پاره تيارې :	
۲۷ نمبر درسي پلان خاص تيارې ته ضرورت لري چې لږ تر لږه يوه ورځ مخکې يې شروع کول په کار دي . الـف – ښوونکی بـه لـه مخکې نـه درسـي پـلان پـه غـور سـره لولـي . ب – ښوونکـی بـه زده کوونکو ته خبر ورکوي چې ځينو شيانو ته پـه دې درس کې ضرورت دی او ښونځي ته بـه راوړل کيږي (۲۷ نمبر درس تبصره لومړی شمېر وګورئ) .	



درسي پلان ۲۷ / ر ۲ - ۲۷ - ۱	موضوع : د درې حجمي (درې بعده) شيانو گروپ بندي (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . د جمع شوو شياوو نومونه اخيستل ، د دوی د کار د قيمت او نورو په هکله خبرې کول :	
- له ماشومانو څخه د دومره ډېرو شيانو د جمع کولو په هکله متنه کول . د دې شيانو د نومونو اخيستلو غوښتنه کول .	- د يو ماشوم چې يو شی يې جمع کړی دی ، د ټولګي مخې ته راتلل ، د دغه شي ښودل ؛ د نورو ويل چې دې ته څه وايي .	د شيانو مجموعه
- پوښتنه کول چې له دې شي څخه څه کار اخيستلای کيږي ؟	- ويل چې د دې شی څخه څه کار اخيستی شي ؛ که ممکن وي نو عملي مظاهره يې کول .	
- د دغه شي په باره کې د نورو تفصيلاتو د ويلو غوښتنه کول .	- مثلاً د قيمت په هکله څه ويل ، آيا له دې څخه همېشه کار اخيستلای شي ؟ دا چېرته موندلای يا اخيستلای شي ؟ آيا دا استعمال شوی يا نوی يا زوړ يا نقصاني شوی دی ؟	
- غوښتنه کول چې په همدغه طريقه په نورو شيانو بحث وکړي او بيان يې کړي .	- هم دغه شان عمل کول ، يو بل پيسې په شيانو خبرې کول .	
	۲ . د شيانو په گروپ بندی بحث کول :	
- وړاندیز کول چې د شيانو نمايش ته دې داسې ترتيب ورکړای شي چې يو شان شيان يو خای کيښودل شي : د تجويزونو غوښتنه کول .	- فکر پرې کول ، تجويز وړاندې کول چې کوم کوم شيان په يوخای کې گروپ بندي کېدای شي ؛ يو څو تجويزونه وړاندې کول .	
- هر تجويز يو بل پسې منل / تبصره پرې کول ، له زده کوونکو د دلايلو غوښتنه کول چې دوی د شيانو دا يا هغه ترتيب ولې خوښوي . (۲)	- د تجويز شوو ترتيبونو له پاره دلايل وړاندې کول په دې په يو خای بحث کول .	
	۳ . د شيانو د گروپ بندی په وسيله نمايش ترتيبول :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دوی د شيانو کوم ترتيب خوښوي .	- بحث کول ، کوم تجويزونه چې مخکې وړاندې کړای شول هغو څخه د شيانو په يوه خاص ترتيب متفق کېدل .	
- بلنه ورکول چې په کوم تجويز دوی متفق شوي دي د هغه مطابق نمايش ته ترتيب ورکړي .	- د يو څو زده کوونکو د شيانو گروپ بندي کول او ترتيبول ؛ د نورو وتره کتل ، امتحان کول ، اصلاح کول .	
- غوښتنه کول چې د شيانو گروپونه بيان کړي . (۳)		
- تشريح کول چې دوی بله ورځ به شيان يو خل بيا ترتيبوي خو په يوه بېله طريقه .	- د شيانو د گروپونو په هکله خبرې کول ، د دغه ترتيب په هکله دلايل وړاندې کول .	
	- غوږ ورته نيول .	

(۱) دا درسي پلان د هندسي د تدريس يوه برخه ده . ماشومان دې د مختلفو شکلونو او کيفيتونو شيان په لاس کې راواخلي او د هغه معيار مطابق دې په مختلفو گروپونو کې ترتيب ورکړی چې دوی په خپله معلوم کړي (وګورئ تبصره نمبر ۲) ، ماشومان به دا شيان په يوه عملي طريقه او هم د مشق پاڼې د لومړي او دوهم تعقيبي درسونو له رسمونو نه د دوی داصلي شکل مطابق هم ترتيبوي (بکس شکله ، غنډ شکله ، نل شکله) . ښوونکی به د ماشومانو ډاډ گيرنه کوي چې دا

شیان جمع کړي او ښوونځي ته یې راوړي لکه غټ او واړه بکسونه، د ګوګړو ډبلي ، د مختلفو شکلونو ټیمان ، د نلونو (پایپونو) توټې ، د پلاستیک یا ربړ نلونه ، د لرګي زاویه لرونکي (ګوټیزي) توټې یا نور شیان ، غونډه شکله شیان لکه پوکنۍ ، بالونه ، خاص کانې او داسې نور . د ټولګي په کوټې یا د ښوونځي په میدان کې د یوه وړوکي نمایش له پاره دې دا شیان جمع کړای شي .

(۲) کیدای شي چې زده کوونکي د دلایلو په وړاندې کولو کې له مشکلاتو سره مخامخ شي چې دوی د دغو یا د هغو شیانو د یو ځای اېښودو تجویز ولې وړاندې کړ. ښوونکی دې وخت ورکړي او د دلایلو پیدا کولو کې دې مرسته وکړي . د ګروپ بندۍ معیار به دا وي : غټ شیان ، واړه شیان یا سپک شیان او درانه شیان یا له لرګي ، اوسپنې ، کانې او داسې نورو څخه جوړ شوي شیان ، هغه شیان چې په کې څه اېښودلای شي ، له نورو څخه دې جدا کړای شي چې د دې مقصد له پاره نه استعمالیږي . یا د لاس جوړ شوي شیان ، قدرتي شیان یا نرم شیان ، سخت شیان ، قیمتي شیان ، بې قیمته شیان یا مات شیان او داسې نور .

(۳) دا خبره مهمه ده چې زده کوونکي دې دومره ترتیبونه او دلایل پیدا کړي څومره چې ممکن وي او په دغه تجویزونو کې به غلط او صحیح نه وي .

(۴) دا خل به زده کوونکي یو خل بیا د جلا جلا شیانو صرف نوم نه اخلي ، د دوي په هکله به خبرې کوي لکه : دا شیان ډېر درانه دي . دا شیان [سپک] دي . یا : دا شیان په لاس جوړ شوي دي . دا قدرتي شیان دي . او داسې نور .

موضوع : د شیانو نمایش ته بیا ترتیب ورکول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. یو خل بیا د شیانو نمایش ته کتل : د شیانو د موجوده ترتیب په هکله دلایل تکرارول .	د شیانو نمایش وګورئ درسي پلان ر۲ – ۲۷ – ۱
۲. څنګه چې په تېر سبق کې تجویز کړای شوي دي د نورو ممکنو ترتیبونو را په زړه کول (وګورئ درسي پلان ر۲ – ۲۷ – ۱ ؛ تبصره نمبر ۲)	
۳. د شکل مطابق د شیانو دترتیبولو تیاری کول : الف – د ښوونکي درسي پلان ښودل (یو بکس شکله ، یو غټ شکله ، یو نل شکله) ؛ غوښتنه کول چې دا شیان دې د دوی د شکل مطابق بیان کړای شي . ب – د ښوونکي د شیانو بیانول ، صحیح اصطلاح ګاني معلومول : بکس شکله ، غونډ شکله ، نل شکله .	
۴. شیان د دوی د شکل مطابق ترتیبول : الف – د ښوونکي تجویز وړاندې کول چې د شکلونو مطابق ګروپونو ته ترتیب ورکړي . ب – د زده کوونکو بحث کول ، د شیانو د خای بدلولو په هکله دلایل وړاندې کول ، شیان بیا ترتیبول (د ښوونکي لارښوونه کول ، مرسته کول) . ج – د زده کوونکو د شیانو ګروپونه بیانول ، یعنې دلایل وړاندې کول چې شیان ولې له یو خاص ګروپ سره اړه لري .	
۵. په لومړي مشق پانه کار کول : الف – مشق پانه مطالعه کول ؛ دغه درې شیان بیانول، صحیح اصطلاحګاني استعمالول : بکس شکله ، غونډ شکله ، نل شکله . ب – د زده کوونکو د شیانو د نمایش نه یو شی په هر خالي خای کې جوړول ؛ د ښوونکي په زده کوونکو ګرځېدل ، د ضرورت په وخت کې مرسته کول .	مشق پانه ر۲ – ۲۷ – ۱



ر۲-۲۷-۱

موضوع : جوړ شوي (رسم شوي) شيان د خپلو خپلو شکلونو مطابق ګروپ بندي کول ؛ شيان رسمول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. لومړی، مشق پانې ته کتل ، څه چې ماشومانو جوړ کړي دي د هغوی په باره کې څه ويل ، د شيانو شکلونه بيانول .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۷ – ۱
۲. په دوهمه مشق پاڼه کار کول : الف – رسمونه مطالعه کول ، د شيانو نومونه اخيستل او بيانول يې ، د دوی د مقاصدو په هکله خبرې کول . ب – په شفاهي توګه د دوی د شکلونو مطابق د شيانو ګروپ بندي کول . ج – په خاصو شيانو کار کول ، د مشق پانې د سر په بکسونو کې له شيانو څخه خپلو مربوطو ماډلونو ته د يو خای کوونکو کرښو جوړول . د – په حلونو بحث کول، چک کول .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۷ – ۲
۳. د لومړی مشق پانې په بکسونو کې نور شيان رسمول (شيان يا له نمايش څخه يا له مشق پانې ر۲ – ۲۷ – ۲ څخه انتخابول) .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۷ – ۱



ر۲ - ۲۷ - ۲

درسي پلان : ۲۸ ر۲ - ۲۸ -	موضوع : د ضرب معرفي کول ، د [۲] ضرب کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- له لسو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مخې ته راشي او په يو کتار کې ودريږي . - له درېو زده کوونکو څخه خپلو دواړو لاسونو د اوچتولو غوښتنه کول . - په توره تخته ليکل : ۲ + ۲ + ۲ = ☐ - هم دغه شان نور مسقونه لکه له ۵ يا ۸ زده کوونکو څخه د خپلو لاسونو د اوچتولو غوښتنه کول .	۱ . د دوه ګونو د جمع مشق کول : - د زده کوونکو مخې ته راتلل؛ په يوه کتار کې ودربدل ؛ دنورو ورته کتل . - له درې زده کوونکو څخه د هر يو دواړه لاسونه اوچتول ، دنورو کيسه ويل ؛ زده کوونکي هر يو دواړه لاسونه اوچت کړي دي چې ټول شپږ لاسونه اوچت شوي دي . - د زده کوونکو بکس ډکول : ۲ + ۲ + ۲ = ۶ - د زده کوونکو هم دغه شان عمل کول ؛ دنورو زده کوونکو هم دغه شان په توره تخته مساوات ليکل .	توره تخته
- د معلومولو غوښتنه کول چې څو زده کوونکي به لاسونه اوچتوي ؛ ويل لکه : ۲ + ۲ + ۲ + ۲ ... - په شفاهي ډول کار کول لکه : ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = - په ورو ورو دا کار څو واري تکرارول . (۱) - غوښتنه کول چې څنګه يوزده کوونکی نتيجې معلومې کړي . - څومره ځل چې [۲] دوی اورېدلې دي هومره ځل يې د ليکلو غوښتنه کول (د ښوونکي په خپله ليکل شروع کول ۲ + ۲ ...) . د دې قسم مشقونو تکرارول . - د ښوونکي ددې کار په يوه نوې طريقه راښودنه اعلان کول ، ويل چې موږ دا په مخصوص طريقه ليکلی شو چې ووينو [۲] څو واري استعمال شوي دي ۷ × ۲ = د [۲] له سلسلې سره خوا کې ليکل ، ورو ورو يې لوستل . (۲) - ۷ × ۲ = ☐ بيا ليکل ، په خالي بکس کې د نتيجې بيا غوښتنه کول .	۲ . [.... ځله ....] معرفي کول (ضرب) : - ويل چې ځلو زده کوونکي به خپل دواړه لاسونه اوچتوي چې نتيجه به يې [۸] وي . - ممکن ده چې د بيا بيا ويلو له پاره غوښتنه وکړي ځکه چې دا را په يادول ډېر ګران دي . - د زده کوونکو د نتيجې معلومول ، ويل ۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲ = ۱۴ - ويل چې څو ځل چې [۲] ويل شوی هومره ځل يې وشمېرله . - د زده کوونکو مکملول : ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۱۴ - د زده کوونکو له توري تختې څخه په شريکه لوستل او بيا د جلا جلا زده کوونکو نتيجې ويل . همسوماله د ټولګي ته لوستل . څو واري ويل ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۷ × ۲ - ۷ × ۲ = ۱۴ ليکل .	توره تخته

- زده کوونکو څخه د مساواتو د لیکلو غوښتنه کول .	- د دوو زده کوونکو لیکل : ۵۴ + ۶ = ۶۰ ، ۴۶ – ۶ = ۴۰	
- هم دغه شان نور ډېر مشقونه ورکول ، کله ناکله وونکی په خپله کیني خواته اړول او کله ماشومانو ته په دې هکله وینا کول . (۴)	*۳ . د جمع او تفریق مشق جاري ساتل :* - د زده کوونکو په کارونو پوهېدل ، دکانو اړول ، چلیپا کول د کانو جوړول ، مساوات لیکل .	کاني ، توره تختې

(۱) کاني به د سبق د بنودلو څخه مخکې را غونډولی شي . بنوونکی به د کانو د شمېر اندازه نه بنيي چې د ماشومانو په ذهن کې له مخکې نه دا نه وي چې دا ۱۰۰ کاني دي .

(۲) له کانو څخه به د لسو لسو کانو لس ډيري جوړولی شي ، ۵ ډيري به بنې اړخ ته او ۵ ډيري به کين اړخ ته وي .

د پلاستيك لس داسې کڅوړې استعمال کړئ چې په هره يوه کې لس لس کاني وي . دا دې د دې او نورو مشقونو له پاره وسايل شي (درسي پلان ر۱ – ۱۰ وګورئ) .

(۳) د تفریق او د جمع د عملياتو وضاحت به لومړی د کانو په استعمال سره کېږي . بيا د چلیپا کولو / د دايرو جوړولو او بيا دمساوات په لیکلو سره . د کانو جوړولو او د اړوندو مساواتو د وضاحت استعمال په مشق پاڼه ر۲ – ۳ – ۱ کې شوی دی چې هغه به بنوونکی په بنه شان د سبق له شروع کولو څخه مخکې مطالعه کوي . (دا مشق پاڼه به په لومړي تعقيبي درس کې استعماليږي) .

(۴) د کانو بدلون به همېشه مکملو لسيزونو ته رسولی شي مثلاً :

۶۰ + ۲ = ۶۲	۴۰ – ۲ = ۳۸
۶۲ + ۸ = ۷۰	۳۸ – ۸ = ۳۰
۷۰ + ۳ = ۷۳	۳۰ – ۳ = ۲۷
۷۳ + ۷ = ۸۰	۲۷ – ۷ = ۲۰
۸۰ + ۵ = ۸۵	۲۰ – ۵ = ۱۵
۸۵ + ۵ = ۹۰	۱۵ – ۵ = ۱۰
۹۰ + ۴ = ۹۴	۱۰ – ۴ = ۶
۹۴ + ۶ = ۱۰۰	۶ – ۶ = ۰

- د ښوونکي مثلاً : ۲ + ۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲ ویـل ، غوښتنـه کـول چـې هغـه څو واړي [۲] ویل ، څو واړي تکرارول . - پـه اوږده طریقـه او پـه لنـډه نـوي طریقـه د دې د لیکلو غوښتنه کول . - د ۹ × ۲ = ☐ د مکملولو غوښتنه کول ؛ په توره تخته د مساوات لیکل .	- ویل چې ښوونکی [۹] واړي [۲] وویل . - ۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲ = ۹×۲ لیکل . - ۹ × ۲ = ۱۸ جدا جدا لیکل .	
- د مشق پاڼې ر۲ – ۲۸ – ۱ لومړنی مثال په توره تخته لیکل . - د نـورو مسـاواتو هـم دغـه شـان د مکملولـو غوښتنه کول . - په آخره کې تول تولګي ته د مساواتو په اوچت آواز د لوستلو بلنه ورکول ؛ د ضرورت په وخت کې چك کول .	*۳. د دوه ګونـو جمع او ضرب په مسـاوات کـې لیکل:* - د تول تولګي دا په شریکه حلول . - د مشق پاڼې مکملول ، د هر سوال له پـاره دواړه مساوات حلول . - لوستل ، امتحان کول / صحیح کول که ضرورت وو .	مشـــق پـــاڼه ر۲ – ۲۸ – ۱

(۱) ماشومانو ته په ګډه سره ۲ + ۲ + ۲ ..... ویل په کار دي ؛ څو واړي چې دوی [۲] ووایي هومره ځل ورته په ګوتو اشاره کول . په دې طریقه به دوی د [۲] تر منځ ارتباط معلوم کړي . څو واړي چې [۲] ووېل شي (۳) نتیجه به یې (٦) وي ، مثلا : هر کله چې دوی په توره تخته لولي (یا ښوونکی پسې یې تکراروي) ۲ + ۲ + ۲ ، دوی به ورته په ګوتو اشاره کوي چې [۲] دري ځل ووېل شي ، او د ۲ + ۲ + ۲ په جمع سره به دوی نتیجه معلومه کړي (٦) په لنډه طریقه به دا عمل داسې لیکل کیږي : ۳ + ۲ = ٦ (دري ځل دوه برابر دي له شپږو سره) ځکه چې دا نښه (×) د ضرب علامه ده .

(۲) هر کله چې ماشومان د دوو عددونو تر مینځ دا [×] علامه ولیکي ، نو ښوونکی به احتیاط کوي چې دوی دا په صحیح طریقه ولیکي . (دا به په داسې طریقه نه لیکل کیږي چې داسې (+) ښکاره شي) .



ر۲– ۲۸–۱

موضوع : مختلف دوه ګونه په ضرب کې مکملول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. لومړی پر مېز د ښوونکي دوه پنسلونه ایښودل ، با نور دوه . د یو زده کوونکي رابلل چې راشي او هغه څه بیان کړي چې ښوونکي وکړل . د زده کوونکي ویل چې ښوونکي دوه واړي [۲] پنسلونه پر مېز کېښودل .	پنسلونه
۲. د ښوونکي غوښتنه کول چې دواړه مساواتونه په تخته ولیکئ ، د جمع اود ضرب .	تخته
۳. د ماشوم لیکل : ۲ + ۲ = ۴ ؛ ۲ × ۲ = ۴	
۴. دا فعالیت به د مختلفو شمېرو د پنسلونو د ګروپونو په وسیله تکرارولای شي او ماشومان به په تخته مساوات لیکي . همېشه به د ضرب اوجمع دواړه ماساواتونه لیکي .	
۵. د ښوونکي ۴ + ۲ = ☐ ویل او په تخته لیکل . له ماشومانو څخه غوښتنه کول چې خومره پنسلونه به پر مېز ایښودل کیږي . د ماشومانو مخې ته راتلل ، له پنسلونو سره صحیح عمل کول ؛ یعنې څلور څل [۲] پنسلونه ایښودل .	پنسلونه تخته
۶. په بحث کې د ښوونکي مرسته کول ، د نتیجې معلومول ، د یو ماشوم په تخته بکس مکملول.	
۷. له همدغه شان مثالونو سره کار جاري ساتل .	
۸. مشق پانې ر۲ – ۲۸ – ۲ ته د کتلو غوښتنه کول ، دماشومانو کتل او بیانول ، همېشه په [۲] کې د ونو مختلف ګروپونه معلومول .	مشق پانه ر۲ – ۲۸ – ۲
۹. که ضرورت و نو د ښوونکي د لومړني مثال وضاحت کول .	
۱۰. د ماشومانو د بکسونو په ډکولو سره د مشق پانې مکملول .	
۱۱. له ملګري سره مقایسه کول ، ټول ټولګي ته په اوچت آواز لوستل .	



ر۲-۲۸-۲

موضوع : د دوه ګونو د ګروپونو دمعلومولو نور مشق

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني مشق : د ښوونکي د [۲] يو شمېر ويل لکه : ۲ + ۲ + ۲ + ۲ ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې څو ځل يې [۲] ويل ؛ هغه زده کوونکي چې خواب ووايي په تخته به د ضرب مساوات ليکي . که چېرې زده کوونکي صحيح خواب ورکړي نو ور ته اجازه ده چې د [۲] يو بل شمېر ووايي (لکه : ۲ +۲ + ۲) له ټولګي نه دمساوات په باره پوښتنه کول ، هغه زده کوونکي چې صحيح خواب ووايي ورته اجازه ده چې په همدغه طريقه د بل سوال پوښتنه وکړي ، او نور .	تخته
۲. پاسنۍ فعاليت په تخته د [۲] د شمېرې په ليکلو سره بدليدای شي لکه : ۲ + ۲ + ☐ = ۲ ؛ له زده کوونکو څخه په صحيح لينده طريقه د ويلو غوښتنه کول (يعني ۴ × ۲) .	مشق پانه ر۲ – ۲۸ – ۳
۳. مشق پاڼي ر۲ – ۲۸ – ۳ ته د کتلو غوښتنه کول ؛ په يوه مثال بحث کول ، د مشق پاڼي مکملول ؛ صحصح کول .	
۴. مشق پاڼي ر۲ – ۲۸ – ۴ ته د کتلو غوښتنه کول ، د ماشومانو ورته کتل ، په کار بحث کول ؛ بکسونه د [۲] په ليکلو سره وکول ؛ په منځ کې د جمع علامه ليکل ، پاتې بکسونه تورول ، په آخري بکس کې خواب هم ليکل .	مشق پانه ر۲ – ۲۸ – ۴
۵. د ښوونکي چک کول ، د ضرورت په وخت کې مرسته کول .	

۲ × ☐ = ۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲
۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲+۲
۲ × ☐ = ۲+۲+۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲
۲ × ☐ = ۲+۲+۲+۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲

ر۲-۲۸-۳

۸ × ۲ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۱۶

۶ × ۲ = ☐ = ☐

۳ × ۲ = ☐ = ☐

۹ × ۲ = ☐ = ☐

۵ × ۲ = ☐ = ☐

۱ × ۲ = ☐ = ☐

۴ × ۲ = ☐ = ☐

۷ × ۲ = ☐ = ☐

۲ × ۲ = ☐ = ☐

۱۰ × ۲ = ☐ = ☐

ر۲-۲۸-۴

درسي پلان ۲۹ ر۲ - ۲۹ - ۱ - ۰	موضوع : د [۲] ضرب زباني معرفي کول	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
- په خاموشي سره په توره تخته ليکل : ۲ + ۲ + ۲ ، ۲ × ۵ ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ ، ۲ × ۳ په دې د فکر کولو له پاره ماشومانو ته وخت ورکول . - غوښتنه کول چې يو شان نتيجه لرونکي بکسونه د کرښې په وسيله يو خای کړئ . - په توره تخته نور مثالونه ورکول لکه : ۲ + ۲ ، ۲ × ۷ ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ ، ۲ × ۴ ۲ + ۲ + ۲ ، ۲ × ۲	*۱ . د دوه ګونو د جمع او ضرب تکرار :* - په خاموشي سره تورې تختې ته تلل ، معلومول چې د کيڼ اړخ د يو بکس او د ښي اړخ د يو بکس نتيجه يو شان ده (لکه : د ۲ + ۲ + ۲ = او د ۳ × ۲ = نتيجه يو شان ده : ۶) - د کرښې په وسيله د بکسونو يو خای کول .  - د هغو بکسونو معلومول چې يو خای کېدلای شي ؛ دا د کرښو په وسيله يو خای کول .	تـــوره تختـــه
- په لسو زده کوونکو لس خله دوه دوه کانې تقسيمول ، د ټولګي مخې ته ورته د درېدو وينا کول ، په توره تخته ليکل ۱ × ۲ = ☐ ؛ د دې مساوت په اندازه د کانړو د شمېر د ښودلو غوښتنه کول . - په توره تخته ۲ × ۲ = ☐ ليکل . (۱) - د ماشومانو له کتار سره تلل ، ماشومانو ته اشاره کول او په اوچت آواز د شمارلو غوښتنه کول او مرسته کول : ۱ × ۲ = ۲ ، ۲ × ۲ = ۴ ، ۳ × ۲ = ۶ ، ..... ، ۱۰ × ۲ = ۲۰ . - د نتيجو دمعلومول غوښتنه کول . - په همدغه طريقه د يو څو نورو مثالونو سره کارجاري ساتل لکه : ۸ × ۲ = ☐ ، ۶ × ۲ = ☐	*۲ . د [۲] د ضرب زباني د نمونې جوړول :* - د لسو زده کوونکو چې هر يو سره دوه دوه کانې دي د ټولګي مخې ته درېدل ، دخپلو خپلو کانړو ټولګي ته ښودل ، د يو ماشوم / ماشومې لاس اوچتول او خپل دوه کانې ښودل . - د دوه ماشومانو لاسونه اوچتول او دوه څله دوه کانې ښودل - له ښوونکي سره په يو خای په اوچت آواز شمارل ؛ د ډېرو ماشمانو له کتار سره د تللو په وخت کې د دغې شمېرې تکرارول ؛ ماشومانو ته اشاره کول . - ويل او په توره تخته ليکل : ۱۰ × ۲ = ۲۰ - هم دغه شان عمل کول (د کانړو دغه شمېر ښودل ، شمارل / اشاره ورته کول / د نتيجې معلومول) .	[۲۰] کانې تـــوره تختـــه

	۳. د [۲] ضرب زباني ليکل ، د نقطو بکسونه له مربوط مساوات سره يو ځای کول :	
- مشق پاڼې ر۲ - ۲۹ - ۱ ته د کتلو غوښتنه کول ، خصوصاً د ښي اړخ پاسني بکس ته او هغه کرښې ته چې دا يې د دوو نقطو له بکس سره يو ځای کړی دی .	- مشق پاڼې ته د څه وخت له پاره کتل ؛ د دوو نقطو د بکس او د لومړي مساوات تر منځ ارتباط معلومول .	مشق پاڼه ر۲ - ۲۹ - ۱
- دوهم بکس ته يې توجه راګرځول .	- معلومول چې د نقطو کومه پټې به دې مساوات سره ترلې کيږي .	
- دريم بکس ته د کتلو غوښتنه کول همدغه شان عمل کول .	- د ټول ټولګي هم دغه شان عمل کول ، د حلونو معلومول .	
- له ګاونډي سره د مشق پاڼې د مکملولو بلنه ورکول .	- د مشق پاڼې مکملول .	
- څه چې دوی وکړل د بيانولو غوښتنه يې کول .	- د حلونو يو په يو بيانول .	
- په تور چوکاټ لرونکو بکسونو کې د عددونو د سلسلې غوښتنه کول ؛ دې ته د [۲] د ضرب زباني عددونه ويل .	- ټولګي ته لوستل / له ياده د [۲] د ضرب زباني عددي سلسله ويل .	

(۱) لومړنی ماشوم چې کله دوه کانې وښيي نو د کتار يو سرته به دريږي . د ۲ × ۲ = د ښودلو له پاره به هم دغه ماشوم او ورسره يو ګاونډی ماشوم خپل لاسونه اوچت کړي او ۲×۲ کانې به ښيي . هم دغه شان ورپسې کله چې ۳ × ۲ = ، ۴ × ۲ ..... او داسې نور ښودل وي نو ټول اولنی شامل شوي ماشومان به بيا خپل کانې ښيي .



موضوع : د [۲] د ضرب زباني عددي سلسله معلومول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته ليکل : ۱ × ۲ = ☐ ۲ × ۲ = ☐ د ماشومانو د صحيح خوابونو د ورکول کوښښ کولو ، او په ورپو بکسونو کي يې ليکل .	تـــوره تختـــه
۲. د ضرب زباني د جاري ساتلو له پاره د ښوونکي غوښتنه کولو د يو ماشوم په توره تخته ليکل ۳ × ۲ = ☐ ، د نورو حلول ، د يو ماشوم بکس ډکول ، د ۱۰ × ۲ ☐ پوري جاري ساتل .	
۳. د مکملي ضرب زباني ټولګي ته د لوستلو له پاره د ښوونکي وينا کول (سوالونه او حلونه) توري تختي ته کتل ؛ بيا د تختي صفا کول او له ياده د ضرب زباني د تکرارولو غوښتنه کول (سوالونه او حلونه) ؛ د ماشومانو دا څو واري کړل .	
۴. د ښوونکي مشق پاڼې ر۲ – ۹ – ۲ ته د کتلو بلنه ورکول ؛ د ماشومانو کار معلومول ، يعني په ورپو بکسونو کي د حلونو ليکل او په صحيح بکس کي د مربوطو نقطو رسمول ، د ماشومانو په جوړو کي د مشق پاڼي مکملول ؛ د ښوونکي چک کول .	مشـــق پـــاڼه ر۲ – ۲۹ – ۲



موضوع : له یاده د [۲] ضرب زباني زده کول د [ضرب] اصطلاح زده کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د [۲] د ضرب زباني د ټولو مساواتو او حلونو د ویلو له پاره د ښوونکي ویناکول ، څو واري ویل ، له ۱ × ۲ = ۲ نه تر ۱۰ × ۲ = ۲۰ پورې شروع کول . ۲. په توره تخته د ښوونکي د [۲] د ضرب زباني یو عدد لیکل لکه : ۸ ، پوښتنه کول چې لومړی څو خل [۲] وایو چې [۸] تري جوړ شي ؟ په توره تخته له [۸] سره ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۸ = ۴ × ۲ لیکل . ۳. هم دغه شان له نورو عددونو سره کار جاري ساتل لکه : ۱۶ ، ۱۲ ، ۲۰ ؛ هر څل په توره تخته مساوات لیکل . ۴. مشق پاني ر۲ – ۲۹ – ۳ ته دکتلو بلنه ورکول ؛ په پاسني برخه بحث کول ، د زده کوونکو دغه برخه مکمل ؛ په آخره کې ټول ټولګي ته د دغو حلونو لوستل ، چك کول ، صحیح کول . ۵. منځنۍ برخې ته د کتلو غوښتنه کول (۲۰ پورې) ؛ د کار معلومول یعنې د [۲] د ضرب زباني له ټولو عددونو څخه دایره تاوول . ۶. هم دغه شان په لاندینۍ برخې کار کول یعنې دواړو خواوو ته د عددونو سلسله مکمل .	توره تخته مشق پانه ر۲ – ۲۹ – ۳





درسي پلان ۳۰
ر۲ - ۳۰ - ۱

موضوع : د [۵] ضرب زباني معرف کول

د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
- د [۲] له ضرب زباني څخه زباني کارونه ورکول لکه : ۴×۲ ، ۸×۲ ، ۱×۲ ... - د [۲] ضرب زباني څخه عددونه ورکول لکه : ۱۰ ، ۲۰ ، ۶	۱. *ذهني روزنه :* - ځواب ورکول ، په توره تخته ليکل لکه : ۴ × ۲ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۸ . ۸ × ۲ = ۲ + ۲ + ۲ .... = ۱۶ - ځواب ورکول ، په توره تخته ليکل لکه : ۱۰ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۵ × ۲ . ۲۰ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ ۲ = ۱۰ × ۲ .	
- ۵ زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ټولګي مخې ته په يو کتار کې ودريږي ؛ ويل چې هغه ۳۵ ګوتې ليدل غواړي (۳۵ په توره تخته ليکل) . - څه چې زده کوونکي وينې د هغو د بيانولو غوښتنه کول . - څه چې دوی وينې دهغو په رقمونو او علامتونو کې د ليکلو بلنه ورکول ، د جمع د شکل د معلومولو په هکله مرسته کول (۳۵ = ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵) . (۱) - د ضرب په مختصر شکل کې د ليکلو بلنه ورکول (د ضرورت په وخت مرسته کول د دې پوښتنې کولو په وسيله چې څو خله پنځه جمع کړی شوي دي .) - د [۵] له ضرب زباني څخه د يو څو نورو عددونوپه وسيله هم دغه عمل جاري ساتل لکه: ۱۵ ، ۵۰ ، ۳۰ ، ۲۰ ، ۴۵ . (۲)	۲. *په ۵ کې ضرب ورکول:* - د ټولګي مخې ته د زده کوونکو بحث کول ، ترتيب ورکول ، په آخر کې د درېو دواړه لاسونه اوچتول او د يو زده کوونکي يوازې يو لاس اوچتول . - ويل چې هغوی [۷] لاسونه وينې ، د هر لاس [۵] ګوتې دي چې ټولې [۳۵] ګوتې کيږي . - معلومول چې ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ ګوتې دي ، دا په توره تخته ليکل . - معلومول چې [۷] څله پنځه جمع شوي دي ؛ په توره تخته جمع سره نزدې ۳۵ = ۷ × ۵ ليکل . - د مخکې په شان عمل کول (د جمع او د ضرب دواړو معلومول ، دا په توره تخته ليکل) .	توره تخته
- مشق پاڼې ر۲ - ۳۰ - ۱ ته د کتلو غوښتنه کول ؛ په مثال بحث کول ، د بل کار د مکملولو غوښتنه کول (۶ × ۵) . - بلنه ورکول چې هر ماشوم جلا جلا مشق پاڼه مکمله کړي	۳. *د [۵] د ضرب زباني مکملول :* - په کار خان پوهول ، د بل کار مکملول . - د مشق پاڼې جلا جلا مکملول ؛ په آخر کې يې ټولګي ته لوستل ؛ د نتيجو بيانول .	مشق پاڼه ر۲ - ۳۰ - ۱ پنسلونه

(۱) کېدای شي چې ماشومان سمدستي د ضرب په شکل (۷ × ۵) شروع وکړي . په داسي حال کې دا قدم لومړی کول په کار دي او د جمع دا شکل (۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵) دي د دوهم قدم په توګه وښودل شي .

(۲) په کار دي چې په آخر کې د توري تختې کار څانته یو مرتب شکل ونیسي مثلاً :

۳۰ = ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ = ۵ × ۶

۱۵ = ۵ + ۵ + ۵ = ۵ × ۳

۵۰ = ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ = ۵ × ۱۰

۲۰ = ۵ + ۵ + ۵ + ۵ = ۵ × ۴

۴۵ = ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ + ۵ = ۵ × ۹



د ۲ - ۳۰ - ۱

موضوع : د[۵] ضرب زياني مکمول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ۱۰ زده کوونکو د ټولګي مخي ته راټلل ، د هر يو په لاس کې يوه لښته ده .	۵۰ لښتي (د پنسلونو هومره اوږدي)
۲. د ښوونکي په توره تخته ۱ × ۵ = ☐ ليکل ، غوښتنه کول چې هومره لښتي جګې کړئ چې په مساوات کې يې غوښتنه شوې ده . د يو زده کوونکي [۵] لښتي اوچتول ؛ دنورو نتيجه ښودل ، په توره تخته ۱ × ۵ = ۵ ليکل .	
۳. د ښوونکي په توره تخته ۲ × ۵ = ☐ ليکل ، د ټولګي مخي ته له ولاړو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې هم دغسې عمل وکړي ؛ د دوو زده کوونکو هر يو [۵] لښتي اوچتول ؛ د نورو نتيجه ښودل ، په توره تخته ۲ × ۵ = ۵ + ۵ = ☐ ليکل .	
۴. د ښوونکي / زده کوونکو هم دغه شان تر ۱۰ × ۵ = ۵ + ۵ + ۵ ..... = ☐ پورې عمل جاري ساتل .	
۵. د ښوونکي مشق پاڼې ر۲ – ۳۰ – ۲ ته د کتلو غوښتنه کول ؛ څه چې کول په کار دي د زده کوونکو له خوا يې معلومول .	مشق پاڼه ر۲ – ۳۰ – ۲
۶. د زده کوونکو په خپله دمشق پاڼې ډکول ؛ د ښوونکي چک کول په آخر کې د زده کوونکو د ټولو نتيجو ټولګي ته لوستل .	
۷. د ښوونکي د ډېرو زياتو شفاهي کارونو ورکول لکه: ۳ × ۵ = ☐ ، ۹ × ۵ = ☐ ، ۴ × ۵ = ☐ له زده کووونکو څخه غوښتنه کول چې لومړی د مشق پاڼې ر۲ – ۳۰ – ۲ په مرسته نتيجې معلومې کړي ، بيا بې له دغې مرستې څخه نورې ډېرې نتيجې په شفاهي توګه معلومې کړي .	مشق پاڼه ر۲ – ۳۰ – ۲

										۱ × ۵ =
										۲ × ۵ =
										۳ × ۵ =
										۴ × ۵ =
										۵ × ۵ =
										۶ × ۵ =
										۷ × ۵ =
										۸ × ۵ =
										۹ × ۵ =
										۱۰ × ۵ =

ر۲ – ۳۰ – ۲

موضوع : د جمع او تفريق په وسيله مکملو لسيزونو ته د رسېدلو له پاره نور مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني روزنه : ورپسې مکملو لسيزونو ته رسېدل ، د سوالونو (کار) يو سلسله استعمالول چې ټول يو شان واحدونه لري . (مثلاً : د ښوونکي ۱۴ ، د زده کوونکو ۱۴ + ۶ = ۲۰ ويل ، د ښوونکي ۲۴ د زده کوونکو ۲۴ + ۶ = ۳۰ ويل او داسې نور تر سلو ۱۰۰ پورې) بيا يوه بله د مختلفو واحدونو سلسله لکه : ۱۷۰ ، ۱۷۰ + ۳ = ۲۰۰ ، ۲۷۰ ، ۲۷۰ + ۳ = ... " او داسې نور . ۲. مشق پاڼې ر۲ – ۳ – ۱ ته کتل ، بيانول چې په لومړي کتار کې څه وشول (له ۵۰ کاڼو نه ۷ کاڼي چلېپا کړی شوي دي : ۵۰ – ۷ = ۴۳ ، هم دا ۷ کاڼي د نورو ۵۰ کاڼو سره جمع کړی شوي دي له ۵۰ کاڼو سره ۷ کاڼي کېنې خواته د جوړولو په وسيله : ۵۰ + ۷ = ۵۷ ۳. په بل کار بحث کول (۴۳ – ۳ = ۴۰) د ښې خوا پاتې کار کې پاتې ۳ کاڼي چلېپا کول ، او د منځني کتار په پاسني بکس کې يې جوړول (۵۷ + ۳ = ۶۰) . ۴. له ملګري سره د کار جاري ساتلو غوښتنه کول ؛ په لومړی کې نا مکملو مساواتو ته کتل بيا چلېپا کول/ د دايرو رسمول او بيا هم په دغه کړنه کې دواړه مساواتونه مکملول . ۵. بيا د زده کوونکو ټول مساوات لوستل ؛ امتحان کول ، د ضرورت په وخت کې صحيح کول .	مشق پانه ر۲ – ۳ – ۱



موضوع : د [۵] ضرب زباني مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني روزنه : د ښوونکي لومړی کار په شفاهي توګه ورکول لکه : ۳ × ۵ = ☐ ؛ د نتيجې په هکله غوښتنه کول ؛ کوم زده کوونکي چې صحيح ځواب ورکوي هغه ته اجازه ده چې د [۵] ضرب زباني څخه د يو بل سوال په هکله د يو بل زده کوونکي څخه پوښتنه وکړي لکه (۹ × ۵ = ☐) او داسې نور .	مشق پاني ر۲ – ۳۰ – ۳
۲. له يوه ملګري سره د ۵ ضرب زباني لوبه کول : مثلاً د يو زده کوونکي پوښتنه کول ۶ × ۵ = ☐ ؛ د ملګري ځواب ورکول ؛ بيا د ملګري د همدغسې سوال پوښتنه کول لکه : ۱۰ × ۵ = ☐ او داسې نور ، وار په وار څو څو ځله .	
۳. لوبه جاري ساتل خو يوازې نتيجې ښودل ، لکه [۲۰] ؛ د ملګري ځواب ورکول ۲۰ = ۴ × ۵ ؛ او داسې نور ، بيا وار په وار .	
۴. د مشق پاني ر۲ – ۳۰ – ۳ پاسنی برخې ته کتل ، په لومړي کار بحث کول ؛ د مشق پاني پاسنی برخه مکمل ؛ په آخر کې نتيجې تولګي ته لوستل ، چک کول ، معلومول چې دوه سوالونه د پنځو له جدول سره اړه نه لري .	
۵. د مشق پاني منځنی برخې ته کتل ؛ په کار خان پوهول ، مکمل ، تولګي ته لوستل ، چک کول .	
۶. د مشق پاني په لاندنی برخه بحث کول ، دا مکمل ، عددونه په ياد زده کول .	





درسي پلان : ۳۱ ر ۲ - ۳۱ - ۱	موضوع : د ۲ او ۵ پاړې (زبانی ضرب) مشق کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - ذهني روزنه	
- په څو کړښو کې له ۱ څخه تر ۵۰ پورې ټول عددونه ليکل ؛ هغه عددونو ته د اشارې کولو او ټولګي ته د هغوی د لوستلو غوښتنه کول چې د ۲ په پاړې سره تعلق لري.	- تورې تختې ته کتل ؛ د څو تنه زده کوونکو يو په بل پسې تختې ته راتلل ، عددونو ته اشاره کول او ټولګي ته يې بيا لوستل (يعنې ۲ - ۴ - ۶ ... ۲۰)؛ بيا يې مخ په شا لوستل (يعنې ۲۰ - ۱۸ - ۱۶ ... ۲).	تورې تختې
- غوښتنه کول چې همدغه شان دې هغو عددونو ته اشاره وشي کوم چې د پنځو پاړه پورې تعلق لري.	- د څو تنو ماشومانو له خوا دغو عددونو ته اشاره کول او ټولګي ته يې لوستل (يعنې ۵ - ۱۰ - ۱۵ ... ۵۰)؛ بيا يې مخ په شا لوستل (يعنې ۵۰ - ۴۵ - ۴۰ ... ۵).	
	۲ - د پنځو او دوو د پاړو مطابق د عددونو ترتيبول	
- مشق پاڼې ر ۲ -- ۳۱ - ۱ ته د کتلو او په هغې کې د کار معلومولو غوښتنه کول.	- لومړی د مشق پاڼې د سر په مشقونو بحث کول؛ معلومول چې څه کار به کېږي يعنې د ښي اړخ مساوات بشپړ (د ۵ پاړه)؛ په بکس کې د نتيجو څخه دايره چاپېرول؛ بيا د کيڼ اړخ مساوات بشپړول (د ۲ پاړه) په ورکړې شوو عددونو دا نښه (Δ) کول.	مشق پاڼه پ ۲-۳۱-۱
- په زده کوونکو مشق پاڼه مکملول.	- د مشق پاڼې بشپړول؛ ټولګي ته د نتيجو لوستل.	
- پوښتنه کول چې دلته څه شی حيرانوونکي دي .	- معلومول چې ځينې عددونه په دواړو پاړو پورې تعلق لري (۱) يعنې ۱۰ ، ۲۰ ضرب په اوږده شکل ليکل : ۲ × ۵ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۱۰ ۵ × ۲ = ۱۰ ۵ + ۵ = ۱۰	
	۳ - د ملګرې سره د يوې لوبې کول	
- لوبه تشريح کول : د يو ملګرې په مشق پاڼه کې د چرخې يا دايرې کړې شوي عددونو څخې ټولګي ته د يوعدد لوستل. د بل ملګرې څخه د ضربي عددونو د ويلو غوښتنه کول.	- د يو ماشوم مثلاً ۳۰ ويل، د ملګرې خواب ورکول مثلاً ۵ × ۶ = ۳۰ بيا وار په وار.	مشق پاڼه ر ۲-۳۱-۱

(۱) هغه عددونه چې په دواړو پاړو پورې تعلق لري باید په دواړو علامو (نښو) په نښه شي. لکه :



موضوع : د "دوو" او "پنځو" د پاړو مخلوط مشقونه

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د "دوو" په پاړې پورې مربوط د عددونو سلسله دې مخ په وړاندې او مخ په شا ووایي (یعنی ۲ - ۴ - ۶ ... ۲۰ او ۲۰ - ۱۸ - ۱۶ ... ۲).	
۲- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د "پنځو" په پاړې پورې مربوط د عددونو سلسله دې مخ په وړاندې او مخ په شا ووایي (یعنې ۵ - ۱۰ - ۵۰ ... او ۵۰ - ۴۵ - ۴۰ ... ۵).	
۳- د زده کوونکو دوه ګروپه جوړول چې هر ګروپ کې تقریباً د پنځو څخه تر شپږو پورې کسان وي. یو ګروپ د بل ګروپ څخه د پنځو د پاړې پوښتنه کوي مثلاً ۷ × ۵ = ☐ بیا دې بل ګروپ د لومړي ګروپ څخه د "۲" د پاړې پوښتنه کوي؛ مثلاً ۸ × ۲ = ☐ زده کوونکي کولی شي چې تر خواب ورکولو مخکې په خپلو منځو کې پر نتیجه بحث وکړي.	
۴- د ګروپونو له خوا د پوښتنو کولو وار نیول؛ د هر ګروپ د پنځو پنځو پوښتنو کولو څخه وروسته د دغه دوه ګروپونو حالتونه بدلول او بیا د بلې پاړې په باب په دغه طریقه د پوښتنو جاري ساتل.	
۵- دویمې مشق پاڼې ته کتل : په کار ځان پوهول؛ د مشق پاڼې مکمل، ټولګي ته نتیجې لوستل، د سوالونو او ځوابونو امتحان کول.	مشق پاڼه ر ۲-۳۱-۲

ر۲-۳۱-۲



موضوع : د "پنځو" او "دوو" د پاړو مخلوط مشقونه

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي له خوا پر تخته لیکل : ۵ × ۲ = ☐ ۶ = ☒ ×	تخته
د زده کوونکو له خوا د خوابونو معلومول، په تشو خایونو کې یې لیکل (یعنې ۱۰ او ۳ × ۲).	
۲- په زده کوونکو دریمه مشق پاڼه مطالعه کول؛ د مشق پاڼې په سر کې د زده کوونکو د څه دواړو مساواتو موندل چې پر تخته لیکلي شویدي. معلومول چې د صحیحو خوابونو دوه خانې یعنې د ۱۰ او ۳ × ۲ بکسونه تورول یا رنګول غواړي.	مشق پاڼه ر ۲-۳۱-۳
۳- ښوونکی غواړي چې د مشق پاڼې په سر کې د ښي کنج په لومړۍ برخه دې همدغه شان کار وکړي یعنې : ۲۰ = ☐ × ۵ ، د خالي بکس ډکول (۴)، بیا (۴) د مشق پاڼې په منځنۍ برخه کې لتول، دغه بکس تورول یا رنګول.	
۴- دمشق پاڼې په سر کې دښي کنج لومړۍ برخه (یعنې ۳۵ = ☒ ×) په همدغه شان حلول (۵ × ۷)؛ د مشق پاڼې په منځنۍ برخه کې اړونده خانه تورول یا رنګول غواړي.	
۵- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د مساواتو په مکملولو کار وکړي او د مشق پاڼې په منځنۍ برخه کې اړونده خانې تورې کړي.	
۶- له زهد کوونکو څخه پوښتنه کول چې د بکسونو د تورولو څخه مراد څه و؛ د زده کوونکو له خوا معلومول چې که چېرې مشق پاڼه سمه مکمله کړای شي نو ترك او ترپلر به څرګند په سترګو ولیدل شي. که چېرې د وخت د کموالي په وجه زده کوونکي مشق پاڼه مکمله نه کړای شي نو د مشق پاڼې د مکملولو له پاره دې ښوونکی زده کوونکو ته بلنه ورځ د نوي درسي پلان د شروع کولو څخه مخکې وخت ورکړي.	



درسي پلان ۳۲

موضوع : د دوه له پاړې (ضرب زباني) څخه د ضرب دوه رقمونه جمع کول

ر ۲ - ۳۲ - ۱

د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - معلومول چې د دوه د پاړې (ضرب زباني) څخه رقمونه څنګه جمع کړو	
- په توره تخته ۴ × ۲ لیکل، د یو څو ماشومانو ټولګي مخې ته په عمدغه ترتیب درېدل.	- بحث کول چې د ټولګي مخې ته د ماشومانو څنګه ودرېدل په کار دي؛ د ماشومانو څلور جوړې ترتیبول، یوه جوړه بلې سره خوا کې.(۶)	توره تخته
- د ۴ × ۲ په خوا کې ۳ × ۲ لیکل همدغه شان د درېدلو د عمل غوښتنه کول.	- د ټولګي د کوتې مخې ته بلې خوا کې د ماشومانو دري جوړې ترتیبول.	
- پوښتنه کول چې د ټولګي مخې ته یوځای ټول څومره ماشومان ولاړ دي؛ د نورو ډېرو ممکناتو په هکله پوښتنه کول، د خوابونو په مقابل کې د زده کوونکوتحسینول	- بحث کول، تجویز وړاندې کول مثلاً د ټولو ماشومانو یو بل پسې شمارل یا حساب کول: ۴ × ۲ = ۸ ۳ × ۲ = ۶ ۸ + ۶ = ۱۴	
- د مناسب قسم حالتونو د معلومولو او د دې د لیکلو د طریقې رهنمايي کول.(۲)	- د ماشومانو دواړه ګروپونه ۸ یو خای کېدل او دا ښودل چې د دوی فعالیت طریقه څنګه بیان کړی شي او ولیکلی شي. لیکل یعني: ۴ × ۲ + ۳ × ۲ = ۷ × ۲ ۷ × ۲ = ۱۴	
	۲ - د فعالیت د یو بل مثال مشق کول	
- څنې پوښتنې مثلاً ۲ × ۲ + ۷ × ۲ لیکل؛ د پورته په شان عمل کولو غوښتنه کول.	- د ټولګي یوې خواته د دوو جوړو د ماشومانو ودرېدل، د ۷ جوړو بلې خواته ودرېدل؛ بیا د دواړو یو خای کېدل چې د ۹ جوړو یو ګروپ جوړ شي.	
- د شوي کار د بیانولو غوښتنه کول، په رقمونو او علامو سره پرتوره تخته لیکل.	- د عددي قیصې بیانول؛ پر توره تخته لیکل: ۲ × ۲ + ۷ × ۲ = ۹ × ۲ ۹ × ۲ = ۱۸	
	۳ - درسمونو په ذریعه درقمونو دجمع کولو مشق کول	
- پر توره تخته لاندې رسمول : 	- ویل چې دغه دوه ګروپونه یو خای کول په کار دي؛ پر توره تخته رسمول : 	توره تخته
- د نقطو څخه د زده کوونکو د جوړو مطلب اخیستل؛ غوښتنه کول چې د ماشومانو د ټول شمېر د معلومولو له پاره څه کول په کار دي؛ مرسته کول؛	- پر توره تخته لیکل : ۳ × ۲ + ۵ × ۲ = ۸ × ۲ ۸ × ۲ = ۱۶	
- لومړۍ مشق پانې ته د کتلو غوښتنه کول په کار د پوهولو له پاره مرسته کول(۳)؛ ببل ببل کار ورکول؛ مرسته کول؛ امتحان کول.	- په کار خان پوهول (یعني د مشق پانې په منځنۍ برخه کې د نقطو یو خای شوي ګروپونه رسمول.	مشق پانه ر ۲ - ۳۲ - ۱

(۱) د ګروپ ماشومان دي د ټولګي يوې خوا او مخې ته ودرېږي چې وروسته بيا مقابلې خواته يو بل ګروپ ودرېږي او ټ
آخر کې دواړه يوځای کېږي په جوړو کې ولاړ ماشومان دي يو بل ته خپل لاسونه ورکړي.

(۲) ښوونکی دې له ماشومانو څخه دا توقع نه کوي چې هغوی به سمدستي په دې پوه شي چې ۴ × ۲ + ۳ × ۲ = ۷ × ۲ (= ۱۴) د حساب يوه بله عملي طريقه ده. ښوونکي ته حوصله او ماشومانو ته ډاډ ګيرنه ورکول په کار دي چې بيا بيا فکر وکړي او بېل بېل امکانات وړاندې کړي. که ماشومانو د حساب دا طريقه معلومه نه کړای شوه نو ښوونکی دې پوښتنه وکړي چې آيا د يوې داسې طريقې امکانات شته چې دواړه ګروپونه داسې ترتيب شي چې د ټولو ماشومانو شمېرل او حساب آسانه شي. ممکنه ده چې ماشومان د دوو ګروپونو د يو ځای کولو تجويز وړاندې کړي. دا به د يوې عددي قيصې په شان بيانوي او د رياضي د عملیې په شکل کې به يې ليکي (يعنې ۴ × ۲ + ۳ × ۲ = ۷ × ۲)



که چېرې ماشومانو دا معلومه کړه چې د ټولګي مخې ته ټول ۷ × ۲ ماشومان ولاړ دي، نو بيا دې ښوونکی پوښتنه وکړي چې دوی دا څنګه معلومه کړه ، زده کوونکي به ووايي چې د ټولګي يوې خواته د ۴ × ۲ زده کوونکو او د ټولګي بلې خواته د ۳ × ۲ زده کوونکو ټول ۷ × ۲ زده کوونکي جوړېږي. بيا دې ۷ جوړې يو ځای د يوې بلې شاته ودرېږي او څه چې وشو هغه دې په عددي قيصې کې بيان کړي او بيا دې عمليه پر توره تخته وليکي.

۳- لومړی ښي طرف ته د "دوو" جوړې شمېرل، ښي طرف ته بکس ډکول؛ بيا کېنې اړخ ته د دوو جوړې شمېرل، کېنې طرف ته بکس ډکول؛ بيا ښي اړخ ته چې د دوو جوړې څومره جوړې شوې دي هغومره ښي اړخ ته دجوړولو په ذريعه دغه دوه ګروپونه يو ځای کول او ښي اړخ ته جوړې چلېپا کول؛ په آخر کې ښي اړخ ته يو ځای شوی ګروپ شمارل او لاندينی بکس ډکول.



موضوع : د ۵ پاړې (ضرب زبانی) څخه د ضرب د رقمونو جمع کول

لکه : ۱ × ۵ + ۳ × ۵ = ۴ × ۵

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکي پر توره تخته ليکي، مثلاً ۲ × ۲ + ۳ × ۲ ؛ ۲- زده کوونکو وايي / ليکي : ۲ × ۲ + ۳ × ۲ = ۵ × ۲ ۵ × ۲ = ۱۰ ۳- ښوونکی پر توره تخته ۳ × ۵ + ۲ × ۵ ليکي؛ له زده کوونکو څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي او د همدغې عملیې مطابق عمل وکړي. ۴- ۳ کرته ۵ زده کوونکي د ټولګي مخې ته په يوه خوا کې ودرېږي، ۲ کرته ۵ زده کوونکي د ټولګي مخې ته په بله خوا کې ودرېږي؛ بيا د ۵ × ۵ زده کوونکو د يو ګروپ جوړولو له پاره دواړه ګروپونه يوځای کېږي. ۵- ښوونکی د عملیې د بيانولو غوښتنه کوي؛ زده کوونکي عددي قصه وايي. ۶- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې په توره تخته مساوات وليکي : ۳ × ۵ ÷ ۲ × ۵ = ۵ × ۵ ۵ × ۵ = ۲۵ ۷- زده کوونکي دويمې مشق پاڼې ته ګوري؛ په کار باندې يې بحث کوي؛ مشق پاڼه بشپړوي؛ په آخر کې ټول مساوات ټولګي ته لولي؛ امتحان کوي، اصلاح صورت نيسي.	توره تخته مشق پاڼه ر ۲ – ۳۲ - ۲



ر۲-۳۳-۲

موضوع : د ۲ پاړې (ضرب زباني) او د ۵ پاړې (ضرب زباني) څخه د ضربي د رقمونو جمع کول.

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی غواړي چې د ۲ پاړې (ضرب زباني) څخه مخ په وړاندې او مخ په شا ټول رقمونه ووايي. ۲- ښوونکی د ۲ پاړې (ضرب زباني) څخه د ډېرو کارونو غوښتنه کوي مثلاً : ۳ × ۲ = ☐ ، ۸ × ۲ = ☐ ۳- ښوونکی غواړي چې د ۵ پاړې څخه مخ په وړاندې او مخ په شا ټول رقمونه ووايي. ۴- د ښوونکي د ۵ پاړې (ضرب زباني) څخه د ډېرو کارونو غوښتنه کوي مثلاً : ۷ × ۵ = ☐ ، ۳ × ۵ = ☐	
۵- زده کوونکي د دريمې مشق پانې پاسنۍ برخې ته ګوري، په کار خان پوهوي؛ ټول خوابونه پخپله معلوموي.	مشق پانه ر ۲ - ۳۲ - ۲
٦- ښوونکی کار ګوري؛ د کرښو جوړ کړی شوی رسم که صحيح وي نو داسې به ښکاري:	
۷- زده کوونکي د دريمې مشق پانې لاندينۍ برخې ته ګوري؛ په کار خان پوهوي؛ ټول خوابونه پخپله معلومول. ۸- ښوونکی کار ګوري، که د کرښو جوړ کړی شوی رسم صحيح وي نو داسې به ښکاري:	مشق پانه ر ۲ - ۳۲ - ۲



درسي پلان ۳۳ ر ۲ - ۳۳ - ۱	موضوع : د ضرب د رقمونو تفريق کول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - د ضرب د رقمونو د جمع کولو مشق	تخته
- پر تخته ۱ × ۲ ليکل، غوښتل چې په دغه شمېر زده کوونکي د ټولګي مخې ته راشي.	- دوه زده کوونکو مخې ته راتلل او خوا په خوا ودرېدل، يو بل ته لاسونه ورکول.(۲)	
- د لومړي رقم په خوا کې ۱ × ۲ + ليکل، له زده کوونکو څخه غوښتل چې د پورته په شان عمل وکړي.	- بحث کول، تجويزونه وړاندې کول؛ د دوو نورو زده کوونکو مخې ته راتلل، لومړنيو دوو زده کوونکو خوا کې ودرېدل.	
- د مساوي علامې په خوا کې ليکل يعني : ۱ × ۲ + ۱ × ۲ - □	- معلومول: ۱ × ۲ + ۱ × ۲ = ۲ × ۲ ، دغه په تخته ليکل(۳)	
- د لومړي مساوات لاندې : ۲ × ۲ + ۱ × ۲ = ليکل	- د دري نورو جوړو مخې ته راتلل او د نورو جوړو شاته ودرېدل.	
- د مساوات د مکملولو غوښتنه کول.	- د ځينو زده کوونکو له خوا خوابونه ورکول، د يوه زده کوونکي له خوا پر تخته ليکل : ۲ × ۲ + ۳ × ۲ = ۵ × ۲ ، د جوړو په شمېرلو سره د يوه زده کوونکي له خوا امتحان کول چې آيا په ربنتيا سره ۵ × ۲ زده کوونکي مخې ته ولاړ دي.	
- لاندې ۵ × ۲ + ۵ × ۲ = ليکل	- د زده کوونکي پنځه نورې جوړې مخې ته راتلل او د نورو شاته ودرېدل.	
- د حل غوښتنه کول	- خواب ورکول، ليکل ۵ × ۲ + ۵ × ۲ = ۱۰ × ۲؛ د پاس په شان امتحان کول.	
	۲ د رقمونو د تفريق کولو ښودنه	تخته
- پر تخته ليکل : ۱۰ × ۲ - ۱ × ۲ =	- تجويز وړاندې کول چې مخې ته ولاړو زده کوونکو يوه جوړه به ښېرته خپل ځای ته ځي؛ د يوې جوړې خپل ځای ته تلل.	
- د مساوات د مکملولو غوښتنه کول.	- بحث کول، پر تخته ليکل: ۱۰ × ۲ - ۱ × ۲ = ۹ × ۲ ، د زده کوونکو د پاتې جوړو په شمېرلو سره امتحان کول.	
- پر تخته ليکل: ۹ × ۲ - ۲ × ۲ =	- د زده کوونکو د دوو جوړو څخه غوښتل چې ښېرته خپلو خپلو ځايونو ته لاړ شي. تلل يې.	
- د مساوات د مکملولو غوښتنه کول.	- بحث کول، په تخته ليکل: ۹ × ۲ - ۲ × ۲ = ۷ × ۲ ؛ د نورو پاتې جوړو په شمېرلو سره امتحان کول.	
- د مخې ته ولاړو زده کوونکو د يوې جوړې څخه غوښتل چې ښېرته خپل ځايونو ته لاړ شي.	- د زده کوونکو د يوې بلې جوړې ښېرته خپل ځای ته تلل؛ د نورو له خوا اندازه لګول چې پر تخته به څه ليکل کېږي، په تخته ليکل : ۷ × ۲ - ۱ × = ٦ × ۲ ؛ د باقي پاتې جوړو په شمېرلو سره امتحان کول.	

موضوع : مکملو لسیزونو ته د رسیدلو له پاره جمع او تفریق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني روزنه : د تفریق یوه داسي سلسله حلول چې تل له هغو عددونو څه شروع کیږي چې یو شان واحدونه لري ، (لکه د ښوونکي ویل " ۹۴ " د زده کوونکو ۹۴ – ۴ = ۹۰ ویل ، د ښوونکي " ۸۴ " د زده کوونکو ۸۴ – ۴ = ۸۰ ویل او داسي نور .	مشق پانه ر۲ – ۳ – ۲
۲. د مشق پانې ر۲ – ۳ – ۲ پاسني کتار ته کتل ، په دوو مختلفو عملونو بحث کول ، چې مخ په وړاندې او مخ په شا مکمل لسیز ته رسي .	
۳. د مشق پانې ټول مساوات له خپل ملګري سره مکملول : الف - د ټولو نتیجو لوستل . ب – مقایسه کول / امتحان کول .	تـوره تختـه
۴. د ښوونکي هغه کارونه را اخیستل چې مشکلات لري ، تشریح کول / په توره تخته یې لیکل .	

٦٨ + ☐ = ٧٠	٦٨	٦٨ - ☐ = ٦٠
٣٤ + ☐ = ٤٠	٣٤	☐ - ٣٤ = ٣٠
٧٩ + ☐ = ٨٠	٧٩	☐ - ٧٩ = ٧٠
٥٢ + ☐ = ٦٠	٥٢	☐ - ٥٢ = ٥٠
٢١ + ☐ = ٣٠	٢١	☐ - ٢١ = ٢٠
٨٧ + ☐ = ☐	٨٧	☐ - ٨٧ = ☐
١٦ + ☐ = ☐	١٦	☐ - ١٦ = ☐
٦٣ + ☐ = ☐	٦٣	☐ - ٦٣ = ☐
٥٥ + ☐ = ☐	٥٥	☐ - ٥٥ = ☐
٢٤ + ☐ = ☐	٢٤	☐ - ٢٤ = ☐
٥٠ + ☐ = ☐	٥٠	☐ - ٥٠ = ☐

ر۲-۳-۲

- دنورو دريو جوړو په کښولو سره د پورته عمل غوښتل. - د پاتې ټولو جوړو کښول.	- بحث کول، ليکل: ٦ × ٢ - ٣ × ٢ = ٣ × ٢ ، امتحانول. - بحث کول ، حلول : ٣ × ٢ - ٣ × ٢ = ٠ × ٢ ؛ پر توره تخته ليکل(۴)	
- د مشق پاڼې په پاسنۍ برخه کې د زده کوونکو څخه د کار غوښتل او معلومول چې څه کول په کار دي. - غوښتنه کول چې د مشق پاڼې پاسنۍ برخه دې په دوه دوه کسه مکمله کړی شي. (۵) - د مشق پاڼې لاندينۍ برخې ته د کتلو غوښتنه کول، که ضرورت و کار تشريح کول.(٦) - د دې برخې د مکملولوغوښتل.	*۳- په مشق پاڼه د رقمونو تفريق کول.* - مثال ته کتل، د کار معلومول - د مشق پاڼې پاسنۍ برخه ملګري سره يوځای مکملول په آخر کې د ځوابونه ټولګي ته لوستل، امتحانول. - په کار بحث کول. - د دې برخې مکملول؛ د ځوابونو لوستل.	مشق پاڼه ر ٢ - ٣٣ - ١

(۱) ٢ × ٢ يا ٣ + ١ يا ٨ - ۴ ته سوالونه ويل کېږي.

(۲) په آخر کې به ١٠ × ٢ = ٢٠ زده کوونکي د ټولګي مخې ته په هغه پراخ ځای کې ودرېږي کوم چې ورته ښوونکی تيار کړی دی، که ضرورت و نو دا مشق به ټولګي څخه بهر کېږي.

(۳) ښوونکی به دغه ليکتې ته خاص ترتيب ورکوي چې بيا په آخر کې د يو بل لاندې ليکلې کېږي.

(۴) د ځينو رقمونو سره زده کوونکي ډېره اشنايي نه لري، نو ښوونکی د دې پوښتنې په ذريعه مرسته کوي: که چېرې هېڅ باقي پاتې نه شي نو د کوم عدد ليکل په کار دي.

(۵) د کين اړخ مساوات ډېر فکر غواړي. نو ښوونکی به د هر زده کوونکي سره مرسته کوي.

(٦) که چېرې زده کوونکي د مشکلاتو سره مخامخ شي نو د لومړي کار (١٠ × ٥ - ٢ × ٥) مشق به پر توره تخته کېږي.



موضوع : د ۲ پاړې څخه د ضرب د رقمونو د جمع او تفریق مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی پر توره تخته لیکي : ٦ × ۲ + ۳ × ۲ - [× ۲] ۹ × ۲ - ۴ × ۲ - [× ۲] له زده کوونکي څخه غواړي چې همدغه عمل به د ماشومانو په جوړو کې کړي.	توره تخته
۲- زده کوونکي بحث کوي، تجویز وړاندې کوي (لومړی به زده کوونکو جوړې مخې ته راځي؛ بیابه د زده کوونکو دري نورې جوړې د دوی خواته ودرپږي، بیا به د زده کوونکو نهه واړه جوړې کښېنې)	
۳- ښوونکی غواړي چې د تجویز سره سم عمل وشي (د جوړې په ترتیبولو کې مرسته کوي)؛ زده کوونکي سویقوي چې دا عمل په پوهې سره تکرار کړي ؛ د مساوات هغه برخې ته په اشاره کولو سره مرسته کوي د کوم مشق چې اوس اوس وشو. په توره تخته د خالي بکسونو ډکول؛ د زده کوونکو د باقي پاتې جوړو په شمېرلو سره امتحان کول.	
۴- د آخري مساوات په خوا کې د ښوونکي د یو بل بکس رسمول: ۹ × ۲ - ۴ × ۲ - [۵ × ۲] - [ ] ؛ د زده کوونکو له خوا د نتیجې موندل / لیکل یعني: ۱۰	توره تخته
۵- په دوو نورو مساواتونو همدغه شان عمل کول. مثلاً: ۸ × ۲ - ۳ × ۲ - [۲ ×] ۵ × ۲ + ۲ × ۲ - [×] د زده کوونکو له خوا همدغه شان عمل کول، بحث کول، تجویزونه وړاندې کول چې څه کول په کار دي، بیا عمل کول اود بکسونو ډکول؛ امتحان کول.	
٦- د آخري مساوات په خوا کې بالاخره د ښوونکي له خوا د یو بل بکس رسمول (- [ ])، د زده کوونکو له خوا د نتیجې معلومول / لیکل یعني ١٦	
په زده کوونکو دویمه مشق پاڼه مطالعه کول، بحث کول؛ جلا جلا د مشق پاڼې مکمللول؛ د ښوونکي له خوا امتحان کول / مرسته کول؛ د مشق پاڼې د کینې خوا نقطې به جلا جلا د کومک په حیث استعمالېږي. (د نقطو د جوړو متعلقه شمېر پتول / ښکاره کول)	مشق پاڼه ر ۲ - ۳۳ - ۱



موضوع : د ۲ او ۵ د پاړې څخه د جمع او تفريق د رقمونو مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی پر تور ه تخته ليکي : ۱ × ۵ + ۲ × ۵ - [۵ ×] ۳ × ۵ - ۲ × ۵ - [×] ښوونکی پوښتنه کوي چې دغه عمل په مخې ته تلونکو زده کو ـنکو څنګه کېږي.	تور ه تخته
۲- د زده کوونکو له خوا تجويز وړاندې کول چې لومړی به يو خل ۵ زده کونکي وړاندې راځي، بيابه ورپسې دوه خله پنځه پنځه زده کوونکي مخې ته راځي، دغه عمل تر سره کول، لومړی بکس ډکول، مخې ته ولاړو د زده کوونکو د جوړو په شمېرلو سره امتحان کول؛ بيا د زده کوونکو تجويز وړاندې کول چې بيا دوه خله پنځه پنځه زده کوونکي دې کښې؛ دويم بکس ډکول – امتحان کول.	
۳- د آخري مساوات خوا کې د ښوونکي له خوا يو بل بکس رسمول (= [ ])؛ د زده کوونکو له خوا د نتيجې موندل / ليکل يعنې ۵	
۴- له زده کوونکو څخه د دريمې مشق پاڼې د مطالعې غوښتنه؛ د مساواتو مکمل ول؛ که ضرورت و د پټولو / ښکاره کولو په ذريعه د رسم کړې شوو نقطونه کار اخيستل؛ مرسته کول، امتحان کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۳۳ - ۳
۵- د ښوونکي له خوا په تور ه تخته ليکل: ۸ × ۵ – ۲ × ۵ + ۱ × ۵ - [×] - [ ] د زده کوونکو دغه کار قدم په قدم حلول، (ويل: ۸ × ۵ – ۲ × ۵ = ۶ × ۵ ؛ ۶ × ۵ + ۱ × ۵ = ۷ × ۵ = ۳۵)؛ په تور ه تخته د بکسونو ډکول.	تور ه تخته
۶- د زده کوونکو څخه غوښتل چې د څلورمې مشق پاڼې لومړی وظيفه دې په همدغه شان مکمله کړي؛ د مشق پاڼې د نتيجو په بکس کې دې په نتيجو د (✓) ننبنه وشي يعنې ۳۵	مشق پاڼه ۲ – ۳۳ - ۴
۷- د مشق پاڼې د نورو ټولو برخو مکمل ول، د نتيجو په بکس کې په نتيجو د (✓) ننبنه کول؛ بېل بېل زده کوونکي سره مرسته کول.	





درسي پلان ۳۴ ر ۲ - ۳۴ - ۱	موضوع : د تقسيم بنودنه (پر ۲ تقسيمول)	
د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- لس زده کوونکي د ټولګي مخې ته په يو کنج کې ودرول؛ هر زده کوونکي ته دوه دوه کانۍ ورکول؛ بيا په توره تخته مثلاً ليکل: ۲ × ۳ ؛ غوښتنه کول چې دا کار عملاً وکړي شي. - د مساوات د مکملولو غوښتنه - په نورو رقمونو همدغه شان کار کول مثلاً : ۸ × ۲	*۱- د ضرب د رقمونو مطابق عمل کول* - د لسو زده کوونکو څخه د دريو زده کوونکو يو يو د بنوونکي مېز ته تلل؛ دري خله دري کانۍ پر مېز اېښودل، د نورو تشريح کول؛ شمېرل. - ۳ × ۲ = ۶ په توره تخته ليکل؛ کانۍ اوچتول) - د ۸ زده کوونکو له خوا کانۍ اېښودل (ټول ۱۶ کانۍ)؛ تشريح کول چې څه پېښ شول، په توره تخته ليکل ۸ × ۲ = ۱۶ ، (کانۍ اوچتول)	شل کانۍ توره تخته کانۍ
- په ټولګي کې د ټولو زده کوونکو سترګې پټول؛ بيا له لسو زده کوونکو څخه چې مخې ته ولاړ دي، پنځو زده کوونکو ته وېل چې خپل کانۍ ورو په مېز باندې کېږدي. - د زده کوونکو سترګې خلاصول. پوښتنه ترېنه کول چې څو زده کوونکو خپل کانۍ پر مېز اېښې دي. - د چک کولو غوښتنه - لس کانۍ په توره تخته رسمول؛ د تشريح غوښتل چې زده کوونکو د حل د پيدا کولو له پاره څه وکړل. - د دوو دوو ګروپونو څخه کرښه چاپېرول: ○ ○ ○ ○ ○ - وېل چې دا په لنډه طريقه هم ليکل کېږي، د دايرو خوا کې ۱۰ ÷ ۲ = ۵ ليکل، ټولګي ته يې لوستل چې ۱۰ په دوه برابرو برخو وېشل ۵ کېږي، متعلقه عددونو / علامو ته اشاره کول؛	*۲- د دوو په ګروپونو کې تقسيمول.* - د ترتيب څخه پرته د پنځو زده کوونکو له خوا خپل کانۍ اېښودل؛ بيا دغه نورو مخې ته ولاړو زده کوونکو ته ېېرته ورتلل. - تجويزونه وړاندې کول؛ بحث کول چې بايد څه وشي؛ دغه کانۍ شمېرل او د دوو په ګروپ کې يې تقسيمول، د ګروپونو شمېرل، وېل چې پنځو زده کوونکو خپل کانۍ په مېز اېښې دي. - معلومول چې د څومره زده کوونکو سره نور کانۍ نشته. - وېل چې دوی دغه لس کانۍ په دوو ګروپونو ووېشلي.(۱) - مشاهده کول، څه چې بنوونکی ورکړل د هغې تشريح کول د نوي رقم بيا استعمالول. - څه چې بنووونکي وويل د زده کوونکو له خوا څو خله تکرارول، په همدغه وخت کې په توره تخته متعلقه نښو / رقمونو ته اشاره کول.	تـــوره تخـــته کانۍ
- په زده کوونکو بيا سترګې بندول، په خاموشۍ سره بل شمېر زده کوونکو ته چې مخې ته ولاړ دي بلنه ورکول چې خپل کانۍ ورو په مېز باندې کېږدي (مثلاً لس زده کوونکي) بيا د ټولګي څخه پوښتنه کول چې ټولو څومره زده کوونکو پر مېز کانۍ اېښې دي.	*۳- په بل مثال کار کول* - د لسو زده کوونکو له خوا کانۍ پر مېز اېښودل بيا ېېرته هغه ځای ته تلل چې مخکې ولاړ وو؛ د نورو له خوا بحث کول؛ بيا دغه شل کانۍ په دوو ګروپونو تقسيمول، شمېرل، وېل چې لسو واړو زده کوونکو خپل کانۍ په مېز اېښې دي.	کانۍ

- غوښتنه کول چې کانې دي د مخکې په شان پر توره تخته رسم شي. - بلنه ورکول چې شوی کار په یوه لنډه طریقه ولیکلی شي. ویل چې د حسابولو دي نوې طریقې ته تقسیم وایي.(۲)	- شل کانې پر توره تخته رسمول، دوه دوه کانې ځخه کرښه چاپېرول: - د دایرو په خوا کې ۲۰ ÷ ۲ = ۱۰ لیکل؛ داسې یې تشریح کول: ۲۰ په دوه برابرو برخو وېشل لس کېږي؛ ځو ځله یې تکرارول؛ په همدغه وخت کې متعلقه رقمونو او علاموته اشاره کول.	توره تخته
- لومړی مشق پانه په زده کوونکو مطالعه کول؛ تشریح کول چې د مشق پانې په پاسنۍ او لاندینۍ برخه څه کېږي.	*۴- د مشق پانې ډکول* - په کار ځان پوهول، د دوه دوه ګروپونو ځخه کرښه چاپېرول، د مساواتو لیکل یعنې ۱۴ ÷ ۲ = ۷ ، ځو ځله یې ټولګي ته لوستل، همدغه وخت رقمونو او علامو ته اشاره کول.	مشق پانه ر ۲ - ۳۴ - ۱

(۱) شاید زده کوونکي نور اصطلاحات هم استعمال کړي مثلاً د دوو دوو کانو د ګروپونو تشکیلول او داسې نور. ښوونکی به یوه طریقه پیدا کوي چې زده کوونکي دېته رهنمایي کړي چې د دوو ګروپ شکل د تقسیم له پاره استعمال کړی خو د نورو اصطلاحاتو په پیدا کولو کې به ورسره کومك کوي. که چېرې دغه ضروري اصطلاحات یعني د دوو په ګروپ کې تقسیم زده کوونکي نشي پیدا کولی نو ښوونکی به یې ورته پخپله کوي په راتلونکو مشقونو کې به دا اصطلاح زیات استعمالېږي.

(۲) د دې له پاره چې زده کوونکي له اصطلاح سره عادت شي نو ښوونکی به وخت په وخت دا اصطلاح استعمالوي. (تقسیم پر ۲).



موضوع : په ۲ د تقسيمولو مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- لسو زده کوونکو ته بلنه ورکول چې د ټولګي مخې ته ودرېږي، د هر يو سره به دوه دوه کانۍ وي (لکه چې په تېر درسي پلان کې تشريح شوې ده)	۲۰ کانۍ
۲- د ټولګي په زده کوونکو سترګې بندول، بيا په خاموشي سره دغه مخې ته ولاړو يو څو زده کوونکو ته ويل چې خپل کانۍ ورو په مېز کېږدي. له نورو زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې څو تنه زده کوونکو کانۍ په مېز اېښې دي.	
۳- د زده کوونکو له خوا تېر درس په شان کار کول: د شګو دوه ګروپونه جوړول، د دغه ګروپونو شمېرل؛ دغه شمېر کانۍ په توره تخته رسمول؛ د دوه دوه کانۍ د ګروپونو څخه کرښې چاپېرول؛ شمېرل يې؛ پر توره تخته د هغوی مساوات ليکل، ټولګي ته يې لوستل ؛ په همدغه وخت کې مربوطه رقمونو / علامونه اشاره کول؛ هرځل د صحيح اصطلاحاتو استعمالول.	توره تخته
۴- پر مېز باندې د کانۍ په اېښودلو سره دا فعاليتونه څو څو ځله په مختلف شمېر کانۍ تکرارول. هر ځل رسمول، ليکل او ټولګي ته يې دمخکې په شان لوستل.	
۵- په دوه دوه کسانو باندې په دويمه مشق پاڼه کار کول، بالاخره د ټولو مساواتو لوستل؛ زده کوونکو سره مرسته کول، چک کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۲ - ۲



موضوع : د تقسیم مشق کول، ضرب سره ارتباط ورکول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه: د ۲ پاڑې څخه د ضرب د رقمونو حلول لکه: ۶ × ۲ = ☐ ، ۷ × ۲ = ☐ او نور. ۲- پر توره تخته د ۴ × ۲ = ☐ لیکل؛ غوښتنه کول چې د دې مساوات په اندازه کانې دې پر توره تخته رسم شي، همدغه شان د زده کوونکو له خوا خلور خله دوه دوه کانې رسمول تر چاپېره یې کړښې تاوول ویل / لیکل ۴ × ۲ = ۸ ۳- د ښوونکي له خوا کې لیکل: ۸ ÷ ۲ = ☐ ، غوښتل چې اوس دې ترښه کړښې تاو کړای شي؛ د زده کوونکو له خوا د دوو دوو ګروپونو څخه کړښې تاوول، شمېرل او لیکل یې: ۸ ÷ ۲ = ۴ ۴- د دواړو فعالیتونو دې تشریح غوښتل، کومې چې مخکې وکړی شوې، مثلاً مونږ لومړی په توره تخته خلور خله دوه دوه کانې رسم کړل چې ټول ۸ کانې شول، بیا مو دغه اته کانې د دوو په ګروپونو ووېشل، معلوم مو کړل چې ګروپونه خلور دي. ۵- د دریمې مشق پانې مطالعه کول: په کار خان پوهول (یعنې په لومړي کې دوه دوه کانې هومره خله جوړول. څومره خله چې غوښتی شوي دي؛ بیا ترې کړښه چاپېرول، حسابول یې، زده کوونکو سره مرسته کول، چک کول؛ د زده کوونکو له خوا تشریح کول څه چې دوی کړي دي ټولګي ته لوستل.	توره تخته مشق پانه ر ۲ - ۳۴ - ۳



درسي پلان : ۳۵
ر ۲ - ۳۵ - ۱

موضوع : په ۵ تقسيمول

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - په ۲ د تقسيمولو تکرارول	تخته
- په توره تخته ۴ × ۲ = ☐ ليکل. يوه زده کوونکي ته بلنه ورکول چې دا مساوات په توره تخته د نقطو د رسمولو په ذريعه حل کړي.	- د يو زده کوونکي ۸ نقطي رسمول، په ځلورو ګروپونو کې هر يو دوه نقطي، په بکس کې صحيح ځوابونه ډکول.	
- لومړی مساوات يعنې ۴ × ۲ = ۸ په خوا کې ۸ ÷ ۲ = ☐ ليکل؛ غوښتل چې پر توره تخته د رسم شوو نقطو په مرسته ځنګه حل کېدای شي.	- د يو بل ماشوم د دوو په ګروپونو کې د جوړو شوو نقطو نه دايره تاوه ول، د جواب معلومول، دا په بکس کې ليکل؛ د نورو ورته کتل، که ضرورت وو اصلاح يې کول.	
- د نورو مساواتو په ذريعه د دې فعاليت تکرارول مثلاً ۸ × ۲ = ☐ ، ۱۶ ÷ ۲ = ☐ ، ۵ × ۲ = ☐ ، ۱۰ ÷ ۲ = ☐ (۱)	- د يو څو ماشومانو د ټولګي مخې ته راتلل چې مختلف مساوات حل کړي، د نورو ورته کتل؛ بحث کول؛ امتحان کول يې.	
	۲ - د پنځو په ګروپونو کې تقسيمول	توره تخته
- پر توره تخته د يو څو مساواتونو ليکل مثلاً: ۸ × ۵ = ☐ ، ۴ × ۵ = ☐ ، ۹ × ۵ = ☐	- ځواب ورکول، بکسونه ډکول	
- په ځلورو ماشومانو ۴ + ۵ پنسلونه يا لبنتي تقسيمول (هر يو ته ۵ پنسلونه يا لبنتي ورکول)؛ ماشومانوته بلنه ورکول چې د ټولګي مخې ته ودرېږي.	- ويل چې ۴ ماشومانو ۴ × ۵ = ۲۰ پنسلونه يا لبنتي نيولي دي، هر يو ۵ پنسلونه يا لبنتي نيولي دي.	پنسلونه يا لبنتي
- په ټولګي کې د ناستو ماشومانو سترګې پټول. د ټولګي مخې ته ولاړو ماشومانو څخه ۳ ماشومانوته په خاموشي ويل چې خپل پنسلونه يا لبنتي پر مېز کېږدي؛ مخې ته د ټولو ولاړو ماشومانو خپلې شاته د لاسونو پټول.	- سترګې پټول	
- ناستو ماشومانو ته ويل چې خپلې سترګې وغړوي او معلوم کړي چې څو ماشومانو پر مېز پنسلونه اېښي دي.	- مشاهده کول، قياس کول، پر مېز د پرتو پنسلونو يا لبنتو د شمېرلو تجويز وړاندې کول ۵ په درې ګروپونو وېشل؛ معلومول چې ۵ درې ګروپونه دي؛ ويل چې ۳ ماشومانو خپل پنسلونه يا لبنتي په مېز اېښي دي.	
- ماشومانو ته ويل چې په توره تخته ۱۵ کربنې رسم کړي او د ۵ د ګروپونو څخه دايره چاپېره کړي، د پنسلونو يا لبنتو شکاره کول.	- پر توره تخته ۱۵ کربنې رسمول، د ۵ په ګروپونو کې ټرې دايره تاوول. (۲)	توره تخته
- ماشومانو ته ويل چې د تقسيم په شکل کې مساوات وليکي.	- پر توره تخته ۱۵ ÷ ۵ = ۳ ليکل، څو ځله مساوات لوستل. (۳)	
- هم په دغسې مشقونو دا فعاليت تکرارول؛ اوس په خاموشي سره ټولو ۴ ماشومانوته ويل چې خپل پنسلونه يا لبنتي په مېز کېږدي.	- سترګې پټول، بيا د مخکې په شان کار کول يعنې شمارل، د ۵ ګروپونه، کربنې رسمول او دايره ترې تاوول؛ مساوات ليکل (يعنې ۲۰ ÷ ۵ = ۴)؛ څو ځله يې ټولګي ته لوستل، د تقسيم په ... اصطلاح / شکل تقسيمول شکل استعمالول.	پنسلونه يا لبنتي توره تخته

	۳- په مشق پانه د تقسیم مشق کول	مشق پانه ر ۲ - ۳۵ - ۱
- د لومړۍ مشق پاڼې د خلاصولو غوښتنه کول، په پوهولو کې يې مرسته کول.	- بحث کول په کار خان پوهول.	
- د مشق پاڼې د سر د ښي اړخ د برخې مکملول، مرسته کول، چك کول يې.	- معلومول چې دمشق پاڼې په سر کې ښي اړخ ته په نیمه برخه کې ۳۵ سړي دي، د ۵ ګروپونه جوړول او د ګروپونو عدد (؟) معلومول؛ مساوات مکملول.	
- زده کوونکو ته ویل چې د مشق پاڼې پاسنۍ ښي طرف او بیا لاندینۍ برخه مکمله کړئ.	- همدغه عمل کینې برخې سره؛ او بیا لاندینۍ برخې سره کول، لومړی وړې دایرې یا نقطې رسمول، د ۵ د ګروپونو څخه دایره تاوول، بیا مساوات مکملول او په ۵ تقسیمول د استعمالولو په ذریعه دا څو خله ټولګي ته لوستل. (۴)	

(۱) هرکرت ښوونکي ته په کار دي چې د ضرب تر عملیې وروسته د تقسیم عملیه ولیکي. مثلاً ۴ × ۲ = ☐

۸ ÷ ۲ = ☐

۲ - دا به په آخر کې داسې ښکاري.

۳- زده کوونکي دې په اوچت آواز مساوات څو کرته د تقسیم په اصطلاح استعمالولو سره ولولي، بیا ښوونکي دې ووایي چې د داسې مساوات د لوستلو یوه لنډه طریقه هم شته (۱۵ چې په ۵ تقسیم شي نو د ۳ برابر به وي) مربوطه عددونو او علامو ته اشاره کول. له دې وروسته به دا لنډ اصطلاح په باقاعدګۍ سره استعمالېږي.

۴- ښوونکي به دا خبره واضحه کوي چې په دې کار کې دوه عملونه شامل دي؛ لومړی په یوې بې قاعده نمونې کې د متعلقه عددونو د نقطو رسمول (۲۵ ، تر ۵۰ پورې په ترتیب)، دویم د ۵ نقطو د ګروپونو څخه دایره تاوول.



موضوع : پر ۵ تقسیمولو مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- د ماشومانو له ټولګي څخه بهرته ببول، مثلاً ۳۰ زده کوونکو ته ویل چې په یوه دایره کې ودریږي، ۳۰ پورې په اوچت آواز لوستل؛ د نورو کښېناستل او لوبې ته په غور کتل. د ښوونکي تشریح کول چې کله هغه لاسونه وپرقوي، نو کوم ماشومان چې په دایره کې ولاړ دي هغوی به اوس چاپېره منډې وهي خو چې کله لاسونه پرقول بند شي، دا ماشومان به د پنځو ګروپونه جوړوي.	
۲- د ټولو ماشومانو څخه غوښتنه کول چې قیاس وکړي چې د څومره ګروپونو جوړول ممکن دي.	
۳- لوبه شروع کول او چې کله لاسونه پرقول بند شي نو ماشومان پنځو ګروپونه جوړوي، د نورو ورته په غور کتل، شمېرل، ویل چې، ګروپونه جوړ کړی شو چې په هریو ګروپ کې ۵ ماشومان دي.	
۴- فعالیت یو یا دوه نورو عددونو او نورو زده کوونکو سره تکرارول (یعني ۲۰ ، ۴۰). د لوبې شروع کولو څخه مخکې هر ځل د مخکې څخه د پنځو د ګروپونو د عدد قیاس کول.	
۵- زده کوونکي ټولګي / کوټې ته وروستل، د ماشومانو څخه غوښتنه کول چې څه یې ولیدل د هغو تکرارول، تر ویلو وروسته د فعالیت مربوطه مساوات معلومول؛ په آخر کې د ټول مساوات ۳۰ ÷ ۵ = ۶ ویل پر تخته لیکل، په صحیح طریقه یې ټولګي ته لوستل.	وره تخته
۶- نور کوم فعالیتونه / لوبې چې د ښوونځي څخه بهر میدان کې شوې وې، د هغوی په مربوطه عددونو ۲۰ / ۴۰ همدغه شان کار کول.	
۷- په دویمه مشق پانه کار کول؛ ګروپونه جوړول چې په هر ګروپ کې ۵ کېلې وي، مساوات مکملول.	مشق پانه ر ۲ - ۳۵ - ۲



ر۲-۳۵-۲

درسي پلان : ۴ ر ۲ - ۴ - ۱	موضوع : په لسيزونو کې جمع او تفريق کول (بې له انتقال څخه)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- په توره تخته يو مکمل لسيز ليکل لکه : ۸۰ غوښتنه کول چې مکمل ګاونډي لسيز ۹۰ پورې مخ په وړاندې شمېر وکړئ . - د مخ په شا ګاونډي مکمل لسيز ۷۰ پورې د شمېرلو غوښتنه کول . - هم دغه شان جاري ساتل ، نور مکمل لسيز په توره تخته ليکل.	*۱ . له مکمل لسيز څخه تر بل مکمل لسيزه پورې مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول :* - لومړی يو زده کوونکي تر ۹۰ پورې شمېر کوي ، بيا ټول په ګډه تر ۹۰ شمېر کوي . - لومړی يو زده کوونکی مخ په شا تر ۷۰ پورې شمار کوي او بيا ټول زده کوونکي په ګډه تر ۷۰ پورې مخ په شا شمار کوي . - اول يو ماشوم او بيا ټول ماشومان مخ په وړاندې او مخ په شا تر ګاونډي لسيز پورې شمار کوي .	تـــوره تختـــه
- له يوولسو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په خپلو سلېټونو له ۵۰ څخه تر ۶۰ پورې ټول اعداد غټ غټ وليکئ . (۱) - له يوولسو واړو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپل سلېټونه په لاسونو کې ونيسي او د ټولګي په وړاندې يو کتار جوړ کړي . (۲) - په تـوره تختـه ليکـل ۵۳ + ۴ = □ ؛ غوښتنه کول چې د حل د معلومولو له پاره به د زده کوونکو دا کتـار څنګه اسـتعمالوو ، څو ماشومانو ته د حل د پيدا کولو بلنه ورکول . (۳) - هم د غه شان لـه ۵۴ + ۵ = □ او ۵۶ + ۳ = □ سره کار جاري ساتل . - په توره تخته ۵۹ - ۷ = □ ليکل ؛ دوباره د عددي سلسلې د استعمال غوښتنه کول . - لـه نـورو زده کوونکـو او مسـاواتونو سره کـار جاري ساتل مثلاً : ۵۵ - ۴ = □ ، ۵۷ - ۶ = □	*۲ . د عددونو د سلسلې په مرسته د لسيزونو په منځ کې واحدونه جمع او تفريق کول :* - اولنی ماشوم ۵۰ ليکي دوهم ۵۱ ليکي دريم ۵۲ ان تر ۶۰ پورې . - يوولـس زده کوونکـي د عددونـو د سلسـلې مطابق په يو کتار کـې اوږه پـه اوږه ودرېږي او خپل سلېټونه اوچت نيسي . - څو زده کوونکي دحل د معلومولو کـوښښ کـوي لکه له ۵۳ څخه شروع کول او له هغه ځايه څخه څلـور قدمونـه زده کوونکـي کيـنې خواتـه روانېدل، بکس ډکول . - د مخکې په شان عمل کول . - يو يا زيات ماشومان د حل د معلومولـو کـوښښ کـوي لکه ۷ قدمونه ښي اړخ ته تلـل او لـه ۵۹ څخه شروع کول ؛ حل تـه رسـېدل ۵۲ په بکس کې ليکل . - زده کوونکـي د دې عمـل مظـاهره د ټولـګي د وړاندې کوي ، په بکسونو کې د ليکل .	يوولـــــس سـلېټونه يوولس عددي کارډونـه لـه ۵۰ نـــه ۶۰ پـــــورې تـــوره تختـــه سـلېټونه عـــــددي کارډونـــــه تـــوره تختـــه سـلېټونه عـــــددي کارډونه
- په توره تخته يوولس بکسونه رسمول چې له ۷۰ نه تر ۸۰ پورې عددونه په کې ليکل شوي وي . (۴) په توره تخته د مساوات ۷۶ - ۴ = □ د مکملولو له پاره د بکسونو د استعمالولو غوښتنه کول .	*۳ . د عددي پټې / سلسلې په مرسته واحدونه جمع او تفريق کول :* - په يو لاس هغه بکس ته اشاره کول چې ۷۶ په کې ليکل شوي وي ، بيا په بل لس ۴ قدمونه ښي اړخ تـه راتلـل او ۷۲ تـه رسـېدل ، د مسـاواث مکملول .	تـــوره تختـــه

موضوع : د ۵ ضرب او تقسيم

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- زده کوونکو ته د لاندې په شان لومړی د ضرب او تقسيم کارونه ورکول؛ په توره تخته ليکل؛ د حل غوښتنه کول: ☐ - ۵ × ۴ ☐ - ۵ × ۶ ☐ - ۵ × ۱۰ ☐ - ۵ × ۷ ☐ ÷ ۵ - ۴ ☐ ÷ ۵ - ۶ ☐ ÷ ۵ - ۱۰ ☐ ÷ ۵ - ۷	توره تخته
۲- دريمې مشق پاڼې ته کتل؛ په کار خان پوهول، ښي طرف ته مساوات مکملول، د مشق پاڼې کښ ارڅ ته په صحيح عددونو دا ښنبه (✓) لګول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۳۵ - ۳



ر۲-۳۵-۳

درسي پلان ۳۶ ر ۲ - ۳۶ - ۱	موضوع : پر ۲ او ۵ باندې د تقسيمولو مشق کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱- په ۲ د تقسيمولو مشق کول	
- لس زده کوونکي مخې ته رابلل د ټولګي مخې ته يې په يوه کتار کې درول؛ هر يو زده کوونکي ته دوه کانۍ ورکول.	- د ټولګي مخې ته په ښي خوا کې د لسو زده کوونکو ودرېدل، دوه دوه کانۍ په لاس کې نيول.	شل کانۍ
- د ټولګي ناستو زده کوونکو ته ويل چې سترګې بندې کړي، بيا د لسو ولاړو زده کوونکو څخه شپږو ته په خاموشۍ سره ويل چې کانۍ ورو پر مېز کېږدي.	- د شپږو زده کوونکو له خوا پر مېز خپل کانۍ اېښودل؛ د نورو سترګې بندول؛ بيا کتل چې په مېز ۱۲ کانۍ اېښودلی شوي دي.	
- د زده کوونکو له خوا معلومول چې څو کسانو پر مېز خپل کانۍ اېښي دي.	- بحث کول، د کار د معلومولو له پاره تجريز وړاندې کول، د يوه زده کوونکي له خوا پر مېز کانۍ جوړه جوړه کول، د نورو زده کوونکو له خوا د نتيجې معلومول يعنې ۶	
- د عددي قصې د ويلو غوښتنه کول	- ويل چې دولس کانۍ په جوړو جوړو تقسيم شول؛ د شپږو ګروپونو نتيجه حاصلېدل د دې معنی لري چې شپږو زده کوونکو خپل کانۍ پر مېز اېښودي وو.	
- غوښتنه کول چې دغه دې د يو مساوات په شکل کې وويلی شي.	- د ۱۲ ÷ ۲ = ۶ ويل، پر توره تخته ليکل، ټولګي ته يې لوستل: ۱۲ تقسيم پر ۲ مساوي کېږي له ۶ سره (۱)	توره تخته
	۲- په ۵ باندې د تقسيمولو مشق کول	
- د زده کوونکو بل لس کسيز ګروپ د ټولګي مخې ته رابلل چې د ټولګي بل اړخ کې ودرېږي، هر زده کوونکي ته پنځه پنځه کانۍ ورکول.	- د لسو نورو زده کوونکو مخې ته راتلل او د ټولګي مخې ته په کين اړخ کې ودرېدل؛ د هر يو په لاس کې پنځه کانۍ دي.	۵۰ نور کانۍ
- په ناستو زده کوونکو سترګې بندول، بيا په خاموشۍ سره څلورو زه کوونکو ته ويل چې خپل کانۍ ورو په مېز کېږدئ (هر يو پنځه کانۍ)	- د څلورو زده کوونکو له خوا پنځه پنځه کانۍ ورو په مېز اېښودل، د نورو سترګې بندول، بيا يې شمېرل، ويل چې پر مېز شل کانۍ اېښودلی شوي دي.	
- غوښتنه کول چې څو زده کوونکو خپل کانۍ پر مېز اېښي دي، د مخکې په شان کارجاري ساتل.	- بحث کول - تجويزونه وړاندې کول، بيا د کانو څخه د پنځو پنځو ګروپونه جوړول او د نتيجې معلومول يعنې ۴ د عددي قصې ويل؛ د مساوات ويل يعنې ۲۰ ÷ ۵ = ۴ ، په توره تخته يې ليکل.	توره تخته
	۳- په ۲ او ۵ د تقسيمولو ګډ فعاليتونه	
- د پنځو کانو د ګروپ د يو خاص شمېر زده کوونکو څخه په خاموشۍ غوښتنه کول چې خپل کانۍ پر مېز کېږدي بيا د دوو کانو د ګروپ د زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې همدغه شان مشق وکړي؛ دغه شان مشقونه د دواړو ګروپونو سره ګډ (۲)	د ناستو زده کوونکو د مخکې په شان عمل کول، د سترګو تر پرانيستلو څخه وروسته معلومول چې کوم ګروپ کانۍ په مېز اېښي دي، په آخر کې هر څل پر توره تخته د مساوات ليکل. (۳)	

- پوښتنه کول چې په مشق پانه کې باید څه وشي؛ مرسته کول، چکول. (۴)	۴- دغه شان مشقونه په مشق پانه کول - معلومول چې رسمونه هغه عملونه ښيي کوم چې مخکې مشق شول (پر مېز د پنځو يا د دوو د ګروپ کانيو)؛ ملګري سره يوځای د سوالونو حلول.	مشق پانه ۲ - ۳۶ - ۱

(۱) کله چې زده کوونکی د تقسیم مساوات پر توره تختۀ لیکي نو په اوچت آواز به يې لولي.

(۲) ښوونکی به د پنځو کانيو د ګروپ دريو زده کوونکو ته وايي چې کانۍ پر مېز کېږدي او داسې نور. بل ځل به د دوو کانيو د ګروپ اتو زده کوونکو ته وايي چې همدغه شان عمل وکړي او داسې نور.

(۳) په مېز باندې پرتو ۱۵ کانيو څخه به زده کوونکي دا معلوموي چې دا کانۍ خو د پنځو ګروپ د کانيو څخه اېښودل شوي دي ځکه چې ۱۵ د پنځو پاڼې په عددونو پورې تعلق لري.

د ۱۶ کانيو د شمېر څخه به زده کوونکي دا نتيجه اخلي چې دا کانۍ د دوو ګروپ د کانيو څخه اېښودل شويدي ځکه چې ۱۶ د دوو پاڼې پورې اړه لري.

(۴) ښوونکی به د مشق پانې د لاندينۍ برخې کينې خوا په باره کې نه وايي؛ دا به ماشومان معلوموي چې کيدای شي دا لس کانۍ د دوو ګروپ د کانيو اېښودل شوي وي. (۱۰ ÷ ۲ = ۵)، او يا به د ۵ ګروپ د کانيو څخه اېښودل شوي وي (۱۰ ÷ ۵ = ۲)



۲-۳۶-۱

موضوع : د داسې عددونو مساواتو د حلولو مشق کول چې په ۲ او ۵ د تقسیم قابلیت ولري

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ۲۰ زده کوونکي مخې ته رابلل. ۲- د ښوونکي له خوا پر توره تخته ۲۰ ÷ ۲ = لیکل؛ په عملي ډول د دې مساوات د حل غوښتنه کول، د زده کوونکو له خوا فکر کول، د هغه طریقې قیاس کول د کومې په ذریعه چې د مخې ته ولاړو زده کوونکو په مرسته حل پیدا کېږي. د دوو د ګروپونو جوړولو تجویز وړاندې کول، همدغه عملي کول، ګروپونه شمېرل، د نتیجې معلومول یعنې ۱۰ ، د بکس ډکول. ۳- ۲۰ ÷ ۵ = ☐ پر توره تخته لیکل. بیا د حل له پاره بلنه ورکول؛ د ماشومانو د ۵ ګروپونه جوړول، د ګروپونو شمېرل یعنې ۴ ، د بکس ډکول. ۴- پوښتنه کول چې په دوو یا پنځو باندې تقسیمېدونکی بل عدد د پیدا کولو له پاره د ځومره زده کوونکو کېناستل په کار دي، خواب ورکول چې د ۲ زده کوونکو کېناستل په کار دي چې ۱۸ پر توره تخته ۱۸ ÷ ۲ = ☐ لیکل. د ماشومانو د دوو ګروپ په بیا جوړولو سره حلول. ۵- د بل داسې عدد پوښتل چې په ۲ یا ۵ د تقسیم قابلیت ولري یعنې ۱۶ د زده کوونکو له خوا د مخکې په شان عمل کول (د دوو کېناستل، بیا ۱۶ ÷ ۲ = ☐ حسابول. په ټولو دې عددونو (۱۵ ، ۱۴ ، ۱۲ ، ۱۰ ، ۸ ، ۶ ، ۵ ، ۴ ، ۲) سره جاري ساتل. د ۱۰ په حالت کې د دوو حلونو ښودل. ۶- په زده کوونکو دویمه مشق پاڼه پرانیستل. معلومول چې لومړی د ۵ او ۲ ګروپونو په جوړولو او بیا د ګروپونو په شمېرلو یعنې د هغو بکسونو په شمېرلو چې د دوو یا پنځو دایرو په ګروپ سره ډک کړی شوي وي، نتیجه پیدا کول؛ د ملګري سره یې مقابله کول، په اوچت آواز یې لوستل.	توره تخته مشق پاڼه ۲ - ۳۶ - ۲



ر۲-۳۶-۲

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : د تقسيم مشقونه

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- له زده کوونکو څخه دوه ګروپونه جوړول چې په هر ګروپ کې څلور څلور کسان وي، مخې ته يې ودرول. د ۲ يا پنځو د پاړې څخه دکار ورکولو په ذريعه د ښوونکي يوه لوبه شروع کول مثلاً ۲۵ ÷ ۵ کوم ګروپ چې ځواب ورکوي، بل ګروپ ته يو ورکړی شوی کار ورکول (مثلاً ۱۴ ÷ ۲). د يو څه وخت څخه وروسته د دوو نورو ګروپونو مخې ته راتلل چې همدغه شان عمل وکړي او داسې نور. ۲- په دويمه مشق پاڼه کار کول. د مساواتو مکملول، په تشو خانو کې د نتيجو ليکل، په لاندې دوو تشو خانو کې د نتيجو چليپا کول؛ په آخر کې د مساواتونو ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۳۶ - ۳

۱۵ ÷ ۵ = □ ۱۵ = ۵ × □	۱۲ ÷ ۲ = □ ۱۲ = ۶ × □
۴۰ ÷ ۵ = □ ۴۰ = ۵ × □	۸ ÷ ۲ = □ ۸ = ۴ × □
۷ = ۵ ÷ □ □ = ۵ × ۷	۶ ÷ ۲ = □ ۶ = ۲ × □
۲۵ ÷ □ = ۵ ۲۵ = □ × ۵	۸ = ۲ ÷ □ ۱۶ = ۲ × □
۲۰ ÷ ۵ = □ ۴ × ۵ = □	۱۸ ÷ □ = ۹ □ = ۲۰ × ۹
۹ = ۵ ÷ □ ۴۵ = ۵ × □	۱۰ ÷ □ = ۵ □ = ۵ × ۲

۳۵ ۳ ۹ ۵ ۳ ۵ ۲۰ ۸ ۴۵ ۸ ۴ ۳۵	۲ ۴ ۳ ۳ ۶ ۱۸ ۲ ۱۰ ۱۶ ۲ ۸ ۲

ب-۳۶-۳

درسي پلان : ۳۷ ر ۲ - ۳۷ - ۱	موضوع : د ۱۰ پاړې معرفي کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- د ۲ او ۵ د پاړو څخه په شفاهي ډول کارونه ورکول مثلاً: ۴ × ۲ ، ۳ × ۵ ، ۸ × ۲ ... ۶ ÷ ۲ ؛ ۱۰ ÷ ۵ ... - په يو يا دوه زده کوونکو کار ته دوام ورکول.	*۱- د پاړو تکرار* - د مکمل مساوات ويل - د ښوونکي په شان عمل کول: د ۲ او ۵ د پاړو څخه ډېرې پوښتنې کول؛ ځوابونه ويل.	
- لس زده کوونکي د ټولګي مخې ته رابلل؛ ۱۰ په تخته ليکل؛ له يوه څخه يې غوښتل چې لس ګوتې وښايي. - پر تووره تخته ليکل: ۱۰ + ۱۰ = ☐ ؛ د همدومره ګوتو د ښودلو غوښتنه کول. - د ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ☐ نه تر ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ☐ د همدغه تمرين ليکلوته دوام ورکول. (۱) - بلنه ورکول چې د لسو دا ګروپونه دي د ضرب د مساواتو په شکل کې وليکي.	*۲- د ۱۰ د پاړې معرفي کول* - د لسو زده کوونکو د ټولګي مخې ته ودرېدل، بيا د يوه زده کوونکي له خوا خپل دواړه لاسونه اوچتول. - د دوو زده کوونکو د خپلو دواړو لاسونو اوچتول؛ د نورو ويل چې اوس شل ګوتې ليدلی کېږي؛ پر تووره تخته پشه خانه کې ۲۰ ليکل. - د مخې ته ولاړو زده کوونکو همدغه کار کول؛ ځوابونه ويل، د توري تختې په تشو خانو کې يې ليکل. - د ماشومانو مخې ته راتلل؛ ۱ × ۱۰ = ☐ ، ۲ × ۱۰ = ۲۰ ، ۳ × ۱۰ = ۳۰ (د ۱۰ × ۱۰ = ۱۰۰ پورې) د جمع د مساوات په خوا کې ليکل. (۲)	تووره تخته
- لس نور زده کوونکي مخې ته رابلل. - ورته ۲ × ۱۰ ويل؛ د زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د مساوات مطابق عمل وکړي. - پرته له ترتيب څخه د نورو ټولو رقمونو غوښتنه کول. - يو زده کوونکي ته بلنه ورکول چې د ښوونکي په شان کارته دوام ورکړي. - ويل چې دوه دوه کسان کېني او د ۱۰ د پاړې څخه وار په وار د يو بل څخه پوښتنې وکړي او ځوابونه ورکړي.	*۳- د ۱۰ په پاړه مشق کول* - د لسو زده کوونکو مخې ته راتلل، د نورو کېناستل. - د مخې ته ولاړو زده کوونکو ۲۰ ګوتې ښودل؛ د نورو مشاهده کول؛ ۲ × ۱۰ = ۲۰ ويل. - لومړی متعلقه شمېر ګوتې ښودل، بيا مساوات ويل. - همدغه شان کار کول: د يو زده کوونکي له خوا پوښتنه کول، د مخې ته ولاړو زده کوونکو ګوتې ښودل، د نورو د مساوات ويل. - د غوښتنې سره سم کار کول، د ټولو زده کوونکو په خپلو خايونو کېناستل.	تووره تخته

	۴- د لسو د مساواتو مکملول	مشق پانه ر ۲ - ۳۷ - ۱
- لومړی مشق پاڼې ته د کتلو غوښتنه کول.	- مشق پاڼې ته کتل، بحث کول او په کار خان پوهول: لومړی د لسو لسو تر ګروپ کړښه تاوول، بیا صحیح عددونه په خانو کې لیکل.	
- په جلا جلا د مشق پاڼې د مکملولو او د ملګرو سره یوځای د نتیجو د امتحان کولو بلنه ورکول.	- د ټولو خانو ډکول؛ اصلاح کول؛ ټولګي ته د نتیجو لوستل.	

(۱) په دې مرحله کې به توره تخته داسې ښکاري:

۱۰	۱۰ × ۱ = ۱۰
۱۰ + ۱۰ = ۲۰	۱۰ × ۲ = ۲۰
۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۳۰	۱۰ × ۳ = ۳۰
۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۴۰	۱۰ × ۴ = ۴۰
۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۵۰	۱۰ × ۵ = ۵۰
۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۶۰	۱۰ × ۶ = ۶۰
۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۱۰۰	۱۰ × ۱۰ = ۱۰۰

(د جمع او ضرب مربوطه مساوات به په همدغه کړښه لیکلی کېږي)

۸ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	
☐ × ۱۰ = ☐	

ر ۲ - ۳۷ - ۱

موضوع : د لسو د ګروپونو په پيدا کولو کې نور مشق

د زده کوونکو / ښوونکې فعاليتونه	درسي مواد
۱- پر توره تخته په افقي ډول د لسو لسو نقطو درې کتارونه رسمول. د دواړو مساواتو د ليکلو غوښتنه کول، يعني: ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۳ × ۱۰ = ۳۰ ۲- لومړنيو دريو کتارونو لاندې د لسو لسو نقطو څلور نور کتارونه رسمول، د نقطو د دغه ټولو کتارونو د مساواتو دليکلو له پاره بلنه ورکول. يعني: ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۷ × ۱۰ = ۷۰ ۳- د لسو لسو نقطو دوه نور کتارونه د نورو کتارونو د لاندې رسمول، بيا يو بل کتار رسمول؛ د زده کوونکو له خوا يو په بل پسې پر توره تخته د مربوطه مساواتو ليکل. ۴- د نقطو په ميدان د ښوونکي د بحث غوښتنه کول؛ ماشومان معلوموي چې که چېرې نقطې ستون په ستون په عمودي ډول وشمېرو نو د نقطو همغه شمېر په لاس راځي کوم چې د کتار په کتار په افقي ډول د شمېرلو څخه حاصلېږي. ۵- د ښوونکي له خوا ديو نامکمل مساوات لکه ۲ × ۱۰ = ☐ پر توره تخته ليکل؛ غوښتنه کول چې د نقطو داسې کتارونه يا ستونونه دې وښودلی شي چې د رقم ۲ × ۱۰ نمايندګي کوي؛ د زده کوونکو رهنمايي کول چې د ۲۰ نقطو د دوه کتارونو يا ستونونو د ښودلو په ذريعه د نقطو ميدان استعمال کړي، دا به د نقطو د ميدان په سر يا په منځ يا په آخر کې د دې دوو کتارونو څخه د يوې لبنټې په ذريعه د کرښې په چاپېرولو سره کېږي. ځواب ويل نتيجه په تشه خانه کې ليکل : ۲ × ۱۰ = ☐ ۶- په نورو رقمونو د دې فعاليت تکرارول، مثلاً ۴ × ۱۰ ؛ د کتارونو يا ستونونو د متعلقه شمېر په مختلفو طريقو سره ښودل. ۷- د ۳ × ۱۰ په رقم سره د فعاليت تکرارول، د کتارونو يا ستونونو څخه د تباشير په ذريعه کرښه چاپېرېږي چې ګروپ بندي په سترګو ښکاره وليدلی شي.	تورە تخته
۸- د دويمې مشق پاڼې د مطالعې غوښتنه کول، معلومول چې د متعلقه مساواتو د ښودلو له پاره به د نقطو د ګروپونو څخه دايره چاپېرېږي؛ د هر مساوات له پاره ډېرې ګروپ بندۍ ممکنې دي، د ماشومانو د مشق پاڼې مکملول، د ښوونکي په زده کوونکو ګرځېدل، چک کول، مرسته کول.	مشق پاڼه ر ۲ – ۳۷ - ۲



موضوع : د ۱۰ په پاړه مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي له خوا د لسو کڅوړو چې په هره يوه کې لس لس کانې وي، په مېز اېښودل؛ بيا د کانو څلور کڅوړې په لاس کې داسې نيول چې هر ماشوم يې وليدلی شي؛ ځينې زده کوونکي تورې تختې ته رابلل چې يو متعلقه مساوات وليکي؛ پر تورې تختې ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۴۰ يا ۴ × ۱۰ = ۴۰ يا د دواړو مساواتو ليکل.	د کانو لس کڅوړې او تورې تختې
۲- کوم ماشوم چې دواړه مساوات صحيح وليکل تر ټولو غوښتل چې د کڅوړو يو بل شمېر په لاس کې ونيسي، د نورو زده کوونکو له خوا په تورې تختې د مساواتو ليکل.	د کانو کڅوړې او تورې تختې
۳- د ښوونکي د جمع مختلف رقمونه ليکه (۱۰ + ۱۰ + ۱۰) يا د ضرب مختلف رقمونه لکه (۴ × ۱۰) ويل؛ د ماشومانو له خوا د کانو د مربوطه شمېر کڅوړو اخيستل، ټولګي ته يې ښودل، د نتيجو ويل.	
۴- غوښتل چې دريمې مشق پاڼې ته وګوري، په پاسنۍ کتار خبرې کول؛ څه چې په دايرو کې ليکل غواړي د هغې معلومول يعنې (۱۰ ، ۲۰ ، ۳۰ ... ۱۰۰)	مشق پاڼه ر ۲ – ۳۷ - ۳
۵- د مشق پاڼې په لاندينۍ برخه کار کول. (الف) په کار بحث کول، څه چې کول غواړي د ماشومانو د هغې معلومول: هغه رسمونه، رقمونه او عددونه يو د بل سره تړل چې په يو بل پورې تعلق لري. (ب) د صحيحو کړنو په رسمولو سره د مشق پاڼې مکملول. (ج) ټولګي ته د تړل شوو جنسونو لوستل.	



درسي پلان ۳۸ ر ۲ - ۳۸ - ۱	موضوع: په ۱۰ تقسیمول	
د بنوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱- د ۱۰ په پاڑې باندې ذهني مشق	
- د ۱۰ د پاڑې څخه په یادو کارونه ورکول - مثلاً: ۵ × ۱۰ = ☐ ۷ × ۱۰ = ☐ ۹ × ۱۰ = ☐ ۲ × ۱۰ = ☐	- د یو څو زده کوونکو له خوا د هر کار څواب ورکول؛ بیا د زده کوونکو له خوا دغه شان عملیې ورکول، د نورو څواب ورکول.	
	۲- د ۱۰ په ګروپو تقسیمول	
- لس زده کوونکي د ټولګي مخې ته رابلل	- د لسو زده کوونکو مخې ته راتلل، په یو کتار ودرېدل.	
- هر زده کوونکي ته لس لښتي ورکول؛ په توره تخته ۴ × ۱۰ = ☐ لیکل (۱)؛ غوښتل چې د متعلقه شمېر لښتو عدد وښایي. - ۱۰ × ۱۰ = ☐ لیکل.	- د څلورو زده کوونکو د هر یو لس لښتي ښودل، د نورو ورته کتل، څه چې دوی ویني د هغو بیانول، پر توره تخته تشې خانې ډکول.	توره تخته ۱۰۰ لښتي
	- د مخې ته ولاړو زده کوونکو هم دغه شان عمل کول، د نورو له خوا چک کول، بیانول یې، خانې ډکول.	
- ناستو زده کوونکو ته ویل چې خپلې سترګې بندې کړي. بیا په ورو د ۶ زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په خاموشۍ سره خپلې لښتي پر مېز کېږدي.	- د ۶ زده کوونکو د هر یو ۱۰ لښتي په ورو اېښودل، بیا خپل خای ته تلل، د مخې ته ولاړو ټولو زده کوونکو خپلې شاته لاسونه پټول.	
- غوښتنه کول چې د سترګې پرانیزي او معلومه کړي چې څه وشو.	- معلومول چې د لښتو یو ډېرې په مېز پروت دي، ویل چې مخې ته ولاړو یو څو زده کوونکو خپلې لښتي په مېز کېښودي.	
- غوښتنه کول چې د دې زده کوونکو شمېر به څنګه معلومولی شي.	- بحث کول، د لسو د ګروپونو جوړولو تجویز وړاندې کول او د دې ګروپونو شمېرل؛ بیا د یو یا دوو زده کوونکو په مېز د ۱۰ لښتو ګروپ جوړول، د ګروپونو شمېر معلومول یعنې ۶؛ ویل چې ۶ زده کوونکي خپلې لښتي کېښودي.	
- د بنوونکي له خوا د ۶۰ داسې کرښو رسمول چې د لښتو نمایندګي وکړي. د لسو د ګروپونو جوړولو غوښتنه کول.	- د لسو کرښو د ګروپونو څخه دایره چاپېرول، معلومول چې په مېز د پرتو لښتو په شان دا د لسو لښتو ۶ ګروپه دي.	
- غوښتنه کول چې دا ټولو به د تقسیم د یو مساوات په شکل کې څنګه لیکلی شي.	- بحث کول، معلومول چې متعلقه مساوات ۶۰ ÷ ۱۰ = ☐ دي.	
- د ولاړو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپلې لښتي وښایي.	- د ولاړو زده کوونکو له خوا خپلې لښتي ښودل (که چا نیولې وي) د نورو خالي لاسونه ښودل؛ د ناستو زده کوونکو له خوا معلومول چې مساوات صحیح وو.	
- هم د دې فعالیت مختلفو مساواتو سره یو یا دوه خله تکرارول مثلاً د ۳، ۸، ۵ زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپلې لښتي کېږدي.	- مخې ته د ولاړو زده کوونکو خپلې لښتي اوچتول، بیا هم دغه شان عمل کول، د مخکې په شان د لښتو ګروپونه جوړول، د کرښو رسمول، د کرښو د ګروپو څخه دایره چاپېرول، مساوات معلومول او اصلاح او چک کول.	

- د مساوات ۷۱ + ۸ = □ د عملي حل غوښتنه کول . - مشق پاڼې ر۲ – ۴ – ۱ ته د کتلو غوښتنه کول، له ملګري سره کار کول ، په آخره کې د حلونو لوستل ، مرسته کول .	- اشاره کول ، په توره تخته د لاس په وسیله قدم په قدم تلل ، د حل معلومول او لیکل . - په قدمونو کې دمساواتو حلول ، لیکل ؛ په آخره کې ټول مساوات لوستل او مقایسه کول ، صحیح کول ، د ضرورت په وخت یو بل سره مرسته کول .	مشق پاڼه ر۲ – ۴ – ۱

(۱) که چېرې چاپ شوي یا په لاس لیکل شوي عددي کارډونه موجود وو نو د سلېټونو په ځای به استعمالېږي.

(۲) هغه زده کوونکي چې پر سلېټ یې ۵۰ عد لیکلی وي د کتار ښي اړخ ته بـه داسې درېږي چې ټول ټولګي ته ښکاري او هغه زده کوونکي چې پر سلېټ یې ۶۰ عدد لیکلی وي هغه به د کتار کېن اړخ ته درېږي . ۶۰ ، ۵۷ ، ۵۶ ، ۵۵ ، ۵۴ ، ۵۳ ، ۵۲ ، ۵۱ ، ۵۰

(۳) د ډېر ازمایش له پاره دې ښوونکی ماشومانو ته کافي وخت ورکړي . که چېرې ماشومان حل معلوم نه کړي شي نو ښوونکی دې له یو ماشوم څخه غوښتنه وکړي چې د هغه ماشوم مخکې کېنې چې ۵۳ عدد وسره دی . له نورو ماشومانو څخه غوښتنه کول چې دا ماشوم کوم اړخ ته څو قدمونه حرکت وکړي . صحیح خواب بـه څو واړي تکرارولی شي . هرکله چې څلور قدمونه اخیستل کېږي نو ماشومان به یې په اوچت آواز شماري (۱ ، ۲ ، ۴) او هغه عدد چې ماشوم پرې درېږي هغه به له سلېټ یا کارډ څخه لوستلای شي . (۵۷)

(۴) ۷۰ به ښي اړخ ته او ۸۰ به کېن اړخ ته وي . د ټولګي له اړخ څخه په لیدلو سره .



- د لومړي مشق پاڼې د مطالعه کولو غوښتنه کول؛ په زده کوونکو ګرځېدل، مرسته کول.	۳- په مشق پاڼه کې هم دغه شان مساوات مکمل - په کار خان پوهول، د ۱۰ کرښو دلرو ګروپونو څخه دایره چاپېرول، د مساوات مکمل، تولګي ته لوستل، مقابله کول، اصلاح کول.	مشق پاڼه پ ۲- ۳۸- ۱

(۱) هرکله چې په دې سبق او نورو ډېرو سبقونو کې د لښتو ضرورت دی، دې له پاره ښوونکی دې ۱۰۰ وړې لښتې چې تقریباً ۵ انچه اوږدې وي راپیدا کړي او چېرته دې کېږدي.



موضوع: د لسو په ګروپونو یا په ۱۰ تقسیمول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- پر مېز د ۶۰ لښتو یو ډېرى اېښودل، د زده کوونکو څخه پوښتنه کول، د ۱۰ په ګروپونو کې په څو زده کوونکو دا لښتي تقسیمېدلی شي؟ بحث کول، تجویز وړاندې کول. د یو زده کوونکي لومړۍ لښتي شمېرل یعني ۶ ویل چې په ۶ زده کوونکو ۶۰ لښتي د ۱۰ په ګروپونو کې تقسیمېدلی شي.	لښتي
۲- په توره تخته د متعلقه مساوات یعني ۶۰ ÷ ۱۰ = ۶ د لیکلو غوښتنه کول.	توره تخته
۳- په مېز د مختلف شمېر د لښتو د اېښودلو په ذریعه څو ځله د مشق تکرارول (مثلاً ۸۰ ، ۱۰۰ ، ۴۰ ، ۳۰)، هرځل غوښتل او د مخکې په شان عمل کول (یعني شمېرل، ځواب ورکول، لیکل...)	
۴- په توره تخته ۵۰ ÷ ۱۰ = ☐ لیکل؛ د عددي قصې د ویلو غوښتنه کول؛ د زده کوونکو ویل چې ۵۰ لښتي د ۵ نه ۱۰ پورې د زده کوونکو په ګروپونو تقسیمول په کار دي. معلومول چې که ۵۰ په ۱۰ تقسیم شي نو ۵ برابرېږي (کله څه مشکل پېښ شو نو ښوونکی دې د مخکې پشان متعلقه فعالیت تکرار کړي).	
۵- د دویمې مشق پانې د مطالعې غوښتنه کول، د ښوونکي له خوا د مشق پانې په سر کې د ۱۰ نقطو د جدول د استعمالولو عملي ښودنه، د لومړي کار مطابق عمل کول یعني ۶۰ ÷ ۱۰ = ☐ ؛ په ښي یا کېږ اړخ کې د ۴۰ نقطو یعني د لسو نقطو د څلورو ستونونو پټول او د ۶۰ نقطو یعني د لسو نقطو د شپږو ستونونو ښکاره پاتې کېدل چې نتیجه یعني ۶ په آسانۍ سره ولیدلی شي.	مشق پانه ۲ – ۳۸ – ۲
۶- په کار د پوهېدلو څخه وروسته د زده کوونکو د مشق پانې مکملول، د ۱۰۰ نقطو د استعمال څخه کار اخیستل؛ د عملیې لوستل، د نتیجې د معلومولو له پاره د نقطو استعمالول، د مساواتو د مکملولو له پاره د بکسونو ډکول.	



ر۲- ۳۸-۲

موضوع: د ۱۰ تقسیم او ضرب

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ذهني مشق: د ښوونکي له خوا د ۱۰ د پاړې څخه د ضرب مختلف رقمونه ویل مثلاً: ۷ × ۱۰ ، ۲ × ۱۰ ، ۹ × ۱۰ ...)؛ د جلا جلا زده کوونکوځوابونه.	۲۰ لبنتي
۲- د ښوونکي غوښتل چې شاګردان په غور وګوري چې زه څه کوي. بیا په ورو په خاموشۍ او د ټولو ماشومانو مخکې په یو لاس کې ۱۰ لبنتي اخیستل او اوچتول بیا په بل لاس ۱۰ نورې لبنتي اوچتول. انتظار کول. بیا ټولې ۲۰ لبنتي پر مېز اېښودل، د لبنتو ډېرې جوړول؛ بیا دوباره د ۱۰ لبنتو دوه ګروپونه جوړول، په خپلو دواړو لاسونو کې یې راخیستل، لاسونه اوچتول. دا ټول عمل هم دغه شان یو ځل بیا تکرارول، بیا چې څه زده کوونکو ولیدل د هغې د بیانولو غوښتنه کول.	
۳- د زده کوونکو بیانول چې ښوونکي لومړی پخپل لاس کې ۲ × ۱۰ لبنتي را واخیستې، بیایې په مېز کېښودې، بیا یې د لسو لبنتو په دوه ګروپونوکې دوباره تقسیم کړې.	
۴- د ښوونکي ویل چې ما څه وکړل دا د دوو مساواتو په شکل کې کېدای شي؛ د زده کوونکو کوښښ کول، په ډېرو خوابونو بحث کول، د دوی د دوو مساواتو په توره تخته لیکل یعني: ۲ × ۱۰ = ۲۰ ۲۰ ÷ ۱۰ = ۲ ؛	توره تخته
بیا په آخر کې چې ښوونکي څه وکړل د هغې بیانول، بیا په همدغه وخت په توره تخته مساوات ته اشاره کول.	
۵- د زده کوونکو د دریمې مشق پاڼې په کار خان پوهول؛ د بکسونو ډکول؛ په آخر کې ټول مساوات ټولګي ته لوستل، مقابله کول، اصلاح کول.	مشق پاڼه ۲ - ۳۸ - ۳



۲ × ۱۰ = ۲۰ ۲۰ ÷ ۱۰ = ۲

۷ × ۱۰ = ۷۰	۷۰ ÷ ۱۰ = ۷
۸ × ۱۰ = ۸۰	۸۰ ÷ ۱۰ =
۱۰ × ۱۰ =	÷ ۱۰ =
۴ × ۱۰ =	÷ ۱۰ =
۶ × ۱۰ =	÷ ۱۰ = ۶
۹ × ۱۰ =	÷ = ۹
۵ × ۱۰ =	÷ =
۳ × ۱۰ =	÷ =
× ۱۰ =	۸۰ ÷ ۱۰ =
× ۱۰ = ۵۰	÷ ۱۰ =

ر-۲-۳۸-۳

درسي پلان ۳۹۰ ر ۲ - ۳۹ - ۱	موضوع : د ضرب د تبديلي خاصيت مشق کول (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱- د ۲ ، ۵ ، ۱۰ د ضرب تکرار	
- د ۲ ، ۵ او ۱۰ د پاړې مختلف رقمونه ويل، يعنې ۳ × ۲ ، ۷ × ۲ ؛ ۶ × ۲ ؛ يا ۴ × ۵ ؛ ۸ × ۵ ... ۲ × ۱۰ .	- جلا جلا د مساواتو مکمللول.	
- يو زده کوونکي ته ويل چې د ښوونکي په شان عمل وکړي، داسې رقمونه ويل لکه : ۴ × ۲ ؛ ۳ × ۵ ؛ ۷ × ۲ ؛ ۴ × ۱۰ .	- د مخکې په شان عمل کول.	
	۲- د ضرب د تبديلي خاصيت مشق کول	
- پر تخته ۲ × ۵ = □ ، ۵ × ۲ = □ ليکل (۱)	- معلومول چې د دواړو رقمونو حاصل يو شان دی يعنې ۱۰ ؛ خانې ډکول.	تخته
- د خانو ډکولو او ددې د معلومولو غوښتنه کول چې د ۱۰ × ۲ = ؛ ۲ × ۱۰ = په لېدلو سره د حيرانتيا وړ کومه خبره ده	- ويل چې بيا هم ددواړو رقمونو حاصل يو شان يعنې ۲۰ دی.	
- اعلانول چې زده کوونکي به په غور سره د لاندې عملي کار د مشاهدې علتونه معلوموي؛ ۱۰ زده کوونکي مخې ته رابلل او له غوښتنې سره سم پرې عمل کول.	- د ۱۰ زده کوونکو مخې ته جوړه جوړه ودرېدل؛ جوړو به يو بل ته لاس ورکړي وي.	
- د مساوات غوښتنه کول.	- بحث کول، د صحيح مساوات معلومول يعنې ۲ × ۵ = ۱۰ ؛ په تخته ليکل.	
- زده کوونکو ته بلنه ورکول چې ښي اړخ ته د راګرځېدلو له پاره خپل لاسونه پرېږدي او بيا خپلو ګاونډيانو ته لاسونه ورکړي.	- ښي اړخ ته راګرځېدل، اوس ۵ زده کوونکي په دولړو کتارونو کې يو بل ته لاسونه ورکړي دي.	
- د مساوات غوښتنه کول.	- بحث کول، صحيح مساوات معلومول يعنې ۲ × ۵ = ۱۰ پر تخته ليکل.	
- پوښتنه کول چې آيا اوس زده کوونکي دا ويلی شي چې ولې د ۵ × ۲ او ۲ × ۵ حاصل يو شي.	- بحث کول؛ ويل چې زده کوونکو يوازې خپل ځای بدل کړی دی، د زده کوونکو شمېر بدل شوی نه دی.	
- ۲۰ زده کوونکو ته بلنه ورکول چې د نورو جوړو د رقمونو مطابق عمل وکړي (يعنې ۱۰ × ۲ او ۲ × ۱۰)	- لومړی د زده کوونکو لس دوه کسيزې جوړې جوړول (جوړو به يو بل ته لاسونه ورکړي وي)؛ بيا ښي اړخ ته راګرځېدل ، د لسو لسو زده کوونکو دوه کتارونه جوړول (هر ګروپ زده کوونکي به يوبل ته لاسونه ورکړي وي)؛ پر تخته مساواتونه ليکل.	
	۳- د ضرب د تبديلي خاصيت نور مشقونه	
- پر تخته ۳ × ۵ = ليکل؛ د نتيجې يا حاصل غوښتنه کول.	- د حاصل ويل، په آخر کې ۱۵ په خالي بکس کې ليکل.	تخته
	- بحث کول، قياس کول چې شايد د ۵ × ۳ = حاصل هم ۱۵ وي.	

- پوښتل چې بل کوم داسې مساوات شته چې حاصل يې همدغه راشي. - د مخکې په شان په عمل کې د ثبوت رسولو له پاره بلنه ورکول چې آيا دا قياس صحيح دی او که نه. د ضرورت په اندازه د دغه عمل لازښودنه کول.	- د ۱۵ زده کوونکو په درې کتارونو کې ودرېدل، د هر کتار پنځو ماشومانو به لاسونه سره ورکړي وي ، يو ماشوم پر توره تخته ۳ × ۵ = ۱۵ ليکي؛ د درې درې نورو زده کوونکو پنځه کتارونه جوړول؛ پر توره تخته ليکل: ۵ × ۳ = ۱۵	
- د لومړي مشق پاڼې په پاسنۍ برخه بحث کول. - غوښتنه کول چې د مشق پاڼې لاندېنۍ برخه د ملګرې سره يوځای مکمله کړي.	۴- په مشق پاڼه نور مشق کول - د کار بيانول، خان پوهول، خانې ډکول. - د مشق پاڼې مکملول، مساوات لوستل؛ مقابله کول، اصلاح کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۳۹ - ۱

(۱) د ضرب د تبديلۍ د خاصيت اصطلاح به ماشومانو ته په دې مرحله کې نه معرفي کېږي. کوم شی چې دلته د ماشومانو له پاره مهم دی هغه د ضرب د تبديلۍ خاصيت تصور دی چې د فعاليتونو په ذريعه هغې ته وده ورکول په کار دي. د دوی همدومره پوهه په کار ده چې کله دوی ۲ × ۵ = ۱۰ پېژني نو د دې مساوات په قوت په دې هم پوه شي چې ۵ × ۲ = ۱۰ کېږي يعنې د دواړو مساواتو خواب يو شی دی. دا د ضرب د اصطلاح شمېر راکموي د کوم چې په يادو ساتل په کار وي.

(۲) مساوات به د يو بل خوا کې ليکلی کېږي.

(۳-۴) د مخې ته ولاړو زده کوونکو څخه چې کوم عمل غوښتلی کېږي د هغې لازښوونه دې په واضح ډول وشي.

(۳) په لومړي کې به دوی جوړه جوړه ودرېږي؛ جوړو به بل ته لاسونه ورکړي وي، پنځه جوړې به د يو بل شاته ولاړې وي د دوه دوه کسو پنځه کتارونه به جوړوي.

(۴) اوس به ټول زده کوونکي په داسې طريقه کې ارخ ته راځي چې د پنځو پنځو زده کوونکودو کتارونه جوړ شي؛ د هر ګروپ پنځه واړوزد کوونکو به يو بل ته لاس ورکړی وي.



موضوع: د ۲ ، ۵ او ۱۰ د پاړو څخه د ضرب د تبديلي خاصيت په رقمونو مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي ۱۵ کانې په مېز اېښودل د دري کرته پنځه پنځه کانو يو کتار جوړول؛ د زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کانو رسم پر توره تخته وباسي؛ زده کوونکي يې داسې رسم وباسي:	۱۵ کانې
۲- زده کوونکو ته بلنه ورکول چې د مېز مخې ته ودرېږي او ووايي چې څه ليدل کېږي، د قصې ويل، د يو زده کوونکي له خوا پر توره تخته د نقطو څخه لاښې په يو بکس کې د متعلقه مساوات ليکل يعني ۳ × ۵ = ۱۵	توره تخته
۳- د ښوونکي يو څو نورو زده کوونکو ته بلنه ورکول چې د مېز ښي اړخ ته ودرېږي، د کانو کتار ته کتل، څه چې وينې د هغې تشريح کول: (د دري دري کانو پنځه کتارونه دي)؛ د متعلقه مساوات د پيدا کولو له پاره بحث کول؛ د ښوونکي يو بل پسې د نورو کتارونو په توره تخته رسمول (يعني ۵ × ۱۰ ؛ ۴ × ۲ ؛ ۶ × ۵ ...) د هغو مخکينيو نقطو دلاښې او ورسره خوا کې د ښوونکي د دوو نورو بکسونو رسمول؛ د زده کوونکو تشريح کول، د بکسونو ډکول.	
۶- دويمې مشق پاڼې ته کتل؛ معلومول چې ښي اړخ ته د مشق پاڼې د اړولو څخه کار معلومول؛ په آخر کې يې تولګي ته لوستل؛ چک کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۳۹ - ۲



ر۲-۳۹-۲

موضوع : د ۱۰ / مخلوطو مشقونو په تبديلي خاصيت کې مشق

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- مثلاً د ۳ × ۵ ، ۹ × ۲ ، ۸ × ۱۰ ، ۵ × ۲ ، ۶ × ۵ ، ۷ × ۱۰ ... د پاړو څخه زده کوونکو ته په شفاهي ډول کارونه ورکول، څومره چې ممکن وي هغومره زر يې حل کول. ۲- پر توره تخته ۵ × ۷ ليکل؛ بيا د دې رقم په ځای د هغې مساوات غوښتنه کول چې په اسانۍ سره مکمل کړی شي؛ ۷ × ۵ = ۳۵ په توره تخته ليکئ؛ اوس دلومړي رقم بيا ليکل او د مساوات مکملول: ۵ × ۷ = ۳۵ ۳- مشق د بل مثال په ذريعه تکرارول (مثال د مشق پاڼې څخه اخيستل کېدی شي). ۴- د زده کوونکو د دريمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه ډکول؛ په آخر کې يې تولګي ته لوستل، اصلاح کول. ۵- پر توره تخته ۴ × ۸ = ☐ ليکل، د حل غوښتنه کول؛ د ماشومانو دغه رقم په ذهن کې په ۸ × ۵ اړول، حلول يې يعنې ۴۰ ؛ په خالي بکس کې نتيجه ليکل، د مساوات لوستل. ۶- د ماشومانو د مشق پاڼې لاندينۍ برخه مکملول؛ تولګي ته د مساواتونو لوستل، مقابله کول، اصلاح کول.	توره تخته مشق پاڼه ر ۲ – ۳۹ - ۳ مشق پاڼه ر ۲ – ۳۹ - ۳

ر-۳۹-۳

۸ × ۲ = ۲ × ۸ ☐ = ۸ × ۲	۱۰ × ۴ ۴۰ = ۱۰ × ۴ ☐ = ۴ × ۱۰	۹ × ۵ ۴۵ = ۵ × ۹ ۴۵ = ۹ × ۵
۱۰ × ۳ = × ☐ = ۳ × ۱۰	۷ × ۲ = × ☐ = ۷ × ۲	۸ × ۲ = × ☐ = ۸ × ۲
۵ × ۷ = × ☐ = ۷ × ۵	× = × ☐ = ×	۱۰ × ۶ = × ☐ = ۶ × ۱۰

☐ = ۴ × ۱۰	☐ = ۸ × ۵	☐ = ۳ × ۲
☐ = ۶ × ۵	☐ = ۹ × ۲	☐ = ۴ × ۵
☐ = ۶ × ۲	☐ = ۸ × ۱۰	☐ = ۶ × ۱۰
☐ = ۹ × ۱۰	☐ = ۷ × ۲	☐ = ۷ × ۵

درسي ساعتونه ۴۰
د ۲ - ۳ - ۱

موضوع : د ضرب مشق کول، د مساواتو د لیکلو نوی شکل استعمالول

د بنوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
- دخینو مساواتو په توره تخته لیکل: مثلاً : ۸ × ۲ - ☐ ، ۴ × ۵ - ☐ ، ۳ × ۱۰ - ☐ ۵ × ۲ - ☐ ، ۷ × ۵ - ☐ ، ۹ × ۱۰ - ☐ - تشریح کول د دې عملي مظاهره کول چې ۸ × ۲ = داسې هم لیکلی کېږي: ۲ × ۸ دا د ۸ × ۲ مساوات لاندې لیکل. - بلنه ورکول چې په تخته لیکلی شوي نور مساوات هم په نوي شکل ولیکي. (۱)	*۱ - د ضرب د مساواتو د نوي شکل معرفي کول* - توري تختې ته کتل، بنوونکي ته خواب ورکول، خانې ډکول. - ورته په غور کتل، د بېل بېل زده کوونکو له خوا نوی شکل په توره تخته لیکل. - په تخته لیکلی شوي مساوات په همدغه طریقه سره لیکل، په همدغه یوه وخت کې ټول عددونه او علامې ټولګي ته لوستل. (یعني : ۵ ۱۰ ۲ ۵ ۱۰ × ۴ ، × ۳ ، × ۵ ، × ۷ ، × ۹ ۲۰ ۳۰ ۱۰ ۳۵ ۹۰	توره تخته
- پر توره تخته د دوه دوه نقطو شپږ کښارونه رسمول، غوښتل چې دواړه ممکن مساوات ووایي. - په نوي شکل کې د دواړو مساواتو د لیکلو غوښتل. - د فعالیتونو تکرارول، د ۲ ، ۵ ، ۱۰ د پاړو څخه مختلف مساوات پر توره تخته لیکل یعني ۷ × ۵ - ، ۹ × ۱۰ - ، ۶ × ۲ - ۳ × ۱۰ - - په نوي شکل مساوات پر توره تخته لیکل لکه: ۵ × ۱۰ × ۶ ۷ د حلولو او په غور د لوستلو غوښتنه یې کول.	*۲ - په دواړو طریقو سره د ضرب د مساواتو د لیکلو مشق* - ۵ × ۲ او د ۲ × ۶ ویل، دواړه مساواته په عادي شکل لیکل یعني : ۶ × ۲ = ۱۲ ، ۲ × ۶ = ۱۲ - د ۶ × ۲ = ۱۲ خوا کښې ۲ ضرب ۶ لیکل ۲ × ۶ ۱۲ او د ۲ × ۶ = ۱۲ خوا کې ۶ لیکل ۶ × ۲ ۱۲ په همدغه وخت کې یې ټولګي ته لوستل. - مساوات حلول، بیا په خوا کې یې په نوي شکل لیکل، په غور سره یې ټولګي ته لوستل. - د ۵ × ۶ په لیکلو سره لومړی مساوات حلول، د نورو ټولګي ته لوستل، چک کول، همدغه شان نورو مساواتو.	توره تخته

- د لومړي مشق پاڼې لومړي مثال ته د کتلو غوښتنه کول، په توره تخته د هغې لیکل. - د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول، چک کول، اصلاح کول.	۳- په مشق پاڼه د دوارو طریقو مشق کول - په مثال بحث کول، دواړه شکلونه ټولګي ته لوستل، په ټوره تخته متعلقه عددونو / علاماتو ته اشاره کول. - د مساواتو حلول، بیایې په نوي شکل لیکل، د ملګري سره یې مقابله کول، په آخر کې د مساواتو ټولګي ته لوستل، امتحان کول، اصلاح کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۰ - ۱ توره تخته

(۱) کله چې ۸ × ۲ = ۱۶ ضرب په عمودي شکل ۲

$$\begin{array}{r} 8 \\ \times \quad 2 \\ \hline 16 \end{array}$$ لیکل کېږي نو داسې لوستلی کېږي:

۸ خله ۲ مساوي کېږي په ۱۶ یا په لنډ ډول اته په دوه کې شپاړس. د ښوونکي دې خبرې ته ښه پام وي چې د اته خله دوه (۸ × ۲) مطلب دی د دوو اته ګروپونه.

$\begin{array}{r} 10 \\ \times \quad 4 \\ \hline \square \end{array}$	$\square = 10 \times 4$	$\begin{array}{r} 5 \\ \times \quad 3 \\ \hline 15 \end{array}$	$\square = 5 \times 3$
$\begin{array}{r} \square \\ \times \quad 6 \\ \hline \square \end{array}$	$\square = 5 \times 6$	$\begin{array}{r} 2 \\ \times \quad \square \\ \hline \square \end{array}$	$\square = 2 \times 7$

ر۲-۴۰-۱

موضوع : ضرب او تقسيم.

په نوي شکل (طريقه) د ضرب د مساواتو د ليکلو مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي له خوا د دوکانداري د يوې لوبې اعلانول. مختلف شيان په مېز اېښودل يعني شپږ سلېټونه چې د هريوه سره پنځه پنځه روپۍ قيمت ليکلی شوی وي، ۸ پنسلونه هريو د دوو روپو، او ۹ کتابونه هر يو د لس لس روپو د قيمتونو سره، د زده کوونکو غوښتنه کول چې په ګروپونو کې د پنځو، لسو او ۲ مصنوعي نوټونو په ذريعه لوبې ته تيار شي.	شپږ سلېټونه ۸ پنسلونه ۹ کتابونه مصنوعي نوټونه
۲- بلنه ورکول چې د شيانو کوم يو ګروپ مثلاً سليټونه واخلي، د يو ماشوم مخې ته راتلل، د پنځو روپو شپږ نوټونه ښوونکي ته ورکول.	
۳- زده کوونکو ته ويل چې دې هلک ماته د پنځو روپو شپږ نوټونه راکړل، پوښتنه کول چې دا ټولې څو روپۍ کېږي؟ په دواړو شکلونو کې يې پر توره تخته د مربوطه مساواتو د ليکلو بلنه ورکول، د يو ماشوم مخې ته راتلل او په توره تخته ليکل: ۶ × ۵ = ۳۰ او ۵ × ۶ = ۳۰ .	
۴- پوښتنه کول چې دا ماشوم په ۳۰ روپو څو سلېټونه اخيستلی شي، د ماشومانو له خوا بحث کول چې څنګه به حسابېږي، معلومول چې ۳۰ به په پنځو تقسيمول غواړي؛ په توره تخته ليکل ۳۰ ÷ ۵ = ☐ ؛ د ماشومانو د پنځو پاړه راپه زړه کول او ځواب ورکول يعني ۶ ؛ د بکس ډکول؛ د ښوونکي له خوا مخې ته ولاړ ماشوم ته د شپږو سلېټونو ورکول.	
۵- د شيانو د بل ګروپ مثلاً د اخيستلو له پاره بلنه ورکول، د هر پنسل قيمت دوه روپۍ دی د يو ماشوم د ۲ روپو ځلور نوټونه استاد ته ورکول؛ لومړی د ښوونکي د ټول شمېر په باب بيا پوښتنه کول؛ مساوات به په تخته په دواړو شکلونو کې ليکلی کېږي يعني ۴ × ۲ = ۸ او ۲ × ۴ = ۸	
ماشوم په دواړو شکلونو کې ليکلی کېږي يعني ۸ ÷ ۲ = ۴ پنسلونه اخيستلی شي د ښوونکي له خوا په دغه شمېر پنسلونه مخې ته ولاړ ماشوم ته ورکول.	
۶- د ډېر مشق له پاره يو يا دوه مثالونو باندې همدغه شان کار کول.	
۷- دويمې مشق پاڼې ته کتل؛ په کار بحث کول، دويمه مشق پاڼه د ملګري سره مکملول، په آخر کې يې ټولګي ته لوستل، مقابله کول يې، اصلاح کول يې.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۰ - ۲



موضوع : معکوسي عملیې معلومول ، د عددي پټې په مرسته مساوات مکملول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربیه ورکول : لس قدمونه مخ په وړاندې یا لس قدمونه مخ په شا شمارل : الف – ښوونکی وایي ۷۶ ، زده کوونکي لومړی لس قدمونه مخ په وړاندې شمار کوي (۸۶) . ب – له ۷۶ څخه ۶۶ پورې مخ په شا شمار کوي .	
۲. ښوونکی په توره تخته یوولس چوکاټونه جوړوي چې په کې به له ۶۰ څخه ۷۰ پورې عددونه وي (لکه څنګه چې په درسي پلان ر۲ – ۴ کې دی) . الف – په توره تخته لیکل ☐ - ۴ + ۶۳ ☐ - ☐ - ۶۷ ب – زده کوونکي له ۶۳ عدد څخه ۴ قدمونه مخ په وړاندې څي او ۶۷ معلوموي . ج – د لومړي مساوات مکملول . د – له دغه ځای څخه ۶۳ پورې مخ په شا قدمونه اخیستل . د قدمونو شمېرل (څلور) . هـ – دوهم مساوات مکملول .	توره تخته
۳. ښوونکی پوښتنه کوي چې څه وشول : الف – ماشومان عددي کیسې وایي . که لومړی موډ له ۶۳ څخه کین اړخ ته څلور (۴) قدمونه واخیستل او ۶۷ ته راورسیدو بیا موډ څلور قدمونه مخ په شا ښي اړخ ته واخیستل او بیا ۶۳ ته را ورسېدو . ب – د مساواتو په نوور جوړو هم دغه شان کار جاري ساتل لکه : ☐ - ۶ + ۶۴ | ☐ - ۵ - ۶۸ | ☐ - ☐ - ۶۷ ☐ - ۴ - ☐ | ☐ + ☐ - ۶۸ | ☐ - ☐ - ۶۷	
۴. له خپل ملګري سره په مشق پاڼه ر۲ – ۴ – ۲ کار کول : الف - دعددي پټې په وسیله د مساواتو مکملول . ب – لوستل ، صحیح کول .	مشق پاڼه ر۲ – ۴ – ۲

۳۰	۲۹	۲۸	۲۷	۲۶	۲۵	۲۴	۲۳	۲۲	۲۱	۲۰
۷۰	۶۹	۶۸	۶۷	۶۶	۶۵	۶۴	۶۳	۶۲	۶۱	۶۰
۹۰	۸۹	۸۸	۸۷	۸۶	۸۵	۸۴	۸۳	۸۲	۸۱	۸۰

☐ = ۶ + ۲۳	☐ = ۴ + ۸۴	☐ = ۳ - ۶۹
۲۳ = ۶ - ☐	۸۴ = ۴ - ☐	۶۹ = ۳ + ☐
۲۸ = ☐ + ۲۰	۷۰ = ☐ + ۶۵	۸۱ = ☐ - ۹۰
۲۰ = ☐ - ☐	۶۵ = ☐ - ☐	۹۰ = ☐ + ☐

ر۲-۴-۲

موضوع : په مخلوطو عملیو مشق

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه: د ۲ ، ۵ او ۱۰ د پاړې څخه د ضرب مختلفو مساواتو ویل، څومره چې ممکنه وي هغومره زر د زده کوونکو ځواب ویل. ۲- له زده کونکو دوه ګروپه جوړول، دیو ګروپ یو ماشوم ته بلنه ورکول چې د ۲ ، ۵ او ۱۰ د پاړې څخه کوم یو مساوات په نوي شکل ولیکي مثلاً : ۵ × ۳ = ۱۵ د بل ګروپ د دې د عکس یعني تقسیم مساوات لیکل او مکملول لکه ۱۵ ÷ ۵ = ۳ ۳- د دریمې مشق پاڼې په لومړي مثال د ښوونکي بحث کول، څه چې غواړي د هغې معلومول؛ د مشق پاڼې مکملول. ۴- غوښتنه کول چې زده کوونکي بکسونه ډک کړي، د مشق پاڼې په لاندې برخه په بکسونو کې د نتیجو صحیح (✓) کول. ۵- چک کول، مرسته کول، د ټولو مساواتونو ټولګي ته لوستل.	توره تخته مشق پاڼه ر ۲- ۴۰- ۳۰



درسي پلان : ۴۱ ر ۲ - ۴۱ - ۱	موضوع : په دوه بعده (دوهارخيزه) شکلونو کې په فرق پوهېدل (مربع ګاني، دايري، مثلثونه)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- د زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د دوکانونو په الماريو کې چې څه ليدل کېږي هغه بيان کړي. - په زده کوونکو لومړی مشق پانه لوستل، که ضرورت وو تشريح کول يې. (۲) - ويل چې د مشق پانې شيان مختلف شکلونه لري.(۳) - پوښتنه کول چې څوک پر توره تخته د رسم شوو شيانو نومونه اخيستلی شي؛ که ضرورت وو د نومونو په اخيستلو کې مرسته کول.	*۱ - د شيانو مختلف شکلونه پېژندل* - ډېر زده کوونکي د هغه دوکانونو په باب چې پېژني يې او د هغوی د شيانو په باب چې په کې ليدل کېږي، خبرې کوي. (۱) - په مشق پانه کې چې څخه ويني د هغوی بيانول؛ د شيانو نومونه اخيستل، خبرې ورباندې کول. - ويل چې دا شيان ګرد دي يا کنجونه لري؛ د يوه زده کوونکي له خوا پر توره تخته د يو توپ، قالينې يا يو کتاب او د رسم يو چوکات رسمول.(۴) - دغه شکلونو ته دايرې، مربع ګاني او مثلثونه ويل؛ متعلقه شکلونو ته اشاره کول، د دغه شيانو / شکلونو څو ځله نومونه اخيستل يا اشاره ورته کول.	مشق پانه ر ۲ - ۴۱ - ۱ توره تخته
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانه ر ۲ - ۴۱ - ۱ وګوري او په هغې کې د ښودل شويو شيانو نومونه واخلي	*۲ - د شيانو شکلونه رسمول :* - د مشق پانې په شکلونو بحث کول، معلومول چې هر شکل د څه شي نماينده ګي کوي.	مشق پانه ر ۲ - ۴۱ - ۱
- د زده کوونکو په څو ګروپونو تقسيمول. هر ګروپ ته وظيفه ورکول چې د مشابه شکلونو شمېر معلوم او پر خپلو سلېټونو يې وليکي.	*۳ - له ملګري سره د مختلفو شيانو شکلونه پېژندل* - د مشابه شکلونو شمېر معلومول او پر سلېټونو کې ليکل.	سلېټونه

(۱) په دې ځای کې د دې خبرې څخه مطلب دا دی چې زده کوونکي به د دوکان په الماریو کې پرتو شیانو لکه تکه او نورو باندې آزادانه خبرې وکړي د دې شیانو د هندسي شکلونو ښودنه نه ذکر کوي.

(۲) ځینې دوکانونه شیان د تزئین (ښکلا) له پاره ږدي مثلاً دستکاري، په تکو ګلکاري او نور داسې ځینې کلي داسې دوکانونه نه لري، خو ماشومانو به خامخا ځینې له دې شیانو څخه په نورو ځایونو کې لیدلي وي مثلاً د بالښت کڅوړې، د عکسونو چوکاټونه، کتابونه، د تزئین (ښکلا) پلټونه او داسې نور.

(۳) پرېږده چې ماشومان په خپله طریقه په مختلفو شکلونو خبرې وکړي؛ مسلکي اصطلاح ګاني لکه مثلث، مربع او داسې نور به وروسته معرفي کېږي.

(۴) زده کوونکي به یوه دایره، یوه مربع او یو مثلث چې هرځنګه شکل یې وي، جوړوي.



موضوع : د مستطيلونو او مربع ګانو منځ کې فرق کول.

د زده کوونکو ، ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې ټول شيان راوباسي او په درې ګروپونو کې يې ږبل ږبل کړئ؛ زده کوونکي د مربع ګانو، مثلثونو او دايرې ګروپونه جوړوي؛ د ګروپونو نومونه اخلي؛ د هر ګروپ شيان (شکلونه) شمېري. ۲- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې د ښوونځي دننه او بهر د هغه شيانو نومونه واخلئ چې شکلونه يې د مربع ګانو، مثلثونو او دايرو په شان وي؛ زده کوونکي مثالونه پيدا کوي، مثلاً: کړکۍ د مربع ګانو له پاره او داسې نور. ۳- ښوونکی دې زده کوونکو ته ووايي چې ټول مثلثونه او دايره لرې کړي او ټولې مربع ګانې په فرش خوا په خوا کېږدئ؛ بيا غوښتنه کوي چې د شکلونو مطابق دوه مختلف ګروپونه معلوم کړي؛ زده کوونکي مربع ګانو ته په غور ګوري، په مختلفو ممکن حلونو بحث کوي؛ د هر ممکن حل مطابق مربع ګانې ترتيبوي. زده کوونکي کولی شي چې مربع ګانې د اندازې يا د اوږدوالي يا لنډوالي په بنياد ترتيب کړي او داسې نور. ښوونکی به د ټولو ممکنو حلونو قدرداني کوي تر هغې پورې به پرې د نورو حلونو پيدا کولو جاري ساتي ترڅو چې زده کوونکي هغه شکلونه چې د اضلاعو اوږدوالی يې يو شان وي (مربع) د هغه شکلونو څخه چې د اضلاعو اوږدوالی يې مختلف وي (مستطيل) ږبل کړي؛ بيا به د مربع ګانو او مستطيلونو نومونه اخيستل کېږي او څه نمونې به يې په توره تخته رسمېږي د دواړو شکلونو نومونه به په صحيح توګه د زده کوونکو له خوا اخيستل کېږي.	يواځې مربع ګانې توره تخته

موضوع : د مثلثونو، مستطيلونو، مربع ګانو او دايرو د پېژندلو مشق

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی يو سړی په تخته رسموي؛ د سړي په دې رسم کې به يوه دايره، يو مثلث، يوه مربع او څلور مستطيلونه ليدلی کېږي؛ زده کوونکي به د دې شکلونو نومونه پيدا کوي او معلومي به چې هر شکل څو کرته په دې رسم کې راغلی دی.	تخته هندسي کاغذي اشکال
۲- ټول زده کوونکي نور شکلونه رسموي؛ ځينې زده کوونکي کولی شي چې يو کوچنی سړی په تخته رسم کړي.	
۳- د دريمې مشق پاڼې پاسنی خواته ګوري؛ په رسمونو باندې خبرې کول، په کار ځان پوهول؛ شمېرل چې څومره دايرې، څومره مثلثونه، مستطيلونه او څومره مربع ګانې په دغه تصوير کې ليدلی کېږي؛ هر زده کوونکی د متعلقه نښې د لاندې د پيدا کړی شوي شمېر عدد وليکي (مثلاً ۱۴ دايرې ، ۷ مثلثونه، ۴ مستطيلونه، ۴ مربع ګانې)؛ د نتيجو مقابله کوي.	مشق پاڼه ر - ۴۱ - ۳
۴- د مشق پاڼې د لاندينی حصې په کار ځان وپوهوي؛ هرې خپلې مشق پاڼه مکملوي؛ بيا نتيجې د خپل ملګري سره مقايسه کوي، په آخر کې يې ټولګي ته لولي. (په لاس راغلي عددونه عبارت دي له:	

۴	۲	۴	۲	۲	۲
۳	۲	۳	۳	۴	۴
۴	۳	۴	۱	۳	۴
۶	۲	۷	۲	۵	۱



درسي پلان : ۴۲ ر ۲ - ۴۲ - ۱	موضوع : د ۱۰۰ په قدمونو کې تر ۱۰۰۰ پورې د عددونو سلسلې ته پراختیا ورکول	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱- تر سلو پورې کانې شمېرل	
- د ښوونکي له خوا په مېز باندې د ۱۰۰ کانو یوه کڅوړه خالي کول؛ د زده کوونکو څخه غوښتل چې د شمېر قیاس وکړي.	- له حسابولو څخه یې وروسته د شمېر قیاس کول؛ قیاسونه په توره تخته لیکل.	د ۱۰۰ کانو کڅوړه توره تخته
- زده کوونکو ته ویل چې دغه قیاس کړی شوی عدد د کانو په شمېرلو سره چک کړي.	- د یو زده کوونکي له خوا په مېز پراته کانې شمېرل؛ دغه نمبر پر تخته لیکل.	
- د زده کوونکو څخه د تجویزونو غوښتل چې آیا کانې یې صحیح شمېرلي دي؟ د چک کولو د ښې طریقې په پیدا کولو ټینګ پاتې کېدل. (۱)	- تجویز وړاندې کول چې کانې به یوځل بیا شمېرلی کېږي، ځنګه چې کانې شمېرلی شوي دي د ځای څخه یې خوځول چې د لسو لسو کانو کوټه جوړ شي.	
- زده کوونکو ته ویل چې دټولو څخه د ښه تجویز په مطابق کار وکړي.	- یو یا دوه زده کوونکي په مېز د لسو لسو کانې کوټې جوړوي، بیا ټول زده کوونکي د لسیزو واحدونه شماري؛ صحیح عدد په توره تخته لیکي او دقیاس کړی شوي عدد سره یې مقابله کوي.	توره تخته
	۲- ۲۰۰ معلومول	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې لومړی مشق پاڼه مطالعه کړي؛ د کانو شمېره پرې قیاس کول.	- د یو ملګري سره پرې بحث کول؛ قیاس کړی شوی عدد په سلېټونو لیکل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۲ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کانو د صحیح شمېرلو یوه طریقه پیدا کړي؛ که ضرورت و نو مخکې استعمال شوې طریقه ورته ورپه زړه کول مثلاً د لسو لسو کانو ډېرې جوړول.	- د کانو د صحیح شمېرلو په طریقو بحث کول؛ معلومول چې د لسو لسو کانو ګروپونه جوړول د لسو کانو ځنې په دایره چاپېرولو عوض کیدی شي؛ معلومول چې د مشق پاڼې په دواړو برخو کې د لسو لسو کانو لس ګروپونه دي (یعنې ۱۰۰ کانې).	
- پوښتنه کول چې آیا په ټاسو کې داسې څوک شته چې د "دوه سلیزو" عددي نوم واخلي؛ که نه پوهېدل نو ورته ویل چې دا دوه سوه دي؛ ۲۰۰ عدد په توره تخته لیکل.	- ویل چې دا عدد ۲۰۰ دي؛ ۲۰۰ عدد په سلېټونو لیکل؛ د خپلو قیاسونو سره دغه عدد مقابله کول.	توره تخته سلېټونه
	۳- تر ۱۰۰۰ پورې د ټولو مکملو سلیزونو معلومول	
- پوښتنه کول چې کله دري سلیزه وي نو کوم عددي نوم د هغې له پاره استعمالېږي؛ که ضرورت و، مرسته کول.	- ۳۰۰ ویل، عدد پر توره تخته لیکل؛ که ضرورت و اصلاح کول.	توره تخته

- له زده کوونکو څخه غوښتل چې تر ۹۰۰ پورې قدم په قدم د نورو سلیزونو نومونه واخلي، بالاخره ۱۰۰۰ عدد معرفي کول(۲)،(۳) - په زده کوونکو دویمه مشق پاڼه مطالعه کول. - له زده کونکو څخه غوښتل چې دویمه مشق پاڼه د ملګرې سره یوځای مکمله کړي.	- د ټولو سلیزونو نومونه اخیستل، په توره تخته او سلیټونو د هغوی لیکل؛ ۱۰۰۰ نوم اخیستل/ لیکل یې. - مشق پاڼه مطالعه کول، په کار ځان پوهول؛ ۵۰۰ په بله خانه کې لیکل. - په خانو کې صحیح عددونه لیکل؛ بیا ټولګي ته دنتیجو لوستل، امتحان کول، اصلاح کول.	توره تخته سلیټونه مشق پاڼه ر ۲ - ۴۲ - ۲

(۱) په دې ځای کې اصلي تصور، په مېز پرتو کانو ته داسې ترتیب ورکول دي چې شمېرل یې اسان شي. له دې کبله زده کوونکي کولی شي چې لومړی کانې لکه څنګه چې شمېرلی شوي دي یو په یو د خپل ځای څخه وخوځوي. ښوونکی به زده کوونکي په دې پوهوي چې دا طریقه په شمېرلو کې مرسته کوي، خو تر ټولو ښه طریقه نه ده، ځکه چې کېدی شي یو سړی په شمېر کې غلط شي او بل یې له سرنه بیا په شمېرلو شروع وکړي. که ضرورت و نو ښوونکی کولی شي چې زده کوونکو ته د لسو لسو کانو کڅوړې ورپه زړه کړي چې په ټېرو درسونو کې ترښه کار اخیستل شوی و: که چېرې کانې د لسو لسو په ګروپونو کې ترتیب کړی شوي وي نو د یو زیات شمېر کانو شمېرل به اسان وي.

(۲) کله چې زده کوونکي له ۹۰۰ څخه تر لس سوه ووایي. کېدای شي چې دا د ۱۰۰۰ په صحیح لیکلو کې مرسته وکړي خو دې عدد ته له لومړي څخه د یو زر نوم اخیستل کېږي.

(۳) په آخر کې به ټول سلیزونه له ۱۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ پورې د یو بل لاندې په صحیح ترتیب لیکلی کېږي، ډېر ځلې به ټولګي ته لوستلی کېږي او اشاره به ورته کېږي.





موضوع : تر ۱۰۰۰ پورې د مکملو سلیزونو د لیکلو او لوستلو مشق

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ۱۰۰ په قدمونو کې تر ۱۰۰۰ پورې شمېر وکړي او ببرته مخ په شاهم؛ زده کوونکي ډېر ځلې همدغسې شمېر کوي.	
۲- زده کوونکي تر ۱۰۰۰ پورې ټول سلیزونه پر توره تخته په صحیح ترتیب لیکي؛ اشاره ورته کول او یو ځل بیا یې ټولګي ته لوستل.	توره تخته
۳- ښوونکی پرته له کوم خاص ترتیب څخه عددونو ته یو بل پسې اشاره کوي، زده کوونکي هر عدد په ګډه سره لولي.	
۴- یو زده کوونکی یو سلیز وایي، بل زده کوونکی هغه په توره تخته لیکي؛ تر زرو پورې پرته له ترتیب څخه په ټولو سلیزونو سره مشق ته دوام ورکول.	
۵- ښوونکی پرته له ترتیب څخه د ټولو سلیزونو املا وایي؛ زده کوونکي یې په خپلو سلېټونو کې لیکي؛ د چک کولو له پاره یې ټولګي ته لولي.	سلېټونه
۶- ښوونکی په خاموشۍ سره دري ګوتې اوچتوي چې د دري سلیزونو معنی ورکوي، زده کوونکي ۳۰۰ په خپلو سلېټونو لیکي؛ ښوونکی دا مشق د مختلف شمېر ګوتو په ښودلو سره دوام ورکوي، هره ګوته به د یوه سلیز معنی لري؛ په آخر کې د ټولو عددونو چک کول، ټولګي ته یې لوستل.	
۷- دریمې مشق پاڼې ته کتل، په کار خان پوهول، مشق پاڼه د دایرو په رسمولو سره چې سلیز په کې لیکلی شوي وي او د معادل (برابر) عددونو په لیکلو سره مکملول، نتیجې د یو ملګري سره مقایسه کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۲ - ۳



د۲-۴۲-۳

موضوع : تر ۱۰۰۰ پورې سليزونو ته ترتيب ورکول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی ۴۰۰ ... ۶۰۰ په توره تخته ليکي؛ زده کوونکي د غيب سليز عددي نوم اخلي او په خالي ځای کې يې ليکي؛ د عددونو په نورو جوړو سره مشق جاري ساتل (هر ځل به مکمل سليز عددونه وي).	توره تخته
۲- د ځلورمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته کتل؛ په کار ځان پوهول؛ غيب عددونه په خالي بکسونو کې ليکل؛ د امتحان کولو له پاره يې تولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۲ - ۴
۳- ښوونکی ۳۰۰ ، ۹۰۰ ، ۷۰۰ په توره تخته ليکي؛ پوښتنه کوي چې په دې عددونو کې تر ټولو کوچنی، تر ټولو لوی او منځنی عدد کوم يو دی؛ زده کوونکي ځواب ورکوي، بيا دغه عددونه په صحيح ترتيب سره ليکي: ۳۰۰ ، ۷۰۰ ، ۹۰۰ ؛ دا مشق د عددونو په يو يا دوو نورو ستونو سره جاري ساتي لکه: ۵۰۰ ، ۱۰۰ ، ۲۰۰ ، ۹۰۰ ، ۱۰۰۰	
۴- د ځلورمې مشق پاڼې لاندينۍ برخې ته کتل؛ په کار ځان پوهول؛ صحيح عددونه په خانو کې ليکل (ښوونکی د هغه زده کوونکو سره مرسته کوي چې د مشق پاڼې د کينې خوا دمکمللو په چل نه پوهېږي).	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۲ - ۴ (لاندينۍ برخه)
۵- د چک کولو / اصلاح کولو له پاره د عددونو ټوله سلسله په ورو ورو يو يو تولګي ته لوستل.	



ر۲-۴۲-۴

درسي پلان : ۴۳ ر ۲ - ۴۳ - ۱	موضوع : ۱۰۰۰ پوري دمکملو سل ګونونو جمع او تفريق.	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - د سلو په قدمونو کې شمېر کول	
- لـه زده کوونکـو څخـه غوښـتل چـې دسـلو پـه قدمونـو کـې د ۱۰۰ څخـه تـر ۱۰۰۰ ، او د ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰ پورې شمېر وکړي.	- ډېر زده کوونکي مخ پـه وړانـدې او مـخ پـه شـا شمېر کوي.	
- څو سلیزه ورکول مـثلاً ۵۰۰ ؛ ۸۰۰ ؛ ۳۰۰ ؛ زده کوونکو څخه غوښتل کول چې له دې عدد څخه تر ۱۰۰۰ پورې مخ په وړاندې شمېر وکړي.	- ډېر زده کوونکي دا کار کوي؛ بيا ښوونکي په شان عمل کوي؛ پخپله شروع کولو له پاره سل ګون ورکول.	
	۲ - د ۱۰۰۰ نقطو جدول سره اشنا کېدل	د ۱۰۰۰ نقطو جدول (د شاتني پوښ دننه خوا)
- زده کوونکو ته ويل چې د ۱۰۰۰ نقطو جدول ته وګوري او تشريح يې وکړي. (۱)	- ويـل چـې دغلـته ډېـرې نقطـې او لـوی او واړه بکسونه دي؛ يـاد لـرل چـې په هر وړوکي بکس کې لس نقطې، په هر لوی بکس کې ۱۰۰ نقطې او ټولې ۱۰۰۰ نقطې دي.	
- لـه زده کوونکو څخه غوښتل چې مثلاً ۳۰۰ يا ۵۰۰ يـا ۸۰۰ نقطې بـه څنګه معلوموي؛ چك کـول، مرسـته کـول، دوی تـه د ټولـو څخـه ښـه طريقه ښودل يعنې زياتې بکسونه پټول(۲)	- کوښښ کول چې ورکړی شوی عدد وښيي، مثلاً د غټو بکسونو دغـه شمېر د يو کتاب، د کاغذ يا توکر په ذريعه پټول.(۱)	د کاغذ يا توکر توټې
	۳ - د ۱۰۰۰ نقطو د جدول په مرسته د مکملو سل ګونونو جمع او تفريق کول	
- پر توره تخته ليکل مثلاً ۵۰۰ + ۳۰۰ = ☐ غوښتـنه کـول چـې د ۱۰۰۰ نقطـو د جـدول پـه مرسته سره يې حل معلوم کړي. د ټولو څخه د ښې طريقې معلومولو کې رهنمايي کـول مـثلاً ۵۰۰ نقطې ښکاره کول، بيـا نـورې ۳۰۰ نقطې ښکاره کول.	- د دوو يـا دريـو پـه ګروپونو کې کار کول؛ لومړی ۴۰۰ نقطې ښودل يعنې ۶۰۰ نقطې پټول، د ۴۰۰ نقطو څلور غټ بکسونه ښکاره پرېښودل، بيـا د ۳۰۰ نور ښکاره کول مثلاً توکر يو خواته کول چې درې نور غټ بکسونه ښکاره شي. غټ ښکاره بکسـونه شمېرل؛ نـتيجه پـه تـوره تخـته ليکل يعنې ۷۰۰	توره تخته د ۱۰۰۰ نقطو جدول
- د جمع عمـل د همدغسې سوالونو په ذريعه جاې ساتل.	- جمع کول، د مخکې پشان طريقه استعمالول.	
- پر توره تخته ليکل مثلاً ۶۰۰ - ۲۰۰ = ☐ زده کوونکو څخه غوښتل چې د جدول په مرسته يې حل کړي؛ د ضرورت په وخت د ټولو څخه د ښې طريقې په معلومولو کې مرسته کول.	- پـه ښـه طـريقه د دې پـه کولـو بحث کـول، يعـنې لومـړی د ۶۰۰ نقطـو د ښکـاره کولـو له پـاره ۴۰۰ زيـاتې نقطـې پټـول، بيـا د دوو نـورو غټـو بکسـونو د پټولـو له پـاره ټوکـر دېخـوا کـول؛ نتيجه په توره تخته ليکل.	توره تخته
- د تفـريق عمـل د همدغسـې کـارونو سره کـار تـه دوام ورکول.	- تفريق کول، د مخکې په شان طريقه استعمالول.	

موضوع : د معکوسي عملیي مشق کول (جمع او تفریق)	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربیه ورکول : تر ۹۹ پوري شمېرل : الف – کله چې نوی لسیز شروع کیږي نو دماشومانو وار نیول (۱- ۹ ، ۱۰ – ۱۹ ، ۲۰ – ۲۹ ، ... ۹۰ – ۹۹) . ب – د ټولو دېرشیزونو پوښتنه کول؛ لکه : ۳۰ – ۳۹ د ټولو اوياييزو غوښتنه کول ؛ لکه : ۷۰ – ۷۹ او دغسي نور . ۲. د مشق پاڼي ر۲ – ۴ – ۳ په کار بحث کول :الف – په مثال پوهېدل (۶۲ + ۷ = ۶۹). ب – د ورپسي سوال حل په شریکه معلومول (لکه : – ۴) . ج – په هر یو بکس کې غیبه ښنبه او عدد لیکل . د – ټولې نتیجې لوستل . هـ – مقایسه کول ، صحیح کول . ۳. مشق پاڼه ر۲ – ۴ – ۴ مطالعه کول (د شکل وضاحت به د غره په معنا کولای شي چې ته پرې پورته او ښکته ګرځي) . الف – په مثال بحث کول . ب – د زده کوونکو غیب عددونه او نښې لیکل . ج – په نتیجو بحث کول .	مشق پاڼه ر۲ – ۴ – ۳ مشق پاڼه ر۲ – ۴ – ۴

۶۲	= ۷ +	۶۹	۷۸	=	۷۰
۸۴	=	۸۰	۱۸	=	۱۲
۵۱	=	۵۵	۱۳	=	۲۰
۲۹	=	۲۸	۵۷	=	۵۹
۳۸	=	۳۱	۲۱	=	۲۷
۹۴	=	۹۹	۶۸	=	۶۳
۴۰	=	۵۰	۸۷	=	۹۰
۴۵	=	۴۹	۵۵	=	۵۵

ر۲-۴-۳



ر۲-۴-۴

- زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د جدول په مرسته لومړی مشق پاڼه مکمله کړي.	۴- د مکملو سل ګونونو د جمع او تفریق مشق کول - جمع او تفریق کول، د جدول په مرسته مشق پاڼه مکملول؛ د نتیجو په بکسونو کې نتیجې چلیپا کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۳ - ۱ د ۱۰۰۰ نقطو جدول

(۱) دا مشق پاڼه څو کرته استعمالېږي، د دې له پاره دا د درسي کتاب په آخر کې ورکړی شوي ده چې ماشومان يې په آسانه پیدا کړی شي.

(۲) په مکملو سل ګونونو کې د نقطو یو خاص عدد په مختلفو طریقو ښودلی شي. مثلاً : باقي نقطې په کتاب، سلېټ یا د کاغذ په توټې د پټولو په ذریعه.

۷۰۰ + ۱۰۰ = ۸۰۰	☐ = ۴۰۰ - ۷۰۰
۳۰۰ + ۶۰۰ = ☐	☐ = ۷۰۰ - ۹۰۰
۲۰۰ + ۴۰۰ = ☐	☐ = ۳۰۰ - ۴۰۰
۸۰۰ + ۲۰۰ = ☐	☐ = ۶۰۰ - ۱۰۰۰
۴۰۰ + ۳۰۰ = ☐	☐ = ۱۰۰ - ۶۰۰
۱۰۰۰ ۶۰۰ ۸۰۰ ۹۰۰ ۷۰۰	۲۰۰ ۱۰۰ ۵۰۰ ۳۰۰ ۴۰۰

ر۲-۴۳-۱

موضوع : د مکملولو سل ګونو د جمع او تفريق مشق کول.

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه: د ښوونکي له خوا سوالونه ورکول لکه ۵۰۰ + ۲۰۰ = ؛ ۷۰۰ - ۴۰۰ = او نور؛ بيا ببل ببل زده کوونکي هم دغسي کار کوي، يعني نورو څخه سوالونه کوي.	توره تخته
۲- د ښوونکي له خوا پر توره تخته ۵ غټ چوکاټونه رسمول چې د ۱۰۰۰ نقطو د خالي جدولونو نمايندګي وکړي. بيا ۶ غټ بکسونه (۶۰۰ نقطې) په لومړي جدول کې رسمول، غوښتنه کول چې دسلو سلو نقطو د څومره نورو بکسونو ضرورت دی چې دغه ټول جدول په ۱۰۰۰ نقطو ډک شي؟ د زده کوونکو له خوا ځوابونه ورکول، د يو زده کوونکي د مطلوبه شمېر غټو بکسونو رسمول، يعني په چوکاټ کې څلور بکسونه. د مکمل جمع مساوات ليکل. د ښوونکي د مختلف شمېر غټ بکسونو په نورو خالي چوکاټونو کې رسمول. ۱۰۰۰ نقطو ته د رسېدلو له پاره د زده کوونکو د ضرورت وړ شمېر غټ بکسونو رسمول. هرځل د کار تشريح کول.	توره تخته
۳- د ښوونکي له خوا پر توره تختې سوالونه ليکل مثلاً : ۸۰۰ + □ = ۱۰۰۰ ؛ ۹۰۰ - □ = ۳۰۰ ؛ ۲۰۰ + □ = ۵۰۰ ؛ ۷۰۰ - □ = ۱۰۰ او داسې نور. د زده کوونکو له خوا مساوات حل کول، کله ضرورت وي نو د ۱۰۰۰ نقطو خپل جدول استعمالول.	
۴- د دويمې مشق پاڼې په کارونو ځان پوهول، مشق پاڼه مکملول، د انډول عددونو او نتيجو په منځ کې کرښې راښکل؛ مکمل مساوات ټولګي ته لوستل، مقابله کول، اصلاح کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۳ - ۲



موضوع : د ۵۰۰ او ۱۰۰۰ روپو نوټونه معرفي کول، مکمل سل ګونونه ښودل.

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- په دريمه مشق پاڼه کې نوټونه کتل؛ معلومول چې دا څه دي؛ بحث کول چې په دغو پيسو څه اخيستل کېدی شي؛ د ۵۰۰ يا ۱۰۰۰ او داسې نورو روپو د ګټلو له پاره څومره وخت کار کول په کار دي؟ او داسې نور.	مشق پاڼه ر ۲ – ۴۳ - ۳
۲- د هغو خلکو په ارتباط خبرې کول چې په بانک يا بازار کې نوټونه ماتوي.	
۳- د ښوونکي له خوا پر توره تخته ليکل مثلاً : ۵۰۰ = □ + □ ، ۵۰۰ = □ - □ ؛ د زده کوونکو په دغه مسئله بحث کول، معلومول چې د مساواتو د مکملولو ډېرې طريقې دي؛ په توره تخته يو څو طريقې ليکل مثلاً: ۲۰۰ + ۳۰۰ = ۵۰۰ ؛ ۴۰۰ + ۱۰۰ = ۵۰۰ ... ۲۰۰ - ۷۰۰ = ۵۰۰	توره تخته
۴- د دريمې مشق پاڼې په منځنۍ برخه کې په کار ځان پوهول؛ د پيسو مساوي اندازې د کرښو په ذريعه ترل (وصلول) د نتيجو مقابله کول.	مشق پاڼه ر ۲ – ۴۳ - ۳
۵- د زده کوونکو د دريمې مشق پاڼې په آخر کې په کارونو ځان پوهول؛ جلا جلا د مساواتو مکملول؛ تولګي ته نتيجې لوستل، مقابل کول، که ضرورت وي اصلاح يې کول.	مشق پاڼه ر ۲ – ۴۳ - ۳ (لاندينی برخه)





درسي پلان : ۴۴ ر ۲ - ۴۴ - ۱	موضوع : تر ۲۰۰ پوري د لسو لسو په قدم شمېر کول.	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د ۱۰ څخه تر ۱۰۰ پورې او د ۱۰۰ څخه تر ۱۰ پورې د لسو لسو په قدم شمېر وکړي. - بلنه ورکول چې د شمېرلو په وخت د ۱۰۰۰ نقطو جدول ته وګوري او په همدغه وخت کې د نقطو متعلقه شمېر په کې وښيي، مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول.(۱)	**۱ تر ۱۰۰ پورې په لسو لسو کې شمېر کول** - **ډېر زده کوونکي يو بل پسې دغه شمېر کوي.** - **يو زده کوونکی د لسو لسو په قدم په ورو ورو شمېر کوي، نور ټول زده کوونکي د ۱۰۰۰ نقطو په جدول کې په همدغه وخت د لسيزونو بکسونه ښکاره کوي. يعنې مخ په وړاندې شمېرل، بيايي په همدغه شان پټول يعنې مخ په شا شمېرل.**	د ۱۰۰۰ نقطو جدول
- د ۱۰ څخه تر ۱۰۰ پورې ټول لسيزونه په تخته په افقي ډول ليکل؛ **مختلفو لسيزونو ته** اشاره کول او غوښتنه کول چې د ۱۰۰۰ په جدول کې دغه شمېر پيدا کړي.(۲)	- ټول زده کوونکي د ۱۰۰۰ په جدول کې هغومره نقطې ښکاره کوي څومره ته چې ښوونکي په تخته اشاره کوي.	تخته
	۲ - تر ۲۰۰ پورې د لسو لسو په قدم شمېر کول	
- زده کوونکو ته ويل چې د ۱۰۰ نقطو څخه اضافه ۱۰ نورې نقطې په جدول کې وښايي؛ که ضرورت وو نو ويل: يو سل او لس. (۳)	- په جدول کې سل او لس نقطې ښودل؛ ويل: يو سل او لس.	د ۱۰۰۰ نقطو جدول
- په تخته د ۱۰ لاندې ۱۱۰ ليکل. - په زده کوونکو نورې ۱۰ نقطې بيا ښودل او د دې شمېرې د نوم د معلومولو کوښښ کول.	- د ۱۱۰ لوستل او دغه عدد په جدول کې ښودل. - ۱۲۰ نقطې ښودل؛ د دغه عدد نوم اخيستل د ښوونکي په مرسته يې په تخته د ۲۰ عدد لاندې ليکل.	تخته
- غوښتنه کول چې په همدغه شان قدمونو تر ۲۰۰ پورې شمېرل جاري وساتي؛ مرسته کول.	- يو بل پسې ټول لسيزونه تر ۲۰۰ پورې ښودل؛ ټول عددي نومونه يې اخيستل؛ په تخته يې ليکل.	
- د ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ پورې سلسله کې هر عدد چې وي اشاره ورته کول؛ د دغه شمېرې د عددي نوم غوښتنه کول او په جدول کې يې ښودل.	- د اشارې سره سم عددونه لوستل او د ۱۰۰۰ نقطو په جدول کې يې ښودل.	

- زده کړونکو ته ویل چې د لومړۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري، او غیب عددونه ولیکي او ولولي.	۳-تر ۲۰۰ پورې تول لسیزونه لیکل/لوستل - په کار خان پوهول، خالي بکسونو کې د ۲۰ څخه تر ۹۰ پورې عددونه لیکل، په دوه دایرو کې د متعلقه عددونو چلیپا کول، بیا تول عددونه تولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۴ - ۱

(۱) د ۱۰ قدمونو د ښودلو له پاره د ۱۰۰۰ نقطو جدول داسې استعمالېدی شي:

۴۰

(۲) ښوونکی به تول لسیزونه په یو افقي کتار کې لیکي، په ښۍ خوا کې به د ۱۰ څخه شروع کوي او تر سلو پورې به ځي؛ د عددونو منځ کې به لږه فاصله پرېږدي چې وروسته بیا د سل جمع لس سلسله په لومړي کتار کې بالکل د متعلقه عددونو د لاندې په اسانۍ ولیکلی شي.

(۳) د لومړۍ تبصرې پشان دویم سلیز او لسیز په دې ډول ښودلی کېږي.

۱۴۰



موضوع : د لسو لسو په قدم تر ۵۰۰ پورې شمېرل.

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی له زده کونکو څخه غواړي چې د لسو لسو په قدمونو تر ۲۰۰ پورې مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر وکړي؛ زده کوونکي په جلا جلا او يا په ګډه سره شمېر کوي. ۲- ښوونکی په تخته مختلف عددونه ليکي لکه: ۱۴۰ ؛ ۱۸۰ ، ۱۶۰ ...؛ زده کوونکي دغه عددونه د ۱۰۰ نقطو په جدول کې ښيي. ۳- ښوونکی پوښتنه کوي چې آيه څوک د ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ پورې د لسو لسو په قدمونو کې شمېر کولی شي: (الف) مرسته کول؛ په تخته ټول عددونه په يو کتار ليکل (۲۱۰ ، ۲۲۰ ، ... ، ۳۰۰) (ب) زده کوونکي دغه عددونه څو څله لولي، د ۱۰۰۰ په جدول کې دغه عددونه ښيي. ۴- ښوونکی غوښتنه کوي چې آيا کوم زده کوونکی د لسو لسو په قدم تر ۴۰۰ پورې شمېر کولی شي؛ د دريمې شمېرې په شان همدغه طريقې ته دوام ورکول. ماشومان بيا د ۴۱۰ څخه تر ۵۰۰ پورې عددونو سره همدغه شان کار کوي. ۵- دويمې مشق پانې ته کتل؛ د لومړي کتار خالي خايونه ډکول: (الف) د چک کولو له پاره ټول عددونه ټولګي ته لوستل. (ب) د باقي دوه کتارونو خالي خايونه ډکول (۳۱۰ - ۴۰۰ ، ۴۱۰ - ۵۰۰)؛ دغه عددونه ټولګي ته لوستل. ۶- په دغه کار د ښوونکي بحث کول: (الف) د زده کوونکو غلط عددونه صحيح کول، د يو ملګري سره يې چک کول. (ب) چک کول. د زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپلې نتيجې د لومړي او دويمې مشق پانو د پاسنۍ برخې بکسونو سره چې آيا صحيح ډک کړې شوي دي، مقابله کړي. (ج) د غلطو عددونو بکسونه تورول؛ تور کړي شويو خانو سره د منځ ته راغلي شکل معنی معلومول. (بابا).	تووه تخته د ۱۰۰۰ نقطو جدول پانې تووه تخته د ۱۰۰۰ نقطو جدول پانې مشق پانه ۲ - ۴۴ - ۲ (پاسنۍ برخه) مشق پانه ۲ - ۴۴ - ۲ (لاندينۍ برخه)





موضوع : د لسو لسو په قدمونو تر ۱۰۰۰ پورې شمېر کول.

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لسو لسو په قدمونو تر ۱۰۰۰ پورې شمېر وکړي؛ زده کوونکی ورو ورو د لسو په قدمونو پرله پسې یو عدد وایي.	
۲- ښوونکی یې پر توره تخته لیکي: مثلاً ۵۱۰ ۵۲۰ ـــ ـــ	توره تخته
(الف) زده کوونکي غیب عددونه پیدا کوي یعنې ۵۳۰ او ۵۴۰ ؛	
(ب) ښوونکی دا عمل په نورو سلسلو سره جاري ساتل چې د ۵۰۰ څخه زیات تر ۱۰۰۰ پورې وي مثلاً : ۷۸۰ ۷۹۰ ـــ ـــ	
(ج) زده کوونکي جلا جلا عددونه ټولګي ته ووایي.	
۳- د زده کوونکو د دریمې مشق پانې د پاسنۍ برخې کار معلوي:	مشق پانه
(الف) په خالي بکسونو کې غیب عددونه لیکي؛ په آخر کې ټول کتارونه لولي.	ر ۲ - ۴۴ - ۳
(ب) مقابله کوي، اصلاح کوي.	
۴- د دریمې مشق پانې لاندینۍ برخې ته ګوري؛ څه چې کول غواړي بحث پرې کوي:	
(الف) زده کوونکي د مشق پانې ټول بکسونه ډکوي، په دوه دوه یا دري دري کسانو کار کوي.	
(ب) په آخر کې یې نتیجه ټولګي ته لولي.	مشق پانه
(ج) مقابله کوي، اصلاح کوي، وایي چې هره سلسله یو مکمل سلیز ته رسېږي یا تري تېرېږي.	ر ۲ - ۴۴ - ۳



درسي پلان ۴۵ ر ۲ - ۴۵ - ۱	موضوع : تر ۳۰۰ پورې سلسله کې د مکملو لسیزونو جمع او تفریق	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱-تر ۱۰۰ پورې په مکملو لسیزونو کې جمع/ تفریق	
- ښوونکی داسې سوالونه ورکوي مثلا : ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۲۰ ، ۱۰ + ۳۰ ... ۱۰ + ۹۰ (همدغه شان به نور سوالونه ورکوي لکه: ۳۰ + ۱۰ ...) - سوالونه ورکوي مثلاً : ۱۰۰ - ۱۰ ، ۱۰۰ - ۲۰ ۱۰۰ - ۳۰ ... ۱۰۰ - ۹۰ (همدغه شان به نور سوالونه ورکوي لکه: ۸۰ - ۱۰ ، ۸۰ - ۲۰ ...؛ ۶۰ - ۱۰ ...)	- جلا جلا ځوابونه ورکوي. - جلا جلا ځوابونه ورکوي.	
	۲-تر ۲۰۰ پورې په مکملو لسیزونو کې جمع/او تفریق	
- ۸۰ + ۱۰ = ☐ ؛ ۸۰ + ۲۰ = ☐ په تخته یو بل پسې لیکي؛ بیا ۸۰ + ۳۰ = ☐ لیکي؛ د بحث لاربښودنه کوي، زده کوونکو ته په زړه کوي چې دوی ۸ + ۳ څنګه جمع کړي وو. - له زده کوونکو څخه غواړي چې د ۱۰۰۰ ټکو د جدول (پاړې) په مرسته د دې محاسبې (حساب) عملي ښودنه وکړي. - پر تخته ۱۰۰ + ۱۰ = ☐ لیکي؛ له زده کوونکو څخه یې حل غواړي د ۱۰۰۰ ټکو د پاړې څخه کار اخلي (۱) (۲) - کارته همدغه شان دوام ورکوي؛ ۱۰۰ + ۲۰ + = ☐ ، بیا ۱۰۰ - ۳۰ = ☐ او همدارنګه د ۱۰۰ + ۱۰۰ = ☐ پورې لیکي. - ۲۰۰ - ۱۰ = ☐ پر تخته لیکي؛ له زده کوونکو څخه د حل غوښتنه کوي.(۳) - کار ته همدغه شان دوام ورکوي؛ ۲۰۰ - ۲۰ = ☐ ، بیا ۲۰۰ - ۳۰ = ☐ او همدارنګه د ۲۰۰ - ۱۰۰ = ☐ پورې لیکي.	- سوالونه حلوي؛ بحث کوي چې د دې سوالونو حاصل د ۱۰۰ څخه زیات دی. زمونږ مشوره دا ده چې لومړی ۸۰ + ۲۰ = ۱۰۰ ، او بیا ۱۰۰ + ۱۰ = جمع شي. - د ملګري سره یو ځای کار کوي، د حل له پاره د ۱۰۰۰ ټکو جدول (پاړه) استعمالوي. - د دغه جدول (پاړې) په مرسته ځواب پیدا کوي؛ پر تخته یې لیکي. - د جدول په مرسته یو بل پسې ځوابونه پیدا کوي؛ پر تخته یې لیکي. - د جدول په مرسته ځوابونه پیدا کوي، ټول حسابي عملیې بیانوي، پر تخته یې لیکي. - د جدول په مرسته ځوابونه پیدا کوي؛ پر تخته خالي بکسونه ډکوي.	د ۱۰۰۰ ټکو جدول تخته د ۱۰۰۰ ټکو جدول

	۳-تر ۳۰۰ پورې سلسله کې دمکملو لسیزونو جمع او تفریق	
- له زده کوونکو څخه غواړي چې لومړی مشق پاڼه مطالعه کړي او د هغې د ښي اړخ حسابونه وکړي.(۴)	- خالي خایونه ډکوي؛ د چک کولو له پاره ټولګي ته ټول مساوات لولي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۵ - ۱ (کیڼ اړخ)
- له زده کوونکو څخه غواړي چې دمشق پاڼې کیڼ اړخ مطالعه کړي او د لاندې ورکړې شوې عددي پټې په مرسته یې خوابونه پیدا کړي.	- په کار ځان پوهوي؛ د عددي پټې په مرسته خوابونه پیدا کوي؛ په خالي بکسونو کې نتیجې لیکي؛ د چک کولو له پاره نتیجې ټولګي ته لولي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۵ - ۱ (چپ اړخ)

(۱) که چېرې کوم زده کوونکی د ۱۰۰ ټکو له جدول څخه پرته صحیح خواب ووایي، په دې وخت کې به ښوونکی په دې ټینګار کوي چې دا عمل د جدول په مرسته وکړي. دا به زده کوونکو ته د ۱۰۰ څخه تر ۵۰۰ پورې د عملي کار یو مشخص تصور ورکړي.

(۲) د ۱۰ ، ۲۰ ، ۳۰ او داسې نورو د جمع کولو له پاره په کار ده چې پټوونکی کاغذ کینې خواته نقل شي (د ر ۲ - ۴۴ نورې تبصرې وګورئ!)

(۳) د ۲۰۰ - ۱۰ = ☐ د تفریق د ښودلو له پاره به باقي اته بکسونه پټ شي؛ لومړی به دوه بکسونه چې هر یو یې ۱۰۰ ټکې لري ښکاره پاتې شي. بیا د بلې پاڼې په ذریعه د کینې خوا بکس چې ۱۰ ټکي لري پټ شي چې ۱۹۰ ټکي ښکاره پاتې شي.

لاندې عملیې به په همدغه شان کولی شي.

(۴) ښوونکی به زده کوونکي په یوه داسې طریقه رهنمایي کوي چې د ګل په منځ کې د ۲۰۰ عدد وپېژني او د هغې په مطلب پوه شي: ټول نور عددونه به چې د ګلانو د پاڼو په پاڼو کې دي د ۲۰۰ سره جمع کېږي، نتیجې به یې په خالي پاڼو کې لیکل کېږي (- ګلپاڼې)



موضوع : تر ۱۰۰۰ پورې سلسله کې د مکملو لسيزونو جمع او تفريق

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی له ۱۰۰ څخه تر ۳۰۰ پورې سلسله کې د مکملو لسيزونو د جمع او تفريق يو څو سوالونه ورکوي مثلاً : ۱۰۰ + ۶۰ ، ۲۰۰ + ۵۰ ، ۳۰۰ - ۳۰ او داسې نور؛ زده کوونکي دا سوالونه په شفاهي ډول حلوي.	
۲- ښوونکی پر توره تخته ليکي: ☐ - ۴۰ + ۳۰۰ = ☐ ، ☐ - ۴۰ + ۴۰۰ = ☐ ، ☐ - ۷۰ + ۶۰۰ = ☐ ، ☐ - ۷۰ + ۹۰۰ = ☐	توره تخته
(الف) زده کوونکي يې د ۱۰۰۰ نقطو د جدول په مرسته حلوي؛	
(ب) پر توره تخته يې ليکي؛	
(ج) ټول مساوات ټولګي ته لولي.	
۳- د دويمې مشق پانې پاسنۍ برخې ته ګوري؛ په کار څان پوهوي:	مشق پانه ر ۲ - ۴۵ - ۲ (پاسنۍ برخه) توره تخته
(الف) د ۱۰۰۰ نقطو د جدول په مرسته يا د هغه څخه پرته خوابونه پيدا کوي؛	
(ب) د امتحان کولو له پاره ټول مساوات ټولګي ته لولي.	
۴- پر توره تخته ليکي: ☐ ۳۰ - ۹۰۰ ، ☐ ۳۰ - ۵۰۰ ، ☐ ۸۰ - ۸۰۰ ، ☐ ۸۰ - ۶۰۰ ، ☐ ۶۰ - ۷۰۰ ، ☐ ۳۰ - ۱۰۰۰	
(الف) زده کوونکي يې د جدول په مرسته خوابونه پيدا کوي؛	
(ب) پر توره تخته يې ليکي؛	
(ج) ټول مساوات ټولګي ته لولي.	
۵- د دويمې مشق پانې لاندينۍ برخې ته ګوري؛ په کار څان پوهوي:	
(الف) د عددي پټيو په مرسته خوابونه پيدا کوي (د هر سوال لاندې يوه مناسبه عددي پټي ورکړی شوې ده)	مشق پانه ر ۲ - ۴۵ - ۲ (لاندينۍ برخه)
(ب) د چک کولو له پاره ټول مساوات لولي.	

☐ = ۸۰ + ۴۰۰	☐ = ۸۰ + ۷۰۰	☐ = ۸۰ + ۲۰۰
☐ = ۲۰ + ۹۰۰	☐ = ۲۰ + ۳۰۰	☐ = ۲۰ + ۶۰۰
☐ = ۴۰ + ۲۰۰	☐ = ۴۰ + ۸۰۰	☐ = ۴۰ + ۵۰۰

ر ۲-۴۵-۲

☐ = ۱۰ - ۵۰۰

۵۲۰	۵۱۰	۵۰۰	۴۹۰	۴۸۰

☐ = ۱۰ - ۸۰۰

۸۱۰	۸۰۰	۷۹۰	۷۸۰	۷۷۰

☐ = ۵۰ - ۶۰۰

۶۰۰	۵۹۰	۵۸۰	۵۷۰	۵۶۰	۵۵۰

☐ = ۵۰ - ۳۰۰

۳۰۰	۲۹۰	۲۸۰	۲۷۰	۲۶۰	۲۵۰

درسي ټاکل ۵ ۲ ۵ ۱	موضوع : دوه رقمي عددونه په لسيزونو او واحدونو کې په تفصيلي شکل ليکل	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- له ۰ - ۱۰۰ پورې په لسيزونو کې د شمېر کولو غوښتنه کول ، د يو زده کوونکي يو عدد ويل . - په توره تخته د عددونو ۰ - ۱۰ - ۲۰ - ۳۰ ... ۱۰۰ ليکل . - يو عدد ويل لکه : ۲۷ په توره تخته په عددي سلسله کې د ددې عدد د ځای د معلومولو غوښتنه کول (۱) - په مختلفو عددونو مشق جاري ساتل .	*۱ . د عددونو حالت معلومول :* - د لسو زده کوونکو تر سلو پورې په لسيزونو کې شمار کول . - ورته کتل . - همېشه د يو ماشوم مخې ته راتلل ، د عدد له ټولو څخه نژدې حالت ته اشاره کول مثلاً : ويل چې ۲۷ د ۲۰ او ۳۰ تر منځ دی . - د عددونو خپل خپل خايونو ته اشاره کول .	توره تخته
- په توره تخته يو توپ او ورسره د ۲۴ روپو د قيمت يو کاډ رسمول ، دې سره خوا کې ۶ د لسو او ۷ د يوې روپۍ نوټونه رسمول . (۲) - غوښتنه کول چې ، د توپ قيمت به څنګه ورکولای کيږي چې ، د هغو نوټونو چلېپا کول چې د قيمت د ادا کولو له پاره لګي .	*۲ . په لسيزونو او واحدونو کې د قيمتونو په تفصيلي شکل ليکل :* - څه چې ښوونکی کوی هغې ته کتل ، په نوټونو کې د ټول قيمت شمارل . - بحث کول ، معلومول چې د توپ د اخيستو له پاره دوه د لسو او څلور د يوې روپۍ نوټونو ته ضرورت دی .	توره تخته مشق پاڼه ر۲ - ۵ - ۱
- د کار د کتابونو د پرانيستلو غوښتنه کول ، دا يقيني کول چې ټول زده کوونکي په کار پوه شي . - له زده کوونکو څخه د مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول ، مرسته کول ، صحيح کول . - له ماشومانو څخه د نتيجو د لوستلو او تشريح کولو غوښتنه کول .	*۳ . په لسيزونو او واحدونو کې د قيمتونو په تفصيلي شکل د ليکلو مشق کول :* - مشق پاڼه ر۲ - ۵ - ۱ مطالعه کول د هغه مثال پېژندل چې په توره تخته ورته اوس اوس حل شوی دی . - د زده کوونکو دهر يو شي قيمت معلومول ، د شيانو د اخيستلو له پاره د [۱۰] او د [۱] روپۍ نوټونه چلېپا کول ، بيا دا قيمت په لسيزونو او واحدونو کې ليکل لکه څنګه چې ورته ښودل شوی دی . - د زده کوونکو جلا جلا د نتيجو لوستل ، مقايسه کول که ضرورت وو نو صحيح کول .	مشق پاڼه ر۲ - ۵ - ۱

موضوع: تر ۱۰۰۰ پورې سلسله کې د مکملو لسیزونو د جمع او تفریق مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی دا سوالونه ورکوي: ۴۰۰ + ۶۰ ، ۹۰ - ۳۰ او داسې نور (جمع او تفریق د ۰ څخه تر ۵۰۰ پورې سلسله کې)، زده کوونکي یې په یادو حسابوي.	تور ه تخته
۲- په تور ه تخته یو شمېر مساوات لیکي، په ستونونو کې د ټاټ ګونونو د ترتیب خیال ساتي.	
۱۱۰ + ۴۰ = ☐ ۱۴۰ + ۵۰ = ☐	
۲۱۰ + ۴۰ = ☐ ۲۴۰ + ۵۰ = ☐	
۳۱۰ + ۴۰ = ☐ ۳۴۰ + ۵۰ = ☐	
۴۱۰ + ۴۰ = ☐ ۴۴۰ + ۵۰ = ☐	
۳- زده کوونکي یې د ۱۰۰ او ۱۰ روپو د لوبو د نوټونو د ګروپونو په مرسته حلوي؛ نتیجې یې په خالي بکسونو کې لیکي.	د ۱۰۰ او ۱۰ روپو د لوبو د نوټونو
۴- د دریمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته ګوري؛ په کار ځان پوهوي؛ دغه سوالونه حلوي؛ په ګروپونو کې د نوټونو په مرسته لوبې کوي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۵ - ۳ (پاسنۍ برخه)
۵- ښوونکی په تور ه تخته لیکي:	تور ه تخته
۱۸۰ - ۲۰ = ☐ ۸۷۰ - ۳۰ = ☐	
۴۸۰ - ۲۰ = ☐ ۳۷۰ - ۳۰ = ☐	
(الف) زده کوونکي یې د لوبو د نوټونو په مرسته حلوي؛	
(ب) په خالي بکسونو کې یې نتیجې لیکي.	
۶- د دریمې مشق پاڼې لاندینۍ برخې ته؛ په کارونو ځان پوهوي:	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۵ - ۳ (لاندینۍ برخه)
(الف) د عددي پټې په مرسته یې حلول؛	
(ب) صحیح عددي جملې په نښه کوي او هغه عددي جملې چې حاصل یې د عددي جملې سره مساوي نه وي، چلیپا کوي؛	
(ج) د چک کولو له پاره یې تولګي ته لولي.	



درسي پلان ۴۶ ر ۲ - ۴۶ - ۱	موضوع: تر ۱۰۰۰ پورې په سلسله کې د یو یو په قدم شمېر کول	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱- په یادو د ۱۰۰ څخه تر ۳۱۰ پورې شمېر کول	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې له ۹۰ څخه تر ۱۰۰ پورې او له ۸۰ څخه تر ۱۰۰ پورې شمېر وکړي.	- ډېر زده کوونکي شمېر کوي.	
- پوښتنه کوي چې ایا څوک د ۱۰۰ څخه پورته شمېر کولی شي(۱) غوږ نیسي اصلاح کوي، کله چې ۳۱۰ ته ورسي نو بس کوي یې.	- ډېر زده کوونکي په ورو ورو او په احتیاط شمېر کوي، هر زده کوونکي ډېر عددونه وایي؛ نور ورته غوږ نیسي.	
	۲- د عددونو په یوه سلسله کې غلطي معلومول	
- پر تخته لیکي: ۳۱۰ ، ۳۱۱ ، ۳۱۲ ، ۳۱۴ ، ۳۱۳ ، ۳۱۵ ، ۳۱۶ ، ۳۱۷ ، ۳۱۸ ، ۳۱۹ ، ۳۲۰ ؛ له زده کوونکو غواړي چې تولو عددونو ته یو بل پسې په غور وګوري او غلطي معلومه کړي.(۲)	- زده کوونکي د عددونو د لوستلو کوښښ کوي؛ یو له بل سره مرسته کوي، لاسونه اوچتوي که چېرې غلطي یې معلومه کړې وي؛ ښوونکي ته د دې په هکله په خاموشي سره وایي.	تخته
- وخت ورکوي چې ډېر زده کوونکي غلطي معلومه کړي؛ بیا له یوه زده کوونکي غواړي چې د عددونو سلسله تولګي ته ولولي او غلطي وښیي.	- د ډېرو زده کوونکو غلطي معلومي ؛ یو زده کوونکی تولګي ته د عددونو سلسله لولي، وایي چې د ۳۱۴ او ۳۱۳ ځایونه بادید سره بدل شي؛ په تخته یې اصلاح کوي.	
- له زده کوونکو څخه غواړي چې د عددونو صحیح سلسله څو ځله ولولي؛ د ضرورت په وخت مرسته کوي.	- صحیح سلسله جلا جلا او په ګډه لولي.	
- پر تخته د عددونو یوه بله سلسله لیکي مثلاً: ۴۹۰ ، ۴۹۱ ، ۴۹۲ ، ۴۹۳ ، ۴۹۵ ، ۴۹۴ ، ۴۹۶ ، ۴۹۷ ، ۴۹۸ ، ۴۹۹ ، ۵۰۰.	- د مخکې په شان کار کوي، ښوونکي ته په خاموشي وایي که چېرې دوی غلطي معلومه کړې وي؛ په آخر کې د سلسلې اصلاح کوي او څو ځله یې لولي.	تخته
	۳- د عددونو د سلسلو اصلاح کول؛ د یو په قدم شمېر کول	
- زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د لومړي مشق پاڼې پاس د عددونو سلسلو ته په غور وګوري او غلطي اصلاح کړي.	- جلا جلا یا دوه دوه کسان کار کوي؛ عددي سلسلې لولي، غلطي معلومي او اصلاح کوي یې.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۶ - ۱ (پاسنی برخه)
- زده کوونکو ته بلنه ورکوي چې تولګي ته عددي سلسلې ولولي او غلطي معلومې کړي.	- یو بل پسې په غور سره سلسلې په ګروپونو کې لولي، غلطي معلومي او اصلاح یې کوي، صحیح سلسلې لولي.	

	۴- د یو په قدمونو کې شمېر کول، د عددونو سلسلې لیکل	
- زده کوونکو ته وایي چې په اوچت اواز شمېر وکړي مثلاً: د ۴۱۵ څخه تر ۴۲۵ پورې، د ۹۸۶ څخه تر ۱۰۰۰ پورې، د ۷۷۷ څخه تر ۷۸۵ پورې او عددونه په توره تخته ولیکي.	- په اوچت اواز جلا جلا او په ګډه شمېر کوي؛ بیا په توره تخته عددي سلسلې لیکي؛ بیایې لولي.	توره تخته
- له زده کوونکو څخه غواړي چې د لومړۍ مشق پاڼې لاندینۍ برخه مکمله کړي.	- مشق پاڼه مکملوي، ټولګي ته عددي سلسلې لولي، مقابله کوي، که ضرورت وي اصلاح یې کوي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۶ - ۱

(۱) زده کوونکي تر ۱۰۰ پورې شمېر کولو سره اشنا دي، دوی به ډېر زر معلومه کړي چې د یو په قدمونو کې تر ۱۰۰ پورې زیات شمېر څنګه کولی شي.

ښوونکی دې زده کوونکو ته د ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ او نورو عددونو د شمېرلو له پاره چې څنګه کېږي لږ غوندې وخت ورکړي. که چېرې یو زده کوونکی پخپله عددونه معلوم نه کړي نو هغه دې وڅرته وښیي.

(۲) په ورکړې شوې سلسله کې غلطي معلومېدی شي که هرڅو په شروع کې نوي عددونه صحیح نه شي لوستلی.

ښوونکی به د مرستې په غرض سل ګون پټوي چې د عدد باقي برخه (پاسنی مثال کې ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ دي) په اسانه ولوستلی شي.

ر۲-۴۶-۱

				۶۲۶	۶۲۵				
				۶۲۷	~~۶۲۵~~	~~۶۲۹~~	۶۲۴		
	۵۳۸	۵۳۹	۵۳۷	۵۳۶		۷۷۱	۷۶۹	۷۷۰	۷۶۸	

	۹۲۰			۹۱۷		۹۱۵		۹۱۳	۹۱۲	
		۴۶۴			۴۶۱		۴۵۹		۴۵۷	
				۳۲۰					۳۱۵	

موضوع : تر ۱۰۰۰ پورې سلسله کې د شمېر مشق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د شمېرلو او پرېښودلو لوبه کول: زده کوونکي وار په وار د ښوونکي د يو خاص ورکړې شوي عدد څخه مخ په وړاندې شمېر کوي خو ټول هغه عددونه به پرېږدي چې په اخر کې يې د ۵ عدد راځي. مثلاً: يو زده کوونکی به وايي ۴۲۰، بيا د څنګ زده کوونکی به وايي ۴۲۱، بل وايي ۴۲۲ او داسې نور تر ۴۲۴ پورې؛ د ۴۲۵ د نه ويلو له پاره به بل زده کوونکی په خوله لاسونه ږدي . او بل زده کوونکی به ۴۲۶ وايي) کومو زده کوونکو چې غلطي وکړه هغوی به کېني او د بلې لوبې انتظار به کوي.	
۲- د عددونو د پرېښودلو لوبې ته دوام ورکول، مثلاً د ټولو عددونو په آخر کې به ۹ وي. که وخت وي نو نورې لوبې دې هم وکړې شي، نور عددونه پرېښودل.	
۳- دويمې مشق پاڼې ته کتل؛ په خالي بکسونو کې صحيح عددونه ليکل، هغه عددونه په ذهن کې کېنول چې تور شوي دي. دهغه عددونو نومونه اخيستل چې تور شوي دي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۶ - ۲
۴- د عددونو کتارونو سره نژدې په خالي بکسونو کې عددونه ليکل: (الف) ټول تور شوي عددونه ټولګي ته لوستل. (ب) په سلسلو کې ټول عددونه د چک کولو له پاره ټولګي ته لوستل. (تور شوي عددونه د پاس څخه لاندې دي: ۵۹۶ ، ۲۶۰ ، ۷۸۱ ، ۶۹۲ ، ۸۰۴)	

ر۲-۴۶-۲



موضوع : ۱۰۰۰ پوري سلسله کې په دوه دوه قدمونو کې شمېر کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- يوه بله د شمېرلو او پرېښودلو لوبه کول. زده کوونکي بيا وار په وار د ښوونکي د ورکړې شوي عدد څخه مخ په وړاندې شمېر کوي خو هر دويم عدد به پرېږدي، يعنې هر دويم زده کوونکی به خاموشه وي. زده کوونکي به په شروع کې پاڅي؛ که چېرې يو زده کوونکی غلطي وکړه نو هغه به کېنې. لوبې به جفت عدد سره شروع کېږي، مثلاً ۲۴۲ ، ۷۶۸ ، ۳۹۰ (يعنې ټول هغه عددونه چې په سر کې يې ۰ ، ۲ ، ۴ ، ۶ يا ۸ وي)	
۲- د شمېرلو او پرېښودلو لوبه بيا کول خو اوس به د طاق عدد څخه شروع کوي مثلاً ۴۲۵ ، ۸۶۱ ، ۵۰۹ (يعنې هغه عددونه چې په سر کې يې ۱ ، ۳ ، ۵ ، ۷ يا ۹ وي)	
۳- د دريمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته کتل: (الف) کوچنې سرې جوړه جوړه شمېرل (يعنې ۲ - ۴ - ۶ - ۸ ...) هرځل د هرې جوړې څخه وروسته يوه نقطه ليکل. (ب) کتار سره نژدې په بکس کې د سرو تعداد ليکل؛ (ج) لوستل، څو خلې نقطې ليک ل جلا جلا او په ګډه سره (نتيجې دا دي: ۲۴ ، ۴۴ ، ۶۰ او ۹۰ سرې).	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۶ - ۳
۴- د دريمې مشق پاڼې لاندينۍ برخې ته کتل: (الف) خالي بکسونو کې غيب عددونه ليکل. (ب) د چک کولو له پاره يې ټولګي ته لوستل. (ج) پرته د ليکلو څخه دتور شوو بکسونو عددونه لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۶ - ۳ (لاندينۍ برخه)



درسي پلان : ۴۷ ر ۲ - ۴۷ - ۱	موضوع : په عددي جدول کې تر ۱۰۰۰ پورې عددونه په صحیح ترتیب لیکل	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱ - یو نوی عدد جدول (پاڑې) سره اشنا کېدل	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د لومړۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري.	- معلومول چې یو داسې نوی عددي جدول دی چې د ۱ څخه تر ۱۰۰ پورې د جدول په شان یوه عددي سلسله لري؛ په افقي ډول عددي سلسله لري؛ په افقي ډول یو بل پسې عددونه د یویزونو جمع ښیي؛ یو بل د لاندې عددونه د لسیزونو جمع ښیي؛ ډېر عددونه غیب دي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۱ (پاسنۍ برخه)
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د عددونو لومړۍ کتار ټولګي ته ولولي او غیب عدد معلوم کړي، ځنګه چې معلومېږي تشریح یې کول، په بکس کې د دې د لیکلو غوښتنه کول.	- یو زده کوونکی د عددونو لومړۍ کتار لولي، نور ټول دغیب عدد (۴۸۹) په پیدا کولو کې مرسته کوي، تشریح کول چې غیب عدد د ۴۸۸ څخه یو عدد زیات دی او د ۴۹۰ څخه یو عدد کم دی، دا په جدول کې لیکل.	
- له زده کوونکو غوښتل چې همدغه شان بل کتار ولولي او خالي بکس ډک کړي.	- د عددونو بل کتار لوستل، غیب عدد (۵۰۰) معلومول، په جدول کې یې لیکل.	
- همدغه شان څو نورو کتارونو سره کار ته دوام ورکول ؛ له زده کوونکو څخه غوښتل چې غیب عددونه په خالي بکسونو کې ولیکي.	- د عددونو دوه یا درې نور کتارونه لوستل، غیب عددونه لیکل.	
	۲ - ببل ببل عددي جدول مکمللول	
- له ټولو زده کوونکو غوښتل چې دوه دوه یا درې درې کسان سره کار وکړي؛ باقي عددونه کتار په کتار په خاموشۍ سره ولولي او په خالي بکسونو کې غیب عددونه ولیکي؛ په زده کوونکو ګرځېدل، مرسته کول.(۱)	- کتار په کتار ټولي عددي سلسلې لوستل، ټول غیب عددونه معلومول، دا په خالي بکسونو کې لیکل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۱
- له زده کوونکو غوښتل چې کوم عددونه دوی لیکلي دي هغه ټولګي ته ولولي.	- د زده کوونکو له خوا وار په وار په اوچت اواز ټولګي ته عددونه لوستل، لیکلی شوي عددونو چک کول.	
- زده کوونکو ته ویل چې دمشق پاڼې د لاندینۍ برخې په خالي بکسونو کې صحیح عددونه ولیکي؛ تشریح کول چې دا بکسونه د یو عددي جدول څخه شلولی شوي دي؛ مرسته کول، امتحان کول.	- په خالي بکسونو کې غیب عددونه لیکل؛ زده کوونکي دي دمشق پاڼې دپاسنۍ برخې مکمل کړي شوي جدول ته وګوري خو لومړی دي د دې د مرستې څخه پرته کوښښ وکړي.)	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۱ (لاندینۍ برخه)

	۳- د عددي جدول جوړښت راپيدا کول	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې دا څوک چک کولی شي چې ايا په خالي بکسونو کې صحيح عددونه ليکلی شوي دي.(۲)	- بحث کول ، مثلاً ويل چې: په يو کتار کې دعددونو واحدونه د يو يو په حساب زياتېږي؛ د هريو کتار په آخري بکسونو کې همېشه د مکمل لسيزنو يو عدد وي؛ د يو ستون ټول عددونه هم په دغه واحد ختمېږي.	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې يو څل بيا په ګروپونو کې مکمل کړی شوي جدولونه امتحان کړي.	- په ګروپونو کې چک کول، دجدول د جوړښت د نوې زده کړې څخه کار اخيستل.	

(۱) ښوونکی دې د شروع څخه د زده کوونکو مرسته نه کوي، خو په غور دې وګوري چې کوم زده کوونکي مرستې ته ضرورت لري. خو د دې باوجود پخپله د حل ښودلو په خای که ممکن وي، د څو سوالونو پوښتنه وکړي د زده کوونکو د پخپله حل کولو سره مرسته وکړي.

(۲) په عددي جدول کې به د عددونو تر منځ ډېرې رابطې معلومې شي. ښوونکی به د يوې يا ډېرو رابطو د معلومولو له پاره زده کوونکو ته ډېر وخت ورکوي. رابطې دا دي: په عمومي کتارونو کې سليز په خای پاتې کېږي او لسيز واحدونه بدلېږي. په افقي ستونونو کې واحدونه په خای پاتې کېږي او سليز او لسيز بدلېږي.

(۳) دا ټولګي ته د خينې ستونونو د لوستلو په ذريعه کېدی شي، دېته مو خيال وي چې د هر عدد واحد په يو شان پاتې شي.

۴۹۰		۴۸۸		۴۸۶	۴۸۵		۴۸۳	۴۸۲	۴۸۱
	۴۹۹		۴۹۷	۴۹۶		۴۹۴	۴۹۳		۴۹۱
		۵۰۸			۵۰۵			۵۰۲	
	۵۱۹		۵۱۷	۵۱۶			۵۱۳		۵۱۱
	۵۲۹		۵۲۷		۵۲۵		۵۲۳	۵۲۲	
۵۴۰		۵۳۸			۵۳۵		۵۳۳		۵۳۱
۵۵۰						۵۴۴		۵۴۲	۵۴۱
۵۶۰		۵۵۸		۵۵۶	۵۵۵		۵۵۳		۵۵۱
	۵۶۹		۵۶۷		۵۶۵		۵۶۳		۵۶۱
۵۸۰		۵۷۸		۵۷۶			۵۷۳		۵۷۱
	۵۸۹		۵۸۷		۵۸۵		۵۸۳		۵۸۱
					۵۹۵		۵۹۳		۵۹۱
	۶۰۹		۶۰۷		۶۰۵		۶۰۳		۶۰۱
	۶۱۹		۶۱۷		۶۱۵		۶۱۳		۶۱۱
۶۳۰		۶۲۸		۶۲۶		۶۲۴		۶۲۲	
۶۴۰		۶۳۸		۶۳۶		۶۳۴		۶۳۲	
۶۵۰	۶۴۹			۶۴۶	۶۴۵			۶۴۲	۶۴۱
		۶۵۸	۶۵۷			۶۵۴	۶۵۳		
۶۸۰									

موضوع: ۱۰۰۰ پورې عددونه مقابله کول، د دې ترتيب صحيح کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی په توره تخته ليکي: ۲۳۴ ، ۸۰۶ زده کوونکو ته وايي چې کوچنی عدد په پاسنې بکس او لوی عدد په لاندينې بکس کې وليکي. ۲- ۱۰۰۰ پورې په سلسله کې د عددونو دوه نورو جوړو سره کار ته دوام ورکول. ۳- ښوونکی په توره تخته دري عددونه ليکي او دري بکسونه رسموي: ۷۲۸ ، ۵۲۸ ، ۴۰۶ له زده کوونکو غواړي چې کوچنی عدد د سر په بکس او لوی عدد په آخري بکس او دريم په منځني بکس کې وليکي. ۴- ويلې مشق پاڼې ته کتل، په کار ځان پوهول، د سر په بکس کې د کوچنيو عددونو د ليکلو څخه شروع کول. ۵- ټولګي ته ځوابونه لوستل، مثلاً ويل: ۴۲۳ عدد د ۸۲۱ عدد څخه کوچنی دی، د دې له پاره به دا په پاسنې بکس کې ليکلی کېږي، داسې نور؛ مقابله کول؛ اصلاح کول. ۶- کله وخت وي دغسې نور کارونه ورکول (کله زده کوونکي کولی شي، نو ښوونکی دې ۴ عددونه ورکړي).	توره تخته مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۲

ر۲ - ۴۷ - ۲

۸۲۱	۴۳۲	۶۰۱	
۴۳۲	۸۲۱	۳۹۹	
۶۱۲		۳۸۱	
۹۰۰		۱۸۳	
۵۹۹		۸۳۱	
۳۸۹		۹۰۴	
۴۷۲		۸۸۴	
۳۹۸		۹۰۳	

موضوع : خوا په خوا عددونه او خوا په خوا لسيزونه معلومول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د لومړي مشق پاڼې عددي جدول ته بيا کتل؛ د ښوونکي له خوا غوښتنه کول چې ۵۴۳ سره يوې خوا او بلې خواته (ګاونډي) عدونه کوم دي، د دې مطلب د ۵۴۳ څخه ښۍ او کښې خواوو عددونه دي، دري بکسونه په توره تخته رسمول؛ زده کوونکو له خوا ۵۴۳ سره نژدې په بکسونو کې د دې خوا په خوا (څنګ) عددونه ليکل:	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۱ (د عددونو جدول)
۵۴۴ | ۵۴۳ | ۵۴۲	
۲- د يو څو نورو عددونو د څنګ عددونه معلومول.	
۳- زده کوونکي د دريمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه کې عددونه ليکي؛ که ضرورت وي د مرستې له پاره عددي جدول استعمالوي (د ۴۸۱ او ۶۸۰ د منځ عددونو له پاره).	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۲ (پاسنۍ برخه) د عددونو جدول
۴- ښوونکي په توره تخته ۵۷۶ ليکي:	
(الف) له زده کوونکو څخه غواړي چې د عددونو د جدول په مرسته د دې عدد څخه وروسته او مخکې بل مکمل لسيز معلوم کړي؛ د ضرورت په وخت مرسته کوي؛	
(ب) زده کوونکي دا عددونه ۵۷۶ سره نژدې په بکسونو کې ليکي:	
۵۸۰ ..... ۵۷۶ ..... ۵۷۰	
۵- ښوونکي له زده کوونکو غواړي چې د دريمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه مکمله کړي:	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۷ - ۳ (لاندينۍ برخه) د عددونو جدول
(الف) زده کوونکي په دوه يا دري کسيزو ګروپونو کې کار کوي.	
(ب) ټولې نتيجې ټولګي ته لولي، د عددونو په جدول کې ټولو متعلقه عددونو ته اشاره کوي؛	
(ج) د يو مکمل لسيز څخه بل مکمل لسيز پورې مکملې سلسلې لولي، د لسيزونو په منځ کې پر عدد ټينګار کوي.	





ر۲-۴۷-۳

درسي پلان: ۴۸ ر ۲ - ۴۸ - ۱	موضوع: ۱۰۰۰ پوري پيسې شمېرل؛ د ۱ روپۍ ۲ روپۍ جمع او تفريق کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱- تر ۱۰۰۰ پورې د لوبو پيسې شمېرل	
- د ښوونکی له خوا د لوبو روپۍ پر توره تخته رسمول؛ يايي لګول: ۵۰۰ ۵۰ ۵ ۱۰ ۱ ۱ ۱۰۰ ۱۰ ۲ ۱۰ ۱ له زده کوونکو څخه غوښتل چې دغه پيسې وشماري (۱)	- ډېر زده کوونکي يو بل پسې د ټولګي مخې ته راځي، د لوبو پيسوته اشاره کوي او پيسې شمېري (يعني ۶۰۰ روپۍ).	توره تخته د لوبو روپۍ
- پر توره تخته د لوبو نوټونو د رسمولو يا لګولو په ذريعه د مختلفو قيمتونو د ډېرو نوټونو جمع کول چې د جمع حاصل يې له ۱۰۰۰ څخه زياته نه وي.	- ډېر زده کوونکي بيا يوبل پسې د ټولګي مخې ته راځي؛ نوټونو ته اشاره کوي؛ شمېري يې، په هغه ترتيب سره چې مخکې يې مشق وشو.	
- چليپا کول يا څه نوټونه تري لرې کول؛ له زده کوونکو څخه د بيا شمېرلو غوښتنه کول.	- زده کوونکو د مخکې پشان عمل کوي.	
	۲- جلا جلا د نوټونو د شمېرلو مشق کول	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې په لومړۍ مشق پاڼه کې رسم شوو نوټونو ته وګوري؛ ورته ويل چې په هر بکس کې پيسې وشماري؛ پيسې درسمونو کينې خواته په ورو بکسونو کې ليکل.	- په هر بکس کې يو بل پسې د لوبو روپۍ شمېري؛ د روپۍ اندازه په مربوطه خالي بکسونو کې ليکي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۸ - ۱
	۳- جلا جلا د نوټونو د شمېرلو مشق کول	
- له زده کوونکو غوښتل چې د ۱ روپۍ يو بل نوټ د مشق پاڼې په لومړي بکس کې رسم کړي؛ او د دغه رسم د لاندې په خالي بکس کې متعلقه مساوات وليکي.	- په خالي بکس کې د ۱ روپۍ يو بل نوټ رسموي؛ شمېري يې؛ د رسم د لاندې يې ليکل: ۴۳۴ + ۱ = ۴۳۵	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۸ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې دوه روپۍ ورکړي او په ځای يې د يو روپۍ دوه نوټونه چليپا کړي؛ اړوند مساوات معلومول؛ د ضرورت په وخت مرسته کول.	- د يو روپۍ دوه نوټونه چليپا کوي؛ حساب کوي، د لومړي مساوات د لاندې ليکي: ۴۳۵ - ۲ = ۴۳۳ ؛ د چک کولو له پاره نوټونه شمېرل؛ د چک کولو له پاره دواړه مساوات ټولګي ته لوستل.	
	۴- د ۱ روپۍ او ۲ روپۍ د جمع او تفريق مشق کول	
- له زده کوونکو څخه غوښتل چې په مشق پاڼه کې ټول مساوات هم په دغه طريقه مکمل کړي.	- لومړی يوه بله روپۍ رسمول، د جمع متعلقه مساوات ليکل؛ بيا دوه روپۍ چليپا کول؛ د تفريق متعلقه مساوات ليکل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۸ - ۱

(۱) بښوونکی به عددونه داسې لیکي : ۰ - ۱۰ - ۲۰ - ۳۰ - ۴۰ - ۵۰ - ۶۰ - ۷۰ - ۸۰ - ۹۰ - ۱۰۰ ، او لږ څه ځای به د عددونو په منځ کې پرېږي . زده کوونکي به د ۲۷ عدد په نښه کولو له پاره د ۲۰ - ۳۰ په منځ کې ځای څومره چې ممکن وي هغومره رسا په نښه کړي . مثلاً د [۲۷] د ځای دمعلومولو له پاره په کار دي چې [۳۰] عدد ته نزدې ځای وښودلی شي .

(۲) دا له مشق پاڼې ر۲ - ۵ - ۱ څخه یو مثال دی . بښوونکی دې دا نمونه په تخته نقل کړي . مشق پاڼه به بنده ساتلای شي .



ر۲ - ۵ - ۱

- له زده کوونکو څخه غوښتل چې خپلو ملګرو سره نتیجې مقابل کړي. په زده کوونکو ګرځېدل او چک کول چې رسمونه او مساوات د یو بل په مطابق دي یا نه.	- ملګرو سره خپلې نتیجې مقابله کول؛ په آخر کې ټول مساوات ټولګي ته لوستل.	

(۱) ځنګه چې دا د ماشومانو له پاره یو نوی مشق دی نو ښوونکی دې دوی ته یوځه وخت ورکړي او صرف د ضرورت په وخت ګي دې له دوی مرسته وکړي هغه دې زده کوونکو ته دا خبره ښکاره کړي چې د لوړ قیمت د نوټونو د شمېرلو څخه شروع کول آسان دي، او د نوټونو د ټیټ قیمت مطابق دې شمېر ته دوام ورکړي ، په بانك او دوکانونو کې خلك چې اکثره پیسې شماري په دغه طریقه د نوټونو شمېر کوي. کله چې دوی لاندینې نوټونه وینې:

۱۰۰ ۱۰۰ ۵۰۰ ۱ ۱ ۱۰ ۵ ۵۰

نو دوی ۵۰۰ - ۶۰۰ - ۷۰۰ - ۷۵۰ - ۷۶۰ - ۷۶۶ - ۷۶۷ شماري او هم په دغه ترتیب نوټونه را اخلي که ضرورت و نو نور مثالونه ورکول لومړی قدم تر کولو څخه مخکې یې مشق کول په کار دي.



موضوع: ۱۰۰۰ پورې روپۍ. شمارل؛ ۱ روپۍ. د مکملو لسيزونو څخه تفريق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکي له خوا دلوبو روپۍ پر توره تخته رسموي يا يې لګوي: ۱۰۰ ۱۰۰ ۱۰ ۵۰ ۱۰ (الف) له يو دوه زده کوونکو څخه غوښتل چې د ټولګي په مينځ کې روپۍ وشماري؛ (ب) لوبو روپو سره نژدې ۲۷۰ روپۍ. ليکل.	توره تخته دلوبو روپۍ
۲- له زده کوونکو څخه وپوښتنه کول چې يو کس د دغه پيسو څخه يوه روپۍ څنګ خرڅ کولی شي؛ (د لسو روپو يو نوټ به د يوې روپۍ په لسو نوټونو بدلوي د يوه روپۍ به اخلي؛ ۲۶۹ روپۍ. باقي پاتې کېږي.	
۳- غوښتنه کول چې د يو يو روپۍ په نوټونو کې د لسو روپو نوټ د بدلولو عمليه په عمل کې وښيي يا دې په توره تخته د ۱۰ روپو يو نوټ چلېپا کړي. دا د يوې روپۍ په لسو نوټونو بدل شي. (الف) بيا دې د ۱ روپۍ. يو نوټ چلېپا کړي (ب) صحيح مساوات ويل (ج) مساوات پر توره تخته ليکل.	
۴- نورو پيسو سره هم دغه کار عملي کول مثلاً: ۳۳۰ روپۍ؛ بحث کول، رسمول، حساب کول، مساوات ليکل.	
۵- دويمې مشق پاڼې ته کتل؛ په کار خان پوهول. (الف) ښې اړخ او کيڼ اړخ ته رسم شوو پيسو تر منځه رابطه معلومول (کيڼ اړخ ته ټول نوټونه د يو په اندازه کمې دي، خو د دوی ترتيب مختلف دی) د ۱ روپۍ. د تفريق کولو له پاره به د ۱۰ روپو نوټ به په ۵ + ۱ + ۱ + ۱ + ۱ + ۱ روپو بدلې شي که ۱ روپۍ. تري لرې شي ۵ ، ۲ ، ۱ ، ۱ ، ۱ باقي پاتې کېږي. د نوټونو شمېر زياتېږي خو قيمت يې پاتې کېږي. (ب) د لومړي مثال بشپړول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۸ - ۲
۶- د مشق پاڼې پاتې سوالونه مکملول، ملګري سره کار کول، نتيجې لوستل، د دې په هکله خبرې کول.	



موضوع: ۱۰۰۰ پورې روپۍ شمېرل؛ ۱۰ د ۳ رقمي عددونو څخه تفریق کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي له خوا پر تورې تخته د لوبو روپۍ رسمول یا لګول: ۱۰۰ ۱۰ ۵۰۰ ۱۰ ۵ (الف) له زده کوونکو غوښتل چې دا روپۍ وشماري؛ د زده کوونکو له خوا د شمېرلو په وخت مربوطه نوټونو ته اشاره کول، د ۵۰۰ د نوټ څخه شروع کول. (ب) نتیجه (۶۲۵ روپۍ) د لوبو روپو سره نژدې لیکل.	تورې تختې یا دلوبو روپۍ
۲- د ښوونکي له خوا ویل چې هغه په ۱۰ روپۍ یو شی اخیستل غواړي: (الف) د زده کوونکو له خوا د لوبو دروپو څخه د ۱۰ روپو یو نوټ لرې کول (ب) پر تورې تختې د ۱۰ روپو یو نوټ چلیپا کول	
۳- د زده کوونکو له خوا پر تورې تختې متعلقه مساوات: ۶۲۵ - ۱۰ = ۶۱۵ لیکل.	
۴- دریمې مشق پانې ته کتل؛ په کار خان پوهول: (الف) د لومړۍ مساوات مکملول (ب) پرې خبرې کول، معلومول چې دا د ۱۰ روپو څخه د ۱ روپۍ د تفریق کولو په نسبت اسان دی.	مشق پانه ر ۲ - ۴۸ - ۳
۵- د مشق پانې نور سوالونه بشپړول؛ همېشه د مساواتو مکملول. (الف) اړونده رسم سره د نتیجې بکس یو خای کول. (ب) مساوات ټولګي ته لوستل، پرې خبرې کول.	



درسي پلان ۴۹ ر ۲ - ۴۹ - ۱	موضوع : د ۱ او ۲ جمع او تفريق تر ۱۰۰۰ پورې سلسله کې د لسيزونو اړول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - په عددي پټۍ کې د عددونو جوړې معلومول - مشق پانه مطالعه کول؛ د ۵۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ پورې سلسله کې مختلفې عددي پټۍ معلومول. - ټولې عددي پټۍ چک کول؛ خوا په خوا او يو بل د پاسه عددونه مقايسه کول؛ دغه جوړې ټولګي ته لوستل.	مشق پانه ر ۲ - ۴۹ - ۱
- پر توره تخته ۵۱۰ + ۱ = ليکل؛ پوښتنه کول چې د عددي پټۍ په مرسته د حل معلومول به څوک بيان کړي. - پر توره تخته ۵۱۰ - ۱ = ليکل. له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې حل به د عددي پټۍ په مرسته څنګه پيدا کولی شي.	*۲ - د مکمل لسيزونو سره د ۱ عدد جمع کول او تري تفريق کول* - ويل چې د يوې پټۍ د کينې خوا آخر کې ۵۱۰ پيدا شي او د بل لوی عدد په خط به ځي چې د بل کتار په شروع کې دی؛ په توره تخته خالي خانه کې نتيجه ليکل. - ويل چې په عين يو کتار کې به د ۵۱۰ څخه ۱ يو قدم شاته ببولی کېږي؛ پر توره تخته په خالي خانو کې نتيجه ليکل.	توره تخته مشق پانه ر ۲ - ۴۹ - ۱
- پر توره تخته ۵۱۰ + ۲ = ۵۱۰ - ۲ = ليکل؛ غوښتنه کول چې دغه سوالونه په مشق پانه کې د عددي پټيو په مرسته څنګه حل کېدی شي. - همدغه شان په ۶۱۰ + ۲ او ۶۱۰ - ۲ مشق کول. که ضرورت و مرسته کول. - زده کوونکو ته ويل چې په لومړۍ مشق پانه کې ټول مساوات مکمل کړي؛ په دوه دوه کسه کار کول؛ مرسته کول.	*۳ - د مکمل لسيزونو سره ۲ جمع کول او تر يو تفريق کول* - ويل چې د ۲ د جمع کولو له پاره يو سړی کولی شي چې د ۵۱۰ څخه دوه قدمه په مخ لاړشي (په بل کتار کې) همدغسې کول؛ ۵۱۲ ته ورتلل؛ بيا ويل چې د ۵۱۰ څخه د ۲ د تفريق کولو له پاره دوه قدمه شاته تګ په کار دی؛ همدغسې کول؛ ۵۰۸ ته ورتلل: همدغه شان يې په خالي بکسونو کې ليکل. - زده کوونکو ته د خواب له پاره وخت ورکول. - د مساواتو مکملول، د خوابونو له پاره عددي پټۍ ګاڼي استعمالول؛ يو بل ته خپل حسابي عمليې ښودل چې څنګه يې کړي دي. نتيجې ليکل؛ نتيجې لوستل؛ اصلاح کول.	توره تخته مشق پانه ر ۲ - ۴۹ - ۱

(۱) دلته مطلب دا دی چې د عددي پټيو کار بيان شي. سليز او واحدونه په عمودي ډول په خپل حال پاتې کېږي خو لسيزونه بدلېږي. په افقي ډول سليز په خپل حال پاتې کېږي خو لسيزونه او واحدونه بدلېږي.

(۲) د ورپسې دويم درس په ارتباط د زده کوونکو سره مرسته کول دي؛ دوی به په دې روزل کېږي چې حسابونه پخپله وکړي او پخپله يې غوښتنه وکړي، د ښوونکي خاصې مرستې قبولې کړي. که نورو زده کوونکو په پوهېدلو کې څه مشکلات درلودل ورسره مرسته وکړي (که چېرې دوی پخپله يو څه زر زده کړي وي). د دې امله به ښوونکی دهر ډول شخصي درجه بندۍ کولو څخه ځان ساتي. کومو زده کوونکو چې ډېرې غلطۍ کړې وي ونه غواړي درس ته دوام ورکړي او برخه په کې واخلي.

که يو زده کوونکی يو خل په يو شي کې کمزورۍ وي ځ. دی شي چې بل خل په بل شي کې تکړه وي. زده کوونکو ته نور اضافي مشقونه ورکړی شي. مثلاً: چې دمشق پانې په سوالونو بيا حساب وکړي؛ نور زده کوونکي يا ښوونکی پخپله به ورسره کومك کوي.

نوټونو يا د ۱۰۰۰ نقطو له جدول څخه به کار اخيستل کېږي.

۵۱۵	۵۱۴	۵۱۳	۵۱۲	۵۱۱	۵۱۰	۵۰۹	۵۰۸	۵۰۷	۵۰۶
				۵۱۰ + ۲ = ☐		۵۱۰ + ۱ = ☐			
				۵۱۰ - ۲ = ☐		۵۱۰ - ۱ = ☐			
۶۳۵	۶۳۴	۶۳۳	۶۳۲	۶۳۱	۶۳۰	۶۲۹	۶۲۸	۶۲۷	۶۲۶
				۶۳۰ + ۲ = ☐		۶۳۰ + ۱ = ☐			
				۶۳۰ - ۲ = ☐		۶۳۰ - ۱ = ☐			
۷۵۵	۷۵۴	۷۵۳	۷۵۲	۷۵۱	۷۵۰	۷۴۹	۷۴۸	۷۴۷	۷۴۶
				۷۵۰ + ۲ = ☐		۷۵۰ + ۱ = ☐			
				۷۵۰ - ۲ = ☐		۷۵۰ - ۱ = ☐			
۸۷۵	۸۷۴	۸۷۳	۸۷۲	۸۷۱	۸۷۰	۸۶۹	۸۶۸	۸۶۷	۸۶۶
				۸۷۰ + ۲ = ☐		۸۷۰ + ۱ = ☐			
				۸۷۰ - ۲ = ☐		۸۷۰ - ۱ = ☐			
۹۹۵	۹۹۴	۹۹۳	۹۹۲	۹۹۱	۹۹۰	۹۸۹	۹۸۸	۹۸۷	۹۸۶
				۹۹۰ + ۲ = ☐		۹۹۰ + ۱ = ☐			
				۹۹۰ - ۲ = ☐		۹۹۰ - ۱ = ☐			

۱-۴۹-۲

موضوع : لسيزونه د درې رقمي عددونو سره جمع کول او تري تفريق کول يې

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- پر توره تخته ۵۱۰ + ۱۰ = لیکل؛ پوښتنه کول چې دا به د عددي پټيو په مرسته څنګه حلوي. (الف) زده کوونکي به وايي چې د ۵۱۰ څخه لس قدمه مخ په وړاندې هغه بکس ته تګ په کار دی چې د دغه عدد څخه لاندې دی. يعنې ۵۲۰ (ب) په توره تخته ليکل؛ د ۵۱۰ لاندې بکس ته يعنې ۵۲۰ ته رسېدل.	توره تخته مشق پاڼه ر ۲ - ۴۹ - ۱ کې عددي پټي
۲- نور ډېر کارونه ورکول چې په لومړي مشق پاڼه کې ښودل کېدای شي، لکه: ۶۳۰ - ۱۰ ، ۸۷۰ + ۱۰ ، ۱۰۰۰ - ۱۰ ، ۵۷۰ - ۱۰ او نور چې په مشق پاڼه کې نشته ؛ زده کوونکي دې جمع او تفريق له ياده څخه وکړي؛ څو زده کوونکي دې چلا چلا خوابونه ورکوي.	
۳- د لسو لسو په قدمونو کې په توره تخته لاندې عددي پټي ګاڼي رسمول:	توره تخته

۶۹۵		۶۲۵	۶۱۵	

(الف) زده کوونکو ته ويل چې په توره تخته د رسم کړې شوو عددي پټيو په استعمال دا سوال حل کړي:

۶۲۵ + ۱۰ = ☐

(ب) د عددي پټيو په مرستې د حل د لارو چارو بيانول؛ پر توره تخته خواب ليکل

۴- ۶۲۵ - ۱۰ = ☐ پر توره تخته ليکل، غوښتل چې په پورته ډول حلول؛ د حل جريان بيانول مثلاً: که څوک لس قدمه په شا راشي د ۶۲۵ د پاسه بکس (۶۱۵) ته رسېږي؛ په خالي بکس کې نتيجه ليکل.	توره تخته مشق پاڼه ر ۲ - ۴۹ - ۲
۵- پر توره تخته ليکل: ۶۴۵ + ۱۰ = ☐ ۶۴۵ - ۱۰ = ☐	
(الف) د زده کوونکو له خوا د سوالونو حلول. (ب) دعددي پټيو په مرسته د خوابونو ليکل، په توره تخته صرف عمودي عددي پټي ته کتل.	
۶- په دويمه مشق پاڼه کې د سوالونو مکملول؛ په آخر کې د چک په منظور نتيجې لوستل.	

☐ = ۱۰ + ۴۳۳	☐ = ۱۰ + ۸۱۹
☐ = ۱۰ - ۴۳۳	☐ = ۱۰ - ۸۱۹
☐ = ۱۰ + ۹۵۱	☐ = ۱۰ + ۹۲۷
☐ = ۱۰ - ۹۵۱	☐ = ۱۰ - ۹۲۷
☐ = ۱۰ + ۷۶۲	☐ = ۱۰ + ۵۵۴
☐ = ۱۰ - ۷۶۲	☐ = ۱۰ - ۵۵۴

ر-۴۹-۲

د دوهم تعقيبي درس خاکه

موضوع : د دري رقمي عدد سره د ۱ ، ۲ او ۱۰ عددونو جمع، تفريق او امتحان کول يې.

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی دې زده کوونکو ته ورپه زړه کوي چې تاسو تر ۱۰۰۰ پورې عددي پټې سره ۱ ، ۲ يا ۱۰ جمع کول او تفريق کول زده کړي دي. د دې له پاره چې زه کوونکي د دريمې مشق پاڼې کارته تيار شي نو ۱۰ مثالونه په توره تخته ليکل: ☐ - ۱۰ + ۵۷۹ ☐ - ۱۰ - ۴۸۹	توره تخته
۲- زده کوونکي خوابونه پر توره تخته په بکسونو کې ليکي؛ د دريمې مشق پاڼې په لومړي ستون جلا جلا په کار شروع کوي.	توره تخته مشق پاڼه
۳- کله چې ټول زده کوونکو خپل خپل کارونه خلاص کړل، تر هغې وروسته ښوونکی د لومړي ستون ټولې نتيجې پر توره تخته ليکي. (الف) زده کوونکي مقابله کوي، په مشق پاڼه کې صحيح نتيجې نښه کوي، (ب) څومره سوالونه يې چې صحيح کړي وي حسابوي يې. (ج) دغه شمېر د ستون څخه لاندې دايره کې ليکي.	ر ۲ - ۴۹ - ۳
۴- دويم ستون کار ته د تيارولو له پاره، ښوونکی ليکي: ☐ - ۲ + ۲۱۰ ☐ - ۲ - ۷۲۰ زده کوونکي مخکې طريقه کاروي دويم او دريم ستون مکملوي او چک کوي.	توره تخته
۵- ښوونکی کتابونه راټولوي چې يوه شی د اکثرو زده کوونکو له پاره کوم مشق ته ضرورت دی. که داسې زده کوونکی پيدا کړي چې کمزوری وي نو هغه سره به جلا کومك کوي. د زده کوونکو سره د مرستې له پاره او د داسې زده کوونکو د پيدا کولو له پاره چې نورو سره مرسته کولی شي، نښه به دا وي چې د ۱۰۰۰ نقطو د جدول څخه کار واخيستلی شي. (دويمه نمبر تبصره وګورئ)	مشق پاڼه ر ۲ - ۴۹ - ۳

۹۷۹ + ۱۰ = ۹۸۹	☐ = ۹۱۰ + ۲
۶۷۹ + ۱۰ = ☐	☐ = ۴۱۰ + ۲
۲۷۹ + ۱۰ = ☐	☐ = ۶۱۰ + ۲
۴۷۹ + ۱۰ = ☐	☐ = ۳۱۰ + ۲
۹۳۲ + ۱۰ = ☐	☐ = ۷۱۰ + ۲
۵۳۲ - ۱۰ = ☐	☐ = ۴۶۰ - ۲
۷۳۲ - ۱۰ = ☐	☐ = ۹۶۰ - ۲
۳۳۲ - ۱۰ = ☐	☐ = ۷۶۰ - ۲
۴۲۵ - ۱۰ = ☐	☐ = ۳۶۰ - ۲
○	○ ر ۲ - ۴۹ - ۳

درسي پلان ۵۰	موضوع: ۱۰۰۰ پورې په سلسله کې د مکملو سلیزونو سره د یو رقمي، دوه رقمي او درې رقمي عددونو جمع
ر ۲ - ۵۰ - ۱	

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱- ذهني روزنه، شمېر کول	
- له ښلو ښلو زده کوونکو څخه غوښتل چې د یو یو په قدم شمېر وکړي مثلاً: د ۴۲۰ څخه تر ۴۲۶ پورې، د ۷۶۰ څخه تر ۷۷۲ پورې، د ۹۱۰ څخه تر ۹۲۸ پورې...	- وار په وار شمېرکول، د هر زده کوونکي یو، دوه یا درې عددونه ویل.	
- ښلو ښلو زده کوونکو څخه غوښتل چې د دوه دوه په قدمونو شمېر وکړي مثلاً: د ۳۵۰ څخه تر ۳۷۰ پورې، د ۶۰۰ څخه تر ۶۲۰ پورې، د ۸۹۰ څخه تر ۹۲۰ پورې.	- د مخکې په شان وار په وار عددونه ویل.	
	۲- د مکملو سلیزونو سره د ۱، ۱۰ او ۱۰۰ جمع	
- پر تـوره تخـته ۶۰۰ + ۱ = ☐ ؛ ل زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لوبو د روپو د شمېرلو په ذریعه مساوات حل کړي.(۱)	- د سلو روپو شپږ نوټونه یا ۵۰۰ او ۱۰۰ روپۍ ښودل، بیا د یو روپۍ یو بل نوټ ښودل، په توره تخته خالي بکس کې ۶۰۱ لیکل.	توره تخته د لوبو ۵۰۰، ۱۰۰، ۱۰، ۵، ۲ او ۱ روپۍ.
- د لومړي مسـاوات څخـه لاتـدې لیکـل: ۶۰۰ + ۱۰ = ☐ ؛ زده کوونکـو څخـه بیـا غوښتنه کول چې د لوبو د روپو په کارولو سره مساوات حل کړي.	- د ۱۰۰ روپو شپږ نوټونه بیا ښودل، بیا د ۱۰ روپو یو بل نوټ ښودل؛ ویل: د شپږ سوو سره چې لس جمع شي مساوي کېږي په ۶۱۰؛ د تورې تختې په خالي بکس کې ۶۱۰ لیکل.	
- ۶۰۰ + ۱۰۰ = ☐ لیکل؛ زده کوونکو څخه د حل غوښتل.	- لومړی د ۱۰۰ روپو شپږ نوټونه یا د ۵۰۰ او ۱۰۰ روپو یو یو نوټ ښودل؛ بیا د ۱۰۰ روپو یو بل نوټ ښودل، ویل چې ۶۰۰ روپۍ جمع ۱۰۰ له ۷۰۰ روپو سره مساوي دي؛ د تورې تختې په بکس کې ۷۰۰ لیکل.	
	۳- مکملو سلیزونو سره د یو رقمي، دوه رقمي او دوه رقمي او درې رقمي عددونو جمع	
- پر تـوره تخـته لیکـل: ۴۰۰ + ۵ = ☐ ؛ زده کوونکـو څخـه غوښتنه کـول چې د لوبـو د روپو په کارولو سره مساوات حل کړي.	- لومړی ۵۰۰ روپۍ او بیا نورې ۵ روپۍ ښودل؛ نتیجه ویل یایې په توره تخته لیکل.	توره تخته د لوبو روپۍ.
- د لومـړي مسـاوات څخـه لاتـدې لیکـل: ۴۰۰ + ۱۵ = ☐ ؛ زده کوونکـو څخـه غوښتنه کول چې همدغه شان عمل وکړي.	- لومړی ۴۰۰ روپۍ، بیا د ۱۰ روپو یو نوټ او د ۵ روپو یو بل نوټ ښودل؛ ویل ۴۰۰ + ۱۵ = ۴۱۵، په توره تخته ۴۱۵ لیکل.	
- ۴۰۰ + ۱۱۵ = ☐ لیکـل؛ هـم دغـه شـان زده کوونکو څخه غوښتنه کول.	- لومړی ۴۰۰ روپۍ، بیا یـو بـل د ۱۰۰ روپـو نوټ، یـو د ۱۰ روپو نوټ او بیا د ۵ روپو یو بل نـوټ ښـودل؛ ویـل: ۴۰۰ + ۱۱۵ = ۵۱۵، پـه توره تخته ۵۱۵ لیکل.	

- زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې لومړی مشق پاڼې ته وګوري؛ په کار بحث کول؛ دوی ته ویل چې لومړی دري مساوات حل کړي؛ په زده کوونکو ګرځېدل، د لوبو په روپو استعمالولو کې يې مرسته کول. - زده کوونکو ته بلنه ورکول چې د مشق پاڼې ټول مساوات مکمل کړي؛ په زده کوونکو ګرځېدل، مرسته کول.	*۴- مکملو سلیزونو سره د یو رقمي، دوه رقمي او دري رقمي عددونو د جمع مشق کول* - په کار ځان پوهول؛ د لوبو د روپو په ذریعه لومړی دري مساواتونه حلول؛ ټولګي ته يې لوستل؛ د يوه زده کوونکي له خوا د ټولګي مخې ته د لوبو د روپو په مرسته د مساوات د حلولو عملي ښودل. - د باقي جمع کولو په ذریعه ټوله مشق پاڼه مکملول؛ ټولګي ته د مساواتونو لوستل.	مشق پاڼه ز ۲ - ۵۰ - ۱ د لوبو روپي.

(۱) د دې مشقونو مقصد دا دی چې زده کوونکي لومړی د لوړ قیمت بیا د ورپسې لوړ قیمت او داسې نورو نوټونو کارول زده کړي او مشق يې وکړي نوټونه به ۵۰۰ روپي، ۱۰۰ روپي، ۱۰ روپي، ۲ روپي، ۱ روپي وي.
زده کوونکو ته ویل چې کومې د لوبو روپي په مخکې سبقونو کې استعمال شوي د دې مطلب یقیناً روپي وي، خو اوس دا موټر د رسمولو په شکل کې هم لیدلی شو، دا داسې ښکاره رسمونه دي لکه: ۱۰۰، ۱۰، ۵، ۲ او ۱ چې عددونه ښیي، ۱۰۰ روپي، ۱۰ روپي، ۵ روپي، ۲ روپي او ۱ روپي نه ښیي.
(۲) د ۶۸۴ عدد پراخ شکل عبارت دی له: ۶۰۰ + ۸۰ + ۴. شپږ سوه ته ۶۰۰، اتیا ته ۸۰ او څلورو ته ۴ واحدونه ویلی کېږي.

ز-۵۰-۱

☐ = ۲ + ۴۰۰	☐ = ۱ + ۶۰۰
☐ = ۱۲ + ۴۰۰	☐ = ۱۱ + ۶۰۰
☐ = ۱۱۲ + ۴۰۰	☐ = ۱۱۱ + ۶۰۰
☐ = ۶ + ۵۰۰	☐ = ۴ + ۸۰۰
☐ = ۱۶ + ۵۰۰	☐ = ۱۴ + ۸۰۰
☐ = ۱۱۶ + ۵۰۰	☐ = ۱۱۴ + ۸۰۰
☐ = ۸ + ۷۰۰	☐ = ۲ + ۵۰۰
☐ = ۱۸ + ۷۰۰	☐ = ۶۲ + ۵۰۰
☐ = ۱۱۸ + ۷۰۰	☐ = ۳۶۲ + ۵۰۰

موضوع : مکملو سلیزونو سره د یو ، دوه او درې رقمي عددونو د جمع کولو مشق

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه : د تکرار له پاره ښوونکی د مختلف قسمه مساواتو غوښتنه کوي لکه: ۴۰۰ + ۶ = ، ۸۰۰ + ۹۰ = ، ۲۰۰ + ۳۰۰ = او داسې نور؛ جلا جلا زده کوونکو ځوابونه ورکوي.	تخته
۲- ښوونکی پر تخته لیکي: ۲۰۰ + ۹ = ☐ ۲۰۰ + ۳۹ = ☐ ۲۰۰ + ۲۳۹ = ☐	د لوبو پیسې
(الف) غواړي چې زده کوونکی د لوبو روپو سره د ټولګي مخې ته راشي او د لومړي مساواتونه عملاً حل کړي.	
(ب) یو زده کوونکی دغسې کوي؛ نور د خپلو لوبو روپو سره هم د دې فعالیت تکرار کوي.	
(ج) د نورو سوالونو د حلولو له پاره هم دغه شان کار کوي.	
۳- له زده کوونکو څخه غواړي چې له ملګرو سره دویمې مشق پانې پاسني مساواتونه حل کړي ، د عدد له پاره د لوبو روپې استعمالول؛	مشق پانه ر ۲ - ۵۰ - ۲ د لوبو پیسې
(الف) ښوونکي پر تخته ټولې نتیجې لیکي، زده کوونکي خپلې نتیجې چک کوي.	
(ب) ښوونکي چکوي چې کوم زده کوونکی د مساوات په حل کولو کې د مرستې ضرورت لري.	
۴- ښوونکي غواړي چې د مشق پانې د لاندیني کتار سوالونه حل کړي؛	
(الف) د هغو زده کوونکو مرسته کول چې د سوال د لومړۍ برخې حلولو کې مشکلات لري،	
(ب) د ښوونکي له خوا پر تخته د چک کولو له پاره د نتیجو بیا لیکل.	

☐ = ۲۰۰ + ۶	☐ = ۴ + ۷۰۰
☐ = ۲۰۰ + ۳۶	☐ = ۲۴ + ۷۰۰
☐ = ۲۰۰ + ۱۳۶	☐ = ۲۲۴ + ۷۰۰
☐ = ۶۰۰ + ۸	☐ = ۵ + ۳۰۰
☐ = ۶۰۰ + ۵۸	☐ = ۱۵ + ۳۰۰
☐ = ۶۰۰ + ۳۵۸	☐ = ۱۱۵ + ۳۰۰

ر۲-۵۰-۲

موضوع : په لسيزونو او واحدونو کې د عددونو د تفصيلي شکل د ليکلو مشق	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربيه ورکول : د ښوونکي دوې (چيستانونه) ويل لکه : يو عدد ولټوئ چې له [۴۵] څخه کوچنی او له [۴۰] څخه لوی وی (ډېر ځوابونه ممکن دي) ځو کارونه ور حواله کول . ۲. د ښوونکي يو عددو ويل : الف – د زده کوونکو له دغه عدد څخه مخکې او وروسته مکمل لسيزونه ويل لکه (۳۷ : ۳۰ ، ۴۰) . ب – دا په توه تخته ليکل . ۳. شفاهي مشق کول : د ښوونکي يو عددمثلاً [۸۶] ويل ، د زده کوونکو ويل چې دا عدد څومره لسيزونه او څومره واحدونه لري . مثلاً : ۸ لسيزونه او ۶ واحدونه . ۴. مشق پانه ر۲ – ۵ – ۲ ته کتل : الف – يو سوال په شريکه حل کول . ب – بيا د زده کوونکو ټوله مشق پانه مکملول . ج – له ملګري سره يې مقايسه کول .	توره تخته مشق پانه ر۲ – ۵ – ۲

۶۹	۳۰ + ۸	۴۴	۴۰ + ۶	۷۵	۳۰ + ۳
۳۸	۶۰ + ۹	۸۳	۴۰ + ۴	۳۳	۵۰ + ۷
۵۱	۹۰ + ۴	۴۶	۹۰ + ۲	۵۷	۸۰ + ۸
۹۴	۵۰ + ۱	۹۲	۸۰ + ۳	۸۶	۷۰ + ۵

ر۲ – ۵ – ۲

درسي پلان : ۱ ر۲ - ۱ - ۱	موضوع : له [۰ - ۱۰۰] پورې په مکملو لسيزونو کې جمع کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- د رخصتيو په باره کې د ښوونکي پوښتنې کول، عددونه په کار اچول . (۱) - پر تخته قياس کړای شوي يا اټکل کړای شوي عددونه ليکل . - د هر سوال له پاسه د صحيح ځواب د معلومول غوښتنه کول . - له اندازه کړای شوو عددونو سره صحيح عددونه ليکل ، د مقايسه کولو غوښتنه کول. (۲)	*۱ . په ورځنۍ ژوند کې د اټکل کړای شوو او حقيقي شمېرو په باره کې خبرې کول :* - ځوابونه ورکول . - ممکنه ده چې ديوه سوال ډېرځوابونه تجويزکړي - بحث کول ، په آخر کې د صحيح ځواب قبلول . - معلومول چې کوم اټکل عدد له صحيح ځواب سره ډېر نژدې دی .	تـــوره تختـــه
- د زده کوونکو په وړاندې [۳۰] کانۍ ايښودل ، پر تخته [۳۰] ليکل . - زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې سترګې پټې کړي ، [۱۰] کانۍ لرې کول ، د عدد [۳۰] ښې خواته يو لوی خالي بکس رسمول. (۳۰) - کانۍ ببرته داسې ايښودل چې زده کوونکي يې ووينې ، له خالي بکس سره خوا کې - ۲۰ ليکل (۲۰ - ☐ ۳۰) . - زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې سترګې وغړوئ چې کانۍ بيا ووينې - ۲۰ له بکس (۲۰ - ۳۰) سره خوا کې ليکل . - غوښتنه کول چې څه وشول ؟ - له يوه زده کوونکي څخه د بکس ډکولو غوښتنه کول . - زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پانې ر۲ - ۱ - ۱ تـه وګوري او لومـړی مســاوات تشريح کړئ . - زده کوونکـو څخـه د مســاوات د مکملولـو غوښتنه کول .	*۲ . له حقيقي حالت/وضعيت څخه مساوات جوړول* - شمارل ، د کانۍ شمېره بيانول . - د سترګو پټول، چې څه کيږي د هغه قياس کول. - شمارل ، وېل چې [۲۰] کانۍ پاتې دي . - سترګې غړول ، شمېرل ، وېل چې ۲۰ کـانۍ پاتې دی . - بحث کول ، معلومول چې [۱۰] کانۍ تري لرې کـړای شـوي دي . د مختلفـو زده کوونکـو د عددي کيسې ويل . - د يـو زده کوونکـي د بکـس ۳۰ - ۱۰ = ۲۰ ډکول . - په رسم کې حالت ته کتل ، ويل چې په لومړی رسم کې پر مېز د لسو لسو کانو ۵ بوجۍ دي، په آخری رسم کې پر مېز يواځې ۴ بوجۍ دي ، په منځنيو رسمونو کې د مېز مخې ته يوه پرده جوړه شوې ده ، يوه بوجۍ لرې کړای شوې ده . - دبکسونو ډکولوپه وسيله د مساوات مکملول. نتيجې تولګي ته لوستل .	د کـانو [۳۰] بوجۍ چې پـه هـر يـو کـې [۱۰] ، [۱۰] کـانۍ وي تـوره تختـه

موضوع : په دري قدمونو کي مکملو سليزونو سره د دري رقمي عددونو جمع

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- پر توره تخته ليکل: ۴ + ۸۰ = ۸۴ ؛ (د ۵۰ درسي پلان دويمه تبصره وګورئ!)	توره تخته
(الف) تشريح کول چې په لسيزونو او واحدونو کې د ۸۴ د ليکلو دې طريقې ته پراخ شکل ويي.	
(ب) له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې نور مثلاً ۳۹ = + پراخ شکل کې وليکي.	
(ج) د زده کوونکو له خوا په لسيزونو (۳۰) او واحدونو (۹) کې ۳۹ ليکل	
(د) په نورو عددونو همدغسې کار کول مثلاً: ۹۵ ، ۵۷ ، ...	
۲- پر توره تخته ليکل: □ + □ + □ = ۲۳۴ ؛	دلوبو پيسې
(الف) غوښتنه کول چې د لوبو د روپو د استعمالولو په ذريعه دا عدد په پراخه شکل کې څنګه ليکل کېږي؛ بحث کول، د ۲۰۰ + ۳۰۰ + ۴ د ليکلو تجويز وړاندې کول؛	
(ب) ويل چې دا عدد په پراخه شکل (سليزو ۲۰۰ ، لسيزونو ۳۰ او واحدونو ۴) کې ليکلی شوی دي.	
۳- د دريمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته کتل؛ په کار څان پوهول، معلومول چې کوم عددونه ښودلی شوي دي، هغه په بکسونو کې ليکل او په قدمونو کې يې جمع کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۰ - ۳ (پاسنۍ برخه)
۴- تشريح کول چې عددونه په پراخه شکل يعنې سليزونو، لسيزونو او واحدونو کې ليکل د جمع د سوالونو په حل کولو کې مرسته کوي؛ پر توره تخته ليکل: ۲۰۰ + ۲۳۵ =	
۲۰۰ + □ = □ - □ + □ = □ - □ + □ = □	توره تخته
(الف) غوښتل چې لومړی کوم سليز، بيا کوم لسيز او په آخر کې کوم واحدونه به جمع کېږي ؛	
(ب) د څواب ورکولو / حل کولو کوښښ کول؛ ليکل: ۲۰۰ + ۲۳۵ =	
۲۰۰ + ۲۰۰ = ۴۰۰ - ۴۰۰ = ۴۰۰ + ۳۰ = ۴۳۰ - ۴۳۰ = ۴۳۰ + ۵ = ۴۳۵ - ۴۳۵	
(ج) د ښوونکي له خوا جمع کول: ۲۰۰ + ۲۳۵ = ۴۳۵	
۵- د دريمې مشق پاڼې د لاندينۍ برخې سوال ته کتل؛ په کار څان پوهول؛ خالي بکسونه ډکول؛	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۰ - ۳ (لاندينۍ برخه)
(الف) د زده کوونکو سره مرسته کول؛	
(ب) تولګي ته نتيجې لوستل؛ د نتيجو په بکس کې يې صحيح کول؛ د نورو سوالونو حل کول.	



درسي پلان ۵۱	موضوع: ۱۰۰۰ پورې ګڼو وړو دوه رقمي عددونو سره د سلیزونو او لسیزونو جمع
ر ۲ - ۵۱ - ۱	

د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
- د سوالونو یوه جوړه ورکول لکه: ۲۰ + ۶۰ = ☐ ، ۳۲۰ + ۶۰ = ☐ که ممکن وي پرته د لیکلو څخه (۱) - د سوالونو نورې جوړې ورکول مثلاً: ۴۰ + ۳۰ = ☐ ، ۴۴۰ + ۳۰ = ☐ ۷۰ + ۲۰ = ☐ ، ۳۷۰ + ۲۰ = ☐	**۱- ذهني مشق: د مکملو لسیزونو جمع** - یو بل پسې د دواړو سوالونو نتیجې معلومول؛ دواړه مساوات څو خله تکرارول. - د دواړو سوالونو یو بل پسې نتیجې ویل؛ دې زده کوونکي یې تکرار کوي.	
- د لومړي قدم څخه پرته یو سوال په توره تخته لیکل مثلاً: ۳۷۰ + ۲۰ = ☐ ۳۷۰ + ۲۷ = ☐ د حل غوښتنه کول (۲). - غوښتل چې سوالونه قدم په قدم تشریح کړي(۳) - خاکه پر توره تخته رسمول: ۳۷۰ + ۲۷ = ☐ ☐ + ☐ = ☐ ☐ + ☐ = ☐ ۳۷۰ + ۲۷ = ☐ غوښتنه کول چې دا به مناسبو قدمونو سره څنګه ډکېږي. (۴)	**۲- په دوو قدمونو کې د ګڼو وړو دوه رقمي عددونو جمع** - د سوالونو نتیجې ویل، او په خالي بکسونو کې یې لیکل. - معلومول چې سوال د مخکینې په شان دی؛ خو دې سره یو بل قدم هم دی: ۲۰ او بیا ۷ جمع کول. - د بکسونو په ډکولو بحث کول، د داسې لیکلو تجویز وړاندې کول: ۳۷۰ + ۲۷ ۳۷۰ + ۲۰ = ۳۹۰ ۳۹۰ + ۷ = ۳۹۷ ۳۷۰ + ۲۷ = ۳۹۷	توره تخته توره تخته
- پر توره تخته رسم کړې شوې خاکې په مرسته یو یا دوه نور مثالونه ورکول چې په قدمونو کې یې حل کړي. مثلاً: ۸۳۰ + ۶۲ = ، ۴۱۰ + ۸۴ =	**۳- پر توره تخته د نورو مثالونو مشق کول** - وار په وار د سوالونو نتیجې معلومول، هر یو صرف یوه کرښه معلوموي؛ نورو مشاهده کوي، چک کوي، اصلاح کوي.	توره تخته
- زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې لومړی مشق پاڼې ته وګوري، او په سر کې یې لومړی مثال مکمل کړي. - زده کوونکو ته ویل چې یو ملګري سره کار جاري وساتي.	**۴- جلا جلا د ګڼو وړو دوه رقمي عددونو د جمع مشق کول** - د کار مکملول، لومړی حساب کول، بیا یې د مشق پاڼې په خالي بکسونو کې لیکل؛ د نتیجې په بکس کې نتیجه چلیپا کول. - په مشق پاڼه کې باقي سوالونه مکملول، نتیجې امتحان کول، په آخر کې ټول سوالونه ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۱ - ۱

(۱) د ذهني مشق په دوران کې ښوونکي ته په کار دي چې کله دوه عددونه جمع کوي نو چې دمکملو سلیزونو ټولوانه وړي؛ دې سره سره خانله دجوړو کارونه دي یو بل پسې ورو ورو ورکړي .

(۲) که زده کوونکي پخپله نتیجې معلومې نه کړي، ښوونکی دي مرسته وکړي مثلاً: هغه مشق دې ورپه یاد کړي چې مخکې یې کړی دی (۳۷۰ + ۲۰ - ☐). ماشومان به یې وپېژني چې دا د نوي کار لومړی قدم دی.

(۳) زده کوونکي په داسې سوالونو د کوچنیو عددونو سره یې کړې دي. که ضرورت و ښوونکی دې ورته تېر مشق ورپه زړه کړي.

(۴) که زده کوونکو د ۳۷۰ + ۷ - ☐ ، بیا د ۳۷۷ + ۲۰ - ☐ حلول کول شروع کړل، هغه دې په آسانه وکړي، ځکه چې دا هم صحیح دی. خو هغه دې ورته وښیي چې د ۳۷۰ + ۲۰ - ☐ ، بیا د ۳۷۰ + ۷ - ☐ دواړو جمع د مکملو لسیزونو څخه شروع کېږي او په دې وجه کول یې اسان دي.



موضوع : په دوه قدمونو کې د دوه رقمي عددونو سره جمع

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه د مکملو لسيزونو سره د يو رقمي عددونو جمع؛ مثلاً ۴۲۰ + ۸ = ، ۶۸۰ + ۷ = ۲- د ښوونکي په توره تخته ليکل مثلاً: ۲۶۰ + ۲۸ (الف) د زده کوونکو له خوا هغه عددونه ويل چې په خالي بکسونو او تورو خانو کې ليکل شوي دي. (ب) صرف په خالي بکسونو کې ليکل، هغه عددونه ويل چې په تورو خانو کې ليکل شوي دي. ۳- د همدغه شان مثال پر توره تخته مشق کول مثلاً: ۵۱۰ + ۸۳ = ۴- د دويمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه د يو ملګري سره يوځای مکملول. (الف) جلا جلا زده کوونکو سره مرسته کول. (ب) د چک کولو له پاره نتيجې تولګي ته لوستل. ۵- زده کوونکو ته بلنه ورکول چې د مشق پاڼې لاندينۍ برخې ته وګوري (الف) غوښتنه کول چې د صحيح عددونو او د لومړي مثال د ۵ نمبر نتيجې د معلومې کړي. (ب) دا نتيجې بيا پر توره تخته ليکل. ۶- د مشق پاڼې پاتې کارونه ببل ببل مکملول؛ (کومو زده کوونکو ته چې په لنډه طريقه حساب کول ګران دي هغوی ته دي د اوږدې طريقې د کولو اجازه ورکړل شي، پخپلو سلېټونو ليکل)	توره تخته مشق پاڼه ر ۲ - ۵۱ - ۲ (پاسنۍ برخه) مشق پاڼه ر ۲ - ۵۱ - ۲ (لاندينۍ برخه) توره تخته سلېټونه



ر۲-۵۱-۲

موضوع : د سلیزونو د اړولو څخه پرته ۱۰۰۰ پورې د درې رقمي عددونو جمع

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه : په سلیزونو، لسیزونو او واحدونو کې د ۴۳۷ پراخ شکل ورکول، مثلاً: ۴۳۷ = ۴۰۰ + ۳۰ + ۷ ، ۸۴۱ ، ... + ۹۰ + ۳۰۰ = ۳۹۵	
۲- په دوه قدمونو کې ۱۰۰۰ پورې د دوه رقمي عددونو او د مکملو لسیزونو د جمع تکرار؛ د ښوونکي له خوا پر توره تخته لیکل / رسمول مثلاً: ۲۴۰ + ۵۳ ۲۴۰ + ۵۰ = □ + □ = □ + □ ۲۴۰ + ۵۳ =	توره تخته
قدم په قدم حساب کول؛ په خالي بکسونو کې لیکل.	
۳- پر توره تخته لیکل مثلاً: ۲۴۰ + ۳۵۳ = ؛	توره تخته
(الف) غوښتل چې د سوال د حلولو یوه مناسبه طریقه معلومه کړي (که ضرورت و زده کوونکو ته ورپه یادول چې دوی داسې سوالونه لکه ۲۶۰ + ۲۸ = څنګه قدم په قدم حساب کړي وو.	
(ب) د زده کوونکو له خوا د سوال په مناسبو طریقو په حلولو بحث کول؛ کېدای شي چې دوی په درې قدمونو کې د دې د حساب کولو تجویز وړاندې کړي: لومړی ۳۰۰ ، بیا ۵۰ ، بیا ۳ جمع کول.	
۴- د ښوونکي له خوا پر توره تخته رسمول : (الف) د زده کوونکو یوځای حساب کول.	توره تخته
(ب) په خالي بکسونو کې لیکل: ۲۴۰ + ۳۵۰ ۲۴۰ + ۳۰۰ = ۵۴۰ ۵۴۰ + ۵۰ = ۵۹۰ ۵۹۰ + ۳ = ۵۹۳ ۲۴۰ + ۳۵۳ =	
۵- دریمې مشق پانې ته کتل؛ پاسنی مثال لوستل / ځان پرې پوهول (الف) سوالونه په ګروپونو کې حلول ؛ بکسونه قدم په قدم ډکول. (ب) د مشق پانې د آخر کین اړخ ته په خانو کې نتیجې لیکل ؛ (ج) ځوابونه ټولګي ته لوستل، چک کول، اصلاح یې کول.	مشق پانه ر ۲ - ۵۱ - ۳



د درسي پلان ۵۲	موضوع : د دوه، دوه رقمي عددونو او د دوه دري رقمي عددونو جمع د اړولو څخه پرته په ستونونو کې حسابول
د ۲ - ۵۲ - ۱	

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- پر توره تخته ليکل: + = ۶۹ غوښتنه کول چې دغه عدد په پراخ (تفصيلي) شکل سره وليکي (په لسيزونو او واحدونو کې) - په توره تخته ۲۸ عدد ليکل؛ زده کوونکو ته ويل چې دا عدد په تفصيلي شکل کې وليکي. - په توره تخته يو دري رقمي عدد ليکل مثلاً: ۳۴۱؛ زده کوونکو ته ويل چې دا په تفصيلي شکل کې وليکي. - پر نورو عددونو هم همدغه شان مشقونه کول مثلاً: ۵۷۲ ، ۱۹۷ ، ...	**۱ - د دوه رقمي او دري رقمي عددونو پراخ شکل** - بحث کول، معلومول چې د ۶۹ عدد د ۶۰ او ۹ په پراخ شکل ليکلی کېدی شي؛ ويل چې په دې کې ۶ لسيزونه او ۹ واحدونه دي. - همدغه شان ويل چې د ۲۸ عدد داسې ليکلی کېږي. ۲۰ او ۸ دوه لسيزونه او ۸ واحدونه لري. - بحث کول، ويل چې دا څل پکې سلیزونه، لسيزونه او واحدونه دي نو ۳۴۱ داسې ليکلی کېدی شي: ۳۰۰ + ۴۰ + ۱ يعنې دري سلیزونه، څلور لسيزونه او يو واحد. - دا عدد په تفصيلي اشکالو (سلیزونو، لسيزونو او واحدونو) کې ليکل.	
- زده کوونکو ته دهغه عددونو جمع او تفريق ورپه زړه کول چې په ستونونو کې يې مخکې کړي وو. په توره تخته ليکل: ۳۷ + ۵۲ ؛ په خوا کې ستونونه رسمول + ... | ... | ... | ...	**۲ - په ستونونو کې د دوه رقمي عددونو جمع (۱)** - د حسابولو دغه شکل په زړه کول؛ دغه عددونه په ستونونو کې ليکل؛ ويل: ۷ واحدونه جمع ۲ واحدونه مساوي کېږي په ۹ واحدونو سره، د ۹ ليکل)، ۳ لسيزونو جمع ۵ لسيزونه مساوي کېږي په ۸ لسيزونو؛ (۸ ليکل). + | ۳ | ۷ | | ۵ | ۲ | | ۸ | ۹ |	توره تخته
- پر توره تخته ليکل: ۳۱۵ + ۴۶۳ ؛ زده کوونکو څخه پوښتل چې دا سوال د ستونونو په ذريعه څنګه حلېدای شي(۲)؛ که ضرورت و، مرسته کول.	**۳ - په ستونونو کې د دري رقمي عددونو جمع** - بحث کول؛ ويل چې سلیزونه، لسيزونه او واحدونه دي او د دې له پاره اوس دري ستونونو ته ضرورت دی؛ پر توره تخته دري ستونونه (د سلیزونو، لسيزونو او واحدونو له پاره) (+) نښه ښي اړخ ته ليکل.	توره تخته
- بلنه ورکول چې په ستونونو کې سوال حل کړي او جريان يې بيان کړي.	- دواړه عددونه په ستونونو کې ليکل، بيانول چې دغه عدد کې څو سلیزونه، لسيزونه او واحدونه دي؛ په ستونونو کې جمع کول، ويل: ۵ واحدونه دي؛ دري واحدونه مساوي کېږي په ۸ واحده، يو لسيز او ۶ لسيزونه ۷ لسيزونه دري سلیزونه او ۴ سلیزونه ۷ سلیزونه کېږي :	

	/۳/۱/۵/ + /۴/۶/۳/ /۷/۷/۸/	
- په نورو عددونو سره دغه مشق تکرارول مثلاً: په عددونو ۲۵۴ + ۶۳۲ (۳)	- دري ستونونه بيا رسمول؛ عددونه په کې ليکل؛ په ستونونو کې جمع کول؛ تشريح کول.	
	۴- د جمع مشق په ستونونو کې	
- ويل چې لومړی مشق پاڼه مطالعه کړي. - ويل چې په مشق پاڼه ټول سوالونه حل کړي.	- مثال ټولګي ته لوستل؛ په کار خان پوهول. - مشق پاڼه مکمل‌ول؛ نتيجه لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۲ - ۱

(۱) د دې ډول حساب کولو سره زده کوونکي د لومړي ټولګي په ۵۸ درسي پلان کې اشنا کړی شوي دي. بيا يې د دويم ټولګي په ۲۳ درسي پلان کې هم مشق کړي دي.

(۲) زده کوونکي به اوس ستونونه پخپله جوړوي.

(۳) کله چې زده کوونکي نور سوالونه وايي، ښوونکی به دې ته توجه کوي چې اړولوته ضرورت نشته.



ر ۲ - ۵۲ - ۱

موضوع : په ستونونو کې پرته د اړولو د درې رقمي عددونو د جمع کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني مشق: په درې رقمي عددونو کې سلیز، لسیز او واحدونه معلومول مثلاً ۴۲۸ د ۴ سلیزونو، ۲ لسیزونو او ۸ واحدونو سره مساوي کېږي. ۲- د ښوونکي له خوا پر تخته د روپو دوه بېل بېل اندازې رسمول : ۳۶۵ روپۍ: ۱۰۰ ۱۰۰ ۱۰۰ / ۵۰ ۱۰۰ / ۵ ۱۰ ۶۱۲ روپۍ: ۱۰۰ ۱۰۰ / ۱۰۰ ۱۰۰ / ۱۰۰ ۱۰۰ / ۲ ۱۰ ۳/۶/۵ ۶/۱/۲ ۹/۷/۷ (الف) له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دا اندازې بېلې بېلې حساب کړي. (ب) د زده کوونکو له خوا د دغو دوو اندازو لیکل؛ (په ستونونو کې د نوټونو خوا کې) د واحدونو جمع (۵ + ۲ = ۷) او د لسیزونو جمع (۶ + ۱ = ۷) او د سلیزونو جمع (۶ + ۳ = ۹) تشریح کول. (ج) ټولګي ته د بشپړول او خواب لوستل (چې حاصل يې ۹۷۷ دی)	تخته
۳- دویمي مشق پانې ته کتل: په کار ځان پوهول (الف) د هر سوال له پاره بانک نوټونو دغه دوه (په ښي او کین اړخ کې) په ټاکلو خایونو کې لیکل. (ب) دغه اندازې په ستونونو کې لیکل (ج) دغه دوه اندازې جمع کول، د ښوونکي امتحان کول، اصلاح کول (د) ټولګي ته نتیجې لوستل، په یکس کې يې صحیح کول.	تخته مشق پانه ر ۲ - ۵۲ - ۲



موضوع: په ستونونو کې د درې رقمي عددونو جمع، یا ساده شکل استعمال، نتیجې قیاس کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- پر تخته لیکل: ۲۳۴ + ۵۳۳ = ☐ (الف) له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دغه سوال څنګه محاسبه کېږي. (ب) د زده کوونکو له خوا پر تخته د درې ستونونه رسمول، عددونه په ستونونو کې جمع کول، قدمونه یې بیانول.	تخته
۲- ویل چې د ستونونو خاګې ورانبدلې شي خو عددونه به په غور سره لیکل کېږي چې واحدونه هر یو په ټاکلي ځایونو (لسیزونه د لسیزونو لاندې او سلیزونه د سلیزونو لاندې) راشي، پر تخته یې عملاً ښودل.	
۳- د دریمې مشق پاڼې په سر کې مثال ته کتل. (الف) زده کوونکي له خوا لومړی دغه کار په ستونونو کې حسابول (ب) پرته له ستون څخه یې جمع کول (ج) ټول رقمونه پخپلو خاصو ځایونو کې په غور سره لیکل (د) د ښوونکي له خوا چک کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۲ - ۳ (لاندینۍ خوا)
۴- تشریح کول چې د مشق پاڼې په لاندینۍ برخه کې به څه کېږي؛ د مشق پاڼې د ښي اړخ ټولې نتیجې به په کین اړخ هم وي. (الف) د زده کوونکو قیاس چې د ښي اړخ کومه نتیجه کین اړخ د یوې نتیجې سره سمون خوري. (ب) د یوې کرښې په ذریعه یې سره تړل (بیابه محاسبه کوي. په دې طریقه به دوی ته د خپل صحیح او غلط قیاس معلومېږي) (ج) په ګروپونو کې کار کول.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۲ - ۱



درسي پلان ۵۳	موضوع : د سليزونو د اړولو څخه پرته ۱۰۰۰ پورې د عددونو څخه د ګډوډو دوه رقمي عددونو تفريق
ر ۲ - ۵۳ - ۱	

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - ذهني مشق: د مکملو لسيزونو تفريق	
- زده کوونکو ته شفاهي د سوالونو يوه جوړه ورکول(۱) مثلاً: ۸۰ - ۳۰ = ۴۸۰ - ۳۰ =	- دواړه سوالونه يوځای کول، دواړه مساوات څو خله تکرارول.	
- زده کوونکو ته هم د دغسې جوړو نور سوالونه ورکول، مثلاً: ۶۰ - ۲۰ = ۱۶۰ - ۲۰ = ۹۰ - ۵۰ = ۴۹۰ - ۵۰ = ۷۰ - ۶۰ = ۸۷۰ - ۶۰ =	- سوالونه د مخکې په شان حلول، د بلې جوړې د حسابولو څخه مخکې دواړه مساوات څو خله تکرارول.	
	۲ - په دوو قدمونو کې د ګډو وړو دوه رقمي عددونو تفريق	تخته
- کوم سوال چې زده کوونکي مخکې حل کړي دي هغه په تخته ليکل، مثلاً: ۸۷۰ - ۶۰ = ☐	- بيا سوال حل کول، نتيجه يې په خالي بکس کې ليکل.	
- د لومړي مساوات څخه لاندې ليکل: ۸۷۰ - ۶۴ = ☐ غوښتل چې څوک يې نتيجه معلوموي (۲).	- د زده کوونکو له خوا بحث کول / د حل کولو طريقه معلومول، نتيجه ۸۰۶ معلومول.	
- له زده کوونکو غوښتنه چې د دې سوال د حل کولو له پاره دوی کوم قدمونه اخيستي دي.	- ويل چې د مخکې سوال په نسبت دلته يو قدم زيات دی: لومړی قدم ۶۰ تفريق کول دي، دويم قدم ۴ تفريق کول دي.	
- پر تخته اړونده جدول رسمول: ۸۷۰ - ۶۴ ☐ - ☐ = ☐ ☐ - ☐ = ☐ ۸۷۰ - ۶۴ = ☐ د جدول د ډکولو غوښتنه کول.	- د جدول په مکملولو بحث کول؛ تجويز وړاندې کول/ ليکل: ۸۷۰ - ۶۴ ۸۷۰ - ۶۰ = ۸۱۰ ۸۱۰ - ۴ = ۸۰۶ ۸۷۰ - ۶۴ = ۸۰۶	
	۳ - په تخته د نورو مثالونو مشق کول	تخته
- زده کوونکو ته ويل چې په تخته هم دغه شان يو څو نور سوالونه حل کړي مثلاً: ۴۵۰ - ۳۳ = ☐ ، ۶۹۰ - ۶۵ = ☐	- پر تخته يو څای سوالونه حل کول، وار په وار د هر يو ماشوم په ورکړې شوی جدول کې يوه کرښه ليکل	

د دوهم تعقیبي درس خاکه

موضوع : د پیسو ماتول ، په مفصل شکل یې لیکل

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربیه ورکول : د ښوونکي یو عدد ورکول ؛ مثلاً [۳۶] : د زده کوونکو دا عدد په لسیزونو او واحدونو کې په مفصل شکل لیکل لکه [۳۰ + ۶] . ب – ښوونکی یو مکمل لسیز او واحدونه ورکوي لکه [۵۰ + ۶] او د زده کوونکو له دې څخه یې وازې یو عدد جوړول مثلاً [۵۶]. ج – د ښوونکي مختلف مشقونه ورکول ، لسیزونو او واحدو ځایونه بدلول ، لکه [۶ + ۵۰] ، [۵۰ + ۶] په دواړو حالتونو کې یې نتیجه [۵۶] ده .	
۲. د ښوونکي یوه کیسه ویل چې هغه یو خل څنګه یو کتاب واخیستو ، په توره تخته د [۳۶] روپو د قیمت له کارډ سره یو کتاب رسمول ، غوښتنه کول چې تاسو څه فکر کوئ چې ما د دې کتاب قیمت څنګه ادا کړو : الف – د زده کوونکو ډېر ځوابونه ورکول ، د [۱۰] ، [۵] او یوې روپۍ نوټونه استعمالول لکه : ۳۶ = ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۵ + ۱ یا ۳۶ = ۱۰ + ۱۰ + ۵ + ۵ + ۵ + ۱ او نور . ب – دا په توره تخته لیکل . ج – بیا د ښوونکي ویل چې له هغه سره په جیب کې یوازې [۴] د لسو روپو نوټونه وو . د – د زده کوونکو ویل چې هغه څلور ماتې روپۍ ببرته واخیستلې . هـ - د ښوونکي په توره تخته لیکل : ۳۶ = ۴۰ – ۴ .	تـــوره تختـــه
۳. د زده کوونکو مشق پانه ر۲ – ۵ – ۳ مطالعه کول ، معلومول چې د مشق پانې په پاسنۍ ښۍ برخه کې همدغسې مشابه کیسې جوړې شوې دي : الف – په الفاظو کې د پیسو ورکولو دوه طریقې بیانول . ب – په خپله د بل ورکړې شوی کار حل معلومول . ج – مقایسه کول ، امتحان کول .	
۴. د ښوونکي په لومړي مثال په ټولګي کې کار کول : الف – د زده کوونکو د نورو کارونو په خپله حلول ، له ملګري سره بحث کول . ب – ښوونکی امتحان کول .	مشـــق پـــانه ر۲ – ۵ – ۳



* له پیسو سره دې د سوداګرۍ لوبه وشي

۲۸ = [ ] + [۲۰]	۴۷ = [ ] + [۴۰]	۸۴ = [ ] + [۸۰]
۲۸ = [ ] – [۳۰]	۴۷ = [ ] – [۵۰]	۸۴ = [ ] – [ ]
۷۵ = [ ] + [ ]	۵۶ = [ ] + [ ]	۹۹ = [ ] + [ ]
۷۵ = [ ] – [ ]	۵۶ = [ ] – [ ]	۹۹ = [ ] – [ ]

ر۲-۵-۳

	۴- بېل بېل د دوه رقمي عددونو د تفريق مشق کول	
- زده کوونکو ته ويل چې د لومړۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري. - زده کوونکو څخه غوښته کول چې باقي سوالونه مکمل کړي، په دوه دوه کسه يا دري دري کې کار کول.	- حساب کول، غيب عددونه معلومول ، هم دغه شان يې د خپلو مشق پاڼو په بکسونو کې ليکل. - پاتې سوالونه حلول، د چک کولو له پاره د په بکس کې نتيجې صحيح کول؛ په آخر کې ټول سوالونه و خوابونه ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۳ -

(۱) ښوونکی دې لومړی يو سوال او څه ساعت وروسته دې بل سوال ورکړي، بيا دې هغه دواړه سوالونه يو يا دوه خل تکرار کړي، ترهغه وروسته دې دواړه سوالونه په زده کوونکو حل کړي، په دې طريقه به ښوونکو ته معلومه شي چې دواړه مساوات د يو بل په شان دي او نتيجې يې هم د يو بل په شان دي. ښوونکی دې صرف د سوالونو جوړې په تخته وليکي.

(۲) د خواب په معلومولو کې د زده کوونکو د مرستې کولو له پاره دې ښوونکي د مخکيني سوال (۸۷۰ - ۶۰ =) حواله ورکړي.

که چېرې زده کوونکو ته د سوال حل ګران وي، نو ښوونکی دې پخپله نتيجه نه ښيي. د دې په ځای دې هغه د دوی د نتيجې پخپله معلومولو کې مرسته وکړي، يعنې سوال ۸۷۰ - ۶۰ = (چې دوی يې حل کولی شي) او سوال ۸۷۰ - ۶۴ = (چې هم دغه شان دی) په منځ کې فرق ته دې د اشاره وکړي.



موضوع : د سليزونو له اړولو پرته د دوه رقمي عددونو د تفريق اسانول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني مشق: له مکمل لسيزونو څخه د يو رقمي عددونو تفريق مثلاً: ۷۳۰ - ۳ = ۴۶۰ - ۹ = ، او داسې نور.	
۲- د ښوونکي پر توره تخته رسمول / ليکل مثلاً: دوه بکسونه سوري کول: ۴۵۰ ، ۴۲ = ۴۵۰ - □ = □ □ - □ = □ (الف) د زده کوونکو په يوځای حساب کول، په خالي بکسونو کې ليکلو له پاره ټول عددونه او هغه عددونه چې له سوريو کړای شوو بکسونو سره تعلق لري ويل؛ (ب) خالي بکسونه ډکول.	توره تخته
۳- د يو بل مثال په توره تخته مشق کول مثلاً: ۶۶۰ - ۳۸ =	توره تخته
۴- د دوهمې مشق پاڼې په پاسنۍ برخه کې سوال حل کول، د زده کوونکو په دوه دوه ګډه يا ډري ډري کډه کار کول؛ (الف) د ښوونکي د ببل ببل زده کوونکي مرسته کول؛ (ب) د زده کوونکو په آخر کې نتيجې د چک کولو له پاره ټولګي ته لوستل؛ (ج) هغه عددونه ويل چې له سوريو کړای شوو بکسونو سره يې تعلق دي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۳ - ۲ (پاسنۍ برخه)
۵- په يو خای د مشق پاڼې د لاندينۍ برخې لومړی سوال (۵ نمبر) حسابول: ۶۲۰ - ۱۳ = ۶۲۰ - ۱۰ - ۳ = ۶۰۷ (الف) په متعلقه بکسونو کې ليکل. (ب) مکمل حساب پر توره تخته هم ليکل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۳ - ۲ (لاندينۍ برخه) توره تخته
۶- د زده کوونکو د مشق پاڼې د باقي سوالونو حلول. (که زده کوونکو ته په دې طريقه حسابولو کې مشکلات وي نو دوی دې دا لومړی په اوږده طريقه پخپله سلېټونو او بيا دې په مشق پاڼه کې وکړي).	سلېټونه



ر۲-۵۳-۲

موضوع : له سلیزونو څخه بې له اړولو تر ۱۰۰۰ پورې عددونو څخه د ګډو وډو درې رقمي عددونو تفریق

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ذهني مشق: له سلیزونو څخه بې له اړولو ۱۰۰۰ پورې مکمل لسیزونو سره درې رقمي عددونو څخه د مکمل لسیزونو تفریق مثلاً: ۳۶۰ - ۴۰ = ، ۴۹۰ - ۷۰ = ، ۸۲۰ - ۲۰ = او داسې نور.	تخته
۲- د دوه رقمي عددونو د تفریق تکرارول، د ښوونکي په تخته رسمول / لیکل:	
۳۵۰ - ۳۴ =	
د زده کوونکو وار په وار د سوال کړنې په کړنه حلول	
۳- د ښوونکي په تخته لیکل مثلاً: ۱۳۵ ؛	
(الف) له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې یوه داسې طریقه معلومه کړي چې دا سوال په تخته قدم په قدم حل کړي؛	
(ب) د زده کوونکو بحث کول، معلومول چې د دریو قدمونو ضرورت دی: لومړی ۱۰۰ ، بیا ۳۰ ، بیا ۵ تفریق کول	
(ج) د ضرورت په وخت کې د ښوونکي مرسته کول.	
۴- د ښوونکي په تخته متعلقه جوړښت رسمول؛ د زده کوونکو یوځای حسابول، خالي بکسونه ډکول:	
۴۸۰ - ۱۰۰ = ۳۸۰ ۳۸۰ - ۳۰ = ۳۵۰ ۳۵۰ - ۵ = ۳۴۵ ۴۸۰ - ۱۳۵ = ۳۴۵	
۵- دریمې مشق پانې ته کتل؛	مشق پانه ر ۲ - ۵۳ - ۳
(الف) د مشق پانې په سر کې په مثال خان پوهول / مثال لوستل؛ (ب) له ملګري سره یوځای د مشق پانې ټول سوالونه حلول؛ (ج) د مشق پانې په آخر کې په کړنو تور کړای شوي بکس کې ټولې نتیجې لیکل؛	
(د) په آخر کې ټول حسابونه ټولګي ته لوستل.	



درسي پلان ۵۴	موضوع: د دوه رقمي او دري رقمي عددونو تفريق کول بې له قرضولو څخه، په ستونونو کې حلول (حسابول)
ټولګی ۴ - ۵۴	

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ - ذهني روزنه: د ورکړای شوو سلیز، لسیز اویویز عددونو څخه دري رقمي عددونه جوړول:	
• دوپي ویل لکه: زما عدد څلور سلیزونه، پنځه لسیزونه او یو یویز لري: دا کوم عدد دی؟ که ضرورت و تکرارول یې.(۱)	- د فکر کولو له پاره څه وخت نیول، د ډېرو زده کوونکو خواب ویل.	
- زده کوونکو ته ویل چې همدغه شان نورې دوپي جوړې کړي، سلیزونه، لسیزونه او یویزونه په مختلفو ترتیبونو سره (مثلاً ویل: زما عدد ۴ لسیزونه، دري یویزونه او دوه سلیزونه لري...)	- پخپله د دوپو جوړول، نور زده کوونکي دوه دري ځله په غور سره غوږ نیسي، ډېر زده کوونکي ځواب ورکوي. د صحیحو عددونو له موندلو څخه مخکې زده کوونکي دغه دوپي تکراروي.	
	۲ - په ستونونو کې د دوه رقمي عددونو تفریق (۲):	
- پر توره تخته لیکل: ۷۹ - ۴۳ = ؛ د ستونونو یوه خاکه یې خوا کې رسمول:	- د حسابولو دا طریقه راپه زړه کول؛ عددونه په ستونونو کې لیکل، بیا یې حسابول: (۹ یویزه منفي دري یویزه مساوي دي له ۶ یویزونو سره (۶ لیکل)، اووه لسیزه منفي څلور لسیزه مساوي دي په دري لسیزه (۳ لیکل)	توره تخته
- زده کوونکو ته ویل چې یو بل مثال هم همدغه شان حل کړي (مثلاً: ۸۶ - ۳۵ =) (۳)	- په شریکه یې حلول، په متعلقه ستونونو کې دغه عددونه لیکل، د مخکې په شان یې بیانول.	
	۳ - په ستونونو کې د دري رقمي عددونو تفریق	
- پر توره تخته لیکل: ۳۴۶ - ۱۲۴ = ؛ د ستونونو د خاکو په مرسته څنګه حلېدای شي. د ضرورت په وخت مرسته کول.	- ویل چې دلته اوس سلیزونه، لسیزونه او یویزونه دي، نو د دې د حسابولو له پاره دري ستونونو ته ضرورت دی. دغه خاکه په تخته رسمول.	توره تخته
- زده کوونکو ته ویل چې دغه عددونه په ستونونو کې ولیکي او په غور او ورو ورو یې حساب کړي.	- په متعلقه ستونونو کې دغه عددونه لیکل، خبرې ورباندې کول، بیایې په ستونونو کې تفریق کول، ویل: شپږ یویزه منفي څلور یویزه مساوي دی له دوه یویزونو سره (۲ لیکل)، ۴ لسیزه منفي ۲ لسیزه مساوي دی له ۲ لسیزه (۲ لیکل)، ۳ سلیزه منفي ۱ سلیز مساوي دی په ۲ سلیزه سره (۲ لیکل)	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې همدغه شان عمل وکړي او ۷۴۳ - ۲۱۲ = حل کړي.	- رسمول، لیکل او همدغه شان خبرې کول.	

	۴- په ستونونو کې د تفریق مشق کول :	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۴ - ۱
- زده کوونکو ته ویل چې د لومړۍ مشق پاڼې په سر کې مثال ولولي. - زده کوونکو بلنه ورکول چې باقي سوالونه جلا جلا حل کړي، د ضرورت په وخت کې مرسته کول.	- د مثال لوستل، په کار خان پوهول. - بېل بېل يې حساب کول، نتيجې په ستونونو کې ليکل، ورکړای شوې نتيجې په مشق پاڼه کې چليپا کول، د ضرورت په وخت له ښوونکي څخه مرسته غوښتل.	

(۱) ښوونکی به دغه دوڼې (چیستانونه) ورو ورو او په وضاحت سره دري ځله وایي؛ له ډېرو زده کوونکو څخه به خوابونه راتولوي، خو دا به نه وایي چې ځواب صحیح دی یا غلط دی. زده کوونکي به صحیح او غلط پخپله معلوموي.

(۲) ماشومان له دې ډول حسابولو سره مخکې اشنا کړای شوي دي (د لومړۍ ټولګي ۵۸ / ۵۹ او د دریم ټولګي ۲۴ نمبر درسي پلانونه وګورئ). له دې سره سره د زده کوونکو د پوهې د فعالولو له پاره په کار دي چې د ضرورت په وخت کې د دې مشق وشي. دا درس د پاس ذکر شوي بل درسي پلان نسبت د لوبو عددونو سره سروکار لري.

(۳) ښوونکی به په دي درس کې داسې سوالونه نه ورکوي چې قرض په کې بل عدد ته ورکول کېږي.

ر۲-۵۴-۱

	۳	۲	۷
-	۲	۲	۴
	۱	۰	۳

	۵	۶	۳
-	۳	۰	۳

	۹	۵	۵
-	۱	۲	۴

	۵	۴	۸
-	۱	۳	۱

۴۱۷ ۱۴۶ ۵۳۱ ~~۱۰۳~~

۳۷۰ ۸۳۱ ۲۶۰

	۸	۶	۲
-	۳	۳	۱

	۶	۸	۹
-	۵	۴	۳

	۷	۸	۲
-	۴	۱	۲

موضوع : په ستونونو کې د درې رقمي عددونو د تفريق کول؛ پرته د قرضولو

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه : تر ۱۰۰۰ پورې له مکملو لسيزونو څخه ۱ عدد تفريق کول؛ مثلاً: ۱۲۰ - ۱ = ، ۳۴۰ - ۱ = ، ۶۷۰ - ۱ = ، ...	
۲- ښوونکي زده کوونکو ته وايي چې يوه سړي کار وکړ او دا روپۍ يې مزدوري واخيسته ۱۰۰ ۱۰۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱ ۵ ۱ ؛ ۲۵۶ په توره تخته ليکل.	
(الف) زده کوونکي دغه پيسې شماري، ويل چې دلته ۲۵۶ روپۍ دي.	توره تخته
(ب) دغه مقدار په توره تخته ليکل؛	
(ج) ښوونکی وينا جاري ساتي، دغه سړی ۱۳۴ روپۍ ولګولې، دغه مقدار په توره تخته ليکل؛ اوس ورسره څومره پيسې پاتې دي؟	
(د) د زده کوونکو د نتيجې معلومولو له پاره د روپيو په مناسب مقدار چليپا راښکل: ۲۵۶ روپۍ - ۱۳۴ روپۍ = ۱۲۲ روپۍ.	
۳- زده کوونکي په ستونونو کې د حسابولو وړاندیز کوي؛ همدغسې په ګډه کول.	توره تخته
(الف) د يو زده کوونکي پر توره تخته ليکل؛ حسابول چې ۱۲۲ روپۍ باقي پاتې دي.	
(ب) زده کوونکي له ستونونو سره سره دغه حساب په سلېټونو معلوموي.	سلېټونه
۴- دوهمي مشق پانې ته کتل؛ په لومړي لمبر مثال خان پوهول.	مشق پانه
(الف) مشق پانه د حسابولو په وسيله مکملول؛ نتيجې په مناسبو ستونونو او بکسونو کې ليکل.	ر ۲ - ۴۵ - ۲
(ب) د رويو حاصل شوی مقدار رسمول ، چک کول.	

ر۲ - ۵۴ - ۲



موضوع: په ستونونو کې د درې رقمي عددونو تفریق، یو ساده شکل استعمالول

د زده کوونکو / ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې ۷۳۸ - ۴۲۵ = پر توره تخته حساب کړي. (الف) زده کوونکي لومړی د ستونونو یوه خاکه جوړوي. (ب) په اوچت آواز یې حسابول، عددونه په ستونونو کې لیکل. (ج) نتیجه یا حاصل ۳۱۳ معلومول / لیکل ؟	توره تخته
(۲) ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې دا سوال سلېټونو ته نقل کړي، ویل چې زده کوونکي د ستونونو خاکه حذف کولای شي خو یویزونه به تر یویزونو لاندې، لسیزونه به تر لسیزونو او سلیزونه به تر سلیزونو لاندې جوخت لیکي؛ (الف) سمدستي یې په توره تخته په عمل کې ښودل. (ب) ځینې زده کوونکي یې په توره تخته مشق کوي، نور زده کوونکي یې په خپلو سلېټونو لیکي.	سلېټونه
۳- ښوونکی له زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې دریمې مشق پانې ته وګوري. (الف) زده کوونکي په دې شروع کوي چې دغه محاسبې (سوالونه) بې د ستونونو له خاکو څخه ولیکي، خو بالکل یو عدد تر بل عدد لاندې. (ب) د کومو سوالونو حاصل چې یو شی وي د کرښو په وسیله به ترل کېږي.	مشق پانه ر ۲ - ۵۴ - ۳
۴- زده کوونکي مشق پانه په معموله طریقه چې مخکې یې تشریح شوې ده، مکملوي. (الف) په دوه دوه یا درې درې کسه کار کول، (ب) په آخر کې هغه نتیجې جوړه جوړه په اوچت آواز لوستل چې د کرښو په وسیله ښیلول شوي وي.	



درسي پلان : ۵۵ ر ۲ - ۵۵ - ۱	موضوع : په ستونونو کې د درې رقمي عددونو جمع د چک کولو / کتلو له پاره د معکوس و عملیو استعمال (۱)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
- پر توره تخته خوا په خوا لیکل: ۲۲۶ ۵۶۷ + ۳۴۱ - ۳۴۱ - زده کوونکو ته ویل چې دا دواړه سوالونه مقایسه کړي. - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر توره تخته دواړه سوالونه حل کړي. - زده کوونکو ته ویل چې په نتیجو بحث وکړي. - د ښوونکي د یو شان عددونو یا بل سره د ترلو له پاره کرښې رسمول؛ بیا تشریح کول چې زده کوونکي دتفریق په ذریعه معلومول شي که دوه عددونه مخکې صحیح جمع کړای شوي وي.(۲)	۱ - په یوه معکوسه عملیه *خان پوهول* : - دواړو سوالونو ته کتل، بحث پرې کول. - معلومول چې په لومړي مساوات کې به ۳۴۱ جمع کېږي، په دوهم مساوات کې به ۳۴۱ تفریق کېږي. - یو زده کوونکی لومړی سوال پر توره تخته حلوي؛ څه چې کوي هغه ویل؛ بیا یوبل زده کوونکی دوهم سوال هم دغه شان کوي؛ نور ورته ګوري . - په نتیجو بحث کول. - معلومول چې دوهم سوال یعني ۵۶۷ - ۳۴۱ - د لومړي سوال یعني ۲۲۶ + ۳۴۱ - شروع ته واپس ځي.	توره تخته
- زده کوونکو ته ویل چې د لومړۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري. - ویل چې ښي اړخ ته حساب صحیح یا غلط کېدای شي او زده کوونکي د هغه عدد د تفریق په ذریعه امتحان کولای شي چې په لومړي سوال کې جمع کړای شوی دی.(۳) - زده کوونکو ته ویل چې په دوه دوه یا درې درې کسه هم دغسې کار وکړي. - زده کوونکو څخه غوښتنه کول په لومړي سوال کې غلطي معلومه کړي.(۴)	۲ - د *تفریق په مرسته سره جمع امتحان کول* : - لومړي مثال ته کتل، خان پرې پوهول. - په مساله بحث کول، معلومول چې ۴۲۵ به له ۹۸۹ څخه تفریق کېږي او نتیجه به یې ۵۶۳ وي که چېرې لومړی حساب صحیح حل کړی شوی وي. - په مشق پاڼه کې حساب کول، معلومول چې نتیجه (۵۶۴) له لومړي عدد (۵۶۳) څخه مختلفه ده. - په دوه دوه یا درې درې کسه بیا کار کول، په خپلو مشق پاڼو کې د غلطۍ اصلاح کول / معلومول پې.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۵ - ۱ (پاسنۍ برخه)
- زده کوونکو ته ویل چې بیا په ګروپونو کې کار وکړي او د جمع د نورو سوالونو چک کول جاري وساتي. - زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې ټول سوالونه ټولګي ته ولولي او بحث پرې وکړي. (۵)	۳ - *نور سوالونه امتحان کول* : - ټول معکوس عملیات یعني تفریقونه کول جاري ساتل، هرځل معلومول چې لومړی سوال صحیح دی که غلط، یو بل پسې پرې نښه کول؛ د لومړني سوال اصلاح کول. - د تفریق سوالونه ټولګي ته لوستل، تشریح کول چې د جمع اړوند سوالونه ولې صحیح یا غلط دي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۵ - ۱ (لاندنۍ برخه)

(۱) زده کوونکي د معکوسو عملیو په ذریعه له چك کولو / کتلو سره په درسي پلان ر ۲ - ۲۵ - ۱ کې اشنا شوي دي خو د معکوسي عملیې تصور نه هغه وخت استعمال شوی دی او نه دي اوس استعمالېږي. البته د دې کار او د چك کولو د سوال په هکله خبرې کېدای شي.

(۲) ښوونکی دي یو شان عددونه سره وتړي چې دا ښکاره شي چې دغه دوه عملیې او استعمال شوي عددونه یو له بل سره تعلق لري، مثلاً:

۵٦۷ - ۳۴۱ = ۲۲٦

۲۲٦ + ۳۴۱ = ۵٦۷

(۳) که زده کوونکي د جمع د یوه بل عدد د تفریق کولو په فکر کې راشي، نو په دې دې د یوه امکان په توګه بحث او مشق وشي چې صحیح دی. ځکه چې دا به د نتیجې د چك کولو له پاره یو بل ممکن حل وي).

(۴) په داسې حالتونو کې چې د برعکس عملیې د نتیجې عدد له متوقع عدد څخه مختلف وي، زده کوونکي دي پرځل بیا د جمعې لومړی سوال حل کړي او غلط عددونه دي په صحیح عددونو بدل کړي چې د غلطۍ اصلاح وشي.

(۵) په مشق پاڼه کې لاندې حسابونه غلط دي: د پاسنۍ برخې په مثال کې ۹۸۸ عدد صحیح دي ۹۸۹ نه دی. په لومړي سوال کې ۹۴۸ صحیح دی، ۹۵۸ نه دی. په دوهم سوال کې ۷۸۵ صحیح دی، ۸۸۵ نه دی.

ر۳-۵۵-۱

۵٦۳ + ۴۲۵ = ۹۸۹	۹۸۹ − ____
۲۱٦ + ۷۳۲ = ۹۵۸	۹۵۸ − ____
۴۰۳ + ۲۸۴ = ٦۸۷	٦۸۷ − ____
۴٦۴ + ۳۲۱ = ۸۸۵	____ − ____
۵۲۳ + ۱۷۴ = ٦۹۷	____ − ____

موضوع : په ستونونو کې د درې رقمي عددونو د تفريق د چک کولو / کتلو له پاره د معکوسو عملیو استعمال

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي پر تخته ليکل: ۷۶۳ - ۴۳۲ ۳۳۱ (الف) له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د چک کولو له پاره يو مناسب کار معلوم کړي چې آيا دا حساب صحيح دی. (ب) د زده کوونکو بحث کول، ويل چې ۴۳۲ دې له نتيجې سره جمع کړای شي چې لومړی عدد يعنې ۷۳۶ ته واپس راشي، که چېرې حساب صحيح وي. (ج) هم داسې کول، معلومول چې په حساب کې هېڅ غلطي نشته. ۳۳۱ + ۴۳۲ ۷۶۳	تخته
۲- د ښوونکي د امتحان کولو له پاره يو بل مثال ورکول، دا ځل به مثال غلط وي؛ مثلاً: ۵۶۷ + ۱۴۳ ۴۱۴ (الف) دزده کوونکو معکوسې عملیې يعنې ۴۱۱ + ۱۴۳ حسابول، معلومول چې لومړی سوال غلط دی. (ب) د دې اصلاح کول يعنې ۴۲۴	تخته
۳- د ښوونکي غوښتنه کول چې د دوهمې مشق پانې په سر کې سوال چک کړي؛ (الف) دزده کوونکو په دوه دوه يا درې درې کسه کار کول؛ معکوسه عمليه حسابول يعنې ۳۱۱ + ۲۳۱ (ب) معلومول چې حساب صحيح دی.	مشق پانه ر ۲ - ۵۵ - ۲
۴- د زده کوونکو په مشق پانه کې پاتې حسابونه هم دغسې چک کول. غلط حسابونه: دوهم سوال ۴۱۴ نه دی، دريم سوال ۴۲۳ ، ۳۲۳ نه دي.	

ر۲-۵۵-۲

۵ ۴ ۲ - ۲ ۳ ۱ ۳ ۱ ۱	۳ ۱ ۱ + ۲ ۳ ۱ ۵ ۴ ۲
۹ ۳ ۷ - ۵ ۱ ۴ ۴ ۲ ۳	۴ ۲ ۳ + ۹ ۳ ۷
۶ ۱ ۸ - ۲ ۰ ۴ ۴ ۰ ۴	۴ ۰ ۴ + ۶ ۱ ۸
۷ ۲ ۸ - ۳ ۰ ۵ ۳ ۲ ۳	۳ ۲ ۳ + ۷ ۲ ۸
۵ ۷ ۹ - ۴ ۳ ۲ ۱ ۴ ۷	۱ ۴ ۷ + ۵ ۷ ۹

درسي پلان ۶ د ۱ - ۶ - ۱	موضوع : په دوو قدمونو کې د دوه رقمي عددونو جمع بې له انتقال (اړولو) څخه	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- په مېز باندې څلور شيان اينبودل او د [۲۰] ، [۳۰] ، [۴۰] او [۵۰] روپو کارډونه ورسره لګول . (۱) - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې کوم دوه شيان اخيستل د دوی خوښ دي . - په توره تخته د مساوات ۲۰ + ۴۰ = ۶۰ ليکل . - له يو بل ماشوم څخه غوښتنه کول چې د باقي پاتې دوو شيانو د اخيستلو له پاره څه کول په کار دي . - له لومړيو دوو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپلې پيسې سره واخلي او شيان په مېز بيا کيږدي ؛ له نورو دوو زده کوونکو څخه د دوو شيانو اخيستلو غوښتنه کول .	۱ . *د قيمتونو جمع کول (مکمل لسيزونه) :* - شيان ليدل ، که قيمتونه يې مناسب وي بحث پرې کول ، د خپلو لوبو پيسې تيارول . - د يو ماشوم مخې ته راتلل ، د خپلې خوښې دوه شيان اخيستل ، پيسې د مربوطو شيانو مخې ته اينبودل . - د عددي کيسې ويل لکه " د ..... او د ..... په اخيستو به ۲۰ + ۴۰ = ۶۰ روپۍ ورکوم . - د پاتې شيانو مخې ته [۳۰] او [۵۰] روپۍ اينبودل ، ويل چې " د ..... او د ..... د اخيستلو له پاره به زه ۳۰ روپۍ + ۵۰ روپۍ = ۸۰ روپۍ ورکوم " ، د يو بل ماشوم په توره تخته ۳۰ + ۵۰ = ۸۰ ليکل . - د دوو شيانو بله جوړه اخيستل لکه : ۲۰ + ۳۰ = ؛ ۴۰ + ۵۰ = ؛ ۲۰ + ۵۰ = ۳۰ + ۴۰ = ؛ ويل ، د مخکې په شان ليکل .	مختلف شيان ، د قيمت کارډونه ، د لوبو پيسې (د ۱۰ روپو نوټونه) توره تخته
- تشريح کول چې يو قيمت بدل کړی شوی دی د [۳۰] روپو د قيمت په ځای د [۳۵] روپو د قيمت کارډ لګول ، پوښتنه کول چې دا شی ولې دومره ګران شو ؛ د ضرورت په اندازه مرسته کول ؛ د [۵۰] روپو په ځای د [۵۵] روپو قيمت لګول . (۴) - اعلان کول چې هغه به څنګه دوه شيان په خپله واخلي ، د خپلو کاغذي پيسو ښودل ، مثلاً هغه غواړي چې هغه دوه شيان واخلي چې قيمت يې ۲۰ + ۳۵ روپۍ وي ، په توره تخته ۲۰ + ۳۵ ليکل . - په ورو ورو مظاهره کول چې لومړی هغه د يو شي وړاندې [۲۰] روپۍ کېښودې بيا يې د بل شي وړاندې [۳۰] روپۍ کېښودې او بيا يې [۵] نورې روپۍ له دوهم شي سره کېښودلې . د پيسو ورکولو مظاهره يو خل بيا په ورو ورو کول .	۲ . *مکمل لسيزونه او ګډودې عددونه جمع کول (۳) :* - د قيمتونو په باره کې خبرې کول ، شيان ولې ګرانيږي (لکه د څينو شيانو کمی ، نوي شيان ، ښه شيان) . - معلومول چې له ښوونکي سره د [۱۰] او د [۵] روپو نوټونه دي ويل چې د دې دوو شيانو قيمت ۲۰ روپۍ او ۳۵ روپۍ دی . - د هغه څه بيانول چې ښوونکی يې کوي : د څو ماشومانو د هغه څه په باره کې د ويلو کوښښ کول چې دوی يې وينې د ماشومانو ورته يو خل بيا په غور سره ټول ، پيل يې بيانول .	د لوبو پيسې (د ۱۰ او ۵ روپو نوټونه)

موضوع : د چك كولو له پاره د معكوسو عمليو د حسابولو مشق كول، دري رقمي عددونه استعمالول

د زده كوونكو / ښوونكي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونكي پر توره تخته ليكل: ۲۵۶ + ۱۳۲ (الف) زده كوونكو ته ويل چې دا دوه عددونه جمع كړي، يو ټر بل لاندې ليكل، (ب) حل چك كول؛ د زده كوونكو وړاندیز كول چې د حسابولو له پاره لومړی څه كول په كار دي: ۲۵۶ بيا څه كول په كار دي: ..... + ۱۳۲ ..... - ۱۳۲ ..... (ج) مقايسه كول، معلومول چې آيا لومړی حساب صحيح دی كه غلط. (د) كه ضرورت وي اصلاح يې كول.	توره تخته
۲- د ښوونكي پر توره تخته يو بل مثال ليكل: ۷۳۲ - ۴۱۳ ؛ د زده كوونكو د مخكې په شان عمل كول.	توره تخته
۳- دريمې مشق پاڼې ته كتل؛ د ښوونكي تشريح كول چې د مشق پاڼې پاسنی برخه كې سوالونه به لومړی حسابولای شي او د مشق پاڼې له لاندينی برخې څخه به د چك كولو سوال چې له يوې كربنې سره تړل شوی دی، معلومولای شي او د نتيجو د چك كولو له پاره به حسابولای شي؛ (الف) د زده كوونكو په لومړي مثال يو ځای مشق كول، (ب) د ټولو باقي سوالونو جلا جلا مشق كول	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۵ - ۳
۴- ټول حسابونه او د امتحان كولو سوالونه ټولګي ته لوستل؛ د ښوونكي غوښتنه كول چې آيا چا د خپل لومړي سوال غلطي د چك كولو په مرسته معلومه كړه.	



درسي پلان: ٥٦	موضوع: تر ۹۹۹ پورې د درې، دوه رقمي او درې، درې رقمي عددونو جمع کول
ر ۲ - ٥٦ - ۱	

د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
- پر توره تخته لیکل: ۳۷ + ۵۴ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې پر توره تخته دغه سوال حل کړي.	۱- تر ۹۹ پورې د دوه، دوه رقمي عددونو جمع تکرارول، قرضولو سره (۱) - د یو یا دوه زده کوونکي د حل معلومولو کوښښ کول، پر توره تخته یې لیکل، د نورو ورته کتل، مرسته کول، ویل: ۷ یویزونه جمع ۴ یویزونه مساوي کېږي له پوولس یویزونوسره، (په یو یویز او یو لسیز) جمع ۳ لسیزونه جمع ۵ لسیزونه مساوي په ۹ لسیزونو، لیکل: ۳۷ + ۵۴ = ۹۱	توره تخته
- په زده کوونکو همدغسې یو بل سوال حلول مثلاً: ۵۵ + ۲۷ =	- دغه عددونه په خپلو سلېټونو لیکل، حسابول یې، د مخکې په شان یې بیانول.	
- پر توره تخته لیکل: ۲۶ + ۱۳ + ۳۵ = ؟ له زده کوونکو څخه د دې د حل غوښتنه کول.	۲- تر ۹۹ پورې د درې دوه رقمي عددونو جمع: - بحث کول، په ستونونو کې د حل تجویز کول، لیکل / تشریح کول: ۲۶ + ۱۳ + ۳۵ =	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لومړۍ مشق پاڼې د پاسنۍ برخې ټول سوالونه حل کړي.	- له یو ګاونډي سره یوځای کار کول، د نتیجو په بکس کې د نتیجو صحیح کول، ټول حلونه (محاسبې) ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه
- پر توره تخته لیکل: ۴۲۱ + ۱۳۴ + ۳۳۲ = په زده کوونکو دا سوال حلول.	۳- تر ۹۹۹ پورې بې له قرضولو څخه د درې درې رقمي عددونو جمع کول: - بحث کول، په ستونونو کې د بیا حسابولو تجویز کول، لیکل: ۴۲۱ + ۱۳۴ + ۳۳۲ = ۸۸۷	توره تخته
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې همدغسې یو سوال پر توره تخته حل کړي مثلاً: ۲۳۱ + ۴۶۲ + ۱۰۵ = (۲)	- حسابول یې، لیکل یې، د مخکې په شان یې بیانول.	
- زده کوونکو ته ویل چې د لومړي مشق پاڼې په لاندینۍ برخه کې ټول سوالونه حل کړي.	- له یو ګاونډي سره یې یوځای حلول، پر نتیجو د نتیجو په بکس کې دصحیح ننبه کول، ټولې محاسبې ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ٥٦ - ۱

د درسي پلان ر ۲ - ۲۳ - ۱ په لومړي تعقیبي درس کې د دوه رقمي عددونو جمع چې قرضول په کې وي، معرفي شوې له هغو بیاهم د کار طریقې په ذهن کې د راوستلو له پاره بو څو نوي مشقونه ضروري دي.

(۲) که چېرې د ښوونکي دا یقین راشي چې زده کوونکي اضافي مثال ته ضرورت نه لري نو له منځه وړلای یې شي. دا مشق او یا نور مشقونه به یوازې هغه وخت ورکول کېږي چې کافي وخت وي اویا تکړه زده کوونکو لومړی سوال ژر ختم کړای وي.



موضوع : د درې، درې رقمي عددونو جمع، د مجموعو مقايسه کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي د درې رقمي عددونو يوه جوړه ورکول مثلاً: ۸۴۰ او ۴۸۰ ، له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په دې دواړو کې کوم عدد زيات او کوم کم دی؟ (الف) د ډېرو زده کوونکو ځواب ورکول (که ځواب صحيح و يا غلط خو ښوونکی به څه نه وايي). (ب) د صحيح ځواب او د هغوی د وجهې د معلومولو له پاره د ښوونکي د دغو دواړو عددونو په توره تخته ليکل (ځکه چې په لومړي عدد کې ډېر سليزونه دي). ۲- د عددونو په نورو جوړو سره يې جاري ساتل مثلاً: ۲۴۶ او ۲۶۶ ، ۵۳۷ او ۵۳۹ ، په دې عدد کې به يا سليزونه او لسيزونه اويا لسيزونه او يويزونه يو شی وي.	توره تخته
۳- ښوونکې د يو درې ملګرو په باب يوه کيسه کوي کې مو چې دا پته لګوله چې له دوی سره ډېرې پيسې دي او که له هغو درې نورو هلکانو سره چې له دوی سره نژدې ناست دي، له دې درې واړو ملګرو څخه يو تن دا تجويز ورانديز کړ چې راځئ خپلې خپلې پيسې راوباسو او پر ځمکه يې کېږدو او ويې شمارو. خو نورو ملګرو يې وويل چې که موږ ته ببرنه خپلې پيسې په لاس نه راځي نو سره ګډ وويې نه. اوس نو دغه ملګري څه کولای شي؟ (الف) د زده کوونکو بحث کول (ب) شايد ورانديز کول چې د هر ګروپ د درې واړه مقدار دې سره جمع شي او دغه دوه نتيجې دې مقايسه شي.	
۴- د ښوونکي زده کوونکو ته ويل چې دا کيسه په دوهمه مشق پاڼه کې جوړه کړای شوې ده، زده کوونکو ته ويل چې دوهمې مشق پاڼې ته وګوري، ورته ويل چې دغسې عمل به کوي لکه څنګه چې په کيسه کې تجويز شوی دی. (الف) د زده کوونکو د حالت بيانول، قياس کول چې له کوم ګروپ سره ډېرې پيسې دي. (ب) حسابول (معلومول چې د ښي اړخ له ګروپ سره يوه روپۍ زياته ده. يعنې ۹۹۹ روپۍ. ورسره دي او د کيڼ اړخ له ګروپ سره يوه روپۍ کمه ده. يعنې ۹۹۸ روپۍ. ورسره دي).	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۶ - ۲



موضوع : د درې رقمي عددونو جمع، د روپيو مختلف شمېر سره مقايسه کول

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- د ښوونکي زده کوونکو ته ويل چې دريمې مشق پاڼې ته وګوري؛ (الف) څه چې زده کوونکي وينې د هغې بيانول: ځلور بکسونه دي، په هر بکس کې د روپيو مختلف مقدارونه دي. او د حلولو (حسابولو) له پاره ځلور ځايونه دي، يو ځای د هر بکس له پاره. ۲- د ښوونکي زده کوونکو ته ويل چې قياس وکړي چې کوم بکس کې تر ټولو زياتې پيسې دي: (الف) ټولو بکسونوته د زده کوونکو په غور سره کتل (ښوونکی به دغه کارته يو څه وخت ورکوي). (ب) په کوم بکس چې د چا د زياتو پيسو شك راځي هغه د جلا جلا زده کوونکي د عددونو ۱ يا ۲ يا ۳ يا ۴ د چليپا کولو په ذريعه په نښه کول. ۳- د ښوونکي پوښتنه کول چې دا به څنګه معلومېږي چې آيا زده کوونکو په صحيح بکس چليپا راښکلې ده : (الف) د زده کوونکو ويل چې د هر بکس درې واړه مقدارونه به شمېرل کېږي او په متعلقه ځای کې به جمع کېږي. (ب) د ښوونکي غوښتنه کول چې همدغسې وکړي (ښوونکی به زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې په بکس کې عددونه په هر ترتيب چې خوښه يې وي جمع کړي.) (ج) د زده کوونکو له ملګرو سره يوځای کار کول . (د) په آخر کې د زده کوونکو د دغو محاسبو ټولګي ته لوتسل. (هـ) چك کول چې آيا دوی صحيح عدد چليپا کړی دی (بکس). که چېرې دوی غلطي کړې وه نو هغه بکس به چليپا کوي چې ډېرې پيسې په کې دي. (د) روپيو مقدارونه عبارت دي له: ۱- ۵۲۱ + ۱۶۵ + ۲۰۳ = ۸۸۹ ۲- ۱۶۳ + ۳۱۳ + ۱۲۲ = ۵۹۸ ۳- ۱۶۲ + ۱۳۳ + ۲۰۴ = ۴۳۳ ۴- ۱۰۵ + ۱۱۳ + ۱۱۱ = ۳۲۹ لومړی، شمېره ډېرې پيسې لري).	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۶ - ۳



د ټولګي کال ۵۷ / ۱ - ۵۷ - ۲	موضوع : د جمع د تبديلي خاصيت څخه کار اخيستل (۱)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- داسي وظايف ورکول لکه ۳ + ۸ + ۶ = ۹ + ۲ + ۹ = ، ۵ + ۸ + ۴ = او داسي نور (۲) - په زده کوونکو جاري ساتل، د ښوونکي په شان عمل کول، هم دغسي مشقونه ورکول.	*۱ - ذهني مشق: د دري يو رقمي عددونو جمع:* - د ټولو زده کوونکو حساب کول، نتايج را ايستل. - د ډېرو زده کوونکو دهمدغسي سوالونو ورکول، هرځل د ډېرو زده کوونکو څواب ويل.	
- پر توره تخته ليکل: ۹۰ + ۶ + ۱۰ = ☐ ۱۰ + ۶ + ۹۰ = ☐ ۹۰ + ۱۰ + ۶ = ☐ په دغو سوالونو د فکر کولو له پاره وخت ورکول (۳) - له زده کوونکو څخه غوښتل چې له دغو دري سوالونو څخه يو سوال حل کړي. - پوښتنه کول چې ايا کوم يا زده کوونکي د باقي مساواتو مکمل غواړي؟ که زده کوونکي مخې ته نه راځي نو په دوه دوه يا دري دري کسه دي مساوات مکمل کړي.	*۲ - په مختلفو مساواتو کې د يو شان حاصل معلومول :* - په غور سره دغو دري سوالونو ته کتل او فکر ورباندي کول. معلومول چې دغه ټول مساوات يو شان عددونه لري. - مخکې راتلل، د يوه مساوات عددونو ته اشاره کول، په اوچت اواز يې حسابول، په خالي بکس کې د نتيجې (۱۰۶) ليکل. - باقي نتايج معلومول، پر توره تخته اړونده بکسونو کې يې ليکل، معلومول چې ټولې نتيجې يو شان دي.	توره تخته سلېټونه
- پر توره تخته دري مساواتوته رجوع کول، زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په دې کې د کوم مساوات مکمللول ډېر آسان وو؟ (۴) - ويل چې يو سړی د عددونو په بيا ترتيبولو سره حسابول اسانولای شي. پر توره تخته ليکل: ۹۰ + ۸۰ + ۲۰ = ☐ ، له طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دي عددونو ته څنګه بدل ترتيب ورکولای کېدای شي. - بل مثال ورکول لکه: ۳۰ + ۹ + ۷۰ = ☐	*۳ - د مساوات د اسانولو له پاره د عددونو بيا ترتيبول :* - بحث پرې کول، شايد ويل چې دريم مساوات يعني ۹۰ + ۱۰ ۶ = ډېر اسان و. څکه چې د دوو لومړيو عددونو په جمع کولو سره سړی ۱۰۰ ته رسي. - بحث او تجويزونو ته وخت ورکول، شايد په ۸۰ + ۲۰ + ۹ = موافقي ته رسېدل چې د حساب اسان ترتيب دی. په دغه ترتيب مساوات پر توره تخته ليکل؛ د مساواتو مکمللول يعني ۸۰ + ۲۰ + ۹ = ۱۰۹ - بحث کول، ترتيب يې بدلول يعني ۸۰ + ۷۰ + ۹ = يا ۷۰ + ۳۰ + ۹ = د مساوات مکمللول.	توره تخته

	۴- د عددونو د ترتیب بدلولو مشق کول : .	مشق پانه ر ۲ - ۷۵ - ۱
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لومړی مشق پانې په سر کې دوو سوالونو ته وګوري او د دې عددونو د حسابولو له پاره تر ټولو اسان ترتیب معلوم کړي. (۵)	- په کار خان پوهول، د حسابولو په اسانه طریقه بحث کول، د شپږ واړو مساواتو مکملول.	
- په مشق پانه د باقي مساواتو مکملول؛ لومړی يې ترتیب بدلول، بیا په دوه دوه یا دري دري کسانو کار کول.	- د اسان ترتیب په هکله فیصله کول، په دغه ترتیب د مساوات بیا لیکل، ټول مساوات بیا بیا حلول، د چک کولو او بحث کولو له پاره د ټولو مساواتو ټولګي ته لوستل.	

(۱) په دې سبق کې د جمع له تبدیلي خاصیت څخه کار اخیستل کېږي. خو نه به ښوونکی او نه به زده کوونکي دا اصطلاح استعمالوي.

(۲) ښوونکی به ورو ورو خبرې کوي چې زده کوونکي يې په همدغه وخت کې حساب وکړي. ښوونکی به دحل تصدیق هله کوي چې لومړی ډېر زده کوونکي خوابونه ووایي.

(۳) که چېرې په دې مرحله کې کوم یو زده کوونکی ووایي یا فرض کړي چې د ټولو مساواتو نتیجه یو شان ده نو ښوونکی به د دې اعلان کوي چې په دري واړو مساواتو کې د دغو دري واړو عددونو موجودیت ثبوت غواړي.

۴- ښوونکی به دې ته تیار وي چې شاید ټول زده کوونکي یو شانته اسان ترتیب پیدا نه کړای شي. نو که چېرې د کوم زده کوونکي د حل یو بل ترتیب خوښ وي نو د هغه د استعمال اجازه دې ورکړای شي. خو دا به ویل کېږي چې لومړیو دوه عددونو په جمع کولو او مکمل ۱۰۰ ته په رسېدلو سره خبره اساسپږي.

۵- دا مهمه ده چې زده کوونکي یوازې یو مساوات حل کړي. یعني اسان مساوات. خو نور خالي بکسونه به وروسته بې له حسابولو څخه بیا ډکوي. ځکه چې که په ټولو مساواتو کې جمع کېدونکي عددونه یو شان وي، نتیجه به هم یو شان وي.

۶- دا مساوات ډېر اسان نه دی، له دې وجهې به ښوونکی دې ته تیار وي چې له ببل ببل زده کوونکي سره مرسته وکړي او یا له ببل ببل زده کوونکي څخه وغواړي چې سوالونه پر توره تخته حل کړي. په لومړي تعقیبي درس کې به په دې هکله نور مشقونه هم وي.

۷ + ۹۹ + ۱ = ☐	۷۰ + ۱۹۸ + ۲ = ☐
۱ + ۷ + ۹۹ = ☐	۱۹۸ + ۷۰ + ۲ = ☐
۹۹ + ۱ + ۷ = ☐	۷۰ + ۲ + ۱۹۸ = ☐

۲۵ + ۱۹۰ + ۱۰ = ۱۰ + ۱۹۰ + ۲۵ = ☐	۶-۸۴-۲۷
۷۰ + ۱۵ + ۵۳۰ = ☐	
۳۹۹ + ۳۷ + ۱ = ☐	
۶۴۰ + ۱۷ + ۶۰ = ☐	
۹۰ + ۳۴ + ۱۱۰ = ☐	
۲۵ + ۳۴۰ + ۶۰ = ☐	

موضوع : بې د اصطلاح له استعمال څخه د جمع د تبديلي خاصيت په هکله نور مشق

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه: تر مکملو سليزونو پورې جمع کول: مثلاً د ښوونکي ويل ۲۷۰ ، (الف) د زده کوونکو ويل ۲۷۰ + ۳۰ = ۳۰۰ ، (ب) په نورو مکملو لسيزونو سره کار جاري ساتل مثلاً ۲۴۰ ، ۶۳۰ ، ۸۱۰ ...	
۲- د ښوونکي پر تخته د څلورو داسې مساواتو ليکل چې د دوو جوړو نتيجه يې يو شان وي مثلاً: ۱. ۲۳ + ۵ + ۹۵ = ۳. ۳۶ + ۹ + ۱۹۱ = ۲. ۱۹۱ + ۹ + ۳۶ = ۴. ۹۵ + ۵ + ۲۳ = (الف) له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې په دې کې د تعجب څه خبره ده، (ب) د زده کوونکو معلومول چې د دوهم او دريم مساوات په شان لومړی او څلورم مساوات هم يو شان عددونه لري.	تخته
۳- د ښوونکي پوښتنه کول چې د څلورو واړو نتيجو د معلومولو له پاره د څو مساواتو حلول په کار دي. (الف) د زده کوونکو ويل چې يوازې د دوو مساواتو حلول په کار دي. (ب) معلومول چې د کومو مساواتو حلول تر ټولو اسان دي. (ج) د دې مساواتو حلول، بې د اړونده مساواتو له حسابولو څخه باقي بکسونه دکول.	تخته مشق پاڼه ر ۲ - ۵۷ - ۲ (پاسنۍ برخه)
۴- له زده کوونکو څخه غوښتل چې د دوهمې مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري. (الف) معلومول چې دا له هغه سوال سره مشابه سوال دی چې اوس اوس مو پر تخته حل کړو. (ب) دا سوال هم همدغه شان حلول. (ج) د دې حسابي عمليو ټولګي ته لوستل / بحث پرې کول	
۵- د مشق پاڼې د لاندينۍ برخې برخې سوال په شريکه حلول (يعنې ۵ نمبر سوال). (الف) په جلا جلا توګه کار جاري ساتل، د نتيجو په بکس کې پر نتيجې د صحيح نښه کول. (ب) په آخر کې مکملې حسابي عمليې ټولګي ته لوستل.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۷ - ۲ (لاندينۍ برخه)



موضوع : د دغسي سوالونو معلومول / حسابول چې نتيجه يې يو شان راځي

د زده کوونکو / ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱- ذهني روزنه: د ښوونکي سوالونه ورکول لکه ۱۵۰ + ۵ + ۲ = ، ۲۸۰ + ۲۰ + ۶ = ، ۳۴۰ + ۶۰ + ۵ = ، ورو ورو خبرې کول چې زده کوونکي په همدغه وخت کې ورسره حساب وکړای شي.	
۲- پر تخته د جمع دري سوالونه ليکل، په دې کې د درېو سوالونو حاصل به يو شان وي مثلاً:	
۱. ۲۱۲ + ۱۱۲ = ۳۲۴	۲. ۳۲۴ + ۱۱۲ = ۲۱۳	۳. ۱۲۴ + ۲۲۱ = ۳۱۳	۴. ۱۱۲ + ۳۲۴ = ۴۳۶
د زده کوونکو معلومول چې لومړی، دوهم او څلورم سوالونه يو شان عددونه لري او نتيجه به يې يو شی وي.	
۳- ښوونکی له زده کوونکو څخه غواړي چې پر خپلو سلېټونو دومره سوالونه حل کړي چې د ټولو نتيجو د حاصلولو له پاره ضروري دي.	سلېټونه
(الف) د زده کوونکو په ګروپونو کې حسابول.	
(ب) معلومول چې له اول، دوهم او څلورم څخه يو کار حلول غواړي او بيا له دريم څخه	
(ج) له دري واړو څخه د يوه سوال انتخابول، حلول يې، دريم حسابول.	
(د) ټولې نتيجې پر تخته ليکل مثلاً دري خله ۶۴۸ او ۶۵۸ يو خل.	تخته
۴- په دريمه مشق پاڼه خبرې کول، د مثال تشريح کول.	مشق پاڼه
(الف) معلومول چې دري واړه ټرلې شوي مساواتونه يو شان عددونه لري او نتيجه به يې هم يو شی وي.	ر ۲ - ۵۷ - ۳
(ب) له دري واړو څخه يو سوال حلول.	
(ج) نتيجې په ټرلې شوو بکسونو کې ليکل.	
(د) معلومول چې ټول حسابونه به له دوهم نمبر سره ټرلې کېږي او د مخکې په شان يې جاري ساتل، مشق پاڼه مکملول.	
(هـ) په آخر کې يې ټولګي ته لوستل، بحث پرې کول (يوشان سوالونه: ۱/۱۴/۱۸ . ۲/۴/۶ ۳/۸/۱۳ . ۵/۷/۱۵ . ۹/۱۰/۱۷ او ۱۱/۱۲/۱۶	



د ټولګي ۵۸ ۲ ۵۸ ۱	موضوع : [نیمایي ګاني] او [څلورمي] پېژندل، [دري څلورمي] پېژندل (۱)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱- *نیمول* :	
- د ډوډۍ یا مېوې یوه ټوټه ښودل.	- د دغې ډوډۍ یا مېوې په باب خبرې کول مثلاً د هغې د ذایقې، قیمت او دخولو دوخت په باره کې.	یوه ټوټه ډوډۍ، یا مېوه. یو چاقو
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دابه پر دوه زده کوونکو څنګه تقسیمېږي؟	- ویل چې دغه ډوډۍ یا مېوه به نیمېږي . زده کوونکی دغه ډوډۍ یا مېوه دوه نیمه کوي.	
- د ډوډۍ یا مېوې دغه دوه نیمې برخې ښودل، له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دغو ټوټو ته څه ویل کېږي؟	- ویل چې دا د ډوډۍ یا مېوې دوه نیمې نیمې ټوټې دي، نیمایي ګانو ته اشاره کول، ویل چې هره برخه یې یوه نیمایي ده او دواړه دوه نیمایي ګاني دي.	
- د ډوډۍ نیمایي ګاني دوه زده کوونکو ته د خوړلو له پاره ورکول.	- دغه نیمایي ګاني خوړل.	
- د یوه مستطیل شکله کاغذ ټوټه ښودل، پوښتنه کول چې دا به څنګه دوه نیمه کېږي؟ (۲)	- ویل چې دابه لومړی کات کېږي او بیا به شلول کېږي، د یوه زده کوونکي مخې ته راتلل او دغسې کول.	دکاغذ یوه ټوټه مثلاً اخبار
	۲- *په مشق پاڼه کې نیمایي ګاني رسمول* :	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د لومړۍ مشق پاڼې پاسنۍ برخې ته وګوري.	- څه چې وینې تشریح کوي یې: پنځه مختلف مکمل شیان مثلاً یوه منه، یوه ډوډۍ، یو کاغذ، یو لرګی، یو ګیلاس او یوه پاڼه، یوه نیمه به سورې کړای شوې وي.	مشق پاڼه ر ۲ - ۵۸ - ۱
- غوښتنه کول چې ټول شیان د کرښو په رسمولو سره نیم کړي او د هر شي یوه نیمه سورې کړي. (۳)	- شیان په مشق پاڼه کې تقسیمول، نیمایي ګاني سورې کول، د چك کولو له پاره یې یوه ګاونډي ته ښودل.	
	۳- *څلورمي کول، دري څلورمي پېژندل* :	
- بله ډوډۍ یامېوه ښودل، له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې که ښوونکی دغه ډوډۍ یا مېوه دري زده کوونکو ته ورکول غواړي نو څه به کوي؟	- ویل چې څو ټوټې کول په کار دي، ویل چې ډوډۍ به څلور برخې کېږي. یو زده کوونکی همدغسې کوي.	یوه ډوډۍ
- د ډوډۍ دغه څلور ټوټې ښودل، پوښتنه کول چې د ډوډۍ دي څلورو ټوټو ته څه وایي؟	- ویل چې دغه څلورو ټوټو ته ربعې یا څلورمي وایي؛ یو بل پسې ټولو څلورمو ته اشاره کول، ویل چې هره ټوټه یوه څلورمه ده او ټولې څلور ربعې دي: یوه مکمله ډوډۍ ترې جوړول.	
- له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې دغه دري زده کوونکي په د ډوډۍ دري ربعې اخلي (هریوه ته یوه ربعه).	- ویل چې دغه دري زده کوونکي په د ډوډۍ دري ربعې اخلي (هریوه ته یوه ربعه).	
- یو مستطیل شکله کاغذ ښودل، له زده کوونکو څخه غوښتل چې کاغذ داسې کات کړي چې یوه څلورمه ترې وشلولي او دري ربعې پاتې شي (۴)	- یو زده کوونکی یې په عمل کې ښیي: په څلورو مساوي برخو کې کات کول، بیا ترې نه په احتیاط یوه ربعه شلول، د نورو ورته کتل.	د کاغذ یوه پاڼه

درسي پلان ۱۲ ر۲ – ۱۲ – ۱	موضوع : د دوه رقمي عددونو او واحدونو جمع ، د مکمل لسيزونو اړول (انتقالول)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
– له دوه ګروپه زده کوونکو څخه چې په هر ګروپ کې درې درې کسان وي د حساب کولو د يوې لوبې غوښتنه کول . د لوبې تشريح کول . (۱)	۱ . *مکمل لسيزونو پورې جمع :* – د زده کوونکو د دوو ګروپونو مخې ته راتلل ؛ د يوه ګروپ يو عدد ويل لکه : ۳۴ ؛ د نورو ګروپونو بحث کول ، بيا ويل : ۳۴ + ۶ = ۴۰ او دغه شان ورپسې نور .	
– په توره تخته ليکل لکه ۳۵ + ۴ (۲) – د صحيح ځواب د معلومولو او تشريح کولو غوښتنه کول د دوو قدمونو د پلان په مرسته سره، دا په توره تخته رسمول . (۳) ۳۵ + ۴ ۳۵ + □ = □ □ + □ = □ + = – همدغسې مشابه سوالونه ورکول لکه : ۶۸ + ۵ + ۸۶ + ۸ ؛ ۴۴ + ۹۹ .....) ، هر ځل په توره تخته پلانونه جوړول .	۲ . *په دوو قدمونو کې د مکمل لسيزونو انتقالول :* – په يادو حساب کول ، د حل معلومول ؛ په توره تخته د ټولو مساواتو ليکل . – تجويز وړاندې کول چې په پلان کې به څه ليکل کيږي ؛ معلومول چې په مکمل لسيزونو کې جمع لومړنی قدم دی ، د پلان مکملول ، ليکل : ۳۵ + ۵ = ۴۰ ۴۰ + ۱ = ۴۱ ۳۵ + ۶ = ۴۱ – په حلونو بحث کول ، بيا په پلان کې دبکسونو ډکول .	توره تخته توره تخته
– مشق پاڼې ر۲ – ۱۲ – ۱ ته د کتلو غوښتنه کول . – په شريکه لومړنۍ مثال باندې د بحث کولو غوښتنه کول . – په انفرادي ډول دور پسې دوو سوالونو دحل کولو غوښتنه کول . – زده کوونکو ته د مشق پاڼې د پاتې سوالونو د حل په هلکه ويل .	۳ . *په دوو قدمونو کې له د مکمل لسيزونو څخه د تېرېدلو مشق کول :* – د رسم په باره کې خبرې کول : يو سړی په دوو دوو قدمونو پاس خي ، له لسو څخه تېرېږي (مثلا : له لومړنۍ چت څخه) . – په لومړي مثال بحث کول ؛ وضاحت کول چې په بکسونو کې عددونه ولې صحيح دي . – د دوو سوالونو پلان په صحيح عددونو ډکول ، په اخره کې يې په اوچت اواز لوستل . – مساوات حلول ؛ د نتيجو په بکسونو کې نتيجې چليپا کول ؛ په اخره کې ټولګي ته د ټولو حلونو لوستل ؛ مقايسه کول .	مشق پاڼه ر۲ – ۱۲ – ۱

(۱) د لوبې مقصد په مکملو لسیزونو کې د جمع مشق کول دي . که چېرې یو ګروپ د [٦١] عدد وایي نو بل ګروپ به خواب ورکوي : ٦١ + ٩ = ٧٠ بیا به دا ګروپ د خواب د معلومولو له پاره یو بل دوه رقمي عدد وایي او لومړی ګرپ به د هغه خواب وایي او دغه شان ورپسې (که ضرورت و نو ښوونکی دې ګروپونو ته په خپل منځ کې د بحث له پاره کافي وخت ورکړي) که چېرې یو ګروپ غلط حساب کړي نو د درېو زده کوونکو یو بل ګروپ به د دې په خای راځي چې یو ګروپ پنځه خوابونه صحیح کړي نو هغه به کېني او د هغه په خای به بل نوی ګروپ راځي .

(۲) د حلونو د معلومولو له پاره زده کوونکو ته کافي وخت ورکړه ؛ وېر خوابونه ممکن دي ؛ زده کوونکي پرېږده چې ټول خوابونه په توره تخته ولیکي ؛ یو سوال هم مه تصدیق کوه او مه تري انکار کوه .

(۳) پلان هم هغه شان دی چې بې له انتقال څخه په جمع او تفریق کې استعمال شوی دی خو دا به په دوو مختلفو قدمونو کې کیږي .





موضوع : په دوو قدمونو کې د جمع مشق کول ، د مکملو لسيزونو ليکل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي يو دوه رقمي عدد ويل : الف – له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مکمل لسيزونه جوړ کړي . ب – د يو زده کوونکي ويل لکه : ۲۷ + ۳ = ۳۰ . ج – د دغه زده کوونکي يو بل عدد ويل او هم دغه شان د خواب ويلو له پاره يوه بل زده کوونکي ته وينا کول او دغه شان ورپسې نور .	
۲. د ښوونکي په توره تخته ليکل / جوړول :	تـــوره تختـــه
۶۴ + ۸ = ۶۴ + ☐ = ☐ + ☐ = ۶۴ + ۸ =	
الف – د ښوونکي د هغه عددونو د معلومول غوښتنه کول چې په خالي بکسونو کې به ليکل کيږي . (بغير د هغه عددونو د ويلو څخه چې په بندو / تورو شوو بکسونو کې به ليکلی کيږي . ب – د زده کوونکو د عددونو د معلومولو کوښښ کول . ج – په آخره کې د خالي بکسونو ډکول .	
۳. د ښوونکي د مکملو لسيزو له پاره د بندو / تورو شوو بکسونو نور مثالونه ورکول لکه : ۸۶ + ۷ ؛ ۳۹ + ۴	
الف – د ښوونکي په مرستې سره د زده کوونکو په لومړي مثال بحث کول . ب – ټول مساوات په اوچت آواز لوستل .	
۴. د زده کوونکو د مشق پاڼې ر۲ – ۱۲ – ۲ خالي بکسونه ډکول . الف – د نتيجو په بکسونو کې نتيجې چليپا کول . ب – په آخره کې د شپږ واړو سوالونو ټولګي ته لوستل .	مشـــق پـــاڼه ر۲ – ۱۲ - ۲

۷۲	۴۲	۵۲	۸۷	۶۱	۳۴
۲۵ + ۹ = ☐ + ☐ = ۲۵ + ۵ = ☐ + ☐ = ۳۴ = ۹ + ۲۵	۵۴ + ۷ = ☐ + ☐ = ☐ + ☐ = + =	۶۸ + ۴ = ☐ + ☐ = ☐ + ☐ = + =	ر۲-۱۲-۲		
۷۹ + ۸ = ☐ + ☐ = ☐ + ☐ = + =	۳۷ + ۵ = ☐ + ☐ = ☐ + ☐ = + =	۴۶ + ۶ = ☐ + ☐ = ☐ + ☐ = + =			

موضوع : په دوو قدمونو کې د جمع مشق کول ، د مکملو لسيزونو ليکل

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته ليکل : ۸ ۱۰ ۱۶ ۲۰ بيا: ۲۸ ۳۰ ۳۲ ۴۰ الف – د زده کوونکو عددوونو ته کتل ، د عددونو يو خای کول ، په خپلو کې پرې بحث کول . ب – معلومول چې هر دوهم عدد يو مکمل لسيز دی . ج – د زده کوونکو ويل : ۸ + ۲ = ۱۰ ؛ ۱۰ + ۶ = ۱۶ ؛ ۱۶ + ۴ = ۲۰ .	توره تخته
۲. په توره تخته له عددي سلسلې څخه د ښوونکي [۰] او ټول مکمل لسيزو ورانول : الف – د عددونو بيا يو خای کولو له پاره په دوو قدمونو کې د جمع کولو غوښتنه کول . ب – د دوو عددونو په منځ کې د ښوونکي اشاره کول (لکه : د ۸ او ۱۶ تر منځ) . ج – د زده کوونکو ويل چې راتلونکي مکمل لسيز ته د رسېدلو له پاره به [۲] جمع کوو او بيا تر ټولو لوی عدد ته د رسېدلو له پاره به [۶] جمع کوو لکه : ۸ + ۲ = ۱۰ ۱۰ + ۶ = ۱۶	
۳. په توره تخته د ښوونکي ليکل : ۱۵ + ۷ ۱۵ + □ + □ = □ الف – قدمونو کې د مساواتو د حلولو غوښتنه کول ، د مکمل لسيز انتقالولو لکه : ۱۵ + [۵] + [۲] = [۲۲] ب – بکسونه ډکول .	
۴. له خپلو ملګرو سره د مشق پاڼې ر۲ – ۱۲ – ۳ د ټولو بکسونو د ډکولو له پاره د ښوونکي وينا کول : الف – د نتيجو په بکسونو کې په ټولو نتيجو نښه (✓) لګول . ب – په آخره کې ټولګيډ ته د ټولو مساواتو لوستل .	مشق پاڼه ر۲ – ۱۲ – ۳

ر۲ – ۱۲ – ۳

۱۷ + [۳] + [۶] = □ ، ۱۷ + [۹]	۷۵ + [۵] + ۷۵ = □ ، ۷۵ + □
۵۶ + [۴] + □ = □ ، ۵۶ + [۷]	۳۲ + [۸] + □ = □ ، ۳۲ + [۹]

۸۱ ۴۱ ۶۳ ۲۶

درسي پلان : ۱۳ ر۲ - ۱۳ - ۱	موضوع : د جمع يا تفريق کولو په وخت کې د [۱۰] اړول (انتقالول) ، تکرار کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . *ذهني روزنه : له [۱ - ۱۰۰] پورې په سلسله کې شمارل :* - د ښوونکي له خوا په ورکړای شوې سلسله کې په اوچت آواز په ګډه سره شمارل .	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې له ۲۵ څخه تر ۴۵ پورې ؛ له ٦۵ څخه تر ۸۵ پورې وشمېرې او داسې نور . - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مخ په شا وشمارې مثلاً : له ۷۲ څخه تر ۵۲ پورې ، له ۴٦ څخه تر ۲٦ پورې او داسې نور .	- د ښوونکي له خوا په ښودلې شوې طريقه په ګډه سره په اوچت آواز شمارل .	
	۲ . *د رسېدلو او اوړېدلو لوبه کول :* - کتل ، تشريح ته غوږ نيول ، که لوبه واضح نه وي نو سوالونه کول .	تـــوره تختـــه
- په توره تخته (۰ - ۲۰ پورې) يوه شمېره پاڼه جوړول څنګه چې په لومړۍ مشق پاڼه کې ښودلې شوې ده د لوبې (رسېدل او اوړېدل) تشريح کول . (۱)		
- د درېو درېو زده کوونکو له دوو ګورپونو څخه غوښتنه کول چې مخې ته راشي او لوبه وکړي ، څنګه يې چې تشريح شوې ده ، د [۰] له عدد څخه شروع کول ، د زده کوونکو په داسې طريقه رهنمايي کـول چې د [۱۰] په عـدد واوړي (توپ کړي) او [۰] او [۲۰] ته ورسېږي .	- لومړۍ ګروپ ته ويل مثلاً : ۰ + ۳۰ = ؛ د بل ګروپ تورې تختې ته کتل ، جوړول ، [۳] ويل او اشاره ورته کول؛ د بل ګروپ نوې مساوات ورکول ، مثلاً : د [۳ + ۴] د عملې جاري ساتل ، د لومړۍ ګروپ رسم ته کتل ، ويل ۷ ته اشاره کـول ، د نوې عملې ورکول ، او داسې نور ، تر هغې چې ۲۰ ته ورسېږي ، بيا ډېر زيات تفريقونه کول له ۲۰ څخه شروع کول ، د ډېرو قدمونو څخه وروسته [۰] ته رسېدل .	
- د درې درې زده کوونکو دوه نورو ګروپونو ته ويل چې دغه لوبه بيا وکړي .	- [۲۰] ته د رسېدلو له پاره وار په وار د جمع عمل کول ، بيا [۰] ته د رسېدلو له پاره وار په وار د تفريقونو عمل کـول ، په دواړو طريقو کې له [۱۰] څخه توپ وهل .	
- لومړۍ مشق پاڼې ته د کتلو غوښتنه کول ، او يو ملګرې سره لوبه کول ؛ څو ځله لوبه کوي .	- د زده کوونکو همدغه شان شمېر پاڼه پېژنـدل څنګه چې په توره تختـه جوړه کړای شوې ده ، لوبه له يوه ملګرې سره تکرارول ، هم په هغـه طريقه چې مخکې شوې وه ، همېشـه نتيجې ته اشاره کول .	مشـــق پـــاڼه ر۲ - ۱۳ - ۱
	۳ . *د لوبې مطابق د جمع/تفريق يوه سلسله ليکل :*	
- زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په جمع او تفريقونو کې [۰] يـا [۲۰] تـه د رسېدلو او [۱۰] څخه د تېرېدلـو (توپ وهلـو) لـه پـاره [۲ ، ۳ يـا ۴] عددونـه اسـتعمال کـړي ، بيـا قدمونه او نتيجې په مشق پاڼه کې ليکل (۲) . مختلف ځوابونه ، که صحيح وي ، قبلول .	- ۲ ، ۳ يا ۴ سره دجمع مناسب ترتيب معلومول ؛ ترتيب د مشق پاڼې په بکس کې ليکل ، پاسنی کتار د جمع له پاره استعمالول او لاندېنی کتار د تفريق له پاره ؛ د [۲] په ګروپونو کـې کـار کول ، په آخر کې نتيجې تولګي ته لوسټل ، د نورو حساب کول ، امتحان کول .	مشق پاڼه ر۲ - ۱۳ - ۱

د درهم تعقیبي درس څرګنده

موضوع : د مساواتونو مکملول ، د عددي کیسو ویل (درېمه تبصره وګورئ)	
د زده کوونکواو ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱ ښوونکی پر توره تخته □ + ۶۰ = ۱۰۰ لیکل : الف – د عددي کیسي د ویلو غوښتنه کول . ب – د زده کوونکو ویل چې په یوه معلوم شمېر کانو یو توکر پروت و . بیا تر توکر لاندې ۶۰ کانې ورسره نور کېښودای شول ، هر کله چې توکر لرې کړای شو نو ۱۰۰ کانې ولیدل شول نو معلومول چې په شروع کې تر توکر لاندې ۴۰ کانې وو . ج – بیا د خالي بکس ډکول ۴۰	توره تخته
۲ د مساوات ۵۰ □ = ۷۰ په باره کې له زده کوونکو څخه د عددي کیسې د ویلو غوښتنه کول : الف – د زده کوونکو ویل مثلاً په لومړی رسم کې ۵۰ کانې وو دا بیا پټ کړای شول او بیا چا تر توکر لاندې کانو سره څه وکړل بیا چې دوباره ښکاره کړای شول نو ۷۰ کانې ولیدای شول . نو ۲۰ کانې په پته سره تر توکر لاندې اینبودل شوي دي . ب - د بکس ډکول + ۲۰	مشق پانه ر۲ – ۱ – ۴
۳ په مشق پانه ر۲ – ۱ – ۴ بحث کول ، په کار پوهېدل : الف – د مساواتونو په باره کې بیا بیا د عددي کیسو ویل . ب – د حلونو معلومول . ج – په بکسونو کې د نتیجو لیکل . د – د مشق پانې په لاندنۍ برخه کې د نتیجو بکس ډنبه کول .	

۵۰ + ۳۰ = ۸۰	۶۰ = □□ ۸۰
۶۰ - □ = ۱۰	۱۰ = □□ ۹۰
□ + ۵۰ = ۱۰۰	۶۰ = □□ ۰
۹۰ - □ = ۱۰	۸۰ = □□ ۶۰

۵۰	۲۰ +	۲۰ -	۷۰
۸۰ +	۵۰	۱۰۰	۶۰ -

ر۲ – ۱ – ۴

(۱) د دي لوبې مطلب دا دی چې له [۰] څخه تر [۲۰] پورې په سلسله کې د جمع او تفریق تکرار وکړای شي او په [۱۰] زور ورکړای شیو . له لاندې نیو اصولو څخه کار اخیستل په کار دي :

- له [۰] څخه شروع کول ، د ۲ یا ۳ یا ۴ (یوازې) د جمع کولو په وسیله [۲۰] ته رسېدل په کار دي ، خو [۱۰] ته له رسېدلو څخه پرته ؛ د ۲ یا ۳ یا ۴ [یوازې] په تفریق کولو د [۲۰] څخه مخ په شا تلل خو [۱۰] ته له رسېدلو څخه پرته [۰] ته رسېدل په کار دي .
- دواړه ګروپونه به د جمع کار وار په وار ورکوي (تر ۲۰ پورې) یا د تفریق کار به (له ۰ څخه لاندې) بل ګروپ ته ورکوي .
- یو ګروپ د غلط سوال کولو په وسیله غلطي کولای شي (چې یا خو ۱۰ ته ورسېږي یا [۰] یا [۲۰] ته ونه رسېږي) یا به د غلط حساب په وجه غلط ځواب ورکوي .
- که یو ګروپ غلطي وکړي نو نورو ګروپونو به لوبه ګټلې وي .

ماشومانو ته اجازه ده چې د ګوتې په وسیله هغه عدد ته اشاره وکړي چې لومړی په توره تخته یا په مشق پاڼه کې رسول شوی دی .

(۲) زده کوونکو ته دوه واړي ویل کیږي چې په خپله خوښه دي د ۲ یا ۳ یا ۴ په وسیله د پاسني کتار تفریق وکړي . د نورو عددونو د جمع کولو اجازه نشته .



موضوع : د [ورته رسېدلو او تړي اوړېدلو] د لوبې مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي زده کوونکو ته د رسېدلو او اوړېدلو د هغې لوبې را يادول چې په تېر سبق کې وکړای شوه (کېدای شي چې لومړی مشق پاڼې ته دوه واړې وکتلای شي) بيا دغې مشق پاڼې ته بې له کتلو څخه له يوه ملګري سره د لوبې د کولو غوښتنه کول .	مشق پاڼه ر۲ - ۱۳ - ۲
۲. د دوو ګروپونو چې په هر يو کې [۳] ماشومان دي مخې ته درېږي ، د [رسېدلو او اوړېدلو] لوبه کول د نورو ورته په غور کتل ، په همدغه وخت کې د چک کولو له پاره حساب کول ، که څه غلطي يې وکړه نو دا به د درېو ماشومانو له يوه نوي ګروپ سره بدلولای شي .	
۳. د دوهمې مشق پاڼې د پاسنۍ کتار مثال ته کتل ؛ بيا د جمع د لومړي عملېې په ګډه سره حسابول ، معلومول چې په کې يوه غلطي موجوده ده (خکه چې ۱۰ ته رسېدلی دی) . د سلسلې د اصلاح کولو تجويز وړاندې کول ، نا مناسب عددونه چلېپا کول ، په چلېپا شوو عددونو باندې پورته مناسب عددونه (۲ ، ۳ يا ۴) ليکل ؛ سلسله بيا حسابول ؛ دا ټولګي ته لوستل .	مشق پاڼه ر۲ - ۱۳ - ۲
۴. نورې ټولې سلسلې امتحان کول ، که غلطي په کې وي د هغو اصلاح کول ؛ د ښوونکي د زده کوونکو د مناسبو غلطيو په هکله خبرول ؛ يعني [۱۰] ته رسېدل يا [۰] ته نه رسېدل يا [۲۰] ته نه رسېدل ؛ يوې سلسلې يعني [۵] نمبر کې غلطي نشته .	
۵. د زده کوونکو نورې سلسلې پر خپلو سلېټونو ليکل .	سلېټونه

ر۲-۱۳-۲

۱۰		۰ + ۳ + ۲ + ۲ + ۳ + ۴ + ۲ + ۴ = ۲۰
۱	؟	۰ + ۴ + ۲ + ۴ + ۳ + ۳ + ۲ + ۲ = ۲۰
۲	؟	۲۰ - ۳ - ۲ - ۲ - ۳ - ۴ - ۲ - ۴ = ۰
۳	؟	۰ + ۲ + ۴ + ۳ + ۳ + ۴ + ۲ + ۲ = ۲۰
۴	؟	۲۰ + ۲ - ۳ - ۲ - ۳ - ۴۰ - ۳ - ۳ = ۰

موضوع : له [۱۰] څخه مخ په وړاندې او مخ په شا اوړېدل

درسي مواد	د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه
تـــوره تختـــه	۱. ذهني روزنه : د [۰] او [۲۰] په منځ کې مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول : الف – د یوه په قدم کې له [۰] څخه شروع کول (۰ ، ۱ ، ۲ .... ۱۹ ، ۲۰ – ۲۰ ، ۱۹ .... ۲ ، ۱ ، ۰) . ب – د دوو په قدمونو کې له ۰ ، ۲ ، ۴ .... ۱۸ ، ۲۰ – ۳۰ ، ۱۸ ... ۴ ، ۲ ، ۰ . ج – د دوو په قدمونو کې له [۱] څخه شروع کول (۱ ، ۳ ، ۵ ... ۱۷ ، ۱۹ – ۱۹ ، ۱۷ .... ۵ ، ۳ ، ۱) لومړی دې دا مشقونه په جلا جلا زده کوونکو د ېر خله او بیا دې په ټول ټولګي په ګډه سره وکړای شي . ۲. د توري تختې په یو بکس کې ۹ او له لومړي بکس څخه کېن اړخ ته په څه فاصله په بل بکس کې ۱۱ لیکل . غوښتنه کول چې د حسابولو ، د ریاضي د عمل په وسیله به څنګه له [۹] څخه [۱۱] ته راشو . د زده کوونکو معلومول / ویل چې له [۹] څخه [۱۱] ته د رسېدلو له پاره دوی ته د [+ ۲] حسابول په کار دي . د ښوونکي تشریح کول چې هغه به دا عمل په بکسونو کې د دوو عددونو په منځ کې د [+ ۲] لیکلو په وسیله درج کوي مثلا : ۹ —(+۲)→ ۱۱ بیا هغه دا [۳] عددونه د یوه غشي په وسیله یو خای کوي ، د دې د ښودلو له پاره چې په حساب کې موړ له [۹] څخه [۱۱] طرف ته حرکت کوو . د ډېرو زده کوونکو مخې ته راتلل ، د ټول عمل په اوچت اواز ویل ، بکسونو ته په صحیح ترتیب اشاره کول . ۳. د ښوونکي تر [۹] لاندې په یوه بکس کې [۸] لیکل مثلا : ۹ —(+۲)→ ۱۱ ، ۱۱ —(-۳)→ ۸ غوښتنه کول چې له [۱۱] څخه [۸] ته درسېدلو له پاره څه کول په کار دي . د زده کوونکو خواب ورکول (۱۱ – ۳ = ۸) یعني موړ به د [۳] حساب کوو . د ښوونکي [-۳] بکسونو په منځ کې په یوه دایره کې لیکل ، بیا به [۱۱] ، [-۳] . ۴. د ښوونکي درېمي مشق پانې ته د کتلو غوښتنه کول . د تېرو دوو حسابونو معلومول ، دا په اوچت اواز لوستل حسابونو سره جاري ساتل ، د عمل په خالي حای کې لیکل چې د دوو عددونو د یو خای کولو له پاره ضروري دي . (ښوونکی به دا خبره یقیني کوي چې زده کوونکي هم په هغه طریقه حساب کوي چې ورته اشاره شوې . [جمع : له ښي طرف څخه کېن طرف ته او تفریق : له کېن طرف څخه ښي طرف ته] د زده کوونکو مشق پانه مکمل ، د ښوونکي مرسته کول ، امتحان کول ، د زده کوونکو د حسابونو ټولګي ته لوستل ، معلومول چې په بکسونو کې عددونه پر له پسې زیاتېږي او تر [۱۰] وروسته ټوپونه د ېر زیات اوږدېږي .
مشـــق پـــانه ر۲ – ۱۳ – ۳	



درسي پلان: ۱۴ ر۲ - ۱۴ - ۱	موضوع : له دوه رقمي عددونو څخه د يو رقيمي عدد په منفي کولو سره د مکملو لسيزونو قرض ورکول	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
- په توره تخته ليکل: ۷...۱۳؛ غوښتنه کول چې مخ په وړاندې شمېر وکړئ (له ۷ څخه تر ۱۳ پورې) او مخ په شا (له ۱۳ څخه تر ۷ پورې) . - ۱۷ ... ۲۳ پورې ليکل (بيا له ۲۷ ... ۳۳ بيا له ۳۷ ... ۴۳ او داسې نور له ۸۷ ... ۹۳ پورې) .	۱ . *ذهني مشق : په مختلفو سلسلو کې شمېر کول ، مختلف لسګونونه استعمالول ، خو واحدونه به يو شی وي :* - مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول . لومړی په يو يو کس اوبيا په ګډه سره . - هر خل مخ په وړاندې اومخ په شا شمېر کول، لومړی جلا جلا او بيا په ګډه سره .	تـــوره تختـــه
- د لسو کانو يوه کڅوړه او څلور نور کانې په مېز اينبودل . - ۱۴ - ۷ په توره تخته ليکل ؛ په مېز باندې کانو ته اشاره کول . (۱) - دعددي کيسې غوښتل . - بلنه ورکول چې دا دوه قدمونه دې په توره تخته وليکلای او حساب کړای شي . - په توره تخته په يو خاص شکل ليکل : ۱۴ - ۷ ۱۴ - ۴ = ۱۰ ۱۰ - ۳ = ۷ ۱۴ - ۷ = ۷ د لسو کانو کڅوړه بيا ډکول . - د لومړي سوال په خوا کې په توره تخته ليکل : ۲۴ - ۷ ؛ پوښتنه کول چې ددې سوال مشق په کانو سره څنګه کيږي .	۲ . *په تفريق کې دلسو دارولو مشق کول .* - ويل چې مې ۱۰ + ۴ = ۱۴ کانې پراته دي . - په وار بحث کول ؛ د يو تن مخې ته راتلل او لومړی څلور عليحده کانې يوې ډډې ته کول ، بيا د لسو کانو کڅوړه پرسېل کول ؛ د نورو ورته کتل ، بحث کول . (۱) - ويل چې لومړی څلور حليحده (خانله) کانې لرې کړي شول او بيا د لسو کالو کڅوړه څخه درې نور کانې لرې کړی شول . - ۱۴ - ۴ = ۱۰ ۱۰ - ۳ = ۷ - مشاهده کول ؛ لوستل . کڅوړه او څلور خانله کانې په مېز په مخکې وضعيت / حالت اينبودل . - د لسو کانو يوه بله کڅوړه په مېز اينبودل چې تول دوه کڅوړې اوڅلور جلا جلا کانې شي ؛ بحث کول چې نور څه کول په کار دي ، بيا لومړی څلور خانله کانې لرې کول ، بيا يوه کڅوړه خلاصول او درې کانې نورترې لرې کول.	د لســو کــانــو يــوه کــڅوړه او څلــور نــــور کـــــانــي

– کوم عمل چې انجام شوی دی پر تورہ تختہ یې د لیکلو غوښتنه کول . – په همدغه شان یې په یو یا دوه نورو سوالونو سره جاري ساتل مثلاً ۷ - ۵۴ ۷ - ۹۴	– د کار مکملول ، دمخکینې کار په طریقه یې لیکل ، د پاتې کانو د شمېرلو په وسیله یې امتحان کول . – په همدغاه شان عمل کول او لیکل یې .	
– د لسو لسو کانو ۸ کڅوړې او شپږ ځانله نقطې په تورہ تختہ رسمول ؛ په خوا کې یې ۸۶ – ۹ لیکل ، د دې نقطو د شمېرلو غوښتنه کول ، او ددې تجویز غوښتنه کول چې دنقطو په مرسته دا کار څنګه محاسبه کېدای شي . – غوښتنه کول چې دغه حساب دې په تورہ تختہ ولیکل شي . – د لومړۍ مشق پاڼې د مکملولو غوښتنه کول ؛ مرسته کول . (۳)	۳ . د [۱۰] اړول د جوړو شوو نقطو په مرسته : – بحث کول ، مختلف تجویزونه وړاندې کول ، په آخر کې د یو زده کوونکي په خپل لاس [۱۰] نقطې پټول ، د بل زده کوونکي لومړۍ [۶] ځانله کانې چلیپا کول، بیا د لسو کانو له ډلې څخه دري نور کانې چلیپا کول . – بحث کول ، د مخکینې کار په شان یې لیکل ، په شمېر کولو سره امتحان کول . – مشق پاڼه مکملول ، په تورہ تختہ د مخکې په شان عمل کول ، په آخر کې ټولګې ته د نتیجو لوستل .	مشق پاڼه ر ۲ – ۱۴ – ۱

(۱) اصلي تصور دادی چې د لسو کانو کڅوړه خلاصه کړای شي او له هغو څلورو کانو نه چې مخکې ډډې ته کړای شوي وو ، دري کانې نور واخیستل شي . ښوونکی به زده کوونکو ته کافي وخت ورکوي چې دا په خپله معلوم کړي . دا عمل به د زده کوونکو په وسیله تشریح کېږي . (۲) رسم به په تورہ تخته تقریباً داسې ښکاري :



(۲) د دې له پاره چې لومړۍ سوال د نقطو په مرسته حل کړای شي نو په کار ده چې ماشومان لومړۍ [۵] نقطې د یو پنسل / قلم په وسیله پټې کړي او داسې نور . بیا به یې د څنګ نږدې نقطونه دري نورې نقطې پټې کړي (په یوه ګوته) د دې له پاره چې نورسوالونه وکړای شي نو ماشومان به د لسو کانو څو کڅوړې پټوی چې د نقطو مطلوب شمېر په سترګو لیدل کېږي . د مثال په توګه دوی کولای شي چې د بنې اړخ دوه کڅوړې پټې کړي چې ۷۵ نقطې ښکاره شي .



موضوع : د همدغه شان تفریقونو مشق کول ، د نقطو دپټې په مرسته د لسو اړول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربیه : الف – د ښوونکي [۲۱ – ۲] ویل ، د زده کوونکو ځواب ورکول ؛ د ښوونکي د همدغه شان ډېرو سوالونو ورکول مثلاً : ۸۱ – ۲ ، ۵۱ – ۲ ، ۳۱ – ۲ ، ۹۱ – ۲ ، ۶۱ – ۲ او داسي نور . ب – د ښوونکي غوښتنه کول چې ۲۱ – ۲ په شفاهي توګه حساب کړي ، بیا همدغه شان نور ډېر سوالونه ورکول مثلاً : ۸۱ – ۳ ، ۵۱ – ۲ ، ۹۱ – ۲ ، ۶۱ – ۲ او داسي نور .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه ر۲ – ۱۴ – ۳
۲. دریمي مشق پانې ته کتل : د دوهمي مشق پانې د مربوطي حصي په مرسته لومړی کار یعني ۴۵ – ۷ په لاندي ډول حلول : لومړی ۴۵ نقطي ښودل لکه څنګه چې یې په مشق پانه عملي مظاهره وشوه ؛ بیا د یو پنسل یا ګوتې په وسیله په پټولو سره د ۵ نقطو لرې کول ، بیا په ګوته په پټولو سره دوه نورې نقطي لرې کول ؛ تر دې وروسته ښکاره پاتې شوې نقطي شمېرل یعني ۳۸ ؛ تر دې وروسته په خالي بکس کې نتیجه لیکل او د نتیجې په بکس کې په حاصل (نتیجه) صحیح ښنه (✓) کول . نور سوالونه هم په همدغه شان حلول ؛ هر ځلې د نتیجې په بکس کې په نتیجه د صحیح ښنه (✓) کول په آخر کې ټول مساوات ټولګي ته لوستل ، مقایسه کول ، امتحان کول .	



ر۲-۱۴-۲

۳۸ = ۷ – ۴۵	☐ = ۷ – ۶۵	☐ = ۷ – ۹۵
☐ = ۸ – ۳۷	☐ = ۸ – ۸۷	☐ = ۸ – ۶۷
☐ = ۶ – ۲۳	☐ = ۶ – ۵۳	☐ = ۶ – ۷۳
☐ = ۴ – ۶۱	☐ = ۴ – ۹۱	☐ = ۴ – ۴۱
☐ = ۹ – ۴۸	☐ = ۹ – ۸۸	☐ = ۹ – ۶۸

۷۹ ۳۸ ۳۷ ۵۹ ۵۸ ۸۸ ۷۹ ۱۷

۲۹ ۴۷ ۶۷ ۳۹ ۵۹ ۵۷ ۸۷

ر۲-۱۴-۳

موضوع : د تفريق مشق کول د لسو په اړولو سره	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. مخ په شا شمېر کول لکه : الف – له ۷۳ څخه ۶۷ پورې ، له ۴۳ څخه تر ۳۷ پورې ، له ۸۳ څخه تر ۷۷ پورې . ب – له ۵۲ څخه تر ۴۵ پورې ، له ۶۲ څخه تر ۵۵ پورې او له ۹۲ څخه تر ۸۵ پورې (د هر مشق دغه دوه عددونه د ښوونکي په توره تخته ليکل ؛ د زده کوونکو په شفاهي توګه شمېر کول ، جداجدا او په ګډه سره) .	توره تخته
۲. د ښوونکي له خلورمې مشق پاڼي څخه لومړی کتار (خلور سوالونه) په توره تخته ليکل . يعنې ۶۳ – ۳ = ☐ ؛ ۶۳ – ۴ = ☐ ؛ ۶۳ – ۵ = ☐ ؛ ۶۳ – ۶ = ☐ ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې دا ټول سوالونه په خاموشۍ سره حل کړي او معلومه کړي چې د لومړي سوال له حلولو څخه وروسته دا نور دري سوالونه ولې په آسانۍ حلېدای شي . ، که چېرې زده کوونکي وغواړي نو کولای شي چې د مساواتو د حلولو له پاره د مربوطې حصې د نقطو له پټۍ څخه کار واخلي .	مشق پاڼه ر۲ – ۱۴ – ۴ توره تخته
۳. د خلورمې مشق پاڼي د پاسنۍ حصې د ټولو مساواتو مکمل د زده کوونکو په وسيله ؛ د نتيجو په بکس کې په نتيجو د صحيح نښه کول ؛ په آخر کې د ټولو مساواتو ټولګي ته لوستل ؛ په دې بحث کول چې داولې دومره آسان وو .	مشق پاڼه ر۲ – ۱۴ – ۴
۴. د مشق پاڼي په لاندينۍ برخه کار کول : الف – له زده کوونکو څخه غوښتل چې دا مساوات مکمل کړي او معلومه کړي چې آيا دامساوات هم د مشق پاڼي د پاسنۍ برخې د مساواتو په شان آسان دی او که نه . ب – د زده کوونکو د ده مساواتو حسابول که ضرورت و نو دوی کولای شي چې د مربوطې برخې د نقطو پټۍ استعمال کړي ؛ د نتيجو په بکس کې په نتيجو د صحيح نښه کول ؛ ټولګي ته د نتيجو لوستل ؛ په دې بحث کول چې دا مساوات ولې دومره آسان دی .	

☐ = ۵ – ۶۳	☐ = ۴ – ۶۳	☐ = ۳ – ۶۳
☐ = ۷ – ۳۴	☐ = ۶ – ۳۴	☐ = ۵ – ۳۴
☐ = ۷ – ۸۲	☐ = ۶ – ۸۲	☐ = ۵ – ۸۲
☐ = ۸ – ۲۴	☐ = ۸ – ۲۳	☐ = ۸ – ۲۲
☐ = ۴ – ۴۳	☐ = ۴ – ۴۲	☐ = ۴ – ۴۱

۳۹ ۱۴ ۲۸ ۲۷ ۳۷ ۷۵ ۶۰

۱۶ ۱۵ ۲۹ ۵۹ ۵۸ ۳۸ ۷۶ ۷۷

ر۲-۱۴-۴

درسي پلان : ۱۵ ر۲ – ۱۵ – ۱	موضوع : تر [۱۰۰] پوري جمع او تفريق ، د لسو انتقالول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
– د دوو په قدمونو کې مخ په وړاندې د شمېرلو غوښتنه کول ، لکه له [۲۰] څخه [۴۰] پورې ، له [۸۰] څخه [۱۰۰] پورې ... (۱) – د دوو په قدمونو کې مخ په شا د شمېرلو غوښتنه کول لکه : له [۵۰] څخه [۳۰] پورې [۹۰] څخه [۷۰] پورې ... (۲)	۱ . ذهني تربيه : – جلا جلا او په ګډه سره د دوو په قدمونو کې شمېر کول . – جلا جلا او په ګډه سره د دوو په قدمونو کې مخ په شا شمېر کول .	
– په توره تخته له [۴۱] څخه تر [٦۱] پورې يوه عددي پټې جوړول (لکه څنګه چې د مشق پاڼې ر۲ – ۱۵ – ۱ په سر کې ښودلې شوې ده) ؛ په توره تخته ۴۷ + ٦ = ☐ ليکل ، غوښتنه کول چې داسوال به دعددي پټې په مرسته سره څنګه حل کوو . (۳) – د اولنۍ پټې لاندې د ورپسې عددونو يوه بله پټې جوړول مثلاً : له [٦۱] څخه [۸۰] پورې ، په توره تخته ۸٦ + ۵ = ☐ ليکل ؛ غوښتنه کول چې دا سوال به د عددي پټې په مرسته سره څنګه حل کوو . – د مشق پاڼې ر۲ – ۱۵ – ۱ پاسنۍ نيمايي برخې ته د کتلو غوښتنه کول ، مرسته کول . – د پاسنۍ برخې د ټولو سوالونو د حلولو بلنه ورکول : او د [تور لاس] او [سپين لاس] په وسيله د دې مشق کول .	۲ . د عددي پټې په مرسته جمع کول : – بحث کول ، تجويز وړاندې کول ، کوښښ کول او د دې د حل کولو مظاهره کول : په آخره کې منل (شايد د ښوونکي په مرسته سره) چې ښې لاس به حرکت نه کوي او کېنۍ لاس به په عددي پټې مخ په وړاندې حرکت وکړي (۳) . په صحيح طريقه کولو له پاره د ډېرو زده کوونکو مظاهره کول ، په خالي بکس کې نتيجه ليکل . – بحث کول ، تجويزونه وړاندې کول ، کوښښ کول ، بيا د ډېرو زده کوونکو په صحيح طريقه د دې حلولو مظاهره کول ، په خالي بکس کې د نتيجې ليکل . – معلومول چې [تور لاس] به حرکت نه کوي او [سپين لاس] هومره قدمونه حرکت کوي څومره چې په سوال کې غوښتنه شوې ده . – د مخکې په شان عمل کول : دمشق پاڼې د پاسنۍ نيمايي خالي بکسونه ډکول ؛ په آخره کې د ټولو مساواتو ټولګي ته لوستل .	تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه ر۲ – ۱۵ – ۱
– په توره تخته ۵۲ – ۴ = ☐ ليکل ؛ غوښتنه کول چې په توره تخته د جوړې شوې عددي پټې په مرسته به دا څنګه حل کوو .	۳ . د عددي پټې په مرسته تفريق کول : – بحث کول ، تجويزونه وړاندې کول ، کوښښ کول ، په آخره کې منل چې اوس به کېنۍ لاس ساکن وي او ښې لاس به هومره قدمونه مخ په شا حرکت کوي چې څومره په سوال کې غوښتنه شوې ده . په صحيح طريقه د کولو له پاره څو واري مظاهره کول .	تـــوره تختـــه

– په توره تخته ٦٦ – ٩ = ☐ ليکل ، په توره تخته د جوړې شوې عددي پټې په مرسته د دې د حلولو غوښتنه کول .	– د خپلو لاسونو په مرسته د سوال حلول (کيښ لاس به ساکن وي او بنی لاس به له پټې سره حرکت کړي) ؛ په خالي بکس کې د نتيجې ليکل .	
– د مشق پاڼې د لاندې برخې د ټولو مساواتو د مکملولو غوښتنه کول ؛ مرسته کول .	– معلومول چې تور (کيښ) لاس به ساکن وي او سپين (بنی) لاس به مخ په شا حرکت کوي ؛ همدغه شان عمل د ټولو سوالونو له پاره کول : په آخره کې ټولګي ته د ټولو مساواتو لوستل .	مشق پاڼه ر٢ – ١٥ – ١

(١) تر خو پورې چې زده کوونکي د دوو په قدمونو کې له يادنه په روانه شمېر نه شي کولای نو بنوونکی دې ور له په دې طريقه دمشق له پاره وخت ورکړي : په زوره ويل لکه [٢] فکر کول (په زوره نه ويل) [٣] په زوره ويل [٤] د [٥] فکر کول او دغه شان ورپسې نور .

(٢) مخ په شا شمېر کې به همدغه شان مشق کېږي مثلاً د يو عدد په زوره ويل – د بل عدد په باره کې فکر کول او دغه شان ورپسې نور .

(٣) په مشق پاڼه ر٢ – ١٥ – ١ کې چې څه جوړ شوي دي بنوونکی دې هغه ذهن کې وساتي خو هغه لاسونه دي جوړوي چې په مشق پاڼه کې ليدل کېږي .



موضوع: تر [۱۰۰] پورې د جمع او تفریق مشق کول ؛ د عددي پټې استعمالول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربیه : د دوو په قدمونو کې شمېر کول مثلاً له [۲۱] څخه [۳۹] پورې (ویل [۲۱] د [۲۲] په باره کې فکر کول . ویل [۲۳] او دغسې ورپسې نور : دعددونو په مختلفو سلسلو سره څو واړي د دې مشق کول لکه له ٦١ څخه ٥٩ ؛ له ٧١ څخه تر ٨٩ پورې عددي پټې .) ۲. د ښوونکي په توره تخته د جمع یو سوال لیکل لکه : ۷۸ + ۵ = ☐ ؛ د زده کوونکو د عددي پټې په مرسته سره د سوال حلول : د ښوونکي وریادول چې تور (ښی) لاس به خای په خای ولاړ وي او سپین (کین) لاس به مخ په وړاندې حرکت کوي : په بکس کې د نتیجې لیکل . ۳. د ښوونکي په توره تخته لیکل لکه : ۸۴ – ٦ = ☐ ؛ د زده کوونکو هم هغه شان عمل کول چې کین (تور) لاس به یې حرکت نه کوي او ښی (سپین) لاس به یې مخ په شا حرکت کوي ، د سوال حلول ، په بکس کې د نتیجې لیکل . ۴. ښوونکی دې ماشومان له دې خبر کړي چې [تور لاس] به همېشه حرکت نه کو ي او [سپین لاس] به متحرك وي . ۵. د ښوونکي د هم دغه شان سوالونو د حلولو غوښتنه کول چې په توره تخته یې لیکي ، هر وار د زده کوونکو عددي پټې استعمالول ، صحیح خواب ورکول ؛ په آخره کې په توره تخته ټول مساوات ټولګي ته لوستل .	توره تخته



درسي پلان ۲ ر۲ - ۲ - ۱	موضوع : د نوټونو په وسیله تر سلو (۱۰۰) پورې په لسیزونو کې جمع کول	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
	۱. د ۱۰، ۵۰ او ۱۰۰ روپو د نوټونو تعارف کول:	
- د ۱۰، ۵۰، ۱۰۰ روپو نوټونه په توره تخته د قیمت له ترتیب څخه پرته لګول؛ د تبصرو غوښتنه کول.	- ورته کتل، د هغه په باره کې چې دوی یې وینې او یا یې پېژني خبرې کول او د پیسو د ګټلو او خرڅ کولو په باره کې خبرې کول.	توره تخته د ۵۰ او ۱۰۰ روپو اصلي یا نقلي نوټونه
- مشق پانې ر۲ - ۲ - ۱ ته د کتلو له پاره وینا کول. (۱)	- مشق پانې ته کتل، د نوټونو اود هغې د قیمت وضاحت کول.	
- د نوټونو د قیمت د مقایسه کولو غوښتنه کول.	- ویل چې لکه ۵۰ روپې د ۱۰ روپو نه ډېرې دي، ۵۰ روپې له ۱۰۰ روپونه کمې دي، په ۵۰ روپو له ۱۰۰ روپو څخه کم شیان اخیستل کیږي وغیره.	مشق پانه ر۲ - ۲ - ۱ توره تخته
- غوښتنه کول چې نوټونو ته د قیمت په لحاظ ترتیب ورکړئ.	- په توره تخته نوټونه ترتیبول؛ تبصره کول.	
	۲. د دوکانداری یوه لوبه کول:	
- شیان ښودل او غوښتنه کول چې په دې کې به د هر یو شي څه قیمت وي. (۲)	- د هر یو شي د قیمت اندازه لګول، د مختلفو شیانو د قیمت مقایسه کول.	مختلف شیان د قیمت کارډونه (۱۰ روپې - ۹۰ روپې) نقلي نوټونه
- له ۱۰ څخه ۹۰ پورې د قیمت کارډونه ښودل.	- بحث کول چې کوم کارډ له کوم شي سره سمون خوري؛ د قیمت کارډ له مناسب شي سره لګول.	
- له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د نقلي نوټونو څخه په صحیح شمېر نوټونه راوړي او شیان پرې واخلي. (۴)	- د یو څو زده کوونکو په خپل وار راتلل، د شیانو اخیستو د قیمت کارډونه کتل، ضروري نوټونه یو ځای کول.	
- دهرې سودا له پاره د عددي کیسې د ویلو او په توره تخته د اړونده مساوات د لیکلو غوښتنه کول.	- ویل چې دوی څنګه نوټونه یو ځای کړل چې په کارډونو باندې لیکل شوي قیمت ته ورسېدل. مثلاً: په توره تخته لیکل: ۵۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۷۰	توره تخته
	۳. د نوټونو د یو ځای کولو مشق کول:	
- له ماشومانو څخه دکار د کتابونو د پرانیستلو غوښتنه کول او په مشق پانه ر۲ - ۲ - ۲ باندې بحث کول.	- د مشق پانې په شیانو او د هغې په قیمت بحث کول.	مشق پانه
- ویل چې له یو ملګري سره همدغه شان د دوکانداری لوبه وکړئ.	- د یو زده کوونکي ویل چې یو شی اخیستل غواړي، خپل ملګری ته ضروري قیمت ورکول؛ وار په وار شیان اخیستل.	مشق پانه ر۲ - ۲ - ۱ او نقلي نوټونه

موضوع : تر [۱۰۰] پورې د جمع او تفريق مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربيه : خومره چې ممکن وي هغومره ژر ژر د دوو په قدمونو کې مخ په وړاندې شمېر کول ، اول له جفت عددونو څخه شروع کول (مثلاً تول هغه عددونه چې ۰ ، ۲ ، ۴ ، ۶ ، ۸ په آخر کې وي) ، لکه له [۲۲ څخه ۳۸ پورې ، بيا له طاق عددونو څخه شروع کول (مثلاً : تول هغه عددونه چې ۱ ، ۳ ، ۵ ، ۷ ، ۹ يې په آخر کې وي) لکه له ۴۳ څه تر ۵۹ پورې .	
۲. دوباره مشق کول چې د عددي پټې په مرسته به د جمع يو مساوات څنګه حلولای شي (لکه : ۶۵ + ۸ = ☐) او د منفي مساوات به څنګه حلولای شي (لکه ۹۴ - ۷ = ☐) ، د دوو مثالونو په يو ځای حلول ؛ د کار کتاب د مربوطې برخې عددي پټې استعمالول .	تـــوره تختـــه
۳. د ښوونکي د جمع او تفريق نور مساوات ورکول لکه : ۷۵ + ۶ = ☐ ؛ ۸۳ + ۹ = ☐ ؛ ۶۸ + ۸ = ☐ او ۲۹ + ۴ = ☐ ؛ ۷۵ + ۶ = ☐ ۷۳ - ۷ = ☐ زده کوونکي دې د دوهمې مشق پاڼې عددي پټې استعمال کړي يا دې بې له دې څخه کارونه حل کړي (که چېرې يو سوال غلط حل شو نو دغه زده کوونکی به د عددي پټې په مرسته سره هم دغه سوال بيا حل کوي)	مشـــق پـــاڼه ر۲ – ۱۵ – ۲
۴. د ټولو نتيجو په اوچت آواز لوستل ؛ مقايسه کول .	



درسي پلان: ۱۶ ر۲ - ۱۶ - ۱	موضوع : تر سلو پوري سلسله کې د درې عددونو جمع او تفريق	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- يوه عملي مظاهره کول (۱) ، غوښتنه کول چې څه پېښېږي هغه په غور او خاموشي سره مشاهده کړي . - څه چې وشول د هغې تشريح په زده کوونکو کول او د دې مربوطه مساوات په هغوی پيدا کول . - د همدغه شان يوې عملي مظاهرې رهنمايي کول (۲) . بيا د دغې کيسې د ويلو او د مربوط مساوات د موندلو غوښتنه کول (۳) .	۱ . د درې عددونه په عمل کې جمع کول او تفريق کول - لومړی د اتو زده کوونکو مخې ته راتلل ، بيا دري نور زده کوونکي له هغوی سره يو ځای کېدل ، بيا د پنځو زده کوونکو خپلو ځايونو ته ببرته تلل . - د عددي کيسې ويل ، په مربوط مساوات بحث کول ، په تور ه تخته ليکل : ۸ + ۳ - ۵ = ۶ . - په خاموشي سره د لسو زده کوونکو ټولګي ته راتل ، بيا د دوه زده کوونکو ببرته خپلو ځايونو ته تلل او بيا د دري زده کوونکو ببرته خپلو ځايونو ته تلل . د عددي کيسې ويل ؛ په تور ه تخته ليکل : ۱۰ - ۲ - ۳ = ۵	تـــوره تختـــه
- له ۵۱ څخه تر ۷۰ پورې سلسله کې په تور ه تخته يوه عددي پټې رسمول ؛ په خاموشي او غور سره بيا د کتلو غوښتنه کول . بيا په ورو ورو د ۵۸ + ۴ - ۳ = ☐ عملي مظاهره کول ، دغه ځو ځله کول (۴) - د مربوطه مساوات دموندلو غوښتنه کول . - دا ډول عملي مظاهره د بل مثال په وسيله تکرارول (۵۳ - ۵ + ۴) . - په تور ه تخته ۶۳ - ۶ + ۲ ليکل ؛ بلنه ورکول چې همدغه شان دي په تور ه تخته دري عملي مظاهره وکړای شي . - دا ډول نورو مساواتو په حلولو کې رهنمايي کول ، مثلاً : ۶۲ - ۵ + ۳ = = ۵۷ + ۸ - ۶ =	۲ . د عددي پټې په مرسته د دري عددونو جمع کول / تفريق کول : - په خاموشي مشاهده کول ، څه چې پېښ شول د هغه ويل (اول بنې لاس اشاره وکړای شوه ۵۸ ته ، بيا ګيڼ لاس کيسې خواته څلور قدمونه واخيستل . په ۶۲ ودرېدل ، بيا بنې لاس دري قدمونه بنې خواته واخيستل په ۵۹ ودرېد . - بحث کول ، ژيل / ليکل په تور ه تخته : ۵۸ + ۴ - ۳ = ۵۹ - مشاهده کول ، د عددي کيسې ويل ، د مساوات معلومول ، په تور ه تخته يې ليکل . - د څو ماشومانو په تور ه تخته د عددي پټې په وسيله د عمل کولو مظاهره کول ؛ د نورو ورته کتل ، د ضرورت په وخت کې اصلاح کول ، د حل معلومول ، په تور ه تخته د مساوات مکملول . - د مخکې په شان کار کول .	تـــوره تختـــه
- په عددي پانه د لاس د ګوتې د بولو په مرسته د لومړۍ مشق پاڼې د مساواتو د حلولو له پاره بلنه ورکول ؛ په زده کوونکو ګرځېدل ، که ضرورت و مرسته کول .	۳ . په مشق پانه د جمع او تفريق کولو مشق کول : - په کار خان پوهول ، همدغه شان عمل کوي : د حل د معلومولو له پاره له عددي پټې څه کار اخيستل ، بکسونه ډکول ، د نتيجو په بکسونو کې په نتيجو د صحيح نښه کول .	مشـــق پـــانه ر۲ - ۱۶ - ۱

١. د دي عملي مظاهري د کاميابۍ له پاره به ښونکی د درس له شروع څخه مخکې ١١ زده کوونکو ته په پټه خوله وايي چې خنګه عمل کول په کار دي : لومړی به ٨ زده کوونکي د ټولګي مخې ته راځي او په يو کتار کې به درېږي . کله چې ښوونکي يوه اشاره وکړي نو دري نور زده کوونکي به هم د ټولګي مخې ته راځي او د زده کوونکو له لومړي کتار سره به يو ځای کېږي . بيا چې ښوونکی اشاره وکړي نو پنځه زده کوونکي چې ښوونکی مخکې خبر کړي دي ، ښېرته خپلو ځايونو ته راځي . کله چې ټوله عملي مظاهره مکمله شي نو هله به دا نور زده کوونکي وايي چې څه وشول .

٢. دا عملي مظاهره به هم د درس له شروع کېدو څخه مخکې تياريږي .

٣. د دي سبق مواد دادي چې په دري عددونو سره مساوات معرفي کړي لکه (٨ + ٣ – ٥ = ☐) کې چېرې د دې اوږده مساوات په پوهېدلو کې زده کوونکو مشکل لرلو نو ښوونکی به يې په دوه وړو مساواتو تجزيه کوي لکه : (٨ + ٣ = ١١ ؛ ١١ – ٥) ، او بيا به اوږده مساوات ته راځي (٨ + ٣ – ٥ = ☐) .

دا فعاليت د هغه څه يو ترکيب دی چې ماشومانو په تېرو درسونو کې د عددي پټې په مرسته د جمع کولو او تفريق کولو په ارتباط کړی دی (د يو تور لاس او د يو سپين لاس استعمالول) .

زده کوونکي به دا معلوموي چې څه دوی اوس مشاهده کوي له مخکښو فعاليتونو سره څه شباهت لري . ښوونکی به د دې عملي مظاهرې ډېره په ورو ورو او په سمه طريقه کوي ښې لاس به په يو عدد ډډي او کېنۍ لاس به په عددي پټې ګرځوي بيا به ښوونکی کېنۍ لاس په يو عدد ډډي اوښی لاس به په عددي پټې ګرځوي .



موضوع : په شمېر پانه د درې عددونو د جمع کولو او تفريق کولو مشق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. له ۸۱ څه تر ۱۰۰ پورې سلسله کې د ښوونکي د يوې شمېر پاڼې په تخته ليکل : ۸۵ + ۷ = ليکل ؛ د ډېرو زده کوونکو يو بل پسې د دې عملي مظاهره کول چې په شمېر پانه دلاس د ګوتې په بوولو سره حل څنګه معلومیدای شي ؛ د بکس ډکول (۸۷) .	تخته
۲. د ښوونکي ۸۳ + ۳ + ۵ = ☐ په تخته ليکل ؛ د زده کوونکو معلومول چې په شمېر پانه څنګه ګوته ګرځول کيږي ، په دې وخت کې د ښي لاس ګوته په ۸۳ عدد ټينګه اينبودل او د کين لاس ګوته لومړی درې قدمونه او بيا پنځه قدمونه اخيستل ؛ د دې څو ځله عملي مظاهره کول ؛ د بکس ډکول (۹۴)	تخته
۳. د ښوونکی ۹۴ – ۷ – ۲ ليکل ؛ د زده کوونکو معلومول چې اوس به څنګه کار په کار وي ، په دې وخت کې د کين لاس ګوته ۹۴ په عدد ټينګه اينبودل او د ښي لاس په ګوته لومړی ۷ قدمونه او بيا ۲ قدمونه اخيستل ؛ د دې څو ځله عملي مظاهره کول د بکس ډکول (۸۴) .	مشق پانه ر۲ – ۱۶ – ۲
۴. د زده کوونکو له خوا د ر۲ – ۱۶ – ۲ د مشق پاڼې ر۲ – ۱۵ – ۲ (مربوطې برخې) د شمېر پاڼې په مرسته دمشق پاڼې مساوات مکملول ؛ د نتيجو په بکس کې په نتيجو د صحيح نښه کول .	
۵. ټولګي ته د نتيجو لوستل ؛ مقايسه کول ، اصلاح کول .	



ر۲-۱٦-۲

موضوع : د درې عددونو جمع او تفريق د شمېر پانې په مرسته او بې له مرستې

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. زده کوونکو ته د ښوونکي بلنه ورکول چې د دربمې مشق پاڼې پاسنۍ برخه وګوري ؛ د زده کوونکو په مرسته کې د تللو راتللو په باره کې په خپلو تجربو خبرې کول او څه چې پېښ شوي دي هغه تشريح کول يعني ويل چې لومړی ۱۴ کسان بس ته را وختل ، بيا ورځخه ۷ کسان کوز شول ، بيا پنځه کسان نور راوختل ، تر دې وروسته په مساوات بحث کول ، د خالي بکسونو ډکول (۱۴ − ۷ + ۵ = ۱۲)	مشق پاڼه ر۲ − ۱۶ − ۳
۲. د زده کوونکو له پاسنۍ شمېر پانې نه لاندې شمېر پانې ته کتل ، د پلک اپ په وسيله تللو باندې خبرې کول او بيا چې څه په رسم کې په ربنتيا پېښ شوي دي هغه تشريح کول (لومړی يوولس کسان راخېژي ، بيا ورځخه ۶ کسان کوزيږي ، بيا ورځخه درې کسان نور کوزيږي) ؛ د مربوطه مساواتو موندل (۱۱ − ۶ − ۳ = ۲) ؛ د بکسونو ډکول.	
۳. د دريمې مشق پانې په لاندينۍ برخه کې د ټولو مساواتو د حلولو غوښتنه له زده کوونکو څخه کول د زده کوونکو د شمېر پانې (د مربوطوي برخې پانه) استعمالول يا بې د شمېر پانې له مرستې محاسبه کول ؛ د امتحان کولو له پاره په ټولو نتيجو د صحيح نښه کول . (۱)	مشق پانه ر۲ − ۱۶ − ۳ (ضميمه) که ضرورت و .
۴. ښوونکی کولای شي چې دغه ډول نور کارونه د تکړه زده کوونکو له پاره په توره تخته وليکي .	



☐ = ۵ − ۴ + ۶۷	☐ = ۷ + ۸ + ۲۹
☐ = ۱ + ۹ − ۸۸	☐ = ۵ + ۶ + ۳۳
☐ = ۶ + ۵ + ۱۷	☐ = ۶ + ۴ − ۵۲
☐ = ۳ + ۸ + ۸۹	☐ = ۷ − ۵ + ۹۱

۶۶ ۲۸ ۸۰ ۵۴

۴۴ ۴۴ ۱۰۰ ۸۹

ر۲-۱۶-۳

درسي پلان : ۱۷ ر۲ – ۱۷ – ۱	عنوان : تر ۱۰۰ پورې د مکملو لسیزونوو جمع او تفریق (تجزیه ځ ل)	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
– دوه مکمل لسیزونه مثلاً : ۷۰ او ۲۰ په توره تخته لیکل ، غوښتنه کول چې په هر مساوات کې د دواړو عددونو د استعالولو په وسیله د جمع او تفریق دومره مساواتونه معلوم کړئ څومره چې ممکن وي . (۱)	۱ . هغه مساوات پیدا کول چې دوه ورکړای شوي عددونه استعمالوي : – بحث کول ، کوښښ کول ، د مساواتو ویل لکه: ۷۰ + ۲۰ = □ ، □ – ۷۰ = ۲۰ ؛ دا په توره تخته لیکل ، بیا خالي بکسونه ډکول . (۲)	تـــوره تختـــه
– توره تخته صفا کول ، لیکل ، مثلاً : ۵۰ = ۵۰ + □ – دا له ۵۰ = ۴۰ + □ څخه پاس تر مساوات لاندې لیکل . – لاندې بیا ۵۰ = ۳۰ + □ لیکل . – پوښتنه کول چې ورپسې مساوات به کوم یو وي چې تر نورو لاندې ولیکل شي (۲) .	۲ . په یوه منظمه طریقه د مکملو لسیزونو جمع رقمونه معلومول : – حل معلومول ، په خالي بکس کې [۰] لیکل . – کار حلول ، خالي بکس ډکول (۱۰) – بیا کار حلول ، بکس ډکول . – کـه څه وي نـو پـه ډېرو تجویزونـو بحـث کـول ، فیصله کول چې ورپسې مساوات به داسې وي : ۵۰ = ۲۰ + □ ۵۰ = ۱۰ + □ ۵۰ = ۰ + □	تـــوره تختـــه
– په توره تخته لیکل مثلاً : ۴۰ = □ – □ ؛ د تجویزونو په هکله غوښتنه کول چې ۱۰۰ پورې د مکملو لسیزونو د استعمالولو په وسیله به بکسونه څنګه ډکولای شي . (۳)	۳ . تر ۱۰۰ تر پورې مکملو لسیزونو سره د تفریق رقمونه معلومول : – د ۲ یا ۳ په ګروپونو کې پرې بحث کول ، زیات شمېر ځوابونه معلومول ، دا په توره تخته لیکل . تر لومړي بکس لاندې په توره تخته نور بکسونه رسمول .	تـــوره تختـــه
– لومړی مشق پاڼې ته د کتلو بلنـه ورکـول ؛ غوښتنه کول چې له ملګري سره یو خای د مشق پاڼې ښې ستون مکمل کړئ . – د کښې ستون د ډکولو غوښتنه کول .	۴ . مشق پاڼه مکملول : – ملګري سره بحث کول ، لومړی ستون ډکول ؛ د دغه ستون مساوات ټولګي ته لوستل ، امتحـان کول ، بحث کول . – هم دغه شان عمـل کـول ، په آخر کې ټولګي ته لوستل ، دنتیجو په ترتیب بحث کول .	مشـــق پـــاڼه ر۲ – ۱۷ – ۱

(۱) ښوونکی به له ډیر صبر څخه کار اخلي او کافي وخت به ورکوي چې زده کوونکي په خپله مساوات معلوم کړي . زده کوونکي لاندې ښي مساواتونه معلومولای شي :

جمع : ۷۰ + ۲۰ - □ ؛ ۲۰ + ۷۰ - □ ؛ □ + ۲۰ - ۷۰ ؛ ۲۰ + □ - ۷۰

تفریق : ۷۰ — ۲۰ - □ ؛ □ - ۲۰ - ۷۰ ؛ □ - ۷۰ - ۲۰ ؛ ۷۰ - □ - ۲۰

(۲) زده کوونکي چې هر کله مساوات لیکي نو په هر حالت کې دې یوخالي بکس شاملوي ؛ مساوات دې وروسته مکمل کړای شي (بکسونه دې مکمل کړای شي) .

(۳) د ۲ یا ۳ زده کوونکو په ګروپ کې دې ښوونکی د بحث له پاره کافي وخت ورکړي . زده کوونکي دې معلوم کړای شوی مساوات په توره تخته په یوه ستون کې ولیکي . په دې وخت کې نه د ټولو ممکنو مساواتو د معلومولو او نه د دې په مخصوص ترتیب کې د لیکلو له پاره ضرورت شته .

۷۰ = ۷۰ + ۰	۲۰ = □ - ۲۰
۷۰ = ۶۰ + □	۲۰ = □ - ۳۰
۷۰ = ۵۰ + □	۲۰ = □ - ۴۰
۷۰ = □ + □	۲۰ = □ - □
۷۰ = □ + □	۲۰ = □ - □
۷۰ = □ + □	۲۰ = □ - □
۷۰ = ۱۰ + □	۲۰ = □ - □
۷۰ = ۰ + □	۲۰ = □ - ۱۰۰

ر۲-۱۷-۱

موضوع : د مکملو لسيزونو د اړولو (انتقالولو) په وسيله د جمع او تفريق رقمونه معلومول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته ۴ × ۱۰ نقطې + ۸ نقطې رسمول د ښوونکي د نقطو د رسمولو په وخت د زده کوونکو نقطې شمېرل .	توره تخته
۲. د ښوونکي په توره تخته ۴۸ = ۴۰ + ☐ ليکل ؛ زده کوونکي دې ښي طرف ته د لاس يا يوې لښتې د اينبودلو په وسيله دغه ۴۰ نقطې له ۸ نقطو څخه جلا کړي ، بيا دې بکس ډک کړي .	
۳. د ښوونکي تر لومړي مساوات لاندې ۴۸ = ۳۰ + ☐ ليکل ؛ زده کوونکي دې د خپل لاس په وسيله ۳۰ نقطې له نورو نقطو څخه جلا کړي ، بيا دې بکس ډک کړي .	
۴. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې نور به کوم مساوات وې چې تر لومړيو مساواتو لاندې وليکل شي (۴۸ = ۲۰ + ☐ ؛ ۴۸ = ۱۰ + ☐ ؛ ۴۸ = ۰ + ☐) هم دغه شان په هم دغه وخت کې په توره تخته نقطې ښلول ، که زده کوونکو آخرۍ مساوات معلوم نه کړو نو ښوونکي دې د صفر (۰) په هکله مختصرې خبرې وکړي .	
۵. د ښوونکي په توره تخته نورې ۲۲ نقطې رسمول چې تولې ۷۰ نقطې جوړيږي ، د ښوونکي د نقطو د رسمولو په وخت کې د زده کونکو شمېرل ، د ښوونکي په توره تخته ليکل : ۶۷ = ۷۰ − ☐  کينې حواته د يوې افقي وړې کرښې په وسيله د زده کوونکو ۶۷ نقطې بيلول ، بيا د بکس ډکولو په وسيله حل معلومول .	
۶. د ښوونکي لومړي رسم سره پرله پسې [۱۰] نورې نقطې جاري ساتل، بيا دا ۶۷ = ۸۰ − ☐ ليکل او هم دغه شان عمل کول (تر ۶۷ = ۹۰ − ☐ ؛ ۶۷ = ۱۰۰ − ☐ پورې جاري ساتل ، د زده کوونکو حل معلومول) .	
۷. په دوهمه مشق پاڼه کار کول : الف − په لومړي کار يو خای په شفاهي توګه کار کول : ۵ نقطې پتول چې ۹۵ نقطې سکاره شي ، د مساواتو مطابق ستونونو منځ کې يو پنسل اينبودل چې دا وښيي مثلاً: ۹۵ = ۹۰ + ۵ ؛ ۹۵ = ۸۰ + ۱۵ ؛ ۹۵ = ۷۰ + ۲۵	مشق پاڼه ر۲ − ۱۷ − ۲
ب − په دوهم کار يو خای په شفاهي توګه کار کول : له ښي اړخ څخه د شمېرلو په وسيله تر ۲۶ نقطو وروسته يوه کرښه رسمول ؛ د کښ اړخ د شمېرلو په وسيله لومړي ۷۰ پتول چې [۴۰] نقطې ښکاره شي ، دغسې لومړي عمليه ښودل : ۲۶ = ۳۰ − ۴ ؛ بيا يو بل پسې د لسو نقطو نور ستونونه ښکاره کول چې نورې عمليې وښودلې او حل کړاې شي مثلاً : ۲۶ = ۴۰ − ۱۴ ؛ ۲۶ = ۵۰ − ۲۴ او داسې نور .	



د دوهم تعقیبی درس خاکه

موضوع : د اسان حساب له پاره په جمع کې د عددونو د ترتیب د بدلولو مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته لیکل : ۳ + ۵ + ۱۷ = ☐ ۱۷ + ۵ + ۳ = ☐ ۱۷ + ۳ + ۵ = ☐ دزده کوونکو معلومول چې په دري واړو مساواتو کې هم یو شان عددونه دي خو ترتیب یې مختلف دی . که دنتیجو په هکله پوښتنه وشي نو کیدای شي چې زده کوونکي ووایي چې د دې دري واړو مساواتو نتیجې هم یو شان دي .	تـــوره تختـــه
۲. د ښوونکي د زده کوونکو په دې کې لارښوونه کول چې دا ثابتـه کړي چې آیـا د دې دري واړو مساواتو نتیجه هم یو عدد دی ؟ د زده کوونکو د ټولو مساواتو حسابول ، معلومول چې د ټولو نتیجه [۲۵] ده ؛ په توره تخته یکسونه ډکول .	
۳. په دې هکله بحث کول چې په دري واړو مساواتو کې کوم یو د حسابولو له پاره تر ټولو آسان دی ؛ معلومول چې آخری مساوات تر ټولو آسان دی ؛ دلیلونه وړاندې کول چې دا ولې آسان دی .	
۴. د دریمې مشق پانې پاسنۍ برخې تـه کتـل ، دواړه حالتونه او د دوی پـو بـل سره تعلق بیانول، په دواړو کتارونو کې د اشخاصو په شمېر بحث کول .	مشـــق پـــانه ر۲ – ۱۷ – ۳
۵. د مشق پانې په لاندنۍ برخه کار کول : الف – په کار بحث کول او ځان پوهول : د عددونو ترتیب بدلول په کار دي چې د نتیجو حسابول آسان شي . ب – د زده کوونکو په خاموشۍ یا ملګري سره کار کول : د عددونو ځای بدلول ، د نتیجو حسابول . ج – د نتیجو ټولګي ته لوستل؛ بحث کول چې کوم ترتیب آسان دی (کیدای شي چې دوی معلومه کړي چې دا طریقه تر ټولو آسانه ده چې له لوی عدد څخه شروع وکړي شي او بیا په شروع کې لسیز ولیکل شي ؛ خو په دې کې بـه د ببل ببل زده کوونکي نظرونه مختلف وي) .	



☐	=	۵	+	۸	+	۲۲	=	۸	+	۲۲	+	۵
☐	=	۵	+	۳	+	۱۷	=	۱۷	+	۵	+	۳
☐	=	۴	+	۲	+	۲۸	=	۲۸	+	۴	+	۲
☐	=	۷	+	۴	+	۱۶	=	۴	+	۷	+	۱۶
☐	=	۵	+	۷	+	۲۳	=	۲۳	+	۵	+	۷
۳۸	=	۸	+	۶	+	۲۴	=	۲۴	+	۶	+	۸

درسي پلان ۱۸ ر۲ – ۱۸ – ۱	موضوع : د دوه رقمي عددونو جمع کول ؛ تر سلو پوري د لسيزونو اړول	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
– لس کڅوړې چې په هره يوه کې لس کانې دي تيارول ؛ په توره تخته ليکل : ۱۷ + ۴۰ = ☐ ؛ په کانو سره د دي مساوت د حل غوښتنه کول . – په توره تخته د مربوط رسم کښل (چې ۷ [۱۷] معنی لري)  د نورو څلوښتو کانو د رسمولو د چل پوښتنه کول . (۱)	*۱ . د مکملو لسيزونو له دوه رقمي عددونو سره د جمع کولو مشق :* – فکر ورباندې کول ؛ لومړی د لسو کانو يوه کڅوړه او [۷] نور کانې د ښوونکي په مېز اينبودل ؛ بيا څلور نورې کڅوړې اينبودل . – ورته په غور کتل ؛ د څه کولو تجويز کول ، بيا دغه رسم د څلورو نورو کڅوړو په زياتولو سره چې لس لس کانې ولري مکملول . 	لس کڅوړې چې هره يوه لس لس کانې لري نور کانې توره تخته
– له مېز څخه کانې لرې کول ؛ بيا په توره تخته ليکل :۱۷ + ۴۸ = ☐ ؛ په کانو سره د حل غوښتنه کول . (۲) – په توره تخته بيا ۱۷ کانې رسمول .  – د نورو ۴۸ کانو د رسمولو غوښتنه کول . – بلنه ورکول چې رسم داسې اصلاح کړي چې [۶۵] ژر وپېژندل شي .	*۲ . د دوه رقمي عددونو د جمع کلوو مشق کول ؛ د لسو اړول :* – فکر ورباندې کول ؛ په مېز باندې لومړی يوه کڅوړه او [۷] خانله کانې اينبودل ، بيا د لسو لسو کانو څلور نورې کڅوړې اينبودل ، بيا اته نور خانله کانې اينبودل ، څه يې چې کړي دي هغه ويل . – ورته کتل ، څلور نورې کڅوړې او اته خانته کانې رسمول .  – شمارل ، ويل چې اوس [۶۸] کانې دي ، يوازې [۵۰] کانې په کڅوړه کې او [۱۵] کانې خانله دي . – بحث کول ؛ بيا تر لومړي رسم لاندې بل تازه رسمول ، د لسو کانو يوه بله کڅوړه ډکول ، باقي پاتې ببل ببل کانې د لاندې په شان رسمول . 	توره تخته د کانو لس کڅوړې

(۱) ښوونکی دي ماشومانو ته د تبصرو کولو له پاره کافي وخت ورکړي . که چېرې ماشومان د نوټونو په باره کې څه نه وایي نو هغه دي ورڅخه د نوټونو د شکل ، رنګ او قیمت په باره کې پوښتنه وکړي .

(۲) ښوونکی دي دا لاندې شیان تیار کړی لکه :

۱. پیالي (۱۰ روپۍ)	۴. څادر (۳۰ روپۍ)	۷. دېوالي ساعت (۷۰ روپۍ)
۲. کتاب (۱۰ روپۍ)	۵. بکسونه (۴۰ روپۍ)	۸. چوکۍ (۸۰ روپۍ)
۳. ډایري (۲۰ روپۍ)	۶. د لاس ګړۍ (۶۰ روپۍ)	۹. مېز (۹۰ روپۍ)

د نوټونو د شلولو او حاصلولو چل عملاً وښیي .

(۳) یو دوکاندار انتخابول . د لوبې له پاره کافي وخت ورکړه . یو څو ماشومانو ته موقع ورکړه چې مخې ته راشي او سودا واخلي .



د ۲-۲-۱

– غوښتنه کول چې د کانو په وسیله په مېز باندې همدغه شان عمل وکړي .	– په یوه بله کڅوړه کې [۷] نور کانې اودرې نور کانې ایښودل چې د لسو سو کانو شپږ کڅوړې او پنځه علیحده کانې ولیدل شي ؛ په خالي بکس کې د [٦٥] په لیکلو سره د مساوات مکمل ول .	
– لومړی مشق پانه په زده کوونکو مطالعه کول ؛ د ټولګي رهنمایي کول چې په کار پوه شي او مکمل یې کړي. (۳) – د زده کوونکو رهنمایي کول چې په دوه دوه کسه مشق پانه مکمله کړي اونتیجې امتحان کړي ؛ د امتحان کولو له پاره ټول رسمونه په توره تخته رسمول .	۳ . په مشق پانه مشق کول : – د مشق پانې مطالعه کول ؛ په لومړي مثال یو خای کار کول : د حواله شوي کار لوستل ؛ په دوارو خواوو کې د کڅوړو او نقطو شمېرل ، ویل چې د لسو کانو یو بله کڅوړه وکه کړای شوې ده اویوازې یوه نقطه پاتې کیږي ، د نتیجې ویل . – د مشق پانې د مکملولو له پاره جوړه جوړه کار کول ، ټولګي ته د نتیجو لوستل او امتحان کول یې .	

(۱) دا رسم په یو بل رنګ تباشیر رسم کیږي .

(۲) په دې مرحله کې به ښوونکی دا پوښتنه نه کوي چې یو بله کڅوړه دې له لسو جلا بلا کانو څخه وکه کړای شي ؛ د دې معلومات به په بل قدم کې کیږي .

(۳) د دې مشق پانې په سر کې مثال مکمل کړای شوی دی . خو د لسو کانو نوو کڅوړو او په بکس کې د نتیجو لیکل لا نه دې مکمل کړای شوي . په دې به په تفصیل سره بحث کیږي . په کینه خوا کې دوهم مثال به په لسو کانو سره د کڅوړې په ډکولو سره مکمليږي او یوه باقي پاتې نقطه به تري لاندې رسمیږي .

د دریم مثال د مکملولو له پاره به کینه خوا مکمله جوړه کړای شوې (رسم شوې) وي . د لاندې برخې د مکملولو له پاره به زده کوونکي لومړی فکر کوي چې ۴٦ + ۱۸ په ښي خوا کې څنګه رسم کړای شي او څنګه کینه خوا ته کې شي .



موضوع : دوه رقمي عددونه جمع کول ؛ د لسو اړول تر سلو پورې

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني روزنه : الف – د ښوونکي له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې [۱۰] څو خله جمع کړي ، مثلاً له [۴] څخه شروع کول ؛ د ماشومانو یوبل پسې جلا جلا ځواب ورکول : ۴ + ۱۰ = ۱۴ ؛ ۱۴ + ۱۰ = ۲۴ ؛ ۲۴ + ۱۰ = ۳۴ .... تر ۸۴ + ۱۰ = ۹۴ پورې ، په نورو عددونو سره جاري ساتل ؛ په ۷ ، ۹ شروع کول او داسې نور . ب – غوښتنه کول چې [۲۰] دې څوخله جمع کړای شي ، مثلاً له [۳] څخه شروع کول ؛ د جلا جلا ماشومانو حساب کول ؛ ویل: ۳ + ۲۰ = ۲۳ ؛ ۲۳ + ۲۰ = ۴۳ ؛ .... تر ۶۳ + ۲۰ = ۸۳ پورې ؛ په نورو عددونو سره یې جاري ساتل مثلاً : له ۲ ، ۵ او داسې نورو څخه شروع کول .	
۲. په یو کار کار کول لکه څنګه چې تېره ورځ یې مشق وشو مثلاً : ۳۹ + ۳۲ ☐ : الف – د ښوونکي د کار په تخته لیکل . ب – د زده کوونکو په کاپو سره د دغه کار حلول . ج – د زده کوونکو په توره تخته د رسم کښل (د ۱۰ او نورو کاپو کڅوړه) . د – په بکس کې دنتیجې لیکل .	د کاپو لس کڅوړې توره تخته
۳. په دوهمه مشق پاڼه د کار پېژندل ؛ ډکول یې (رسمول ، شمېرل ، د مساواتو مکملول) ؛ له ګاونډي سره د حلونو مقایسه کول ؛ تولګي ته د حلونو لوستل (که ضرورت و نو د ښوونکي په توره تخته د حلونو جوړول) .	مشق پاڼه ر۲ – ۱۸ – ۲



ر۲ – ۱۸ – ۲

موضوع : د دوه رقمي عددونو جمع کول ، لس اړول تر سلو پورې

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. ذهني تربیه : ښوونکي د داسي کارونو ورکول لکه : ۴۸ + ۷ ؛ ۳۹ + ۶ ... (د دوه رقمي او د یو رقمي عدد جمع کول ، د لسو اړول) .	
۲. د یو مثال تکرار ول لکه څنګه چې یې تېره ورځ مشق شوي دی : الف – د ښوونکي په تخته : ۲۵ + ۱۸ لیکل ؛ له یوه زده کوونکي څخه غوښتنه کول چې په خپله خوښه راشي او په تخته مربوط رسم وکاږي . ب – د یو زده کوونکي همدغه شان د کاپۍ دمربوطه کڅوړو او خانله نقطو رسمول ، څه چې کوي تشریح کول یې ؛ د نورو زده کوونکو مشاهده کول ، امتحان کول ؛ که ضرورت و اصلاح کول.	تـــوره تختـــه
۳. د ښوونکي ویل چې تاسو به اوس په دوو قدمونو کې بې د کاپۍ او د رسمونو له مرستې څخه د داسي مساواتو حلول زده کړئ .	
په توره تخته لیکل : ۲۵ + ۱۸ = □ + ۱۰ + ۲۵ = □ + □ = □ + □ = ۲۵ + ۱۸	
له زده کوونکو څخه پوښتنه کول چې بکس به په څه ډول غواړي ؛ د زده کوونکو ویل چې لومړی [۱۰] کاڼي جمع کړای شوي دي ، لیکل : ؛ بیا به پاڼي پاتې [۸] جمع کول غواړي (لیکل : ۳۵ + ۸ = ۴۳) .	
۴. په دربمه مشق پاڼه کې په کار بحث کول ؛ ټول مساوات جلا جلا حلول ؛ د نتیجو په بکسونو کې په دایرو کې په لیکلای شویو نتیجو صحیح نښه کول ؛ ټولګي ته د نتیجو لوستل ؛ امتحان کول ، مقایسه کول ، اصلاح کول .	مشـــق پـــاڼه ر۲ – ۱۸ – ۳



درسي پلان : ۱۹ ر۲ - ۱۹ - ۱	موضوع : تر سلو پوري د دوه رقمي عددونو جمع کول ، د لسو اړول ،د لیکلو یوه لنډه طریقه استعمالول	
د ښوونکي فعالیتونه	د زده کوونکو فعالیتونه	درسي مواد
– ویل : ۱۲ + ۱۰ = ☐ – ویل : ۱۲ + ۲۰ = ☐ – جاري ساتل : ۱۲ + ۳۰ = ☐ – پوښتنه کول چې دا به څوک جاري وساتي ، عمل به ښوونکی په شان کوي . (۱) – بل زده کوونکي ته بلنه ورکول چې همدغه شان عمل وکړي ، یعنې له ۱۷ + ۱۰ څخه شروع وکړي تر ۱۷ + ۸۰ پورې . – په دریم مثال د مشق کولو له پاره بلنه ورکول مثلاً : له ۲۴ + ۱۰ څخه شروع کول تر ۱۴ + ۸۰ پورې .	۱ . ذهني روزنه : – ځواب ورکول (۲۲) . – ځواب ورکول (۳۲) . – ځواب روکول (۴۲) . – د یو زده کوونکي د ټولګي مخې ته راتلل ، د دې سوالونو د حلونو غوښتنه کول : ۱۲ + ۴۰ ؛ ۱۲ + ۵۰؛ ۱۲ + ۶۰ ؛ ۱۲ + ۷۰ ؛ ۱۲ + ۸۰ ؛ د نورو نتیجو ویل . – د یو زده کوونکي د ښوونکي په شان عمل کول؛ د نورو زده کوونکو هومره تېز حسابول ، څومره چې ممکن وي و د نتیجو ویل . – په مطابق سره عمل کول .	
– په توره تخته لیکل : ۲۶ + ۲۵ ۲۵ + ☐ = ☐ ☐ + ☐ = ☐ = ۲۵ + ۲۶ – په توره تخته لیکل (۲) : ۲۶ + ۲۵ ۲۵ + ☐ = ▨ ▨ + ☐ = ☐ – تشریح کول چې یو قسم لیکل شته چې نور هم لنډ دي ، لیکل : ۲۶ + ۲۵ ☐ = ☐ + ▨ + ۲۵ – دوه نور مثالونه په توره تخته لیکل ؛ مثلاً : ۱۷ + ۳۴ ۳۴ + ▨ + ☐ ☐ ۲۴ + ۶۹ ☐ = ☐ + ☐ + ☐ – په شفاهي توګه د حسابونو غوښتنه کول ؛ د ضرورت په اندازه مرسته کول .	۲ . په لنډه طریقه دوه رقمي عددونه جمع کول : – لومړی د دهرو زده کوونکو ویل چې په یکسونو کې به څه لیکل کیږي ؛ بیا د یو زده کوونکي یکسونه وکول ؛ د نورو د نتیجو امتحان کول . – فکر ورباندې کول ، ویل چې د څینو عددونو په خیال کې ساتل په کار دي ځکه چې یکسونه تور کړای شوي دي ؛ د مساواتو ویل ؛ صحیح عددونه په یکسونو کې لیکل . – د لیکلو له مخکښې قسم سره یې مقایسه کول، اوس معلومول چې تور کړای شوي یکسونه غیب دي د غیبو عددونو ویل ، دغه عددونه په یکسونو کې لیکل . – د دغو کارونو لوستل ؛ حسابول یې ، د یېل یېل زده کوونکي د مکملو مساواتو ویل . – دواړه مثالونه په سلېټونو لیکل ؛ مکملول یې ، ټولګي ته یې لوستل ؛ په آخر کې په توره تخته د مساواتو مکملول .	

	۳. د جمع د لنډې طریقې مشق کول:	
– غوښتنه کول چې لومړی دې په سلښتونو مساوات ولیکلای او مکمل کړای شي او بیا دې په تخته.	– په لومړي مثال بحث کول، کوم عددونه چې په یکسونو کې لیکل کیږي ډهغوی ویل.	
– غوښتنه کول چې له ملګري سره یو ځای دې ټول مساوت مکمل کړای شي.	– د ټولو مساواتو مکملول؛ د نتیجو په یکسونو کې د نتیجو صحیح کول؛ په آخر کې ټول مساوات ټولګي ته لوستل.	

(۱) که چېرې زده کوونکي په دې په څرګنده توګه پوه نه شي چې څه کول په کار دي نو نور زده کوونکي اوښوونکی به ورسره د شروع د رقم په پیدا کولو کې مرسته کوي.

(۲) ښوونکی به د دې له پاره خاموش پاتې کیږي چې زده کوونکي په خپله دا معلومه کړي چې د دې قسم لیکلو مطلب څه دی. ښوونکی ډېرو زده کوونکو ته موقع ورکوي چې خپل خوابونه ووایي.

ر۲-۱۹-۱

۳۸ + ۵۳	۴۷ + ۴۴
۳۸ + ۵۰ + ☐ = ☐	۴۷ + ۴۰ + ☐ = ☐
۱۸ + ۳۸	۶۲ + ۲۹
۱۸ + ☐ + ☐ = ☐	۶۲ + ☐ + ☐ = ☐
۲۹ + ۵۴	۵۶ + ۲۵
☐ + ☐ + ☐ = ☐	☐ + ☐ + ☐ = ☐
۷۸ + ۱۵	۳۷ + ۳۷
☐ + ☐ + ☐ = ☐	☐ + ☐ + ☐ = ☐
۴۶ + ۳۴	۲۷ + ۶۲
☐ + ☐ + ☐ = ☐	☐ + ☐ + ☐ = ☐

۸۳ ۸۰ ۵۶ ۹۱ ۷۴

۹۱ ۹۳ ۸۱ ۸۹ ۹۱

ر۲-۱۹-۲

موضوع : د لوبو روپۍ جمع کول (تر سلو پورې دوه رقمي عدد دونه)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د خپلې داسې سوالونو حلول لکه څنګه چې يې تېره ورځ مشق وکړای شو : مثلاً د ښوونکي په توره تخته ۲۳ + ۲۹ - ☐ ليکل ، د زده کوونکو حساب کول ۲۳ + ۲۰ + ۹ - ☐ او دامې نور .	
۲. له زده کوونکو څخه د ښوونکي غوښتنه کول چې د خپلو نوټونو شمېره (مقدار) په سلټونو کې ډډي څکه چې هغه به يې ليکي ؛ په توره تخته ورپسې ليکل : ۳۴ / ، / ۶۷ / ، / ۲۸ / ، / ۴۶ د زده کوونکو هرځلې د ضرورت وړ نوټونو په خپلو سلټونو اينبودل ؛ له ګاونډي سره امتحان کول ؛ په زده کوونکو د ښوونکي ګرځېدل راګرځېدل ، امتحان کول .	مشق پاڼه ر۲ - ۱۹ - ۲
۳. دريمه مشق پاڼه مطالعه کول ؛ د مشق پاڼې په سر کې ښې خواته مثال باندې ځان پوهول ؛ د مساوات مکملول .	
۴. د مشق په سره کې کښې خواته مثال باندې په ګډه کار کول ؛ په سلټونو باندې همدغه دوه مقداره نوټونه چې په رسم کې ښودل شوي دي اينبودل . د روپيو دواړه مقداره څو خله شمېرل ، د پاسنې بکس ۲۴ + ۱۸ ؛ د مساوت مکملول ؛ د امتحان کولو له پاره د روپيو مجموعي مقدار شمېرل ، که چېرې محاسبه يې سمه شوې وي .	سلټونه مصنوعي نوټونه توره تخته
۵. د مشق پاڼې د نورو کارونو د حلولو له پاره همدغه شان کار کول .	



ر۲-۱۹-۳

موضوع : تر سلو پورې د عددونو جمع کول د لسو په اړولو سره ،دلوبو روپۍ استعمالول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي د دوو شیانو په توره تخته رسمول مثلاً : یوه پنډوسکه او یوه ګوډی د دغه شیانو خواته دوه قیمتونه یعنی ۱۷/- او ۲۵/- لیکل ؛ بحث کول چې کوم یو زده کوونکی دا شیان په روپیو اخیستلای شي وروسته له تېرې ورځې څخه شته . د ښوونکي ویل چې که یوسې ی دغه دواړه شیان اخلي نو ځومره روپۍ ورته په کار دي ، په توره تخته ۱۷ + ۲۵ لیکل ؛ د زده کوونکو ویل : ۴۲ - ۵ + ۲۰ + ۱۷ ډکول په کار دي ؛ په کسونو کې د صحیح عددونو لکیل ، ټولګې ته د مساوات لوستل .	ښانځکـــــه تـــوره تختـــه
۲. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې څلورمه مشق پاڼه دې مطالعه کړای شي ؛ د دوکانداری لوبې تشریح کول ، زده کوونکي به جوړه جوړه لوبه کوي ، هره جوړه به خپل ټول نوټونه یو ډېری کوي ؛ یو به دوکاندار وي ؛ بل به خریدار وي ؛ خریدار به همېشه د دوو شیانو چې په مشق پاڼه کې جوړ شو دي اخیستل غواړي مثلاً : توپۍ او قطۍ ، دوکاندار به بیا په دغو دوه شیان باندې د صحیح نښه لګوي چې معلومه شي دا خرڅ شوي دي . اوس به دوکاندار او خریدار دواړه په مشق پاڼه حساب کوي چې دا دواړه شیان یو ځای څومره قیمت لري ، د دوکاندار او خریدار د نتیجو مقایسه کول ، که چېرې دواړه یو شان وي نو خریدار به دغه اندازه روپۍ دوکاندار ته ورکوي او دوکاندار به یې د امتحان کولو له پاره بیا حسابوي (وار په وار) .	مشـــق پـــانه ۲ - ۱۹ - ۴
۳. د زده کوونکو همدغه شان عمل کول ؛ دوکاندار کېدل او خریدار کېدل به وار په وار کوي . کله چې ټول شیان خرڅ کړای شي (صحیح کړای شي) نو لوبه به ختمه شي .	مشـــق پـــانه ۲ - ۱۹ - ۴
۴. له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې مشق پاڼه مکمله کړي : الف – د زده کوونکو مکمل . ب – بکسونه ډکول . ج – مقایسه کول ، امتحان کول .	مصنوعـــي روپـــــۍ



ر۲-۱۹-۴

درسي پلان: ۲ ر۲ - ۲۰ - ۱	موضوع : دوه رقمي عددونه تفريق کول ، تر ۱۰۰ پورې د لسيزونو اړول (قرض اخيستل)	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- په زده کوونکو څو څو ځله [۱۰] تفريق کول ، مثلاً : له ۹۵ څخه شروع کول . - په همدې طريقه د تفريق کولو غوښتنه کول : مثلاً : له ۹۷ او ۹۳ څخه شروع کول .	۱ . ذهني روزنه : - ويل (لومړی ښبل ښبل ؛ بيا په ګډه سره) مثلاً : له ۹۵ - ۱۰ = ۸۵ ، ۸۵ - ۱۰ = ۷۵ ؛ ۷۵ - ۱۰ ... څخه مخ په شا تر ۱۵ - ۱۰ پورې . - دغه شان مخ په شا حساب کول مثلاً تر ۱۷ - ۱۰ - ۷ ؛ ۱۳ - ۱۰ - ۳ پورې .	
- يو خل بيا د کانو ۱۰ کڅوړې او يو څو خانته کانې تيار ساتل ؛ په توره تخته ليکل : مثلاً : ۳۴ - ۱۰ = ... ؛ د کانو په مرسته سره د دې کار د مشق کولو غوښتنه کول د فکر کولو او بحث کولو له پاره وخت ورکول . - د مربوطې عددي کيسې د ويلو غوښتنه کول .	۲ . د دوه رقمي عددونو تفريق معرفي کول: - د دې په هکله فکر کول ؛ د عمل کولو له پاره تجويز وړاندې کول ، د ښوونکي په مېز د لسو لسو کانو ۳ کڅوړې او څلور جلا جلا کانې اينبودل، بيا يوه کڅوړه لرې کول .	د کانو کڅوړې خانته کانې توره تخته
- په مېز يو خل بيا ۳۴ کانې مکملول؛ په توره تخته ۳۴ - ۱۶ = ... ليکل ؛ د دې نوي مسالې د حل کولو غوښتنه کول ، د فکر کولو له پاره وخت ورکل ، په بحث کولو کې مرسته کول . - څه چې وشو د هغه د بيانولو غوښتنه کول او له دې څخه وروسته يو خل بيا دا عمل کول .	- ويل چې دوی مخکې څنګه عمل وکړو؟ د پاتې کانو شمېرل (۲۴) دا عدد په توره تخته بکس کې ليکل - د مخکې په شان لومړی د لسو کانو يوه کڅوړه لرې کول ، بيا څلور خانته کانې لرې کول ، يوه کڅوړه پرانيستل او دوه نور کانې تري ايستل .	د کانو کڅوړې خانته کانې
- په توره تخته دا رسمول : ۱۰ ۱۰ ۱۰ ... يوخل بيا د [۳۴ - ۱۶] د عددي کيسې د ويلو غوښتنه کول او همدغه شان د رسم قدم په قدم برابرول ،د ښوونکي مرسته کول . (۱)	- د ډېرو زده کوونکو عددي کيسه ويل ؛ يو خل بيا د کانو د ډېرته اينبودلو په وسيله يوه کڅوړه ډکول ، چې بيا ۳۴ کانې شي ، يو خل بيا د تفريق مشق کول چې څه وشو د هغه يو خل بيا بيانول ؛ باقي کانې شمېرل په بکس کې نتيجه (۱۸) ليکل . - د عددي کيسې بيا ويل ، لومړی د ۲۰ کانو يوه کڅوړه چليپا کول ، بيا د څلورو خانته کانو چليپا کول ، بيا يوه کڅوړه پرانيستل ، بيا د دغو کڅوړه دننه دوه نور کانې چليپا کول ؛ په آخر کې د باقي نقطو شمېرل يعني د لسو کانو کڅوړه او اته خانته کانې .	
- په توره تخته ۴۳ - ۲۴ = ... ليکل ؛ غوښتنه کول چې د کانو په مرسته دا تفريق حل کړي . - په توره تخته دا رسمول ۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰ د عددي کيسې د ويلو اوهمدغه شان د رسم د برابرولو غوښتنه کول .	۳ . د يو بل مثال مشق کول : - په کانو مشق کول ، په مېز څلور کڅوړې او ۳ خانته کانې اينبودل ، ۲ کڅوړې بيا ۳ خانته کانې لرې کول ، بيا يوه کڅوړه پرانيستل ، ۳ نور کانې تري را ايستل . - په غور سره کتل ، قدم په قدم د عددي کيسې ويلو ، په همدغه وخت کې د رسم برابرول ؛ د باقي نقطو شمېرل ، په خالي بکس کې نتيجه (۱۷) ليکل .	

	۴. په مشق پانې رسمول :	مشق پانه ر۲ ـ ۲۰ ـ ۱
- غوښتنه کول چې نومړی مشق پانې ته وګوري اومعلومه کړئ چې په پاسنی برخه کې څه کول په کار دي چې کار مکمل شي .	- معلومول چې د مشق پانې پاسنی برخه په توره تخته رسم سره اړه لري ؛ همدغه شان تور چوکاټ کې دننه چلیپا کول ؛ په خالي بکس کې نتیجه لیکل .	
- بلنه ورکول چې لاندینی برخه په خپله تاسو مکمله کړئ .	- په تور چوکاټ کې د پنځو نقطو شمېرل ،په خالي بکس کې نتیجه (۱۷) لیکل .	

(۱) ښوونکی دې ددې طریقې ښوونه په ورو وور قدم په قدم وکړي : لومړی به ماشومان وایي چې دوی د لسوکاڼو یوه کڅوړه لري کړه او په رسم کې په یوه کڅوړه چلیپا کول .



بیا به ماشومانوایي چې بل قدم کې دوی ځلور ځانته کاڼي لري کړل ؛ همدغه شان به ځلور ځانته نقطې چلیپا کوي :



بیا به ماشومان وایي چې دوی یوه کڅوړه پرانیسته او دوه نور کاڼي یې تري را وایستل . ښوونکی به اوس مرسته کوي : د یوې کڅوړې پرانیستل به د دغې کڅوړې خولې او هم ۱۰ نقطې پاکول وي ، ۱۰ نقطې د پرانیستې شوې کڅوړې دننه رسم کول ، بیا په دې نقطو کې دوه چلیپا کول :

مکمل رسم به داسې ښکاري :



(۲) او په آخر کې به رسم داسې ښکاري :





ر۲ - ۲۰ - ۱

موضوع : له دوه رقمي عددونو سره ضرب ، د لسيزونو اړول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. له ښوونکي سره په توره تخته ۴۱ – ۱۸ = لیکل ؛ له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د کانو په وسیله به دا کار څنګه کېږي.	د کانو کڅوړې څانته کانې
۲. د زده کوونکو بحث کول ؛ ویل چې څه کول په کار دي په مېز د لسو لسو کانو ۴ کڅوړې او یو څانته کانې ایښودل ؛ بیا د لسو کانو یوه کڅوړه لرې کول او بیا څانته کانې؛ بیا یوه کڅوړه پرانیستل ، ۷ نور کانې تر پا ایستل .	
۳. د ښوونکي په توره تخته دا رسمول :  غوښتنه کول چې عددي کیسه دې ووایي او رسم دې یو بل پسې برابر کړي ، د زده کوونکو لومړی یوه کڅوړه چلیپا کول ، بیا یوه نقطه ، بیا د یوې کڅوړې خوله پرانیستل ، ۱۰ نقطې دننه جوړول . په دې کې ۷ چلیپا کول .  باقي نقطې شمېرل ،نتیجه (۲۳) په خالي بکس کې لیکل .	
۴. د ښوونکي په توره تخته لیکل : ۴۱ – ۱۸ ۴۱ – ۱۰ = ۱۰ – ۱۰ = = ۴۱ – ۱۸ د زده کونکو بحث کول ، څه چې په خالي بکي کې لیکلای شي هغه ویل ؛ د مخکې په شان صحیح عددونه یعني نتیجه (۲۳) لیکل .	
۵. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې د دوهمې مشق پاڼې لومړي مثال ته وګوري ، له زده کوونکو سره په دې بحث کول ، په بکسونو کې یو ځای د صحیح عددونو لیکل (ښوونکی دې همدا مثال په توره تخته رسم کړي او ولیکي) .	ر۲ – ۲۰ – ۲
۶. د زده کوونکو د مشق پاڼې نور کارونه مکمل ؛ د نتیجې په بکس کې پر نتیجې د صحیح نښه (✓) کول ، د ښوونکي د ضرورت په وخت کې مرسته کول ، په آخر کې مساوات تولګي ته لوستل .	



موضوع : له ۰ — ۱۰۰ پورې په سلسله کې په لسیزونو کې تفریق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. مشق پاڼه ر۲ – ۲ – ۱ بیا مطالعه کول او خبرې وربانديې کول . ۲. غوښتنه کول چې د دوکانداری لوبه وکړئ او یو شی واخلئ او د ۵۰ یا د ۱۰۰ روپو نوټ ورکړئ . ۳. ښوونکی یو څو زده کوونکو ته د مخکې راتلو وینا کوي : الف– کوم یو چې څه اخیستل غواړي هغه وایي لکه : (یو جګ د ۳۰ روپو والا) . ب – د ۵۰ روپو نوټ ورکوي . ج – هغه بل تري نوټ اخلي ، ببرته پیسې ورکوي (۲۰ روپۍ) . د – نور یې امتحان کوي ؛ مرسته کوي . هـ – دیو زده کوونکي د مربوط مساوات په توره تخته لیکل (۵۰ – ۳۰ – ۲۰) ۴. په نورو زده کوونکو دا لوبه جاري ساتل او د مخکې په شان نور مثالونه ورکول : الف – اخیستل د ۵۰ او یا د ۱۰۰ روپو نوټ ورکول . ب – حساب کول / ببرته پیسې ورکول . ج – پر توره تخته مربوط مساوات لیکل .	مشق پاڼه ر۲ – ۲ – ۱ توره تخته



ر۲-۲-۱

موضوع : د دوه رقمي عددونو د تفریق مشق کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته د دریمې مشق پاڼې لومړی مثال یعني ۶۱ – ۲۵ جوړول ؛ زده کوونکو سره یو ځای قدم په قدم صحیح عددونه په بکسونو کې لیکل ؛ د نتیجې په بکس کې پر نتیجه (۳۶) د صحیح ښنه کول .	تـــوره تختـــه
۲. له زده کوونکو ملګرو سره یو ځای د دریمې مشق پاڼې پاسنی نیمه برخه مکملول ؛ ټولې نتیجې صحیح حلول ، ټولګي ټول حسابونه لوسنل .	مشـــق پـــاڼه ر۲ - ۲۰ - ۳
۳. د ښوونکي دمعلومولو غوښتنه کول چې د دې مشق پاڼې آخرۍ څلور کارونه به یو ملګری څنګه حل کولای شي . د زده کوونکو له ملګري سره بحث کول ؛ د نتیجو معلومول ؛ د ښوونکي د جلا جلا زده کوونکوسره کول ، په آخر کې مکمل مساوات په توره تخته لیکل ، دنتیجو په بکس کې پر صحیح د صحیح ښنه کول .	تـــوره تختـــه

۶۱ - ۲۵ = ۶۱ - ۲۰ - ۴۱ = ۳۶ - ۵ = ۶۱ - ۲۵	۹۴ - ۱۸ = ۹۴ - ۱۰ - ۸ = ۱۸ - ۹۴
۸۵ - ۲۷ = ۸۵ - ۲۰ - ۲۷ = ۸۵ - ۲۷	۵۸ - ۳۹ = ۵۸ - ۳۹
۴۴ - ۲۵ = ۴۴ - ۲۰ - ۲۵ = ۴۴ - ۲۵	۳۲ - ۱۶ = ۳۲ - ۱۶
۵۱ - ۱۷ = ۵۱ - ۱۰ - ۷	۷۷ - ۳۵ = ۷۷ - ۲۰ - ۹

۱۶ ۳۴ ۱۹ ۳۴ ۷۶
۱۹ ۳۶ ۵۸ ۴۸

ر۲-۲۰-۳

درسي پلان : ۲۱
ر۲ - ۲۱ - ۱

موضوع : دوه رقمي عددونو سره تفريقونه ، دلوبو روپی استعمالول

د بنوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- د يوي نوي لوبي اعلان کول : خرڅول او اخيستل غوښتنه کول چې نقلي نوټونه تيار وساتي (۱) او په دوه دوه کسه کار وکړي ، دواړه زده کوونکي به سوداګران وي .	۱ . د سوداګرۍ بوه لوبه تيارول : خرڅول او اخيستل : - يو بل ته مخامخ جوړه جوړه کښېناستل ، خپل نقلي نوټونه تيار ساتل ، د هر سوداګر خپلې پيسې بېل بېلې ساتل .	
- له دوه زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې د بنوونکي په مېز کښېنې او د سوداګرانو په شان عمل وکړي، هر يو به له خپل ملګري څخه يوشی انتخابوي چې اخيستل غواړي .(۲) - له نورو زده کوونکو څخه دويلو غوښتنه کول چې هر سوداګر څه خرڅول او څه اخيستل غواړي . - غوښتنه کول چې له يو بل څخه د شيانو د اخيستلو له پاره به سوداګران پيسې څنګه ورکوي ؛ د دې عمل د کولو له پاره د يوي بڼې طريقې غوښتنه کول .(۳) - له پېسو ورکولو څخه مخکيني د حساب کولو بڼه ورکول ، په توره تخته رسمول . ۹۱ - ۷۳ ۹۱ - ۷۰ = ۲۱ ۲۱ - ۳ = ۱۸ ۹۱ - ۷۳ = ۱۸ - له سوداګر څخه غوښتنه کول چې ددې حساب مطابق عمل وکړي . - سوداګران د ټولګي مخې ته رابلل چې له يو بل څخه پور شيان واخلي ، له بکسونو څخه رقمونه ورانول .	۲ . د سوداګرۍ د لوبې عملي مظاهره کول : - د هر سوداګر يو شی چې هغه يې اخيستل غواړي له بل سوداګر څخه انتخابول ، بل سوداګر ته رسمونه (شيان) ښودل ، ددې شيانو قيمت ټولګي ته لوستل . - ويل چې دا سوداګر ... خرڅوي او دا بل سوداګر ... اخلي ؛ دا سوداګر ... خرڅوي او دابل سوداګر ... اخلي . - د پېسو ورکولو له پاره په مختلفو ممکناتو بحث کول . - حساب کول : ورکوتی شمېر د پېسو له لوی تعداد څخه تفريق کول : معلومول چې له زياد قيمت شی چا واخيست هغه به بل ته د دواړو قيمتونو فرق ورکوي . - د هغه سوداګر بل سوداګرته د دواړو قيمتونو فرق ورکول چې قيمتي شيان يې واخيستل ، دغه پېسې په اوچت آواز شمېرل . - همدغه شان عمل کول ، د زده کوونکو د دې دواړو قيمتونو حساب کول ، په توره تخته حساب کول .	مشق پاڼه ر۲ - ۲۱ - ۱ توره تخته توره تخته
- د زده کوونکو له ټولو جوړو څخه غوښتنه کول چې د سوداګرۍ لوبه دوهم ځلي وکړي ، بيا د حساب کولو له پاره دې مشق پاڼه ر۲ - ۲۱ - ۲ استعمال کړي .	۳ . د سوداګرۍ د لوبې مشق کول : - د سوداګرانو د ټولو جوړو له يول بل څخه شيان اخيستل ، د دواړو سوداګرانو په مشق پاڼه کې د قيمتونو فرق حسابول ، د فرق مطابق پېسې ورکول .	مشق پاڼه ر۲ - ۲۱ - ۲

- له يو څو ګروپونو څخه غوښتنه کول چې څه يې وکړل هغه ووايي ؛ دبل سبق له پاره د شيانو او پيسو په احتياط سره داينښودولو کار سپارل (۴)	- څه چې دوی وکړل هغه ويل ، ټولګي ته د حساب لوستل ، په آخر کې شيان او پيسې په احتياط ايښودل .	

(۱) نقلي پيسې به د درسي پلان ر۲ — ۱۹ — مطابق ساتلې شي يعني ٦ د لسو روپو نوټونه او ۱۰ د يوې روپۍ نوټونه .

(۲) شيان به د هر سوداګر په مېز باندې ښکاره پراته وي .

(۳) کېدای شي چې زده کوونکي يو بل ته د هغو پيسو د ورکولو سپارښتنه وکړي چې په ټکټ (د کاغذ په ټوټې) ليکلې شوې دي ، يعني يو سوداګر دی چې له يو بل څخه د شی داخيستلو له پاره پوره قيمت ورکوي ؛ بيا به دوهم سوداګر لومړي سوداګر ته د هغه د شي له پاره پوره قميت ورکوي او د دې برعکس . ښوونکی دې دوی يو خل دې عمل کولو ته پرېږدي . بيا دې هغه پوښتنه وکړي چې آيا داپيسې په يوه ښه (ساده) طريقه نه شي ورکول کېدای . زده کوونکو ته په دې د فکرکولو له پاره کافي وخت ورکول په کار دي . ښوونکی دې د پوښتنې کولو په وسيله مرسته وکړي چې يو سوداګر ولې لومړی پيسې ورکړي او بيا يې پيسې دوباره واپس واخيستې . که زده کوونکي له پيسو ورکولو څخه مخکې د قيمت د فرق تصور نه شي کولای ، نو څه وخت پس دې ښوونکی په توره تخته په خاموشۍ د حساب پلان جوړ کړي .

(۴) لوبه به په ورپسې درس لومړی نمبر کې هم جاري وي .





موضوع : د خرڅولو اواخيستلو لوبه بيا کول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. دريمي مشق پاڼې ته کتل ، د سوداګرۍ **په لوبه خبرې کول** ، **په شفاهي توګه تکرار کول** چې د سوداګرۍ د لوبې (**خرڅولو اواخيستلو**) په وخت کې په څنګه عمل کولای شي ، د حساب په **معنا زور ورکول** ، **يعني دواړه سوداګران به پو ښل** ته پيسې نه ورکړي ، خو بيا زې هغه سوداګر به **د دواړو قيمتونو د فرق پيسې ورکوي چې د قيمتي شي پيسې ورکول يې په غاړه وي** . ۲. **غوښتنه کول چې د سوداګرانو هم هغه جوړې دي** ، ورې کړای شي چې په ټهر سبق کې وي . ۳. **بيا خو ځله لوبه کول** ، هر ځل په مشق پاڼه **په احتياط سره حساب کول** او د نتيجو مقايسه کول .	مشق پاڼه ر۲ ـ ۲ ـ ۳

ر۲-۲۱-۳



د دوهم تعقيبي درسي خاکه

موضوع : د دوه رقمي عددونو د تفريق مشق کول ، تر سلو پوري د لسيزونواړول

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. ذهني روزنه : الف – له مختلفو دوه رقمي عددونو څخه ۲۰ تفريق کول (مثلاً : ۸۳ – ۲۰ ، ۴۵ – ۲۰ ، ۶۹ – ۲۰) ، ب – له مختلفو دوه رقمي عددونوڅخه ۳۰ تفريق کول (مثلاً : ۶۴ – ۳۰ ، ۷۸ – ۳۰ ، ۹۹ – ۳۰) . ج – له مختلفو دوه رقمي عددونو څخه ۴۰ تفريق کول (مثلاً : ۵۱ – ۴۰ ، ۸۲ – ۴۰ ، ۷۳ – ۴۰) .	
۲. د ښوونکي په توره تخته ليکل : ۴۶ – ۲۹ زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په تور بکسونو کې عددونه وليکي ، دا ۴۶ – ۲۰ = ▨ دې صرف په ذهن کې کښېنوي ، او عددونه دې صرف په خال سپن بکس کې ▨ – ۹ – □ وليکي . ۴۶ – ۲۹ =	توره تخته
۳. په توره تخته ليکل : ۴۶ – ۲۹ = ۴۶ – – = بحث کول ، يو څای د کار حلول .	توره تخته
۴. خلورمې مشق يانې ته کتل ، جلا جلا د مشق يانې پاسنې برخه مکملول ؛ نتيجې تولګي ته لوستل	مشق پاڼه ر۲ – ۲۱ – ۴
۵. لاندېنۍ برخه مکملول ، د نتيجو تولګي ته لوستل ، مقايسه کول ،اصلاح کول .	



درسي پلان : ۳۳ ر۲-۲۲-۱	موضوع : له دوه رقمي عددونو سره جمع او تفريق ، د لسو اړول تر سلو پورې / معکوس عمليات	
د ښوونکي فعاليت	د زده کوونکو فعاليت	درسي مواد
– غوښتنه کول چې دلسو لسو په قدم مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر وکړي ؛ مثلاً : ۷ څخه شروع کول . – بيا شروع کول خو په مختلفو عددونو سره مثلاً : ۶ ، ۹۶ ، ۶ ؛ دې مشقونه .	۱ . ذهني روزنه : – د زده کوونکو يو په بل پسې د ۱۰ په توپ سره د بل عدد ويل مثلاً : ۱۷ ، ۲۷ ، ۳۷ ، ... ۹۷ ، بيا ۸۷ ، ۷۷ ، ۶۷ ، ... ۷ . – همدغه شان عمل کول .	
– د لومړۍ مشق پاڼې پاسنيو رسمونو ته د کتلو غوښتنه کول . د عملياتو د ليکلو له پاره تر رسمونو لاندې د خالي بکسونو د استعمالولو غوښتنه کول . – د مربوطې عددي کيسې د ويلو له پاره بلنه ورکول .	۲ . د معکوسو عملياتو مشق کول ، د لسو اړول : – ورته کتل ، خبرې وړاندې کول ، معلومول چې دوکاندار لومړی په يوه خاصه اندازه پيسې لرلې (۳۳/-) ، بيا ورته نورې پسې راغلې (۵۴/-) بيا يې لرې پيسې نورې تر لاسه کړې (۳۳/-) بحث کول چې دا به څنګه چل شوی وي . – بحث کول ، تجويزونه وړاندې کول ، په مشق پاڼه يې ليکل ، د يو زده کوونکي د صحيح مساواتو په تورې تخته ليکل : ۳۳ + ۲۱ = ۵۴ ۵۴ – ۲۱ = ۳۳ د نورو مقايسه کول ، که ضرورت و اصلاح کول . – مثلاً ويل : لومړی له دوکاندار سره ۳۳/- روپۍ وي ، بيا ورته ۲۱/- روپۍ نورې په لاس ورغلې ، بيا يې ۲۱/- روپۍ مصرف کړې ، نو په آخر کې ورسره همدومره روپۍ وي څومره چې يې په اول کې لرلې .	د مشق پاڼه ر۲ – ۲۲ – ۱ پاسنۍ برخه تصوره تخته
– د يو بل دوکاندار په باب يوه کيسه کول چې سهار يې د خپلو پيسو په بکسي کې ۴۸/- روپۍ لرلې ، بيا يې ۲۹/- روپۍ نورې تر لاسه کړې ، خو مازديګر له هغه سره بيا ۴۸/- نغدي روپۍ وي . (۱) – د مربوطو عددي کيسو د ويلو غوښتنه کول . – غوښتنه کول چې په آخرۍ عددي کسي پورې مربوطو مساواتو د معلومولو او حلولو له پاره لومړی مشق پاڼې ته وګورئ . (۲)	۳ . د معکوسو عملياتو مشق کول ، د لسو اړول : – غوږ نيول ، فکر وړاندې کول مثلاً ويل چې دوکاندار به په همدغه ورځ د ۲۹ روپيو له تر لاسه کولو څخه وروسته ۲۹/- روپۍ مصرف کړې وي . – د کيسو ويل (لومړی هغه ۴۸/- روپۍ لرلې ، بيا ....) . – لومړی مشق پاڼې ته کتل ، معلومول چې اول به د جمع يو مساوات وي ، په پاس ښي بکس کې دمساوت ۴۸ + ۲۹ = معلومول او حلول ؛ نتيجه : ۷۷ ؛ اوس به دوی لاندې په کين بکس کې ۷۷ – ۲۹ = مساوات لټوي ، د دې مساوت حلول .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۲ – ۱

– د يوه داسي بحث رهنمايي کول چې د دوکاندار کيسې ته يه مساواتو او د مساواتو په ترتيب پورې اړه ورکړي . – غوښتنه کول چې دغه دوه مربوط مساواتونه دې د يوې کړنې په وسيله سره وترل شي . (۳)	– ويل چې څه دوکاندار په لاس راوړي هغه د جمع په حيث حسابيږي (۴۸ + ۲۹ = ۷۷) . له دغو څخه به ۲۹ روپۍ چې مصرف کړي يې دي تفريق کيږي (۷۷ – ۲۹=) . – د پاس ښۍ خواته بکس تر تورې کړنې لاندې کښ بکس تر تورې نقطې پورې يوه کړنه رابښکل .	

(۱) ښوونکی به په کيسه کې ذکر کړای شوي عددونه (۴۸ ، ۲۹) د جمع يا تفريق له علمياتو څخه پرته په توره تخته ليکل په دې طريقه به زده کوونکي د معکوسو عملياتو په وسيله نه سهوه کيږي او د کار طريقې به په اسانۍ تعقيب کړي .

(۲) په دې مرحله کې به ښوونکی دا خبره نه ښکاره کوي چې د تفريق مربوط کوم مساوات دی . مثلاً : ۴۸ + ۲۹ او ۷۷ – ۲۹ ، تر دې وروسته به د صحيح ځواب د پيدا کولو له پاره يو بحث کيږي او د دې له پاره به دليلونه ويل کيږي چې پاس ښۍ خواته بکس او لاندې کښې خواته بکس کې دغه دوه مساوات ولې يو په بل پورې اړه لري .

(۳) مشق پانه ر۲ – ۲۲ – ۱ به په لوړې ورېسې درس کې مکمليږي .





ر-۲۲-۱

موضوع : له دوه رقمي عددونو سره جمع کول او تفريق کول / معکوس عملیات

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي د يوې ډکانډارې په اړه يوه کيسه بيا ويل چې سهار يې -/۸۲ روپۍ د خپلو روپيو په بکس کې لرلې ، ورسته يې ۳۶ روپۍ مصرف کړې خو مامام ورسره په بکس کې بيا -/۸۲ روپۍ وې (دکر شوې مقدار روپۍ ډ تورې تخته لیکل) .	تورې تخته
۲. د زده کوونکو ډ ډلې کيسې تکرارول ، په دې بحث کول چې ولې کړې ځې .	
۳. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې حساب څنګه په دې کيسې پورې اړه نيسي . د مثال په ډول د زده کوونکو ويل چې له -/۸۲ څخه به لومړی -/۳۶ روپۍ تفريق کړي او بيا به -/۳۶ روپۍ بيرته ورسره جمع کړي (په دې وخت کې به ښوونکی د بالکل صحيحو محاسبو پوښتنه نه کوي)	
۴. د ښوونکي زده کوونکو ته بلنه ورکول چې په دوه دوه کسه کار وکړي او د لومړی مشق پاڼې لاندې برخې څخه معلومه کړي چې کوم دوه مساواتونه په عددي کيسې پورې اړه لري (۸۲ ، ۳۶ ، او د دې له پاره غوښتنه کول چې د فرضيې د ثبوت په غرض په دې دوو مساواتو حساب وکړي .	مشق پاڼه ۲ ، ۲۲ – ۲
۵. د دوه دوه زده کوونکو يو خای کار کول : فرض کول چې کوم دوه نور مساواتونه به يو بل سره پورې اړه پيدا کوي . د دې له ډاره د دوو مساواتو مکملول ، مقايسه کول ، معلومول چې آيا د دوی پيشګويي صحيح ده او که نه ؟ مربوط يکسونه د يوې کرښې په وسيله له يو بل سره ترل ؛ په ډاګره کې تولګي ته د نتيجې ټوسنل د يوې مربوطې عددي کيسې ويل .	
۶. د باقي مساواتو د حلونو او سره ترلو له ډاره د زده کوونکو همدغه شاز عمل کول ؛ په ګډه په حلونو بحث کول (مثلاً منځ کې کښ خواته / ښاس ښې خواته ، منځ کې ښې خواته / لاندې منځ کې يکسونه) .	





موضوع : په مکملو عملياتو بيا مشق کول / د لسو اړول تر سلو پورې	
د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي د دوهمي مشق پاڼي د پاسني بکس (۱۴ + ۳۹) د مطالعه کولو له پاره بلنه ورکول ؛ پوښتنه کول چې ددې مشق پاڼي ديا سني برخې کوم بل مساوات په لومړي مساوات پورې اړه لري	مشق پاڼه ر ۲ – ۲۲ – ۲
۲. د زده کوونکو بحث کول ، شايد چې دوی فرض کړي چې مربوط مساوات لاندې چپې خوانه بکس کې دی .	
۳. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې هغه دوه مساواتونه مکمل کړي چې په يو بل پورې اړه لري ؛ په منتخو دوه بکسونو کې د زده کوونکو د دغو دوو مساواتو مکملول ، مقايسه کول ، تولګي ته يې لوستل ، دليلونه ويل چې ولې په يو بل پورې اړه لري ، په آخر کې دغه دوه بکسونه د يوې کرښې په وسيله له بول بل سره ترل .	
۴. همدغه شان عمل کول ، د پاسني مساوات په کين بکس شروع کول ؛ د مربوط مساوات معلومول مثلاً په منځ کې ښې بکس ؛ دلايل ويل .	
۵. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې پاتې دوه مساواتونه حل کړي (په منځ کې ښې او کين اړخ ته) ؛ د ښوونکي له لبل لبل زده کوونکو سره مرسته کول ؛ د زده کوونکو په دوه دوه کسه کار کول د زده کوونکو دوهم مساوات مکمل په خپله ويل ؛ په اخر کې تولګي ته د مساواتو لوستل ؛ بکسونه د يوې کرښې په وسيله ترل .	
۶. د مشق پاڼې لاندې برخه همدغه شان مکملول ؛ په دوه دوه کسه بيا کار کول ؛ تولګي ته د مربوطو مساواتو ويل / لوستل ؛ دلايل ويل .	



درسي پلان : ۲۳
ر ۲ - ۳۳ - ۱

موضوع : د دوه رقمي عددونو جمع کول چې اړول په کې وي ، د لسيزونو او واحدونو په ستونونو کې ليکل

د زده کوونکو فعاليتونه	د ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. *د لسيزونو او واحدونو په ستونونو کې دوه رقمي عددونه ليکل:* – مشاهده کول ، ويل چې دا ټول ۱۳ پلټي دي ، د ۱۰ پلټو يو بنډل او ۳ خانته پلټي. – تجويز وړاندې کول چې [۱] دې د لسيزونو او ۳ دې د واحدونو په ستون کې وليکلای شي ؛ هم دغسې کول ، ويل چې په ۱۳ کې ۱ لسيز او ۳ واحدونه شامل دي. – هم دغه شان ويل (په ستونونو کې عدد شمېرل ، ليکل ، ويل چې په مربوط عدد کې ځومره لسيزونه او واحدونه شامل دي.	– پـه تـوره تخته په خاموشۍ ۱۳ پلټي رسمول. – وړپه يادول چې دا شمېر په دوو ستونونو کې ليکلای شي ؛ په توره تخته پلان جوړول (۱) – يو ځو نور مشقونه په نورو رسمونو کول ، د تيلو شمېر به ۲۶ ، ۳۲ وي (ستونونه اوږدول چې ډېر عددونه په کې وليکلای شي).	تـــوره تختـــه
۲. *بې له اړولو څخه دوه عددونه جمع کول ، په ستونونو کې ليکل:* – مساوات په توره تخته جلوي : ټولګي ته مساوات ۲۶ + ۳۰ + ۳ = ۵۹ لوستل. – بحث کول ، په ستونونو کې د دواړو عددونو د ليکلو وړانديز کول ، ويل / ليکل چې په ۲۶ کې ۲ لسيزونه او ۶ واحدونه شامل دي ، او په ۳۳ کې ۳ ، لسيزونه او ۳ واحدونه شامل دي ؛ لومړی واحدونه او بيا لسيزونه جمع کول : ټولګي ته لوستل : ۲۶ + ۳۳ = ۵۹ – لومړی دا په افقي شکل کې حسابول ، بيا يې د لسيزونو او د واحدونو په ستونونو کې حسابول؛ په غور سره تشريح کول چې په ستونو کې به لسيزونه او واحدونه څنګه جمع کولای شي.	– په توره تخته ليکل : ۲۶ + ۳۳ ۲۶ + ☐ ☐ ☐ – ويل چې په لومړی ټولګي کې ماشومانو په توره تخته د رسم د حسابولو يوه بله طريقه زده کړې ده. – غوښتنه کول چې يو بل مشق مثلاً : ۵۱ + ۱۸ دې هم په دغه طريقه وکړای شي.	تـــوره تختـــه تـــوره تختـــه تـــوره تختـــه
۳. *د دوه رقمي عددونو جمع کول (چې اړول په کې وي):* – په توره تخته حسابول : ۲۷ + ۱۸ ۲۷ + ۱۰ ۸ ۴۵ – دواړه عددونه په ستونو کې ليکل : لومړی واحدونه جمع کول چې نتيجه يې ۱۵ کيږي؛ کېدای شي چې د لسيزونو په ستون کې ۱۵ وليکل شي. – معلومول چې دوهمه نتيجه غلطه ده.	– پـه تـوره تخنـه ۲۷ + ۱۸ ليکـل ؛ غوښتنـه کـول چې لومړی دي دا په زړه طريقه حل کړای شي – غوښتنه کول چې په نوي طريقه به دا څنګه حسابولای شي : په توره تخته دستونونو پلان او دجمع علامت ليکل. – غوښتنـه کـول چـې د دواړو حسـابو ټـو نتيجـې دي مقايسه کړای شي. (۲)	

موضوع : په لسیزونو کې جمع او تفریق کول	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱ ذهني تربیه ورکول: له ۰ – ۱۰۰ پورې او له ۱۰۰ څخه مخ په شا په لسو لسیزونو کې شمار کول ۲ د ماشومانو د لسو لسو په قدمونو کې له ۰ – ۱۰۰ پورې په خپلو سلېټونو لسیزونه لیکل (او په توره تخته) . ۳ د مشق پاڼې ر۲ – ۲ – ۲ د پاسنۍ برخې پاسنی کتار ببل ببل مکملول : الف – په آخر کې دا لوستل . ب – امتحان کول ، صحیح کول . ۴ د ښوونکي په توره تخته لیکل لکه : ۱۰ + ۳۰ = □ او ۵۰ – ۱۰ = □ د زده کوونکو په توره تخته د عددي سلسلې (۰ – ۱۰۰) په مرسته سره د مساواتو مکملول . ۵ د مشق پاڼې ر۲ – ۲ – ۲ د منځنۍ برخې مساوات مکملول : الف – په آخره کې یې ټول ټولګي ته لوستل . ب – مقایسه کول ، صحیح کول . ۶ په توره تخته د مشق پاڼې پ۲ – ۲ – ۲ د لاندنۍ برخې لومړۍ مساوات مکملول . ۷ د مشق پاڼې ر۲ – ۲ – ۳ د لاندنۍ برخې مساوات له خپلو ملګرو سره مکملول : الف – په آخره کې یې ټول ټولګي ته لوستل ، ب – مقایسه کول . امتحان کول .	سلېټونه/ توره تخته مشق پاڼه ر۲ – ۲ – ۲ توره تخته مشق پاڼه ر۲ – ۲ – ۲ توره تخته مشق پاڼه ر۲ – ۲ – ۲

		۸۰			۵۰			۲۰	۱۰

□ = ۴۰ + ۵۰	□ = ۱۰ – ۵۰	□ = ۳۰ + ۱۰
□ = ۵۰ – ۱۰۰	□ = ۴۰ – ۶۰	□ = ۴۰ + ۲۰
□ = ۷۰ – ۱۰۰	□ = ۱۰ – ۸۰	□ = ۶۰ + ۴۰

□ = ۴۰ – ۴۰ + ۴۰	□ = ۲۰ + ۶۰ – ۹۰
□ = ۱۰۰ – ۴۰ + ۶۰	□ = ۱۰ + ۶۰ – ۸۰

ر۲ – ۲ – ۳

– غوښتنه کول چې آیا په [۱۵] کې یوازې واحدونه شامل دي . (۳) – تجویز وړاندې کول چې [۱] لسیزونه دې د لسیزونو په ستون کې ولیکلای شي . (۴) ① – غوښتنه کول چې یو څل بیا واحدونه او لسیزونه جمع کړي .	– ویل چې ۱۵ کې [۱] لسیز او [۵] واحدونه شامل دي . – د صحیح نتیجې (۴۵) معلومول ، ټولګي ته څو ځله : ټول حساب لوستل . ویل ۷ واحدونه جمع ۸ واحدونه برابر دي له ۱۵ واحدونو سره (۵ واحدونه او ۱ لسیز) ، یو لسیزه جمع ۲ لسیزه جمع [۱] لسیز له [۴] لسیزو سره برابر دي ؛ [۵] واحدونه باقي دي ، دا دي د واحدونو ستونو کې او [۴] دي د لسیزونو متنو کې ولیکل شي	
	۴ . د نوي شکل نقلول : – په سلیټونو نقلول دې جلا جلا ټولګي ته لوستل .	سلیټونه

(۱) په دې سبق کې له یوې مشق پاڼې څخه هم کار نه شي اخیستلای . د زده کوونکو د کار کتاب به بند وي . دامشق په لومړۍ ټولګي کې محکمې شوي دی . (وګورئ درسي پلانونه ر۱ – ۵۸ – ۱ او ر۱ – ۵۹ – ۱) . که زده کوونکو ته دا مشق یاد نه وي نو ښوونکی یې دې یو څل بیا وکړي . که چېرې له زده کوونکو څخه په لومړي ټولګي کې دا مشق پاڼې سوی وي نو په دې درسي پلان تر کار کولو محکمې دې د لومړۍ ټولګي له مربوطو درسي پلانونو څخه یو څو مشقونه وکړي .

(۲) کیدای شي چې کوم حساب زده کوونکو کړی وي داسې ښکاره شي :

۲	۷	
۱	۸	+
۳	۱۵	

ښوونکي دې د دې د معلومولو له پاره زده کوونکو ته کافي وخت ورکړي چې لومړۍ نتیجه یعنې ۴۵ له دې سره اندول کیږي ، ځکه چې په دې کې څه نا څه غلط دي .

(۳) د دې سوال د پوښتنې کولو په خای دې ښوونکي دګوګرو [۱۵] ډبلي جوړ کړي چې د [۱۰] ګوګړو یو ټبل او [۵] خانته ګوګړونه وي . بیا دې ښوونکی په تخته د لسیزونو او واحدونویو نوی پلان جوړ کړي . غوښتنه کول چې په دې پلان کې د [۱۵] عدد ولیکي

(۴) که چېرې زده کوونکو د نوي جوړ کړای شوي یو لسیر د لیکلو تجویز وړاندې کړ ، نو ښوونکی دې د دې د لیکلو او د تجویز په طریقه بحث وکړي .

د درسي مواد	د زده کړو او ښوونکي فعالیتونه
تـــوره تختـــه	۱ ښوونکي په تخته کې وړه مثاله لیکي : ۶۵ + ۲۹ ؛ غوښتنه کوي چې لومړی دې دا په زړه طریقه حساب کړي : ۶۵ + ۲۹ = ۶۵ + ۱ + ۹ = ۹۴
	۲ ښوونکي په تخته د ستونو یو پلان جوړول ، بلنه ورکول چې همدغه حساب دې په نوي طریقه وکړي : زده کوونکي به یې ورو ورو او په احتیاط عمل کوي چې حساب په صحیح طریقه حل کړي او ټول ټولګي پرې پوه شي ۶ ۵ ۲ ۹ + ۹ ۴
	۳ ټول حساب دې له پورته تفصیلاتو سره ټولګي ته خو ځله ونوستل شي . یعنې : ۵ واحدونه جمع ۹ واحدونه له ۱۴ واحدونو سره برابر دي . یعنې ۱ لسیز او ۴ واحدونه ، ۱ لسیز جمع ۶ لسیزونه جمع ۲ لسیزونه د ۹ لیسزونو برابر دي په دې وجه ۴ دې د واحدونو په ستون او ۹ دې د لسیزونو په ستون کې ولیکلای شي . د حساب له زړې طریقې سره د مقایسه کولو په وسیله زده کوونکي نوي حساب صحیح حل کولای شي
مشـق پـــانه ر۲ – ۲۳ – ۱ تـــوره تختـــه	۴ له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې د لومړي مشق په پای پاسني بکس ته وګوري ؛ د زده کونکو هم هغه مشق معلومول چې په تېر سبق کې یې کړی دی ؛ دا بیا څو ځله ټولګي ته لوستل .
	۵ زده کونکو په دوه دوه کسه د لومړي مشق پای دوه نور مشقونه مکمل ول ؛ هر څل لومړی مساوات په زړه طریقه حلول ، بیا په نوي طریقه ؛ دواړه نتیجې مقایسه کول ، د ښوونکي په زده کوونکو ګرځېدل ، د ضرورت په وخت کې مرسته کول ؛ غوښتنه کول چې یوځل بیا په تخته د حساب حلې مظاهره وکړي ؛ بیا د زده کونکو له خوا د مشق پای لاندې برخه کې ټول مساوات حلول ، د نتیجو په خالي بکس کې په نتیجو صحیح نښه کول .



د دوهم تعقيبي درس څخه

موضوع : په ستونونو کې د دوه رقمي عددونو د جمع کولو نور مشقونه په اړولو سره

درسي مواد	د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه
تـــوره تختـــه مشـــق پـــانه ر۲ – ۲۳ – ۲	۱. په توره تخته په ستر ټکر د جمع یو بل مثال مشق کوں مثلاً تولګي ته څو خله ټول حساب لوستل : ۵ واحدونه جمع ۸ واحدونه له ۱۳ واحدونو سره برابر دي . يعني يو لسيز او ۳ واحدونه ؛ يو لسيز جمع ۴ لسيزونه جمع ۲ لسيزونه له اووه لسيزونو سره برابر دي : ۴۵ + ۲۸ = ۷۳ يعني ۳ بد د واحد په ستون کې ليکلای شي او ۷ د لسيزونو په ستون کې. ۲. د دوهمي مشق پاڼې په پاسنۍ برخه کې ټول مساوات حسابول ؛ د نتيجو په دايره کې په نتيجو د صحيح نسبه کول د ښوونکي د حلا جلا زده کوونکي مرسته کول که چېرې له مشکلاتو سره مخامخ شو ۳. د دوهمي مشق پاڼې د لاندې برخې په لومړي مثال بحث کول ؛ معلومول چې ستونونه اوس نه دي جوړ کړای شوي . د ښوونکي تشريح کول چې عمل دي داسې وکړای شي لکه چې ستونونه ليدلای شي (په حقيقت کې عددونو ته په ستونونو کې ترتيب ورکړای شوی دی ، يوازې عمودي کرښې نه دي جوړې شوې) . ۴. د مشق پاڼې ټول مساوات حسابول ؛ په نتيجو د نتيجو په خالي بکس کې د صحيح نښه کول د ښوونکي د حلا جلا زده کوونکي مرسته کول که چېرې له مشکلاتو سره مخامخ شو .





درسي پلان ۲۴ — ر۲-۲۴

موضوع : په ستونو کې د دوه رقمي عددونو تفريق کول ، په قرض اخيستول سره

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
	۱ . دوه رقمي عددونه تفريق کول :	
- مثلاً په تخته ليکل : ۶۷ − ۴۳ ۶۷ − □ − □ = □	- مساوات په تخته حلول چې نتيجه يې ۲۴ کيږي.	تخته
- همدغه کار په ستونو کې ليکل :	- مساوات حلول ، ويل : ۷ واحدونه منفي ۲ واحدونه له ۴ واحدونو سره برابر دي (۴ ليکل) ؛ ۶ لسيزه منفي ۴ لسيزه له ۲ لسيزونو سره برابر دي (۲ ليکل)	
د دوه سيجو د مقايسه کولو غوښتنه کول .	- ويل چې دواړه نتيجې يو شان دي .	
- يو يا دوه نور مساوات ورکول مثلاً : ۸۳ − ۳۱ ، ۷۵ − ۴۴	- دا مساوات يو ځل بيا په دواړو طريقو حلول ، نتيجې مقايسه کول يعني ۵۲ ، ۳۱	
	۲ . دوه رقمي عددونه په قرض اخيستلو سره تفريق کول :	
- په تخته ليکل : ۳۱ − ۱۴ ۳۱ − □ − □ = □	- مساوات په تخته حلول چې نتيجه يې ۱۷ کيږي.	تخته
- دغه کار په ستونو کې ليکل	- د حسابولو کوښښ کول ، معلومول چې ۴ له ۱ څخه نه شي تفريق کېدای .	
- د حسابولو د يوې طريقې معلومولو له پاره د زده کوونکو سره ته کول : د ښوونکي په تخته رسمول . غوښتنه کول چې له ۳۱ نقطو څخه دې ۱۴ نقطې (کانې) لرې شي .	- د زده کوونکو لومړی د کاپو ۱ کڅوړه چلیپا کول . بيا ۱ خانته نقطه چلیپا کول ، بيا يوه باقي پاتې کڅوړه پرانيستل او ۳ نورې نقطې چلیپا کول ؛ باقي پاتې نقطې (۱۷) شمېرل .	
- غوښتنه کول چې په حقيقي کانو سره دې دا عمل وکړای شي .	- د زده کوونکو درې کڅوړې (چې په هر يوه کې لس کانې وي) او يو خانته کانې په مېز ايښودل، ۱۴ کانې لرې کول ؛ لومړی يوه ډکه کڅوړه لرې کول بيا يو خانته کانې ، بيا يوه کڅوړه پرانيستل ، درې کانې تر لرې کول ؛ باقي کانې شمېرل .	د کاپو کڅوړې، خانته کانې
- يو حل بې ستونو ته اشاره کول ، غوښتنه کول چې په ستونو کې د حسابولو له پاره د لسو کڅوړو پرانيستل څه معنی لري . (۲)	- په مساله فکر کول کېدای شي چې دوايې چې غيب واحدونه دي د لسيز له ستون څخه لرې کړای شي	
- د مخکې کار له پاره عملي مظاهره کول . (۳) ويل : مور يو لسز له درې لسيزونو څخه لرې کړ دا مو په ۱۰ واحدونو کې بدل کړ (د لسيز کڅوړه پرانيستل) ، او د واحدونو په ستون کې لسيز واحدونه اينبودل : هم په دغه وخت کې دا په تخته ليکل : له زده کوونکو غوښتنه کول چې هم په دغه طريقه عمل وکړي .	- په غور ورته کتل ، د يو زده کوونکي د ښوونکي په شان عمل کول : په دې کې درې واحدونه چلیپا کو ، ۲ ليکل ؛ به بل ستون کې ۱۰ ليکل . په هم دغه وخت کې دا بياول ، د نورو تکرارول (اشاره ورته کول او تشريح کول).	

- د حساب د مکملولو غوښتنه کول . (۴)	- ویل : ۱۱ واحدونه منفي ۴ واحدونه له ۷ واحدونو سره برابر دي (۷ د واحدونو ستون کي لیکل) ؛ مربوط عددونو ته د اشاري کولو او د حساب د تشریح کولو په وسیله څو خله دا تکرارول	
- په تور ه تخته لیکل مثلاً : ۵۲ − ۱۶ ۵۲ − □ − □ = □ - همدا مساوات په ستونونو کي لیکل - په سلېټونو د ټول حساب د نقل کولو غوښتنه کول .	۳ . په یوه مثال مشق کول : - د مساوات حلول چي نتیجه یې [۳۶] کیږي . - دا کار ورو ورو او په غور سره حلول ، مخکې ټول قدمونه تعقیبول . (۵) - په سلېټونو د حساب نقلول .	سلېټونه

(۱) له زده کوونکو څخه کله کله په یوه عدد کې رقمونه وړاندې وروسته ډیږي مثلا : ۴ − ۱ په عوض ۱ − ۴ لیکي (حسابوي) په دې صورت کې به ښوونکی زده کوونکي په دې پوهوي چې لاډ ښی عدد (۱۴) به له پاسني عدد (۳۱) څخه تفریق کیږي .

(۲) په دې مرحله کې به زده کوونکي له دې څخه خبر وي چې په دې سوال کې یوازې یو واحد (د ۴ واحدونو په عوض) تفریق کېدای شي او دا د ډیر نور واحدونه به په درې لسیزونو کې له یو څخه تفریق کیږي .

(۳) ښوونکی دایقین نه شي کولای چې زده کوونکي به د نورو قدمونو د حسابولو په وخت کې د لیکلو خاص شکل پیدا کړي . کله چې زده کوونکو یو څو خله تلاش وکړ نو بیا به ښوونکی دوی ته خبر ورکوي چې څنګه وړاندې ولاړ شي ؛ د دې عملي مظاهره ورو ور او په غور سره کول ، په همدغه وخت کې به د خپل کار تشریح هم کوي : " مور ترې نه یولسګون اخلو ... "



(د لسیزونو د ستون په یوه دایره کې په ۳ چلیپا کول ، ۲ لیکل)

" ... په ۱۰ واحدونو یې بدلوو ، او لس واحدونه د یو واحدونو ستون ته اړوو "

(د واحدونو په یوه ایره کې ۱۰ لیکل)



(۴) د مرستې په طور ښوونکی لومړی پوښتنه کولای شي چې اوس د یو واحد په ستون کې څو واحدونه دي (۱۱)

(۵) ښوونکی به خبرې او لیکل دواړه صحیح کوي . هغه به په غور سره ستونونه جوړوي او له زده کوونکو څخه به همدغه شان عمل غواړي

موضوع : په ستونونو کې په دوه رقمي عددونو سره د تفریق مشق کول (قرض اخیستل)	
د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته لیکل : ۵۵ – ۱۷ □ - □ - □ - ۵۵ د زده کوونکو له خوا د دغه سوال حلول چې نتیجه ۳۸ کیږي . ۲. د ښوونکي له خوا همدغه سوال په ستونونو کې لیکل : ۵ ۵ ۱ ۷ - د زده کوونکو معلومول چې ۷ واحدونه له ۵ واحدونو څخه نه شي تفریق کېدای ، ښیا به ورو ورو او په غور سره حسابول ، په همدغه وخت کې تشریح کول او لیکل : " موږ یو لسیز اخلو (۵ چلیپا کول او دپاسه پرې ۴ لیکل) ؛ ... په لسو واحدونو بدلیږي او دغه لس واحدونه د واحد په ستون کې ږدو (د ۵ دپاسه ۱۰ لیکل) ؛ بیا یې حسابول : ۱۵ واحده منفي ۷ واحده مساوي کیږي په ۸ واحده (۸ لیکل) ، ۴ لسیزه منفي یو لسیز مساوي کیږي په ۳ لسیزه (۳ لیکل) : ۴ ۱۰ ۵ ۵ ۱ ۷ - ۳ ۸ نتیجې مقایسه کول .	توره تخته
۳. لومړی مشق پاڼې ته د زده کوونکو کتل ، همدغه مثال د مشق پاڼې په سر کې معلومول ؛ ټولګي ته یې لوستل ، یعنې څو ځله د حساب تکرارول . ۴. د زده کوونکو په دواړو طریقو سره د دغو نورو دوو کارونو حسابول ، د ښوونکي په زده کوونکو ګرځېدل ، که ضرورت و مرسته کول ، په آخر کې د زده کوونکو ټولګي ته د حسابونو لوستل . ۵. له ښوونکي څخه غوښتنه کول چې دغه پاتې کارونه دې محاسبه کړای شي (له ۱۰ څخه تر ۶ پورې) ؛ د زده کوونکو په دوه دوه کسه عمل کول ؛ د نتیجې په بکس کې د نتیجو لیکل ؛ په آخر کې نتیجې ټولګي ته لوستل .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۴ – ۱



موضوع : په ستونو کې د دوه رقمي عددونو په تفريق کې نور ډېر مشقونه (په قرض اخيستلو سره)

د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه	درسي مواد
۱. په ستونو کې د يو بل مثال مشق په توره تخته کول مثلاً: ۸۸ − ۴۹ =	توره تخته
۲. په صحيح طريقه حسابول ، په آخر کې ټولګي ته د مکمل مساوات لوستل (۹ واحدونه له ۸ واحدونو څخه تفريق کېدای نه شي ، له دې کبله موږ د لسو يو واحد له ۸ لسيز واحدونو څخه قرض اخلو ، د هغه مطابق ليکل ، ۱۸ واحده منفي ۹ واحده مساوي کيږي له ۹ واحدونو سره ؛ ۷ ليسزه منفي څلور لسيزه مساوي کيږي له درې لسيزونو سره) .	
۳. د دوهمې مشق پاڼې په پاسنۍ برخه کې ټول سوالونه حسابول ؛ د نتيجو په بکس کې په نتيجو د صحيح نښه لګول ، د ښوونکي له بېل بېل زده کوونکي سره مرسته کول.	د مشق پاڼې ر۲ – ۲۴ – ۲ پاسنۍ برخه
۴. د دوهمې مشق پاڼې د لاندېنۍ برخې په لومړي کار بحث کول معلومول چې ستونونه لاتر اوسه جوړول شوي نه دي . د ښوونکي زده کوونکو ته ور په زړه کول چې داسې عمل وکړي لکه عيناً چې ستونونه ليدل کيږي .	د مشق پاڼې ر۲ – ۲۴ – ۲ لاندېنۍ برخه
۵. د مشق پاڼې په لاندېنۍ برخه کې د ټولو کارونو حسابول ؛ د نتيجې په بکس کې په ټولو نتيجو د صحيح نښه کول ؛ د مشکلاتو د پيدا کېدلو په وخت کې د ښوونکي مرسته کول ؛ په ستونونو کې د صحيح ليکلو له پاره پوره توجه کول .	



۸۱ − ۲۷	۴۲ − ۱۶	۹۶ − ۳۷
۵۳ − ۲۴	۲۷ ۲۶ ۲۹ ۵۴ ۲۹ ۵۹ ۲۸ ۳۳	۷۴ − ۴۶
۹۰ − ۶۱	۷۷ − ۴۴	۶۵ − ۳۸

درسي پلان : ۲۵	موضوع : د حسابونو د کتلو له پاره د جمع او تفريق دوه رقمي عددونه د معکوسو عملياتو په حيث استعمالول
ر۲ – ۲۵ – ۱	

د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- په توره تخته ليکل مثلاً : ۱۸ (۱) + ۳۴ څه چې دوی کوي د هغه د حسابولو او بيانولو غوښتنه کول . - پوښتنه کول چې حساب څوک څنګه کتلای شي چې صحيح دی که غلط . - ويل چې دا يوه طريقه ده خو دپره ښه نه ده ، ځکه چې يو خل بيا هم دغه غلطي کېدای شي چې په لومړی خل د جمع کولو په وخت شوې وه. - تصديق کول چې دا د کتلو يوه ښه وسيله ده ، د مربوط کار د ليکلو غوښتنه کول.	۱ . *د جمع د حساب د چک کولو له پاره يو طريقه پيدا کول :* - يو ځای حساب کول ، څه چې کوي هغه په اوچت آواز ويل ، په توره تخته ليکل : ① ۱۸ + ۳۴ = ۵۲ - فکر پرې کول ، کېدای شي چې يو خل بيا د حساب کولو تجويز وړاندې کړي . (۲) - فکر کول چې ايا د تفريق په مرسته د حساب د چک کولو له پاره څه امکان شته (۳) : له ۵۲ څخه د ۳۴ د تفريق کولو تجويز وړاندې کول چې دا معلومه شي چې باقي به ۱۸ وي . - په توره تخته حساب کول : ⑩ ④ ۵۲ − ۳۴ = ۱۸ د هغه په هکله ويل د څه چې دوی حساب کوي ؛ ويل چې لومړی حساب (جمع) صحيح و .	تووه تخته
- په توره تخته يو بل مساوات ليکل مثلا : ۳۷ + ۵۷ - غوښتنه کول چې د تفريق په مرستې سره حساب چک کړي	۲ . *په توره تخته د يوه بل مثال مشق کول :* - د دې حساب کول ، څه چې کوي هغه په اوچت اواز ويل : ۱۷ ① + ۵۷ - د دې په هکله فکر کول ، له ۹۴ څخه د ۵۷ د تفريق کولو تجويز وړاندې کول چې دا معلومه شي چې باقي به ۳۷ وي ؛ دغسې کول : ⑩ ⑧ ۴۹ − ۷۵ = ۳۷ ويل چې حساب صحيح وو .	
- ټولګی په دوه ګروپونو تقسيمول ، دواړو ګروپونو ته ويل چې لومړی مشق پاڼې ته وګوري. - يو ګروپ ته د جمع او بل ګروپ ته د تفريق ټول حسابونه حواله کول د حساب کولو له پاره کافي وخت ورکول . (۴)	۳ . *په دوه ګروپونو کې حسابونه چک کول :* - معلومول چې په مشق پاڼه کې دحسابونو دوه ګروپونه دي يو د جمع او بل د تفريق له پاره. - د يوه ګروپ ښي اړخ ته د جمع (۱) او دبل ګروپ کيڼ اړخ ته (۲) د تفريق ټول حسابونه کول .	مشق پاڼه ر۲ – ۲۵ – ۱

- بنکاره کول چې د تفریق هر حساب د جمع له یوه کار سره اړه لري ؛ غوښتنه کول چې د جمع لومړی محاسبه او د تفریق اړوند حساب تولګي ته ولولي . (۵)	- د جمع د ګروپ د ماشومانو لومړی حساب تولګي ته لوستل ؛ د نورو د تفریق د مربوط حساب د معلومولو کوښښ کول ؛ د تفریق د ګروپ د یوه ماشوم تولګي ته د مربوط مساوات لوستل ؛ ویل چې آیا محاسبه صحیح وه .	
- غوښتنه کول د جمع حسابونه او په هغوی پورې مربوط د تفریق حسابونه ولولي .		
- غوښتنه کول چې د تفریق له اړونده حساب سره د دې د جمع دهر حساب علامه ولیکلای شي ، خنګه چې په لومړی جمع کې ښودل شوی دی .	- په دوه دوه کسه تولګي ته د تولو اړوندو حسابونو لوستل ، هر څل چك کول چې آیا یوه بل سره مطابقت لري .	

(۱) ښوونکي دې دې خبرې ته پام وکړي چې زده کوونکي په حساب کولو او تشریح کولو کې لکه د مخکې په شان د همدغې طریقې صحیح پیروي وکړي .

(۲) له ۵۲ څخه د ۳۴ د تفریق کولو توقع ښوونکی له زده کوونکو څخه دکار په دې مرحله کې نه شي کولای خو که چېرې کوم یوه زده کوونکي ته د دې د کولو فکر پیدا شوي وي نو دغه دې نه کوي او د درسي پلان بل قدم ته دې ولاړ شي .

(۳) که چېرې زده کوونکي تفریق نه شي کولای نو ښوونکی به په دې زور اچوي چې غلطي (که چېرې کومه) د دوو عددونو د جمع کولو په وخت کې شوې ده ، یو کس کولای شوای چې دا غلطي د تفریق په عملیې سره د امتحان په وسیله پیدا او اصلاح کړي .

(۴) کوم زده کوونکي چې خپل کار لومړی خلاص کړي نود خپل ګروپ د نورو هغو زده کوونکو سره مرسته به کوي چې مرسته غواړي .

(۵) که چېرې څنې محاسبوي چې په یو بل پورې اړه لري او له یو بل سره برابري نه راځي نو ماشومان به وایي چې دلته چېرته غلطي ده ، دا غلطي به لټوي اواصلاح کوي به یې .

ټ-۲۵-۱

۵۲ - ۲۶	۷۱ - ۳۸	۵۴ + ۱۸	۶۷ + ۲۴
۶۱ - ۱۲	۷۲ - ۱۸	۳۳ + ۳۸	۴۹ + ۱۲
۹۲ - ۱۷	۹۱ - ۲۴	۲۶ + ۲۶	۷۵ + ۱۷

موضوع : د تفریق د حسابونو امتحان کولو له پاره د جمع حسابونه استعمالول

د زده کوونکو او ښوونکي فعالیتونه	درسي مواد
۱. د ښوونکي په توره تخته لیکل مثلاً : ۴۱ − ۲۳ د زده کوونکو د کار حلول ، هم دغه وخت کې چې څه کوي هغه تولګي ته لولي (۱۸) . ۲. د ښوونکي غوښتنه کول چې د چک کولو له پاره به کوم حساب کولای شي چې آیا د تفریق حساب صحیح دی که غلط ؛ د زده کوونکو بحث کول ، معلومول چې د تفریق د حساب د چک کولو له پاره دي د جمع حساب وکړای شي ؛ لیکل / دا په توره تخته حسابول : ① ۱۸ + ۲۳ = ۴۱ ویل چې دا دوه حسابونه یو له بل سره جوړیږي . ۳. دوهمي مشق پاڼې ته کتل ؛ لومړی د تولو زده کوونکو جلا جلا له ښي اړخ څخه د تفریق یو حساب حلول ، بیا له کین اړخ څخه معلومول (۲) چې د جمعې کوم حساب د تفریق له حساب سره اړه لري ؛ دا حسابول ؛ مقایسه کول چې دا یو له بل سره جوړیږي . بیا د جمع او تفریق بل حساب کول او داسې نور ، هر څل علامه په مربوط بکس کې رسمول .	توره تخته مشق پاڼه ر۲ – ۲۵ – ۲

۲۵ + ۵۹	۲۷ − ۱۵	۴۲ + ۱۵	۵۶ + ۲۸
۲۸ − ۲۸	۳۹ − ۳۴	۷۳ + ۳۴	۸۴ + ۵۹

ر۲-۲۵-۳

درسي پلان ۳ ر ۲ - ۳ - ۱	موضوع : په لسيزونو او واحدونو کې جمع او تفريق کول	
د ښوونکي فعاليتونه	د زده کوونکو فعاليتونه	درسي مواد
- له لسو زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې هر يو لس لس کانې د ښوونکي مېز ته راوړي (۱) . او دا په دوو ډېريو (انبارونو) کې کيږدي . (۲) - غوښتنه کول چې په مېز د پرتو کانو د شمېر اندازه ولګوي . - د کانو د شمېر بلنه ورکول .	۱ . په لسيزونو کې جمع او تفريق کول : - د ۵ زده کوونکو د مېز په يو اړخ او دنورو ۵ دمېز په بل اړخ خپل کانې اينبودل . - د ډېرو زده کوونکو خپلې اندازې بيانول ، دغه عددونه په توره تخته ليکل . - د دوو زده کوونکو مخې ته راتلل ، د يو کيني خوا د کانو شمار لکه ۵۰ د بل د بنې خوا د کانو شمارل لکه : ۵۰	مېز لس څل لس کانې توره تخته
- د مکملې عددي کيسې د ويلو اود مساوات د ليکلو غوښتنه کول. - له زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې خپلو اندازو سره يې مقايسه وکړي . - په مېز د پرتو کانو په شان په توره تخته له نقطو څخه د کانو ډېرې جوړول . - د سترګې د پټولو وينا کول ، د بنې اړخ دکانو له ډېرې څخه کين اړخ ته څلور کانې داسې اړول چې يو نوی ډېری جوړ شي . - څه چې پر مېز وشول پر توره تخته د هغې د رسمولو غوښتنه کول . (۳)	- بيانول چې څه وشول ، او ليکل ۵۰ + ۵۰ = ۱۰۰ . - له اندازه کړای شوو عددونو سره يې مقايسه کول ، معلومول چې څوک صحيح وو . - په غور کتل ، امتحان کول چې آيا د نقطو ډېرې په مېز له پرتو کانو سره سمون خوری ؟ - سترګې پټول ، بيا پرانيستل (کتل) معلومول چې څه وشول ، د يو څو زده کوونکو يې په خپلو الفاظو کې بيانول . - معلومول چې د بنی اړخ له يو ډېرې څخه په څلورو دايرو / نقطو چرخې لګول او په کين اړخ د يو نوي ډېرې جوړولو له پاره څلور دايرې نقطې جوړول په کار دي ؛ يو زده کوونکی دا په توره تخته رسموي . - د څو ماشومانو عددي کيسې ويل د دوو ماشومانو په توره تخته د مساواتو ليکل .	مېز ، کانې توره تخته توره تخته توره تخته
- د عددي کيسو د ويلو او دمساواتو د ليکلو غوښتنه کول .		
- بيا د سترګو د پټولو غوښتنه کول ، باقي پاتې ٦ کانې د بنې اړخ له کم کړای شوي ډېرې څخه کيني خوا نوي ډېرې ته اړول . - د عددي کيسو د ويلو او د مساواتو د ليکلو غوښتنه کول . - زده کوونکو څخه غوښتنه کول چې په توره تخته څه کول په کار دي .	۲ . د کانو ، رسمونو او مساواتو په استعمال سره د جمع او تفريق مشق کول : - سترګې پټول، بيا معلومول چې د بنې اړخ د لسو کانو يو ډېرې غيب شوی دی او د لسو کانو يو کيني خواته جوړ شوی دی . - د څو ماشومانو عددي کيسې ويل د دوو زده کوونکوليکل : ۳۶ - ٦ = ۴۰ ، ۵۴ + ٦ = ٦۰ - د يو زده کوونکي د توري تختې بنې اړخ ته کانې چليپا کول ، کين اړخ ته ٦ نوري دايرې / نقطې (کانې) جوړول .	کانې تور: تخته

BEFARe.

د ښوونکي لارښود

د دوهم ټولګي ریاضي

بیفیر

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړي

BEFARe

د نبوونکي لارنبود

رياضي

د دوهم ټولګي له پاره

بـــيفـــيـــر

د افغان مهاجرو له پاره اساسي زده کړې

Title of the book :

Teacher's Guide

Maths, Grade II

(Revised Version)

Editorial Board :

Shah Mohammad

Nurul Habib Nisar

Composers :

Noor Mohammad Noor

Waheedullah Wardak

Publisher :

GTZ-BEFARe

Knowledge Center

No. of Copies : 500

Edition : December 2002

د کتاب نوم :

دښوونکي لارښود

ددوهم ټولګي رياضي

(تجديد نظر شوي نسخه)

کتونکي ډله :

شاه محمد

نورالحبيب نثار

کمپوزران :

نور محمد نور

وحيدالله وردګ

خپرونکی :

جي-ټي زيډ - بيفير

علمي مرکز

تيراژ : ۵۰۰

چاپ : جدي ۱۳۸۱

بسم الله الرحمن الرحيم

پېژندګلوي

دا د ښوونکي لارښود دهرش درسي واحدونه لري. هر درسي واحد يو مفصل درسي پلان لري. هر درسي پلان له يوې څخه تر دوو پورې د تعقيبي درسونو خاکې لري. مشق پانې، کيسې، لوبې، د درسي موادو د استعمال او د تدريس د طريقو اړونده لارښوونې هم ورسره شاملې دي. هر درسي واحد په څلورو مخونو کې دی. لومړي دوه مخونه د مفصل درسي پلان له پاره دي چې د زده کوونکو او ښوونکي فعاليتونه په کې تشريح شوي دي. مشق پانې او ځينې نورې تبصرې / اشارې هم لري. ورپسې دوه مخونه د تعقيبي درسونو د خاکو له پاره دي چې تر نوي درسي پلان مخکې ښودل کېږي. په دې تعقيبي درسونو کې له اړوندو مشق پانو يا نورو درسي موادو څخه چې د دې واحد له پاره ټاکل شوي دي، کار اخيستل کېږي. ښوونکی به په يوه اونۍ کې دوه درسي پلانونه او د هغوی اړونده تعقيبي درسونه ښيي.

د ښوونکي د لارښود او د زده کوونکو د کار د کتاب د استعمال په باره کې ځينې لارښوونې:

الف - ښوونکی به د درس تر ښودلو د مخه ټول درسي واحد د تعقيبي درسونو د خاکو په شمول ښه مطالعه کوي. په دې طريقه له ورکړای شويو لارښوونو څخه ښه کار اخيستل کېدای شي.

ب - د زده کوونکو حوصلې به په دې لوړېږي چې د کار کتابونه پاک سوتره وساتي او تر تدريس مخکې په مشق پانو کې څه ونه ليکي او تصويرونه په کې ونه باسي.

ج - د زده کوونکو د کار په کتاب کې ښوونکی ټولې مشق پانې پيدا کولای شي. خو د ځينو سايز وړوکی شوی دی. د دې له پاره چې ښوونکی له ټولو تفصيلاتو خبر شي نو ښه به دا وي چې اصلي مشق پانې هم وګوري.

د - ښوونکي ته اجازه ده چې د حالت / وضعيت له غوښتنې سره سم نور ورته مشقونه پيدا او په زده کوونکو يې عملي کړي.

هـ - لوبې او نور فعاليتونه به له منځه نه وړل کېږي. کله چې ورته ښوونکی ضرورت احساس کړي نو تکراروي به يې.

و - د ښوونکي دغه لارښود چې د پاک - جرمن اساسي زده کړو ډېر پخوا ترتيب کړی او [بيفير] اوس له سره کتلی دی، هر ډول تصحيح او تعديل مني. که اوس هم څه نيمګړتياوې يا ابهام ولري، لطفاً يې د جي. تي. زيډ - بيفير د تأليف او خپرونو ټانګې ته په ليکلې توګه راواستوئ.

په درنښت